# سید مخدوم رهین
# د قضاوت په تله کې

(لومړی ټوک)

# سید مخدوم رهین
# در ترازوی قضاوت

(جلد اول)

Ketabton.com

خپرونکی

**افغان ولسپال ځوانان**

**1383 هجري شمسی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړتیاوې:

نام کتاب : سید مخدوم رهین د قضاوت په تله کې (لومړی ټوک)
سید مخدوم رهین در ترازوی قضاوت (جلد اول)
نویسندګان : مختلف/ «مقالات نشر شده در مطبوعات مربوط افغانستان»
سال چاپ : 1384 شمسی/ 2005 عیسوی
تیراژ : (2000) جلد
ناشر : جوانان ملت پرور افغان
ادرس ایمیل : brishnalik@yahoo.com
ادرس سایت انترنت : www.**raheen**.worbal.com

تمام حقوق با ناشر محفوظ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

## هغو شازلمیو ته چې د خپل ملي کلتور
## او ملي ارزښتونو په ساتنه کې هڅه کوي.

په درناوي
خپروونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې دا کتاب؟

ځینو سیاستوالو ډېر پخوا ویلي وو: که غواړئ چې یو ژوندی ملت له منځه یوسئ، لومړی یې ژبه له منځه یوسئ چې په دې توګه به یې نور کلتوري ارزښتونه هم له زوال سره مخ شي، دا ملت په خپله د نېستۍ په کنده کې لاهو کېږي او له منځه به ځي. هم به خپل ملي هویت له لاسه ورکوي، هم به په نړیواله کچه خپل باور وبایلي او په نورو رنګونو کې به دل، یا به هم په غوځ ډول ورک شي.

زبرځواکو او د نورو هېوادونو تالې څټو هم له همدې قاعدې څخه کار اخیستی او هڅه یې کړې، چې په همدې تربګنۍ کې خپله ګټه وپالي، هغه د چا خبره اوبه خړې کړي او کبان ونیسي، دوی تل هڅه کړې چې د افغانستان ملي او کلتوري ارزښتونه له منځه یوسي او یا یې نورو ته بد معرفي کړي، دوی افغاني ارزښتونه وروسته والی ګڼي او په دې باور دي هغه کسان چې لنګوټه تړي، هغه د تمدن، پرمختګ او پوهې دښمن دی. دوی د خپلو شخصي عقدو او کینې له مخې ان په لوړو دولتي څوکیو کې هم خپله دا دښمني او کرکه نه ده هېره کړې، بلکې په لوړ موقف کې یې لا خپله کینه اورنۍ کړې او لا یې د دې خوار ملت ارزښتونه د ورکاوي له ګواښ سره مخ کړي دي. د دوی دا دښمنانه چلند په یوه او بله بڼه روان دی چې د خپلې دې موخې لپاره زیات مهال ځینې ډلې ګماري او خپله استفاده ورڅخه کوي. یا هم ځینو ګاونډیو هېوادونو د خپلو زړونو دښمنیو پر بنسټ دغه کار ته ملا تړلې ده.

ایران او پاکستان هغه هېوادونه چې تل یې د افغاني ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره ستړې پروژې پلې کړي او تر دې ګړیه یې دا کینه نه ده پرېښې.

په پاکستان کې هڅه کېږي چې پر افغانانو باندې د پنجاب کلتور واکمن کړي او اردو ژبه ورباندې ومني، هلته پښتو ویل داسې ده لکه په کابل کې چې څوک پښتو وايي، خلک په دې ژبه ګړېدونکي اشخاص ناپوه، د سپکاوي وړ او وروسته پاتې ګڼي. که پاکستان د کلتوري او ملي ارزښتونو تر څنګ د افغانستان سترې فابریکې او نور دولتي کارځایونه لوټ کړل او ټول سامانونه یې د کباړ په نوم په خپلو کارځایونو کې حل او وپلورل، ایران بیا د ځینو ځېرو په ګمارلو سره د افغانستان د ملي هویت، ملي کلتور او ملي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره له هر ډول امکاناتو څخه کار اخلي. چې په دې کتاب کې به یې یوازې ځینې بېلګې ولولئ، ځکه چې موږ په پام کې لرو د کتاب په دویم ټوک کې دا ډول نور اسناد هم ستاسو په واک کې درکړو، چې تاسې په خپله ورباندې قضاوت وکړئ. البته دا لیکنې موږ په خپله نه دي کړي، بلکې په دې باب مو خپرې شوې لیکنې راټولې کړي، چې د یوه کتاب بڼه مو ورکړې ده.

موږ په دې باور یو چې زموږ د اوسنیو ټولو بدمرغیو لامل همدا قومي، سیمه ییز او ژبنیز تبعیضونه او تعصبونه دي، چې په دې اور کې مو ګران او خوږ هېواد لولپه او وران ویجاړ شو، په لکونو بېګناه هېوادوال مو شهیدان شول چې نور نو باید دغو کینو ته د پای ټکی کېښودل شي.

دلته باید یادونه وکړو، چې موږ د هېڅ ډول کینې او یا خدای مه کړه تضاد له مخې دا کتاب نه خپروو، بلکې موږ د خپلو ملي ارزښتونو د ساتنې او ځلونې غم لرو. په دې ډګر کې د مرګ تر بریده ولاړ یو او د خپلو ملي او افغاني ارزښتونو دفاع کوو، دا خپل یو روا او مدني حق ګڼو، هېڅوک هم دا حق له موږ څخه نه شي اخیستلای.

موږ غواړو چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر مو په رښتینې بڼه د ملي کلتور د پیاوړتیا لپاره کار وکړي، زموږ وزیر خاین، دروغجن، غل، بې کفایته او متعصب نه وي. زموږ وزیر هرڅه تر ایران قربان نه کړي، زموږ وزیر باید د افغانستان له مطبوعاتو او ملي راډیو-ټلویزیون څخه د ایران او ځان په ګټه کار وانخلي، بلکې زموږ وزیر باید زموږ له لیکوالانو سره مینه ولري، څارنوالیو ته دې نه معرفي کوي، د خپلو شخصي عقدو له مخې دې دوی نه ځپي او نه کړوي. موږ په تېر دوران کې د ښاغلي رهین سترې درغلۍ ولیدې، ده خپلو هغو لیکنو ته د عمل جامه ورواغوستله او عملاً یې خپله هغه ستراتیژي پلې کړه، چې له امریکا څخه په خپرېدونکې 'امید' جریده کې به یې خپروله، د دې ښاغلي په لسګونو لیکنې په دې جریده کې خپرې شوې، چې موږ یې یو وخت د مهمو اسنادو په توګه په خپل دویم ټوک کې وړاندې کوو، چې ملت پخپله ورباندې قضاوت وکړي.

موږ غواړو خپلو راروانو نسلونو ته دا ښاغلی او د ده غوندې نورې څېرې په ښه توګه وروپېژنو، چې په تشو شعارونو، د لاس په تسپو او غوړو خبرو یې تېر ونه وځي. زموږ وزیر په تېر دوران کې خپله ښه ازموینه ورکړه، خپله بې کفایتي یې څرګنده کړه، چې د هېواد اکثریت کسان دی نه غواړي او د دې خبرې د پخلي لپاره د کتاب منځپانګه ستاسو په واک کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د دې وزیر په ځېره کې دومره پټې کینې پرتې دي، چې که په خوله یو څه وایي، په زړه کې نورې نقشې لري، چې د هېواد ارزښتونه لیلام کړي.

افتاب په کابل کې خپرېدونکې خپرونه وه، چې چلوونکی یې ایراني و، کله چې دې خپرونې د اسلام پرضد یوه لیکنه خپره کړه، نو زیات افغانان یې راوپارول، سترې محکمې غوښتل چې د دې خپرونې چلوونکی ونیسي او د محکمې مېز ته یې راوکاږي، خو د ښاغلي سید مخدوم رهین په شخصي هڅو نوموړی کس بهر ته واړول شو. هېچا هم دا پوښتنه ونه کړه، چې ولې؟؟.

کله چې په محمد ګل مومند بابا، احمدشاه بابا او نورو ملي مشرانو پسې ځینې خپرونې کنځاوې لیکي، هېڅ خبره نه ده، په خپله وزیر رډې سترګې نیولې وي او هېڅ هم نه ورته وایي، خو که چېرې یو لیکوال د خپلو سترګو لیدلی حال لیکي او خپله لیکنه په انټرنټ کې خپروي، نو ښاغلی رهین په دې تور نور ځوانان نیسي او ان چې ځینې ځوانان اړ باسي چې د بل چا د لیکنې له کبله بخښنه وغواړي.

ملي ارزښتونه له ستر ګواښ سره مخ دي، په دې منځ کې ملي ټرمینالوژي، چې زموږ د ملي کلتور او ملي هویت یوه ستره برخه جوړوي، له نابودۍ سره مخ ده. په دې کار کې په خپله د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي ستر رول لوبوي چې غواړي دا نومونې له منځه یوسي او ایرانۍ نومونې یې پر ځای دودوي، چې دا دی اوس په کابل راډیو، د افغانستان په نامه ټلویزیون او نورو چاپي خپرونو کې خپرېږي.

د هرې ورځې په تېرېدو سره دوزارتونو او ریاستونو نومونه اړول کېږي، چې څوک هېڅ هم نه وایي، له ایران څخه ایراني کتابونه، سافټوېرونه او نور مواد په کانیټنرونو راروان دي، چې کتابونه یې د افغانستان په عامه کتابتونونو کې ځای پرځای کېږي، دغه راز نور توکي یې په نورو ادارو کې او د کلتور وزارت یې ډېر ښه هرکلی کوي. ایراني فلمونو، سریالونو اوسندرو ته خو بېخي کابل ټلویزیون او نورې راډیو ګانې په ګرو نیول شوي، چې دا په خپله د پوښتنې وړ خبره ده.

. له بده مرغه چې اوس د دښمنانو او سیالو ډلو په واک کې ژوندي وزارتونه دي، چې عملاً ورته کار کوي. په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت چې په دې خپل تېر دوران کې یې د خپلې بې کفایتۍ، درغلۍ او بې انصافۍ ښه او پخه ازموینه ورکړله او موږ په دغو هڅو کې وینو چې په خپله د کلتور وزیر په دې ملي ضد هڅو کې ستر رول لوبولی او د خپلو بادارانو لپاره یې ستر خدمتونه کړي دي. کله چې د هېواد تکړه لیکوال او د دې وزارت مرستیال ښاغلی عبدالحمید مبارز هم د رهین د کینې او عقدې ښکار شو، په هغه پسې په خپله د رهین په خپرونه (انیس) کې داسې یوه لیکنه راغلې، چې هم یې د ښاغلي مبارز پر شخصیت تېری کړی، هم یې بېځایه تورونه ورباندې تړلي دي، دلته ولې د ټولیزو رسنیو قانون پر رهین نه تطبیقېږي؟؟ ښاغلي رهین یو دا دلیل هم درلود، چې مبارز زوړ بوډا دی کار نه شي کولای، خو موږ حیران چې رهین بیا چېرې داسې څوارلس کلن ژنی دی، چې د ځان د پرکارۍ سند په جېب کې ګرځوي، اوس هم د خپلو سترګو علاج نه کوي، یو شی ورته دوه ښکاري. ښاغلي رهین یو وخت د خپلو کارونو له کبله په (خراساني) شهرت درلود چې اوس هم له زیاتو پټو او ښکاره ډلو سره اړیکي لري.

موږ دلته د دې ښاغلي د کارونو په باب ټول څه نه وایو، ځکه چې ټول شیان به تاسې په خپله په دې کتاب کې ومومئ، موږ هم دا منو چې ځینې اشخاص په غندنې هم نه ارزي، خو بیا هم دا ښه خبره ده چې ځوانان مو دا وړ ځېرې وپېژني، چې دې ښاغلي کوم ګلونه کرلي دي.

لیکنې په دواړو ژبو دي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کنفرانسونو په تالار کې مو - د ملي مسایلو په باب یو جوړ شوی سیمینار هم رااخیستی، زموږ په اند ډېر ستر ارزښت لري، ځکه چې په دې کنفرانس کې ځینې داسې جملې ویل شوي چې ملت ته د سند په توګه وړاندې کول یې زموږ دنده ده. ځکه یو وخت ښاغلي رهین دعوه کړې وه، چې په دې سیمینار کې داسې جملې نه دي ویل شوي، خو نه یوازې دا چې ملت دا توري اورېدلي، بلکې دا دی اوس یې د سند په توګه تاسو ته هم وړاندې کوو، چې د ښاغلي رهین دا ښکرور درواغ او نورې باتې په عمل کې درته ثابتې شي.

باختر اژانس د پښتو لیکنو په برخه کې ستونزې لري، په زیاتو برخو کې خو یا پښتو لیکنې نه دي رااخیستل شوي او که اخیستل شوي هم دي، ډېرې غلطۍ لري، سړی پر ځینو جملو هېڅ نه پوهېږي. موږ چې د باختر اژانس انټرنټ پاڼه هر مهال کتله او د دې سیمینار پښتو برخې ته مو لار څارله، خو له بده مرغه چې تر ډېرې مودې وروسته مو بیا هم دا لیکنې ونه موندې. بل دا چې د کتاب چاپ ځنډېده، له دې کبله مو نور انتظار ونه کړ، بله دا چې د کتاب دویم ټوک هم راروان دی، که خدای کول هلته به هم داسې مستندې لیکنې راشي.

ښاغلي رهین په شان تعصب لرونکي عناصر، چې تل یې د بل ډول ته ځنې اچولي او په پردي خیرات کې یې سپي په لوټه ویشتلي دي، ګومان کوي چې ملت ویده دی او د دوی ملي ضد کړنو ته یې هېڅ پام نه شته، حال دا چې داسې نه دی، دا دی تاسې هم وینئ چې تر دې دمه په دې ملي ضد هڅو پسې څومره لیکنې شوي، او سنی کتاب خو د دغو لیکنو لسمه برخه هم نه ده، بلکې موږ زیاتې لیکنې د دې کتاب بل ټوک ته پرېښودې او اوس خو ایله د دې لړۍ لومړی ټوک خپرېږي، چې په راروانو ټوکونو کې به نورې خپرې شوې او یا خپرېدونکې لیکنې راشي.

دا خبره خو اکثره مهال د ستمي ډلې پلویان کوي، چې ګواکې په دې هېواد کې د ستونزو د اوارۍ لار یوازې دا ده چې په دې هېواد کې ټول اوسېدونکي دې له خپل ملي هویت څخه لاس واخلي او هغه څه دې ومني چې دوی یې وایي. حال دا چې موږ وایو زموږ ملت یو سرلوړی، ویاړلی او د اصیل هویت لرونکی ملت دی، چې د هېڅ پردي پروا هم نه ساتي، دا ملت به د دې ځمکې پرمخ همداسې سرلوړی او باتور پاتې وي.

او سنی کتاب ښایي د منځپانګې له مخې په بشپړ ډول د سید مخدوم رهین په اړه قضاوت نه وي، زیاتې لیکنې داسې دي چې د ده د وزارت په واکمنۍ کې د کلتوري ستم کیسې کوي، زیاتې لیکنې د ده خپل کارونه تشریح کوي، زیاتې لیکنې د ده کړنې د قضاوت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تله کې ږدي او ځيني ليکنې د اسنادو بڼه لري، چې موږ يې دلته په دې موخه خوندي کوو ، چې يو مهال تاريخ وربانديې قضاوت وکړي. يو شمېر ليکنې بيا د حل پر لارو چارو غور کوي، چې د ځينو ستونزو د اوارۍ لار کومه ده؟

د کتاب په پيل کې مو د مطبوعاتو قانون هم رااخيستی، چې لوستونکي يې ولولي او که د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي دا قانون ونه لري، نو دلته دې ولولي چې کومې مادې لري او د دوی وظايف څه دي، دغه راز دوی تر دې دمه کومې سرغړونې کړې دي.

زياتې ليکنې مو په ډېرو سختيو پيدا کړې، نو په کابل غوندې ځای کې د پښتو خپرونو پيدا کول ډېر ستونزمن کار و ، بيا مو هم ځينې پښتو خپرونې د کابل او ولايتونو له کتابپلورنځيو څخه رانيولې، هغه مو ولوستې او له خپلې موضوع سره نژدې ليکنې مو په کې غوره، بيا ټايپ کړې، د دې لپاره چې وکړای شو ، خپل مواد يو څه نور هم غوښن کړو ، نو مو انټرنټ ته مخه کړه، چې له انټرنټ څخه اخيستل شوې ليکنې معلومې دي، چې موږ د سرچينو په برخه کې د هغو يادونه کړې ده.

ګڼ شمېر ليکنې مو له سره ټايپ کړې، څرنګه چې موږ ور کمپيوټر په واک کې نه درلود ، له دې کبله مو زياتې ليکنې له منځه لاړې، بيا مو هم زياتې ليکنې له سره ټايپ او سره واوډلې. چې دې کار هم زيات وخت وغوښت. اوسنی کتاب بايد په تېر ژمي کې چاپ وای، چې دغو ستونزو د کتاب په چاپ کې يو څه ځنډ رامنځته کړ، بيا هم (دېر ايد ، خوش ايد ) دا دی اوس د کتاب منځپانګه نوره هم زياته شوه.

په درناوي

افغان ولسپال ځوانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| لړ سرلیک | مخ |
|---|---|
| • د ټولیزو رسنیو(مطبوعاتو ) قانون | 1 |
| • داکتر سید مخدوم رهین، وزیر اطلاعات و کلتور | 12 |
| • له جمهور رئیس کرزي څخه ګیله | 13 |
| • د ذره بین ښځایه دفاع | 16 |
| • ایا تمام وزراء جنسالار اند ؟ | 22 |
| • افغانستان او د ایران کلتوري یرغل | 24 |
| • افغاني کلتور ته ورپېښې زیانونه | 29 |
| • اقای وزیر لیاقت ندارد ! | 33 |
| • ډاکټر سید مخدوم رهین په نوم یو پرانیستی لیک | 35 |
| • د سید مډال د چا په چوپړ کې؟ | 37 |
| • وزیر فرهنږ و ارشاد اسلامي در دیدار با وزیر... | 42 |
| • سد مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنږ افغانستان... | 44 |
| • ایا د وزیر صاحب ټوکې هم نیم حقیقت دی؟ | 46 |
| • ایران 14 هزار جلد کتاب را به [پوهنتون] و... | 48 |
| • نمایش همزمان فیلم ایراني 'دوئل' در کابل و تهران | 49 |
| • کابل تهران شو | 51 |
| • په لوګر ولایت کې دلرغونو اثارو کیندنې | 54 |
| • په کابل کې مرموزې پلټنې | 56 |
| • بودا اوس هم تهدیدېږي | 59 |
| • د یوه هېواد تاریخ غلا کول ! | 61 |
| • مننه، سلامونه، ادب او درنښت | 64 |
| • په دې ټولنه کې د لیکوالو درنښت داسې کېږي ! | 67 |
| • اوبه له پاسه خړې دي | 88 |
| • تاریخي اثار د نابودۍ له ګواښ سره مخامخ دي | 90 |
| • 2500 کلنه تاریخي کلا له ګواښ سره مخامخ ده | 94 |
| • استرداد اشیای باستاني افغانستان نشانه کمال حسن نیت. | 98 |
| • د هېواد له فرهنګي او تاریخي اثارو څخه ملاتړ | 100 |
| • مورږ د اطلاعاتو او کلتور یو ملي وزارت غواړو | 104 |
| • نوې کابینه ملي کابینه ده، که مسلکي؟ | 114 |
| • نامه رسیده (پیام مجاهد ) | 118 |
| • د کرزي د کابینې تر ټولو بده څېره | 120 |
| • پر کېبلي ټلویزیون بندیز، افغانان په غوسه کړي دي | 123 |
| • رهین خیبر ټلویزیون نه غواړي | 126 |
| • ایا قاچاق ورونکي باید په کندهارۍ لهجه خبرې وکړي؟ | 127 |
| • 'پنجره' د 'امید' پر پله | 130 |
| • د افغانستان په نامه ټلویزیون ته یوه کتنه | 139 |
| • 'شاه لیلا بې وروره مه شې...' *(د افغانستان ټلویزیون د چا لپاره؟)* | 142 |
| • د مطبوعاتو ازادي، که د تورونو تود بازار؟ | 146 |

(c) ketabton.com: The Digital Library


- هنر را الوده نکنید ! 148
- څه ډول د بیان ازادي؟ 149
- ازاد مطبوعات، که متعصب مطبوعات 152
- د ولسواکۍ تر شعارونو لاندې 155
- دولت به سانسور متهم میباشد 157
- د مطبوعاتو په ډګر کې د کال لوړې او ژورې 160
- مطبوعات باید د افرادو حرمت وساتي 166
- په افغانستان کې د مطبوعاتو بازار 169
- جرگه بزرگان و سرېندي قبیله سالار پارسي ستیز 173
- ایا د مطبوعاتو ازادي د توهین لپاره ده؟ 178
- (صبا ) ښکنځلنامه بابا رح ولې ښکنځي؟ 183
- د ولس په وړاندې درغلي څه ته وایي؟ 185
- د رهین په وړاندې د کابل لاریون څه شي وهڅاوه؟ 188
- د علامه رشاد په مړینه کې د کلتور وزارت د مور او میرې سلوک 190
- رهین اوس څوک لري؟ 193
- 'اواز' نوښت دی او که..؟ 198
- د 'پرواز اریانا' مجلې دویمې ګڼې ته یوه لنډه کتنه 202
- پر نوي کهول رحم وکړئ ! 206
- افغانان د سیاست بازیو قرباني شوي دي 209
- د 'ایینې' فعالیتونه د حقیقت په هنداره کې 213
- مغل هرڅه پر بل مخ اړوي 220
- د پوهنې وزارت او هېوادنۍ خپرونې ولې له پښتو... 224
- له پښتو ژبې سره د لنډمهالې او منځمهالې ادارې... 228
- په افغانستان کې د ژبو ملي او سیاسي مشروعیت 232
- پښتو هم د افغانستان رسمي ژبه ده ! 240
- پښتو ژبه یوه ملي او فرهنګي اړتیا 242
- مباحثه ازاد در تالار کنفرانس وزارت اطلاعات... 252
- یک نشنلست ایراني در مقابله با ارزشهاي افغاني 473
- لیکوال جنگسالاران 477
- افغانستان او لا هم د تربګنیو الفبې 481
- ملي ټرمینالوژي، کلتوري یرغل او دولتي چارواکي 482
- د افغانستان ملي ټرمینالوژي او سرغړونې 485
- ملي ټرمینالوژي، ملي هویت او د ملي کلتور یوه برخه 488
- غلام رسول خوشبخت د بېګناهۍ په تور بندي دی ! 491
- احتجاج لیک 500
- اطلاعات او کلتور وزرات د درواغو او رښتیاوو ترمنځ 505
- طنزیه مرکه 507
- له راتلونکي ولسمشر څخه یوه غوښتنه 514
- د کابل ټلویزیون خپرونې سرې عصباني کوي 518
- پروگرامهای مبتذل، وزیر فرهنګ را به صدا دراورد 521

(c) ketabton.com: The Digital Library


- وزیر فرهنګ نشرات کیبلي را اموزنده خواند !! **523**
- د دوستانو مرکه په ټپو کې **525**
- نامه رسیده **527**
- نامه رسیده **529**
- شراب نوشي علني در ادارات دولتي **531**
- خبرنګاران با تهدید مرګ مواجه هستند **533**
- وزراي بنیادګرا باید خود را از الودګي ها پاک سازند **537**
- چرا وزارت اطلاعات و کلتور ملي نداشته باشیم؟ **541**
- نظم **544**
- سرچینې **541**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان ما

▪ تحقق وحدت ملي در سر تا سر کشور عزیز ما افغانستان.
▪ حفاظت اثار باستاني کشور از چنگال دزدان و قاچاقبران بیگانه پرور.
▪ رسوا کردن جنایات و فعالیتهای غیرقانوني بعضی از چهره کا ، که به خاطر منافع بیگانگان ارزشهای افغاني و ملي خویشرا لیلام میکنند.
▪ تحکیم قانون اساسي در افغانستان که مردم ستمدیده ما بتوانند در پرتو ان به زندگی خویش ادامه دهند.
▪ از بین بردن فاصله های موجود میان اقوام ساکن این کشور و زمینه سازی حقیقی به اشتی ملي.
▪ انکشاف و پیشرفت تمام زبانهای مروج در کشور در پرتو قانون اساسی.
▪ محو کردن هر نوع تبعیض لسانی، قومی و محلي، البته این مسئله بگانه عاملی است، که در کشور عزیز ما به جنگسالاري و بیقانونی ره میگشاید ، کشور عزیز ما را به ویرانه مبدل ساخت و باعث بربادی ما شده است.
▪ به امید یک افغانستان سربلند و مرفع که از هرگونه تبعیض پاک باشد و تمام افغانها انرا خانه مشترک خود بدانند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ شعار

- اسلامي او افغاني ارزښتونه له بربادۍ او نابودۍ څخه ساتل او د زړه له کومې ورته درناوی لرل.
- د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه او د ګاونډیانو هېوادونو له یرغلونو څخه د ګران هېواد ساتنه او دفاع.
- د هر ډول ژبنیز، سیمه ییز او توکمیز تعصب په وړاندې عملي مبارزه.
- د هېواد د ټولو قومونو ارزښتونو ته د زړه له کومې درناوی، دغه راز ټولو ته د خدمت لارې چارې برابرول.
- اساسي قانون، د هېواد نورو مدني او فرعي قوانینو ته د زړه له کومې درناوی او عملي کېدو ته یې لارې چارې برابرول.
- د هېواد د تاریخي، کلتوري او هنري اثارو ساتنه، دغه راز نړیوالو ته یې ورپېژندل، په دې برخه کې د غلو او قاچاق وړونکو رسوا کول، عدلي او د قانون پلې کوونکو ادارو ته یې ورپېژندل او د محاکمې لپاره یې اواز پورته کول.
- د هېواد تاریخ ته د زړه له کومې درناوی او له هر راز تېري څخه یې ساتل.
- د هېواد له ملي او ربنتینو ارزښتونو څخه د ځوان نسل خبرول، په دې برخه کې د هر ډول ملي او ګټورې هڅې لپاره لارې چارې برابرول.
- د هغو مضرو اشخاصو د هڅو او پټو توطیو رسوا کول چې د دې هېواد او خلکو پرضد کار کوي.
- ملي یووالي ته لارې چارې برابرول او په دې لار کې هېڅ ډول معامله نه کول.
- له سیاسي کړیو څخه ځان لیرې ساتل او یوازې د ملت دردونه نورو ته رسول.
- د هېوادوالو په زړونو کې د کرکې پرځای مینه کرل او ورورولۍ ته لار برابرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون

## لومړی فصل

## ټولیز (عمومي) حکمونه

### لومړۍ ماده:

دغه قانون، د اساسي قانون د څلورد یرشمې مادې د حکم له مخې او د بشر د حقوقو د نړیوال میثاق د نولسمې مادې په رعایتولو سره، د فکر او بیان د آزادۍ د حق د تأمین او په هېواد کې د ټولیزو رسنیو د فعالیت د تنظیم په موخه وضعه شوی دی.

### دویمه ماده:

د دې قانون موخې (هدفونه) دا دي:

1- د فکـر او بیـان د آزادۍ د حـق دودول او لـه هغـه څخـه ملاتـړ، د خبریـالانو (ژورنالیسـټانو) لـه حقوقـو څخـه د فـاع او د هغـوی د آزاد فعالیـت لپـاره د وړ شـرایطو برابرول.

2- د آزادو، خپلواکو او زیات پلویو (کثرت ګرا) ټولیزو رسنیو دودول او پرمختیا.

3- د وینا، لیکنې، رسم، انځور (تصویر)، د فیتې پر مخ د ثبت، تمثیل، خوځښت (حرکت) او د نورو علمي، هنري او چاپي پدیدو په مرسته د هېواد د اتباعو د فکر او احساس د څرګندولو لپاره د مناسبې زمینې برابرول.

4- د اسلام د مبین دین د حکمونو پـه پـام کې نیولـو سره، د بشـر د حقوقو پـه نړیـوال میثاق کې مسجل شوي د بیان او ټولیزو رسنیو د آزادۍ د اصل رعایتول.

5- د ټولیزو رسنیو د سالمې ودې په موخه داسې مرسته چې وکړای شي په هېواد کې د ثقافت د خپرېدو اغېزناکه وسیله شي او عامه رأیې په رښتینې او ګټوره توګه ټولنې ته منعکسې کړي.

### درېیمه ماده:

په دې قانون کې لاندېنې اصطلاحات دا مفاهیم لري:

1- رسنۍ: له لاندې وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د معلوماتو د لېږدونې وسیله یا آله ده:

- بصري وسایل: رسم، عکس، پسټ کارټ او پوسټر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



● سمعي او بصري وسايل: راډيو، ټلويزيون، کېبلي شبکه او انځوريز (تصويري) ګرځنده فون (موبايل).

● اطلاعاتي وسايل: اطلاعاتي او مطبوعاتي آژانسونه.

2- مطبوعات: هغه چاپ شوي توري او شکلونه دي چې مطلبونه يا يو صورت افاده کړي او د تولیز ارتباط تول وسايل لکه: ورځپاڼه، جريده، مجله، رساله، کتاب، موعظه، خطابه او بيانيه په کې راځي.

3- ټولیزې رسنۍ په دې قانون کې په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

● دولتي ډله ييزې رسنۍ: هغه رسنۍ دي چې په دولتي ادارو پورې اړه لري او د هغوی له خوا تمويل او تجهيزېږي.

● ډله ييزې ټولیزې رسنۍ: هغه رسنۍ دي چې په سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي سازمانونو پورې اړه لري او د هغوی له خوا تمويل او تجهيزېږي.

4- خبريال (ژورناليسټ): هغه مسلکي کس دی چې د خبري وسايلو له لارې د معلوماتو د غوښتنې، ترلاسه کولو او خپرولو په ډګر کې په فعاليت بوخت وي.

5- چاپخونه (مطبعه): اقتصادي، تخنيکي او حقوقي مؤسسه ده چې ورځپاڼه، مجله، کتاب، جريده، ابلاغيه، رساله، اعلان، پوسټر او پسټ کارټ په کې چاپېږي.

6- چاپوونکی (طابع): هغه رښتينی يا حکمي کس دی، چې د ملکيت يا د مالک په استازيتوب د چاپخونې (مطبعې) د چارو بالفعل چلوونکی وي.

7- خپروونکی (ناشر): هغه رښتينی يا حکمي کس دی، چې د غير موقوتو آثارو د چاپ او خپرولو اجازه لري.

8- د امتياز خاوند: هغه رښتينی يا حکمي کس دی چې د موقوتو چاپي وسايلو په چاپ او خپرولو، د راډيو- ټلويزيون، کېبلي شبکې، آژانس او مطبعې په دايرولو لاس پورې کوي.

9- مسؤول مدير: هغه کس دی چې په بالفعل ډول، د دې مادې په اتم جزء کې د خوندي شويو وسايلو د اړوندو چارو د تدوير مسؤوليت پر غاړه لري.

10- خپرول (نشر): هغه عمليه ده چې د هغې په واسطه د چاپي وسايلو، براډکاسټنګ او د سمعي او بصري وسايلو پيغام عامو کسانو ته ورسوي.

11- راډيو: د ټولیزو اړيکو سمعي وسيله ده.

12- ټلويزيون: د ټولیزو اړيکو سمعي او بصري وسيله ده.

13- کېبلي شبکه: د ټولیزو اړيکو او انعکاس هغه سمعي او بصري وسيله ده چې ډول ډول نړيوالې اطلاعاتي، ښوونيزې، روزنيزې، فرهنګي او تفريحي خپرونې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمکۍ له لارې اخلي او نورو ته یې وړاندې کوي.

## دویم فصل

## حقوق او وجیبې

### څلورمه ماده:

(1) هر کس د فکر او بیان د آزادۍ حق لري. د دولتي مسوٰولینو له خوا له مداخلې او محدودیت پرته، د معلوماتو او نظریو غوښتل، ترلاسه کول او انتقال په دې حق کې شامل دي او د بیان او د معلوماتو د خپرولو ،وېش او ترلاسه کولو د وسایلو آزادي هم په خپله لمن کې رانغاړي.

(2) دولت د ټولیزو رسنیو د آزادۍ ملاتړ کوي او پیاوړې کوي یې.

هېڅ رښتینی یا حکمي کس د دولت او دولتي ادارو په ګډون نه شي کولای د خبري او یا معلوماتي رسنیو فعالیت منع، تحریم، سانسور یا محدود کړي او یا په بل ډول سره د ټولیزو او معلوماتي رسنیو په چارو او خپرونو کې لاسوهنه وکړي.

### پنځمه ماده:

هر څوک حق لري معلومات وغواړي او لاسته یې راوړي. دولت د هېواد اتباعو ته هغه معلومات برابروي، چې غواړي یې، خو هغه وخت له دې کار څخه ډډه کوي چې غوښتل شوي معلومات پوځي محرم رازوي او په ډاګه کول یې ملي امنیت او ګټې له خطر سره مخامخ کړي.

### شپږمه ماده:

(1) خبریالان (ژورنالیستان) د رپوټونو او انتقادي نظریو په ګډون د خپلو مسلکي فعالیتونو په ترسره کولو کې د قانوني ملاتړ وړ ګرځي.

(2) خبریالان (ژورنالیستان) حق لري د خپلو کاري سرچینو له څرګندولو (افشاء کولو) څخه ډډه وکړي، خو هغه وخت باید دا سرچینې پټې ونه ساتي، چې واکمنې محکمې د هغو د څرګندولو حکم کړی وي.

### اوومه ماده:

خبریالان او د ټولیزو رسنیو نور غړي کولای شي، له خپلو ټولیزو ګټو څخه د دفاع په موخه، د دې قانون له حکمونو سره سم خپلواکې اتحادیې جوړې کړي.

### اتمه ماده:

(1) د هېواد اتباع کولای شي، په دریېمه ماده کې د ټولیزو رسنیو خوندي شوي وسایل، د دې قانون له حکمونو سره سم تأسیس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2) بهرنۍ سیاسي نمایندګۍ، نړیوالې موسسې او په افغانستان کې د هغو نمایندګۍ کولای شي د ډیپلوماتیکو اډولونو په رعایتولو سره، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته اجازې وروسته د خبري توکو په چاپ او خپرولو لاس پورې کړي.

## دریم فصل

## مطبوع وسایل

### نهمه ماده:

(1) د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، کورني ثبت شوي سازمانونه او بهرني کډوال (مهاجرین) کولای شي، د دې قانون له حکمونو سره سم چاپي وسایل تأسیس کړي.

ورځپانه، موقوته خپرونه او نورې چاپي خپرونې له مخکېنۍ اجازې سره سم تأسیس او خپرېدی شي.

(2) هغه خپرونې چې چاپشمېر یې له دوو سوو ګڼو څخه لږ وي د دې قانون په (13 او 28) ماده کې د خوندي شویو حکمونو تابع نه دي او د مخکېنۍ اجازې ترلاسه کول او ثبتول نه ایجابوي.

### لسمه ماده:

د چاپي خپرونو مؤسس، د خپلې خپرونې د ثبت پر وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د لاندېنیو معلوماتو په وړاندې کولو مکلف دی:

1- د غوښتنلیک وړکوونکي بشپړه پېژندګلوي او د استوګنځي پته.

2- د خپرونې نوم او د خپرېدو ځای یې.

3- هغه ژبه چې خپرونه پرې خپرېږي.

4- د خپرونې د تمویل سرچینه او د پانګې کچه یې.

### یوولسمه ماده:

چاپي خپرونه د نوم، ټاکلې پتې، د چاپځي د یادون، د امتیاز خاوند، د مسوٌول مدیر د نوم او د خپرېدو د نېټې لرونکې وي.

### دوولسمه ماده:

په اصلي نسخه کې د اثر د خاوند پېژندګلوي او د هغه لاسلیک حتمي دی.

### دیارلسمه ماده:

هره چاپي وسیله، د دې قانون له حکمونو سره سم، د امتیاز خاوند او مسوٌول مدیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم فصل

## چاپخونې (مطبعې)

### څوارلسمه ماده:

د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه او دولتي اداري کولای شي د چاپخونې (مطبعې) په جوړولو او پرانیستلو لاس پورې کړي، په دې شرط چې له اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه يې د فعالیت جواز تر لاسه کړی وي.

### پنځلسمه ماده:

د مطبعې د پرانیستلو د جواز غوښتنلیک ورکوونکی اړ دی، د دې قانون د (24) مې مادې د حکم په پام کې لرلو سره د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته لاندې مطالب وړاندې کړي:

1- بشپړه پېژندګلوي او د استوګنځي پته.

2- د مطبعې نوم او د فعالیت ځای.

3- هغه ژبه چې طباعت يې په واسطه صورت مومي.

4- د طباعتي آلاتو او تجهیزاتو ډولونه.

5- د هغې پانګې سرچینه او کچه چې د مطبعې په تدویر او پرانیستنه کې کارول کېږي.

### شپاړسمه ماده:

د مطبعې د ملکیت انتقال مجاز دی، هغه کس چې د مطبعې ملکیت ورته انتقالېږي، اړ دی د دې قانون په (24) مه ماده کې خوندي شوي حکمونه پلي کړي.

### اوولسمه ماده:

د مطبعې د فعالیت پیل او د هغې د کار دوام د امتیاز خاوند او د مسوول چلوونکي له درلودو پرته جواز نه لري.

### اتلسمه ماده:

د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه او ټولنیز سازمانونه چې خپله د مطبعې خاوندان نه وي، حق لري له دولتي او شخصي مطبعو څخه د هغو له مالي او حسابي مقرراتو سره سم ګټه واخلي.

## پنځم فصل

## سمعي او بصري وسایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نولسمه ماده:

دهېواد اتباع، سياسي ګوندونه، ټولنيز سازمانونه، نورې خصوصي او دولتي مؤسسې کولای شي سمعي او بصري دستګاوې او وسايل د دې قانون له حکمونو سره سم جوړ کړي.

## شلمه ماده:

(1) د سمعي او بصري دستګاوو او وسايلو د ښه فعاليت او تنظيم لپاره، دراډيو او ټلويزيون د خپرونو ملي کمېسيون د پنځو غړو په ګډون جوړېږي.

(2) د راډيو او ټلويزيون د خپرونو ملي کمېسيون، د ولسمشر (جمهور رئيس) له لوري د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د کمېسيون کار عند اللزوم تمديد کېدی شي.

## يوويشتمه ماده:

(1) د راډيو- ټلويزيون د خپرونو د ملي کمېسيون دندې او واکونه په لاندې ډول دي:

1- د مخکېنيو وضع شويو معيارونو پر بنسټ، دراډيو-ټلويزيون دستګاوو ته د جواز صادرول او د فريکونسيو ټاکل.

2- له راډيو- ټلويزيون څخه د ګټې اخيستنې په ترڅ کې، سياسي ګوندونو ته د مسلکي لارښوونو صادرول.

3- د خپرندويې او مدني ټولنې له چلوونکو سره تر سلا مشورې وروسته، د برېښنايي (الکټرونيکي) وسايلو خاوندانو ته د اړينو لارښوونو صادرول.

4- د ټوليزو رسنيو په واسطه، د دې قانون د حکمونو د پلي کولو څارنه.

5- د دولتي راډيوګانو او ټلويزيونونو د خپرنيزې پاليسۍ ټاکل.

(2) د راډيو- ټلويزيون د خپرونو ملي کمېسيون خپلواک دی، د خپلو کړنو (اجراآتو) رپوټ به ولسمشر (جمهور رئيس) ته وړاندې کوي.

## دوه ويشتمه ماده:

د سمعي او بصري (راډيو- ټلويزيون) ټوليزو رسنيو د تأسيس غوښتنليک- ورکوونکی اړ دی د جواز د اخيستلو لپاره، د راډيو او ټلويزيون د خپرونو ملي کمېسيون ته لاندې معلومات وړاندې کړي:

1- بشپړه پېژندګلوي او د استوګنځي پته.

2- د سمعي او بصري وسيلې نوم او د فعاليت ځای.

3- د سمعي او بصري وسيلې ډول.

4- خپرنيز هدف او موخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5- د پانګې سرچینه او کچه یې.
6- د ماشین آلاتو او تجهیزاتو شومره والی (کمیت) او څرنګوالی(کیفیت).

**دریویشتمه ماده:**

هره سمعي او بصري وسیله، باید د دې قانون له حکمونو سره سم، د امتیاز خاوند او مسؤول چلوونکی ولري.

## شپږم فصل
## د امتیاز خاوند شرایط او مکلفیتونه

**څلورویشتمه ماده:**

د ټولیزو رسنیو د امتیاز خاوند ، لاندې شرایط لري:
1- د افغاني تابعیت د سند لرل.
2- د اتلس کلنۍ سن بشپړول.
3- د واکمنې محکمې له حکم سره سم، له مدني حقوقو څخه نه محرومیت.

**پنځه ویشتمه ماده:**

(1) د سمعي او بصري وسایلو او د چاپي وسایلو د امتیاز خاوند مکلف دی، خپل وسایل په دې قانون کې له درج شویو شرایطو سره سم ثبت کړي.

(2) که چېرې کومه خپرونه تر ثبت مخکې خپره شوې وي، د امتیاز خاوند یې اړ دی د یوې اوونۍ په ترځ کې خپله خپرونه د دې قانون له حکمونو سره سم ثبت کړي.

**شپږویشتمه ماده:**

که چېرې د امتیاز خاوند د جواز د ثبتولو یا صادرولو د رد په هکله د اطلاعاتو او کلتور وزارت تصمیم د قانون د حکمونو مغایر وګڼي، د مطبوعاتو د څېړنې کمېسیون ته مراجعه کوي، د نه قناعت په صورت کې کولای شي د محکمې په وړاندې دعوا سوره (اقامه) کړي.

**اووه ویشتمه ماده:**

(1) د خپرندویې ادارې او ټولیزې رسنۍ د ملکیت انتقال او د چاپ او خپرولو د حق لېږدونه مجاز ده، هغه کس چې ملکیت یا حق ورته لېږدول کېږي، اړ دی د دې قانون په (24) او (28) مو مادو کې خوندي شوي حکمونه رعایت کړي.

(2) د خپروندویې ادارې او ټولیزې رسنۍ رامنځته کول او د چاپ او خپرولو حق د امتیاز په خاوند پورې اړه لري. بل کس ته د دې حق د لېږدونې په صورت کې، د دې قانون په(24) او (28) مو مادو کې خوندي شوي حکمونه بشپړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اته ويشتمه ماده:**

مسوول مدير، په دې قانون کې د خوندي شويو حکمونو د شرايطو په پام کې نيولو سره په عين وخت کې د خپلې رسنۍ مسوول دی.

# اووم فصل

## د مسوول مدير شرايط او مکلفيتونه

**نهه ويشتمه ماده:**

مسوول مدير لاندې شرايط لري:

1- د هېواد د تابعيت د سند لرل.

2- د اتلس کلنۍ سن بشپړول.

3- د مسلکي زده کړو د سند يا لږ تر لږه د ژورناليزم په څانګه کې درې کلنه سابقه لرل.

4- د واکمنې محکمې په حکم، له مدني حقوقو څخه نه محروميت.

5- دولتي رسمي ماموريت نه لرل، رسمي دنده هغه وخت جواز لري، چې خپرونه په دولت پورې اړه ولري.

**دېرشمه ماده:**

مسوول مدير اړ دی، په اړونده خپرندويه وسيله کې د انتقاد کوونکي او انتقاد کېدونکي د حقوقو برابروالی رعايت کړي.

## اتم فصل

## ممنوعه خپرونې

**يو دېرشمه ماده:**

په ټوليزو رسنيو کې د دغه ډول ليکنو خپرول جواز نه لري:

1- هغه ليکنې چې د اسلام د اصولو مغاير او نورو دينونو او مذهبونو ته سپکاوی وي.

2- هغه ليکنې چې د اشخاصو د سپکاوي او پر هغو باندې د افتراء لامل شي.

## نهم فصل

## جزايي حکمونه

**دوه دېرشمه ماده:**

د امتياز خاوند په هغه صورت کې مسؤول ګڼل کېږي چې د دې قانون د حکمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف عمل وکړي.

## دري د یرشمه ماده:

(1) هغه رښتیني او حکمي کسان چې د دې قانون د حکمونو په پام کې نیولو پرته د افغانستان په قلمرو کې د ټولیزو رسنیو په تأسیسولو او چلولو لاس پورې کړي، په نقدي جزاء محکومېږي.

(2) که چېرې د ټولیزو رسنیو مؤسس او چلوونکی رښتینی شخص وي، په لاندې توګه په نقدي جزاء محکومېږي:

- ټلویزیون پنځلس زره افغانۍ.
- راډیو لس زره افغانۍ.
- آژانس لس زره افغانۍ.
- کېبلي شبکه دیرش زره افغانۍ.

(3) که چېرې د ټولیزو رسنیو مؤسس او چلوونکی حکمي کس وي، په لاندې توګه په نقدي جزاء محکومېږي:

- ټلویزیون اوولس زره افغانۍ.
- راډیو دوولس زره افغانۍ.
- کېبلي شبکه څلور دیرش زره افغانۍ.
- آژانس دوولس زره افغانۍ.

## څلورد یرشمه ماده:

(1) مسوول مدیر کولای شي د اثر د خاوند د نوم له ښکاره کولو څخه ډډه وکړي. په دې صورت کې د اثر له خپرېدو څخه پیدا شوی مسوولیت، مسوول مدیر ته متوجه دی.

(2) په موقوتو خپرونو کې د لیکوال په مستعار نوم انتقادي لیکنې خپرېدی شي، په دې شرط چې د لیکوال نوم او هویت مسوول مدیر ته ښکاره وي، د لیکنې یا اثر له خپرېدو څخه پیدا شوی مسوولیت مسوول مدیر ته متوجه کېږي.

## پنځه د یرشمه ماده:

(1) که چېرې د اثر خاوند د دې قانون له حکمونو سره سم د جزاء وړ ګڼل شوی وي، د جرم د فاعل په توګه تر عدلي څارنې لاندې نیول کېږي، په دې حالت کې مسوول مدیر د جرم د شریک په توګه ګڼل کېږي.

(2)که چېرې د لیکنې خاوند معلوم نه وي، له خپرېدو څخه یې پیدا شوی مسوولیت، یوازې مسؤول مدیر ته متوجه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږد پرشمه ماده:**

کـه چېـرې لیکـوال پـه نقـدي جریمـه محکـوم شـي، مکلـف دی، د جریمـې د حکـم د صادرېدو له نېټې څخه د یوې میاشتې په موده کې محکوم بها د دې قانون لـه حکمونـو سره سم تحویل کړي.

## لسم فصل
## وروستني حکمونه

**اووه د پرشمه ماده:**

بهرني اتباع کولای شي د سینماټوګرافي فلمونه په هېواد کې جوړ کړي، په دې شـرط چې له مخکې یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت اجازه ترلاسه کړې وي.

**اته د پرشمه ماده:**

د ټولیزو رسنیو فعالیت د هغې اساسنامې په وسیله سمبالېږي، چې مـوخې، دنـدې، واکونه، تشکیل او اړوندې مالي چارې په کې شاملې وي.

**نهه د پرشمه ماده:**

د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت اړ دی، د کورنیـو او بهرنیـو ټـولیزو رسـنیو د خپرونـو د آزاد فعالیت د تحقق په منظور ممکنې آسانتیاوې برابرې کړي.

**څلو ېښتمه ماده:**

د هغـو ټـولیزو رسـنیو د امتیـاز خاونـد او مسـؤول چلـوونکی چـې د دې قـانون تـر ټینګښت دمخه یې په فعالیت پیل کړی وي، مکلف دي د هغه د انفاذ له نېټې څخه د دوو میاشتو په موده کې، د دې قانون حکمونه په پام کې ونیسي.

**یو څلو ېښتمه ماده:**

د ښوونځیو او د لـوړو زده کـړو ، څېړنیـزو ، او مسـلکي موسسـو د درسـي او پـوهنیزو کتابونو چاپ او خپرول، د دې قانون د حکمونو تابع نه دي.

**دوه څلو ېښتمه ماده:**

(1) په دې قانون کې د خوندي شویو سرغړونو د څېړنې پـه موخـه، پـه لانـدې تشـکیل سره د څېړنې کمېسیون جوړېږي:

- د اطلاعاتو او کلتور وزیر د رئیس په توګه.
- د افغانستان د علومو اکاډمۍ استازی د غړي په توګه.
- د ژورنالیزم د پوهنځي دوه تنه استازي د غړو په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون استازی د غړي په توگه.
- د خبریالانو (ژورنالیستانو ) د اتحادیې دوه تنه استازي د غړو په توگه.

(2) د دې مادې په لومړۍ فقره کې خوندي شوی کمېسیون د دې قانون له حکمونو څخه درج شوې سرغړونې څېړي.

که چېرې موضوع د عدلي څارنې غوښتنه وکړي، جریان د غور په منظور عدلي سرچینې ته وړاندې کېږي.

### دري څلوېښتمه ماده:

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په نافذېدو سره یې، د 1380 هجري لمریز کال د کب د میاشتې د (18) مې نېټې د رسمي جریدې په (800) مه گڼه کې د مطبوعاتو خپور شوی قانون لغوه گڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داکتر سید مخدوم رهین
# وزیر اطلاعات و کلتور

مخدوم رهین در سال ۱۳۲۵ هجری شمسي در کابل متولد شد.

وی دوره کارشناسی ارشد خود در زمینه معارف در ایران و دکتورای خود در این رشته را در سوریه کسب کرده است.

مخدوم رهین یکی از افرادی بود که در سال ۱۳۵۲ در زمان حکومت "داوود خان" در لویه جرگه افغانستان نقش فعالی را در زمینه تدوین قانون اساسی افغانستان داشت.

وی پس از اشغال افغانستان توسط شوروی سابق به پاکستان فرار کرد و به مجاهدین پیوست.

مخدوم رهین در سالهای ۱۳۷۱ تا ۱۳۷۳ هجری شمسي به عنوان مدیر رادیو کابل وابسته به مجاهدین فعالیت کرد. که فعلاً به حیث وزیر اطلاعات و کتلور وظیفه اجرا مینماید.

در سالهاییکه در امریکا بسر میبرد ، یکي از فعال ترین چهره هایي بود که در هفته نامه امید مقاله یي از وی میامد ، در بعضي حلقه ها بنام 'خراساني' شهرت داشت که توانست با شناخت خاص به شاه سابق افغانستان خود را به مقام وزارت برساند.

از وی آثار تاریخی و فلسفی متعددی چاپ شده است. در یک سایت انترنت امده است:

## سید مخدوم رهین = چرسی سالار
## ( به ملنگ ها توجه دارد )[1]

(c) ketabton.com: The Digital Library



م. ساپی

# له جمهور رئیس کرزي څخه ګیله

استاد رهنورد زریاب د هېواد لوی داستان لیکونکی دی. استاد څواوونۍ دمخه وروسته له ډېرو کلونو مسافرۍ، وطن ته راستون شو او له نېکه مرغه د راتګ په لومړۍ اوونۍ کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سرمشاوریت وظیفه وروسپارل شوه.

زه چې د استاد علمي او ادبي هڅو ته په ډېر احترام قایل یم، په لومړني فرصت کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورغلم او استاد مې د هغه په دفتر کې ولید، کوټه یوازې د ده لپاره وه. دوه درې سیټه کوچونه په کې وو. د استاد د کار لپاره یو لوی مېز د کوټې په کونج کې ایښی و. د مېلمنو په خاطر په ترموزونو کې تیار چای او وچه مېوه وجود وو. خوشحاله شوم، د استاد کوټه د معینانو او په خپله وزیر تر کوټې لویه وه. اطلاعات او کلتور وزارت باید له فرهنګیانو سره همداسې چلند وکړي.

د هغه له کوټې د استاد رفیع دفتر ته لاړم. استاد رفیع مې ولید، له څو نورو کسانو سره پر یوه اوږده کوچ باندې ناست و. په کوټه کې مېزونه نه وو. د دفتر کوټه د استاد رفیع او نورو کسانو تر منځ شریکه وه. له استاد رفیع سره له مختصرو خبرو وروسته کور ته روان شوم، په ټکسي موټر کې سپور وم او یوه ځورونکې سوچ کړولم.

استاد رفیع د استاد زریاب په نسبت لس- پنځلس برابره ډېر کتابونه لیکلي دي. کله چې استاد زریاب د روسانو له خوا د افغانستان د اشغال په کلونو کې په کابل کې د انجمن رئیس و، استاد حبیب الله رفیع د یوه در په دره او بېوسه مهاجر په توګه په پېښور کې اوسېده او شپه- ورځ یې د وطن د ازادۍ لپاره لیکنې کولې. وروسته بیا چې د تنظیمۍ جګړو او طالبي حکومت په کلونو کې استاد زریاب په فرانسه کې وخت تېراوه، استاد رفیع بیا هم د وطن د حالاتو د ښه کېدلو لپاره شپه و ورځ تلاش کاوه. دی یوازېنی لیکوال و، چې د بامیان د بوتانو په ړنګولو باندې یې په اعتراض کې مستقل اثر ولیکه او د طالبانو دغه د افغانستان مخالف اقدام یې وغانده.

استاد د تنظیمي جګړو او دطالبانو د ظالمانه نظام په کلونو کې څو ځله افغانستان ته سفرونه وکړل، یونلیکونه (سفرنامې) یې ولیکلې، مرکې یې وکړې او له بشري جنایتونو یې پرده پورته کړه.

کله چې د ملا محمد عمر له ظلم او خپلسرۍ څخه افغانستان ازاد شو، ښاغلي حبیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله رفیع له لومړنیو لیکوالو څخه و، چې وطن ته راغی او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې (چې هغه وخت یې د ایرانیانو په پیروۍ نوم په اطلاعاتو او فرهنګ نه و بدل شوی) په کار پیل وکړ. د استاد رفیع علمي او مطبوعاتي سابقې ته په پام سره هیله کېده، چې هغوی ته په دې وزارت کې مهمې چارې وسپارل شي، خو هغه د یوې تشې په نامه مطبوعاتي شورا غړي وټاکل شو، خو استاد رفیع چې وطن ته د خدمت په منظور راغلی و، په دغې شورا کې تر ننه پورې غړی پاته شوی دی.

دلته هر چا ته سوال پیدا کېږي، چې د دغو دوو استادانو د مقام تر منځ ولې دومره توپیر دی؟

د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د مدیریت او ریاست په څوکیو کې د پښتو ژبو شمېر لس فیصدو ته هم نه رسېږي. حال دا چې د استاد برهان الدین رباني په دوران کې دومره تبعیض او ستم نه و.

ډاکتر سید مخدوم رهین چې یو وخت د خپلو خاصو تمایلاتو په خاطر په مطبوعاتي کړیو (حلقو) کې په خراساني مشهور شوی و، ممکن د خپلو خاصو تمایلاتو یا له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره د خاصو اړیکو په خاطر ډېر څه وکړي، خو ګیله باید له ښاغلي کرزي څخه وشي، چې ولې قومي او ژبني تعبیضونو ته اجازه ورکوي؟

د کابینې ځینې وزیران چې د خپلو قوماندانانو په زور یې څوکۍ نیولې دي، ممکن د کرزي صاحب پروا ونه لري، خو هېڅ دلیل نه شته چې د رهین صاحب غوندې بې ټوپکه او بې قوماندانه وزیران هم د کرزي صاحب پروا ونه کړي.

په اطلاعاتو او کلتور وزارت او یا د رهین صاحب په قول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې پښتو لوحې لیرې شوې او کېږي او ان چې د افغاني- دري پرځای ایرانۍ فارسۍ ته ترجیح ورکول کېږي. که څه هم په ظاهره د مطبوعاتو قانون شته دی او دغه قانون د هېڅ قوم، نژاد او مذهب توهین او تحقیر ته اجازه نه ورکوي، خو په کابل کې داسې هفته نه وي چې یو خاص قوم په مطبوعاتو کې تحقیر او توهین نه شي او ان د سلګونو کلونو پخواني مشران یې په سپکو نومونو یاد نه شي، مګر د اطلاعاتو او کلتور وزارت هېڅ اعتراض نه ورباندې کوي او بلکې په خپله ورته زمینه مساعدوي.

انیس چې سرکاري اخبار دی د پښتو ژبې او د افغانستان د نوم پر خلاف مطالب خپروي او حتی خلکو ته بلنه ورکوي چې اوس خو ازادي ده، د دغسې مسایلو په باب که هرڅه لیکئ، ویې لیکئ.

نژادي تعبیض او لساني تبعیض د افغانستان د تباهۍ او بربادۍ اصلي عامل دی. هغوی چې قومي او فرهنګي ظلم او تبعیض کوي، په حقیقت کې وطن تباه کوي، جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خونريزۍ ته لار اواروي. د غسې ظلمونه او توپيرونه تروريستي عناصرو ته زمينه برابروي، چې په افغانستان کې ځالې جوړې کړي.

کرزی صاحب بايد اطلاعات او کلتور وزارت کې فرهنگي استبداد ته توجه وکړي، د اسې وزارت چې لساني تعصب په کې پالل کېږي او اسلام ته د سپکاوي او بې احترامۍ د عاملانو حمايت کوي (لکه د افتاب د ضد اسلامي جريدې له چلوونکو څخه د اطلاعاتو او فرهنگ د وزارت حمايت) په واقعيت کې تروريزم ته زمينه مساعدوي.(2)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین غر خوږیانی

# د ذره بین بېځایه دفاع

په افغانستان کې د لنډ مهالې اداري په راتګ سره د مطبوعاتو آزادي هم رامنځته شوه او ورسره په کابل کې خپرونې هم دومره زیاتې شوې چې کیفیت یې د کمیت قربانې شوی.

یو وخت د خلکو ترمنځ دا خبره مشهوره وه چې هر کتاب یا خپرونه په یو ځل لوستلو ارزي خو نن سبا په کابل کې ځینې داسې خپرونې هم شته چې باور وکړئ په یو وار لوستلو هم نه ارزي او که چې د (خنجر) په نامه شپې لیک (شبنامې) ته ورته خپرونه هم په همدې کتار کې راځي چې باید ځوک یې په لوستلو وخت ضایع نه کړي، خو زما عادت دی چې نوې خپرونه وګورم نو خامخا یې یو ځل لولم.

د خنجر خپرونه چې مې د لومړي ځل لپاره ولیده نو لومړی یې دا نوم (خنجر) راته ډېر بد او د حیرانتیا وړ ښکاره شو، ځکه زموږ ببوزلي هېوادوال خو دا ۲۳ کاله د خپلو او پردیو په خنجرونو ووهل شول نور خو دا په کار وو چې د خنجر پرځای موږ خپلو خپرونو ته داسې نومونه غوره کړي وای چې د هېواد د بیا رغونې، ورورولۍ، او ملي یووالي ځرګندویي یې کولای او د دې پرهرژلي ملت د زخم پټۍ شوي وای نه خنجر.

که د خنجر خپرونه په کومه بله بهرنۍ ژبه وای نو دا به مو منلې وای چې دا د هېواد د پولو د ساتلو او د پردیو یرغلګرو د ډارولو لپاره خنجر دی خو دا چې د هېواد د ننه خپرېږي نو د تعجب وړ خبره ده.

د خنجر خپرونې په لومړي مخ کې مې یو عجیب سرلیک تر سترګو شو چې لیکلي یې وو "د نیشتر د خپرونې تورونه واقعیت نه لري" دا سرلیک هم راته یو څه ناآشنا ښکاره شو ځکه نشتر یا نیشتر هغې آلې ته وایي چې د کوکنارو ډ ډې پرې وهل کېږي چې تریاک ترې راوباسي نو په سوچ کې شوم او له ځانه سره مې وویل چې خدایږو دا خو هم ښه زړور سړی دی ځکه چې د مخدره موادو بندیز خو ورځ په ورځ مخ په کلکېدو دی. خو چې تر سرلیک لاندې لیک مې ولوست نو پوه شوم چې دا خونکار خنجر یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ننښتر) خپرونې پسې را ایستلی دی.

د ننښتر په (دوهمه) ګڼه کې ښاغلي ساپي د ګیلې په توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت یو شمېر نیمګړتیاوې او یو اړخیز کارونه په ګوته کړي وو.

خدای شته چې د خنجر خپرونې له لیدلو ډېر و دردېدم او وځورېدم، ځکه چې د کابل په بېشمېره خپرونو کې د پښتو ونډه دومره کمه وي چې په نشت حساب وي او هغه هم ځینې داسې ښاغلي لیکي چې له پښتو لیکلو سره دومره ناآشنا وي چې املا یې هم سمه نه وي او د خنجر د ذره بین په څېر ننښتر (نیشتر) لیکلي. ننښتر د غرونو ښایست دی او ننښتر هغه غرنی او مشهوره ونه ده چې د غرونو ویاړ یې بللای شو.

د ښاغلي ذره بین پر سرلیک سربېره په نوره لیکنه کې هم بلا غلطۍ وې، د پښتو د بېلابېلو یاګانو سره خو بېخي ناآشنا دی په هر صورت رابه شو د خنجر بېځایه دفاع او د ذره بین رندو ګوزارونو ته.

ذره بین لیکلي چې: "د ښاغلي زریاب صاحب دفتر د هنرونو د معین دفترو، چې د زریاب صاحب په برخه شو" ده دا هم لیکلي چې د رفیع صاحب په دفتر کې مېز نشته لامل یې د ځای نیشت والی دی.

نو زه وایم چې دا بې پلانه، بې تصمیمه او فرمایشي وزارت دی چې د یوې ښځې لپاره یې په تشکیل کې د هنرونو د معینیت څوکۍ زیاته کړه خو چې هغه لاړه نو په ټول هېواد کې بل داسې څوک نه شته چې پر ځای یې معین مقرر شي نو ځکه د ورکې ورځې نه زریاب ته پاتې شوه.

که داسې نه وي نو د رفیع صاحب لپاره ولې دومره تنګه او تروشه کوټه ورکړل شوې چې یو مېز هم په کې نه ځایېږي؟

زه دا خبره ډېره نه څېړم ځکه چې رفیع صاحب اوس د علومو اکاډمۍ ته تللی- اوس نو ښاغلی رهین پوه شه او خنجر یې.

اوس به راشو د ذره بین هغو لاپو شاپو ته چې لیکلي یې دي: "د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې په لوړو څوکیو کې د پښتو ژبې علمي او فرهنګي څېرې ټاکل شوې دي لکه نشراتي معین، د فرهنګي چارو معین او ..."

زه ښاغلي ذره بین ته وایم چې دا هم د رهین هغه خنجر دی چې د دوستۍ په نوم یې د پښتنو پر زړونو ټومبي، ځکه دی د اطلاعاتو او کلتور وزیر دی د ده په وزارت کې باید داسې کسان وي چې د خپل قوم او په مجموع کې د ټول افغان ملت نمایندګي وکړي، داسې نه چې د ده د مرستیالانو (معینانو) په څېر تش په نوم پښتانه خو په پښتو خبرې هم نه شي کولای، خبرې خو لا پرېږده چې د دروازې پر سر د خپل دفتر نوم هم په پښتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ليکلای او ليکلي يې دي (معين نشراتي، معين فرهنګي).
زما له نورو ژبو سره کومه دښمني نه شته خو دا هم کومه بده خبره نه ده چې يو پښتون مرستيال په پښتو پوه وي، خبرې پرې وکولای شي او ليکل پرې وکړي.
نشراتي مرستيال خو په پښتو ښېخې پوهېږي نه او دا بل يې هم داسې خبرې کوي لکه کوم بهرني چې نوې پښتو زده کړې وي او د اطلاعاتو او کلتور وزير خو له پخوا معلوم دی. دا يې لاڅه کوئ يوه د خندا او د افسوس وړ خبره. هغه دا ده چې يوه ورځ مې د ملي ارشيف سپين ږيری رئيس مهجور صاحب وليد ، چې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت څخه راووتلو او د انګرېزي د لومړي ټولګي کتاب يې په لاس کې و ، نو ما د څه شي پوښتنه ځنې وکړه چې راته ويې ويل (من در کورس انګليسي هستم) نو افسوس راغی چې څومره عجيبه خلک دي، هلته د ملي وحدت چيغې وهي خو پښتو چې د هېواد د اکثريت ژبه ده، رسمي ژبه ده نو نه يې يادوي او انګرېزي يادوي خو دا د ښاغلي رهين کار دی چې په وزارت کې يې د انګرېزي ژبې کورس جوړ کړی خو د پښتو لوحو ته يې په سترګو تياره ده، يوه هم نه پرېږدي.
زه نه وايم چې څوک دې انګرېزي نه يادوي. خو يو وزير، مرستيال او رئيس خو بايد د هېواد د اکثريت په ژبه پوه شي که بيا هر څومره ډېرې ژبې يادې کړي نو کمال يې دی.
دا چې ښاغلی ذره بين ليکي چې د جمعيت د حکومت په دوره کې پښتنو ته ونډه نه وه ورکړل شوې، نو زه ورته وايم چې د هغوی حکومت نو کله چا ومانه، چې ته له هغوی سره ځان سموې او بله دا چې هغوی خو د ډيموکراسۍ، ملي وحدت او ټولنيز عدالت چيغې هم نه وهلې خو يو ګوندي حکومت و ، تېر شو او د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير خو د ښاغلي رهين په څېر د ملت د بابا له سهميې څخه هم نه وراغلی.
ذره بين دا هم ليکلي چې "ښاغلی رهين د نورو ولايتونو په پرتله په ننګرهار، پکتيا او کندهار کې ډېر محبوبيت لري". چې دا هم د خندا وړ خبره ده. ځکه د ننګرهار، پکتيا او کندهار اکثر وګړي پښتانه دي او ښاغلي رهين ته محبوب دي ځکه دده د وزير کېدو سره سم د وزارت نوم او لوحه چې مخکې په پښتو وه، په پارسي او انګريزي بدله شوه او په ټول وزارت کې يوه لوحه هم پښتو نه شته؟
رهين په پښتنو کې محبوبيت لري ځکه يې د ملي ګالرۍ نوم په نګارستان ملي واړاوه؟
رهين به ځکه په پښتنو کې محبوبيت لري چې د کوچنيانو انيس په نوم خپرونه چې يوازې نوم يې پښتو و ، هغه هم رهين صاحب په (انيس کودک) واړاوه.
رهين په پښتنو کې محبوبيت لري ځکه د ده له وزير کېدو سره سم په کابل ټلويزيون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د پښتو ماښامني خبرونه چې له پخوا نه لومړی پښتو و خو ده پښتو وروسته کړل، دا يې لاپرېږده چې په ټلويزيون کې پښتو د نشت په حساب ده او په دې اوسنيو وختونو کې خو چې رئيس يې هم وربدل کړ، د خلکو دا هيله وه چې د ټلويزيون ژبنی انډول به برابر کړي، خو ده د خلکو هيلې نهيلې کړې او د شپې دوهم ځلي د نهو بجو خبرونه چې کله نا کله به په پښتو هم ويل کېدل اوس يوازې په پارسي شول.

دا چې ذره بين وايي چې د جمعيت په وخت کې د پښتنو ونډه کمه وه بيا هم دومره زياتی ورسره نه کېد، لکه د ښاغلي رهين په وخت کې چې کېږي.

دا د رهين صيب برکت دی، چې په کابل ټلويزيون کې د افغانستان د نوي اساسي قانون خلاف د افغاني ملي ټرمينالوژۍ پر ځای ايرانۍ ټرمينالوژي کارول کېږي لکه دانشگاه، شهرداري، دانش آموز ...... او په دې وروستيو کې خو ځوک داسې فکر هم نه شي کولای چې دا ګنې د افغانستان ټلويزيون دی، ټول فلمونه، پارچې او خپرونې يې ايرانۍ دي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په دې دوو کلونو کې دومره هم ونه کړای شول چې هېوادني ځو ساعته ټلويزيون ته د هېواد په کچه پروګرامونه چمتو کړي.

دا هرڅه يې لاپرېږده د کابل په ټلويزيون کې له پښتنو سره د بېسارې دښمنۍ سمبول د کابل په ټلويزيون کې يوه نوې نښه (ATR ) را پيدا شوې چې له يوې خوا په پارسي او له بلې خوا په انګرېزي لوستل کېږي، چې د پښتو ځرک په کې نه ليدل کېږي، نو زه د اطلاعاتو او کلتور له فرهنګپال وزير څخه دا پوښتنه کوم چې انګريزي ډېره ضرور ده او که د دې هېواد د اکثرو وګړو ژبه- پښتو؟

په هرصورت د اطلاعاتو او کلتور وزارت بېغورۍ او د قانون څخه له ډېرو سرغړونو سره سره يوه دا هم ده چې د محافلو او ټلويزيون پيل اوس هم په همغه تنظيمي ترانه کېږي چې د افغانسان نوم هم په کې نه شته او د ملي سرود پر ځای راوړل شوې وه.
د اطلاعاتو او کلتور وزارت ټول کارونه يو اړخيز دي. د پښتنو د مشاهيرو سيمينارونه يا لمانځنغونډې داسې کوي ته به وايې چې غندل يې کوي. ښه بېلګه يې تېر کال د ستر عبدالرحمان بابا د سيمينار وه چې د غرمې د ډوډۍ په وخت کې يې رابلل شويو مېلمنو ته ويل چې تاسو لاړ شئ او ډوډۍ د باندې وخورئ او دويمې غونډې ته بيا راشئ، چې هغه رابلل شوي پښتانه چې له شرمه يې غونډه هم نه شوه پرېښودی او دا هم ورته بده ښکارېده چې لکه شړل شوي، د ډوډۍ پر وخت له هوټل نه ووځي.
او د اروابناد استاد ګل پاچا الفت نيمګړی سيمينار مو هم په غوږولو سترګو وليد، چې تر دې يې نه لمانځل ښه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له الفت صاحب سره په څنګ کې مو د ( ناصر خسرو بلخي ) سیمینار او دې ته ورته د دوی نور سیمینارونه هم ولیدل چې یوه میاشت مخکې یې ترتیباتي غونډې په ټلویزیون ښکاره کېدلې او مراسم یې هم ښه شانداره وو.

مور دا نه وایو چې ولې د نورو درناوی کېږي، خو ناانډولي او خپله سپکه هم نه شو زغملای. دا خبرې ډېرې دي په همدې ځای یې پرېږدو بیا به د خنجر ګوزارونو ته راشو، ښاغلي ذره بین دا هم لیکلي چې: "هغه جریدې لکه پنجره، پیام مجاهد، مجاهد او ملي وحدت چې تل یې یو قوم سپک کړی او توهین امېزه خپرونې یې پرې کړې دي، خو مور وایو چې تاسو ښاغلو د دوی پر وړاندې څه وکړل؟" نوموړی زیاتوي: "یوازې د پلوشې او خنجر جریدې وې چې غاښ ماتوونکي ځوابونه یې ورکړي دي" ذره بین صاحب زه درته وایم چې دفاع دې ښېځایه ده ځکه د داسې خپرونو کنټرول او څارنه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت کار دی، د ښاغلي رهین کار دی، خو له بده مرغه چې هغه تش په خوله هم د داسې خپرونو غندنه نه کوي، چې د اسلام سپېڅلي دین، ملي ګټو او د اشخاصو توهین په کې کېږي.

ځکه مور ولیدل چې مهدوي په افتاب خپرونه کې د اسلام سپکاوی کړی و- خو د دفاع وکیل یې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مرستیال ښاغلی مبارز و، همدا راز د ملي ګټو او اشخاصو سپکاوی هم کېږي خو د اطلاعاتو او کلتور وزارت هېڅکله هم دغه خپله دنده نه ده تر سره کړې، ځکه چې ښاغلي رهین په خانقاوو او د پښتو لوحو او نومونو په بدلولو ډېر سخت مصروف دی. او راځو د پلوشې او خنجر غاښ ماتوونکي ځوابونو ته، ښاغلیه! دا هم ستاسو له ملت سره د ژورې دښمنۍ ښکارندونه کوي او له دې نه دا هم جوتېږي چې ستاسو نیت د (ژړو) مطبوعاتو رامنځته کول وو، خو چا مو ملاتړ ونه کړ، ځکه همدغه پلوشه، خنجر، پیام مجاهد او.. چې هېوادوال یې په سپکو او سپورو نومونو یادول، چا ته به یې (سګ شویان) ویل او چا ته به یې (پاکستان زده ګان او ایران زده ګان).

ذره بین صاحب ستا څه خیال دی چې پښتانه همدومره سپک دي چې چا ته د ښکنځلو ځواب په ښکنځلو ورکړي؟

نه هېڅکله هم نه- ذره بین خانه! خطا شوی یې، پښتانه هغه درانه او د سترو سینو او حوصلو څښتنان دي چې د اساسي قانون د لویې جرګې په لویه خېمه کې دې د دوی لویه سینه، صبر او حوصله په خپله ولیدله.

خو دا چې ذره بین صاحب ستاسو په خبر پښتانه هم شته نو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمانـه چې د ارزالو په طــرف شوه
ځکه هسکه پایه ټیټه د شرف شوه(3)

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنیر سید مصطفی هاشم زاده

# ایا تمام وزراء جنگسالار اند ؟

بعضی ها فکر میکنند که رژیم طالبان توسط نیروهای ائتلاف بین المللی سرنگون شد.

در این شکی نیست که نیروهای ائتلاف بین المللی در بمباردمان خطوط جبهات طالبان و متحدان القاعده انها نقش مهمی ایفا کرد. ولی بر این حقیقت، حتی نیروهای ائتلاف بین المللی نیز اذعان دارند که پاکسازی افغانستان از وجود نیروهای تندرو القاعده و سقوط رژیم طالبان بدون نقش کلیدی جهادگران سر به کف افغانستان و مقاومت مستدام انها ناممکن بود. اما متاسفانه شماری از غرب نشینان که به یمن خون شهدای این مرز و بوم بر اریکهٔ قدرت تکیه زده اند ، مجاهدان راه شرف و استقلال کشور را تفنگسالار مینامند و در تبلیغ علیه انها هیچ فرصتی را از دست نه میدهند.

اقای سید مخدوم رهین، وزیر اطلاعات و فرهنگ یکی ازین غرب نشینان است که حتی از سیمینارهای علمی و اکادمیک نیز برای بدنام سازی مجاهدان استفاده به عمل می آورد.

در اواخر جوزای سال1383 شاهد برگزاری سیمینار علمی "قندهار در گذرگاه تاریخ" بودیم. در این سیمینار که اقای رهین نیز شرکت داشت، نوشتهٔ برگرفته از انترنت، زیر عنوان (حفریات مرموز در کابل) میان مدعوین جلسه توزیع گردید. در این نوشته امده است که: "این جانب انجنیر بشیراحمد نوری وردگ، در اوایل جوزای امسال به زیارتگاه خواجه صفا رفتم. در انجا افرادی که خود را منسوبین وزارت اطلاعات و فرهنگ معرفی میکردند ، مشغول خاک برداری بودند. افرادی مذکور در جوار زیارتگاه زمینی را حفر کرده و می گفتند که ما اطاقک های رهبان بودائی را از دل خاک بیرون اورده ایم و به حفریات خود ادامه میدهیم".

گروهی مذکور تاکید داشت که بدون دیوارهای سنگی چیزی دیگری را نیافته اند ، ولی کارگری که برای افراد مذکور از بازار غذا می آورد و هنگامی پائین امدن از زیارتگاه همراهم بود ، برایم گفت که طی حفریات مقداری از زیورات طلائی بدست امده و مامورین انرا به وزیر صاحب سپردند و شنیدم که وزیر صاحب فرمودند که باید از این

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشف تا پایان کار کسی مطلع نه شود.

کارگر مذکور علاوه کرد که درب زیارتگاه خواجه صفا از چندین هفته به این سو بسته است، بنا بر آن از داخل زیارتگاه اطلاعی ندارد و وزیر صاحب گاهگاهی سر میزند".

نوشتهٔ پخش شده در سیمینار قندهار باعث آشفتگی اقای رهین شد ، پخش کنندهٔ اوراق را فرا خواند و در برابر او برخورد بسیار تند و رکیکی را از خود نشان داد.

اقای رهین در سیمینار مذکور هنگام دفاع از خود اظهار داشت که بنده یگانه وزیری هستم که در حفظ اثار باستانی می کوشم، بدون بنده تمام وزراء جنگسالار اند ، این منم که در مقابل انها مقاومت میکنم، ورنه تا اکنون هیچ اثر تاریخی در افغانستان نه مانده بود.

اقای رهین در سخنان خود سعی کرد که مجاهدین را جنگسالار و غارتگر اثار باستانی معرفی کند.

بنده واقعاً نمیدانم که وزیر صاحب با کدام منطقی مجاهدین را جنگسالار و با کدام شواهدی انها را غارتگران اثار باستانی معرفی میکند.

در زمان وزارت این اقا نه تنها گردانندگان جریدهٔ "افتاب" که متهم به توهین دین مقدس اسلام شدند ، مورد حمایت مقامات این وزارت خانه قرار گرفتند ، بلکه به هدایت وی تشکلی به نام شورای کابل به میان امد که یگانه هدف ان ضدیت با مجاهدین بود ، مجاهدینی که در اثر ایثار و فداکاری انها اقای رهین براریکهٔ قدرت تکیه زده است. اقای رهین نه تنها بدستبرد اثار باستانی متهم است، بلکه در مورد وی گفته میشود که ارتباطات تنگاتنگی با گروهی "بهائی" دارد و هنگام سفر اخیر خود به پاکستان با رهبر این گروه ملاقات طولانی داشته است. قابل ذکر است که صیهونیستها مدافعان اصلی بهائیت اند و این گروه حالا در پاکستان فعالیت وسیعی دارد.

از کجا معلوم که رشد ناگهانی گروه بهائی در پاکستان نیز زمینه چینی برای ضربهٔ دیگر بر پیکر افغانستان باشد؟

ازادسازی افغانستان، از چنگ طالبان و تروریزم بین المللی نتیجهٔ مبارزات پیگیر مجاهدان و فداکاریهای شهدای مظلوم است. ملت افغانستان این ازادی را به اسانی و رایگان به دست نه اورده است، اقدام برای توهین و تحقیر مجاهدین به هیچ نحوی پذیرفته نیست.(4)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنمل محمد اسمعیل یون

# افغانستان او د ایران کلتوري یرغل

افغانستان د تاریخ پـه اوږدو کـې د بېلابېلـو هېوادونـو او مختلفـو امپراتوریـو تـر سیاسي، پوځي او کلتوري یرغل لاندې راغلی دی. خو افغانانو پـه ډېره مېړانـه د پردیو سیاسـي او پـوځي یرغلونـه پـر شـا تمبـولي دي، خـو د کلتـوري یرغلونـو اغېـزې لکـه د سیاسي او پوځي هغو په شان ژر له منځه نه دي تللي.

د کلتوري یرغلونو په جمله کې د عربو، ایران، پاکستان او اوس - اوس د لوېدیځې نړۍ د رنګارنګ کلتورونو د ځپلو یادون کولای شو. د عربو کلتوري تاثیرات د دیني او مذهبي ارزښتونو د دودولو، د پاکستان کلتوري اغېزې د هغوی د سیاسي او اقتصـادي پرمختګونو او د لوېدیځې نړۍ کلتـوري اغېـزې پـه افغانسـتان کې د هغـوی د اوسنیو سیاسي لېوالتیاوو او تخنیکي برلاسۍ له امله رامنځتـه شـوي دي. خو د ایـران کلتـوري تاثیرات د هغوی د مذهبي، سیاسي او ژبنۍ پراختیاغوښتنې له سیاست سره تړاو لري او په افغانستان کې له پېړیو - پېړیو راهیسې دوام لري.

ایرانـي لیکوالـو او د وخت سیاسـتوالو هېڅکلـه هم پـه افغانسـتان کـې خپلـه ژبنـۍ لېوالتیا پټه کړې نه ده. ایرانیان افغانستان خپله ژبنۍ او فرهنګي حوزه ګڼي، د فرهنګي او مذهبي اغېـز د ساتلو تر سیوري لاندې غـواړي د اوږدې مـودې لپـاره خپلـې سیاسي ګټې هم خونـدي او ترلاسـه کـړي. لـه همـدې املـه لـه پېړیـو راهیسـې د ایـران د هـر وخت حکومتونو هڅه کړې، په افغانستان کې د سیاسي لاسوهنې تـر څنګ فرهنګي لاسـوهنه هم وکړي، له همدې کبله خو په افغانستان کې د کلتـوري چارو د ادارو اکثـره مسـوولین پارسي ژبي او یا هم داسې پښتانه ټاکل شوي وو، چې د دري ژبې تر زیات تاثیر لاندې به وو. کله چې د هند په نیمه وچه او د منځنۍ اسیا په بېلابېلو سیمو کې د پارسـي ژبـې پـه وړاندې نورې قومي ژبې راوټوکېدې، نو د پارسي ژبې لمن له دې سیمې څخه په ټولېدو شوه او یوازې د فارس (ایران) پر لوري د راټولېدلو په حال کې شوه. په منځنۍ اسیا کې روسي ژبې د پارسي ژبې ځای ونیو او د هند په نیمه وچه کې لـومړۍ نورو قـومي ژبـو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا وروسته انګرېزي ژبې د پارسي درباري حاکمیت ختم کړ. په افغانستان کې د هوتکیانو، احمدشاه بابا، امیر شېرعلیخان، امیر حبیب الله خان او غازي امان الله خان ژبنیو ریفورمونو (سمونونو) د پارسي ژبې پرله پسې درباري حاکمیت له سخت ګواښ سره مخ کړ. په سقاوي اړ و دوړ کې ټول ریفورمونه پر شا وتمبول شول، خو د اعلیحضرت محمد نادرخان په وخت کې پښتو ژبې ته یو ځل بیا اساسي پام وروا وښت، خو دا سمونونه هم د محمد نادرخان د وژنې له امله ټکني شول، خو د وزیر محمد ګل خان مومند په شان د یو شمېر ملتپالو افغانانو په هڅو ژبني ریفورمونه ژوندي وساتل شول. د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د ملي حق تثبیت، د افغانستان د ملي هویت د روښانتیا په لار کې یو مهم ګام و، تر هغه وروسته د ولسواکۍ په لسیزه کې هم پښتو ژبې تر یوه بریده وده وکړه. د ۱۳۵۷ل کال تر سیاسي بدلون وروسته هم پښتو ژبې وده وکړه او ان د درباري ژبې حیثیت یې خپل کړ. تر دې وخت دمخه ټوله موده کې د ایران حکومت د پښتو ژبې د پرمختګ بهیر ته خواشینی و او هڅه یې کوله، چې دا بهیر له ځنډ او خنډ سره مخ کړي.

د شوروي اتحاد تر پوځي یرغل وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې د ودې بهیر ټکنی شو او ژبنی پرمختګ د سیاسي حالاتو تر اغېز لاندې راغی. د پښتو ژبې د ودې ګړندی بهیر سست شو او پارسي ژبې ته زیاته پاملرنه واړول شوه. پښتو د دولت په رسمي خپرونو کې د دویمې او ژباړیزې ژبې پوړۍ ته راټیټه شوه. د شوروي اتحاد پښتون ضد اشخاص او د مشخصو لړکیو د پیاوړتیا پالیسی- د دې سبب شوه، چې پښتو ژبه او پښتنني فرهنګ په زیاتو برخو کې وځپل شي. د شوروي اتحاد حکومت، که څه هم له سیاسي پلوه د ایران د مذهبي حکومت مخالف و، خو په ژبنۍ او فرهنګي برخه کې د شوروي اتحاد افغان ضد سیاست، عملاً د ایران د هیلو مطابق عمل و.

په دا سې حال کې چې په کابل کې د روس پلوه حکومت پر فرهنګي او خپرنیو مرکزونو او وسایلو واکمنه فضا، د ایران د دودیزې فرهنګي او ژبنۍ پراختیاغوښتنې له هیلو سره سمه وه، خو ایران بیا هم پر دې بسنه (اکتفا) ونه کړه، په ایران کې مېشت اته ګوني شیعه ګوندونه چې له مذهبي او ژبني پلوه یې د دوی ایډیالوژي تعقیبوله، په خپلو ټولو امکاناتو یې ښه سمبال کړل او ډېر یې ونازول، ایران مېشتې شیعه مذهبي ډلې دومره زیاتې د ایران تر اغېزې لاندې راغلې، چې د ایران مذهبي او سیاسي مشران یې خپل مشران ګڼل او د هغوی پر مشرۍ یې ویاړ کاوه. دې ډلو که څه هم جهاد او مذهب خپل شعار ټاکلی و، خو په حقیقت کې قومي او ژبنی عنصر په کې تر بل هر څیز ډېر قوي و. دغو جهادي ډلو په کابل حکومت کې له نورو واکمنو شیعه ډلو سره په پټه او ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې اړيکي درلودل، چې په ايران پالنه او ژېپالنه کې يې ښيا ګډې هڅې په ښه ډول څرګند ېدلې. د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ پر مهال به د ايران اسلامي انقلاب او د ايران نورې مذهبي او سياسي ورځې د همدې شيعه واکمنو ډلو په مرسته په داسې شاندارو مراسمو سره لمانځل کېدې، چې ځينو به دا فکر کاوه، دا د افغانستان مرکز کابل نه دی، بلکې د ايران کوم لوی ښار دی. د خميني او د ايران د نورو مشرانو عکسونه به پر موټرونو ځړېدلي وو او په لاريونونو کې به د (الله اکبر، خميني رهبر) غږونه اورېدل کېدل.

د ايران حکومت له ژبني او مذهبي پلوه پر ايران مېشتو اته ګونو شيعه ګوندونو سربېره، له پاکستان مېشتي اسلامي جمعيت ګوند سره هم ښه اړيکي درلودل. له جمعيت تنظيم سره د ايران د خوږو اړيکو درلودلو د علت مرکزي ټکی د هغوی ژبنۍ او فرهنګي لېوالتيا وه. د استاد رباني اسلامي جمعيت تنظيم د خپل سياسي ژوندانه په کار او فعاليت کې خپل قومي او ژبني تمايلات تر هر چا زيات ښه ډاګيز کړي وو او د اسلام او جهاد تر چتر لاندې يې دا بله ستراتيژي هم پرمخ وړله.

د ايران او اسلامي جمعيت ترمنځ رښتيني اړيکي دومره ټينګ وو، چې يو وخت د جمعيت تنظيم مشر پروفيسور برهان الدين رباني له ايران سره د ګډې فرهنګي همکارۍ او ستراتيژۍ تړون هم لاسليک کړ. ايران او افغانستان يې دومره هم فرهنګه او يوژبي هېوادونه وګڼل. خو پر کابل باندې د استاد برهان الدين رباني د نيمواکې واکمنۍ پر مهال په کابل حکومت کې د ايران پلوې اصلي ډلې- يانې وحدت ګوند له غوښتنې سره سم- د مناسبې ونډې د نشتوالي له امله د استاد رباني له ادارې سره له سياسي پلوه د ايران د حکومت اړيکي ترينګلي وو، دغه راز دا مهال کابل د تنظيمي جګړو ډګر و او د ايران د فرهنګي فعاليت لپاره چندان زمينه برابره نه وه، خو بيا هم د کابل يو شمېر خپرونو ايراني بڼه خپلوله. همدا مهال يو شمېر فرهنګي او علمي مرکزونه له ايران څخه د مرستې په نامه په لسګونو زره عنوانه کتابونه راغلل او په علمي مرکزونو او د هغوی په کتابتونونو کې ځای پرځای شول. خو کله چې د طالبانو د تحريک د زور له امله د استاد رباني د تنظيم واک له کابل او د هېواد له بېلابېلو سيمو څخه ټول او يوازې د هېواد په يو نيم ګوټ کې راټول شو، نو د ايران حکومت بيا د استاد رباني د سمبوليک او تمثيلي حکومت هر ډول سياسي، اقتصادي او تبليغاتي ملاتړ ته راودانګل. دا وخت د ايران اکثرو راډيوګانو، ټلويزيوني او چاپي خپرونو د استاد رباني د تمثيلي حکومت تاييدونه او د طالبانو د نظام غندنه خپله اصلي موخه کړه، ان تر دې بريده چې د استاد رباني د شړل شوي حکومت ټول نشرات يوې سلنې ته هم نه رسېدل، د ايران خپرونو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دومره سپین سترګي کوله، چې د نړۍ هېڅ هېواد به په بل هېواد کې د کوم خپل خوښې تنظیم یا حکومت لپاره نه وي کړي، کله چې د امریکایي ځواکونو په زور د طالبانو نظام رنګ شو، نو ایران ته ډېره ښه زمینه په لاس ورغله، چې هم له طالبانو څخه خپل سیاسي غچ واخلي او هم په افغانستان کې خپل ژبنی او فرهنګي پلان عملي کړي. پاکستان دا وخت په افغانستان کې د سیاسي لوبې یو بایلونکی هېواد ګڼل کېده، سعودي عربستان هم له سیاسي ډګر څخه لیرې شوی و. د امریکا متحدو ایالتونو هم خپلو سیاسي هدفونو ته ترجیح ورکوله، د منځنۍ اسیا هېوادونه اکثره له ایران سره موافق وو او که ځینې بیا موافق نه وو، نو مخالف هم نه وو.

امریکایانو هم نه غوښتل د ایران د فرهنګي نفوذ د پراختیا د مخنیوي لپاره خپله انرژي مصرف کړي. دا ټول لاملونه د دې سبب شول چې ایران ته طلایي چانس په ګوتو ورشي او هغوی د خپلې اوږدې او لنډې مودې فرهنګي پلانونه عملي کړي. د ایران د کلتوري اغېز لپاره بل طلایي چانس دا و، چې اکثره کلتوري وزارتونه لکه د بهرنیو چارو، لوړو زده کړو او اطلاعاتو او کلتور وزارتونه د ایران پلویو اشخاصو په لاسونو کې پرېوتل، په کابل کې د ایران سفارت فعلاً د افغانستان له اطلاعاتو او کلتور وزارت سره په لسګونو بېلابېل قراردادونه لاسلیک کړل، چې هر یوه یې په افغانستان کې د ایراني کلتور او ژبې پراختیا ته لار اواروله، د ایران په سفارت کې څو ځله دا سې خاصې غونډې او مېلمستیاوې برابرې شوې او په هغو کې هغه ډول اشخاصو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د ایرانپالنې روحیه یې لرله.

تر دې وروسته په ښکاره ډول د افغانستان پر ملي ترمینالوژۍ د ایرانۍ ترمینالوژۍ یرغل پیل شو او ګڼ شمېر پارسي ژبې- افغاني خپرونې تر ې ډکې شوې، ان تر دې چې دولتي او رسمي خپرونې د ایران ترمینالوژۍ د تبلیغ او ترویج اصلي وسیلې وګرځېدې. یو شمېر خپرونې د ایرانې خپرونو په شکل، سلیقه او ډیزاین چاپ شوې، علمي او کلتوري مرکزونو ته هم د ایران پالنې او ایرانۍ ترمینالوژۍ لمن خپره شوه.

ایران د افغانستان پر علمي مرکزونو دومره واکمن شو، چې ان د لوړو زده کړو لپاره د کانکور د ازموینې پاڼې هم په ایران کې چاپ شوې او د کتنې لپاره بیا هم ایران ته واستول شوې.

دا د افغانستان د لوړو زده کړو د تاریخ په ټول بهیر کې تر ټولو بدرنګه پېښه ده، چې افغانستان ورسره په تېر کې هېڅکله هم نه و مخامخ شوی. د افغانستان په پوهنتونونو کې ایراني ترمینالوژي دود شوې، له دې کار سره تر ټولو لومړی په خپله د لوړو زده کړو او اطلاعاتو او کلتور وزارت- اول لاس چارواکو مرسته کوله او ورته لېوال وو، ایراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرمينالوژي نه يوازې په علمي مرکزونو کې خپره شوه، بلکې پوځي مرکزونو ته يې هم لار وکړه. يو شمېر ايراني پلويو اشخاصو هڅه پيل کړه، چې عسکري اصطلاحات چې د امير شېرعليخان له وخته بيا تر دې مهاله په پښتو وو، له منځه يوسي او پرځای يې ايراني عسکري اصطلاحات دود کړي.

ايراني اصطلاحاتو په چاپي خپرونو کې د ځای نيونې تر څنګ ټلويزيون او راډيويي خپرونو ته هم لار وکړه، کابل ټلويزيون او ځينې نورې ټلويزيوني خپرونې اکثره ايراني فلمونه او يا هم په ايران کې ژباړل شوي او دوبله شوي فلمونه خپرول او خپروي يې. سړی دا فکر نه شي کولای چې دا د افغانستان ټلويزيون خپرونې دي؟ يانې کله چې سړی په کابل کې- په مجموعي ډول پارسي خپرونې لولي او ګوري، نو سړی ته له ورايه ايران تداعي کېږي او فکر کوي، چې د ايران په کوم لوی ښار کې اوسي.

که چېرې د ايران فرهنګي يرغل همداسې دوام ومومي او د مخنيوي لپاره يې اساسي ګامونه پورته نه شي، نو ليرې نه ده چې د افغان ملت ملي هويت به هم د ايران د فرهنګي يرغل په خم کې دل او حل شي.(5)

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد جان تڼی

# افغاني کلتور ته ورپېښ زیانونه

که څه هم د نوي دولت په جوړېدو سره فرهنګي، ټولنیز او پوهنیز پرمختګ ته څه ناڅه لار اواره شوه، ټول افغانان هیله من شول، چې د هېواد په پرمختیایي بهیر کې به ونډه واخلي او خپل هېواد به د نړۍ د نورو هېوادونو سیال کړي.

خو داسې ښکاري چې دا بهیر ډېر ورو روان دی، چې په ترڅ کې یې د ټولنې د ژوند بېلابېلو اړخونو ته نوي ګواښونه هم متوجه دي. له دغو ګواښونو څخه یو هم پر هېواد د لوېدیزوالو فرهنګي یرغل دی، چې زموږ ټولنې ته د منلو وړ نه دی.

څرنګه چې زموږ ټولنه په اقتصادي او تخنیکي ډګر کې وروسته پاتې ده، نو د مقاومت ځواک یې هم کمزوری ښکاري، ټول افغانان په انفرادي او بېلګړي ډول نه شي کولای د دې یرغل مخنیوی وکړي. که څه هم د لوېدیزوالو هېوادونو فرهنګ به زموږ له ټولنې سره څه ناڅه سمون خوري، خو بیا هم زموږ ټولنه یې نه شي زغملای او دا کلتور ورته پردی ښکاري.

په همدې بهیر کې ایران غواړي چې د ملیونونو ډالرو په لګښت سره افغاني کلتور، ژبه او ټولنیز ارزښتونه له ګواښ او ورکاوي سره مخ کړي.

یوه لوېدیزوال سیاستوال ویلي وو: "که غواړئ چې یو ملت له منځه یوسئ، لومړی د هغه ژبه او کلتور نابود کړئ، چې د دې دواړو په له منځه تلو سره هغه ملت له منځه ځي".

سمه ده چې ځمکنۍ بشپړتیا، خلک او سیاسي خپلواکي د یوه ملت د شتون ارزښتمن توکي دي، خو د ژبې او کلتور رول هم ډېر ارزښتناک دی، چې باید ورته پام وشي.

په دې ورځو کې د افغانستان ځینې مغرض ګاونډیان په دې هڅه کې دي، چې افغاني ژبه (پښتو) او ویاړلی کلتور خپل هدف وګرځوي او تر ګوزارونو لاندې یې ونیسي. په دې ترڅ کې موږ خپل هېوادوال هم ملامتولای شو، ځکه چې اکثره فرهنګیان او چارواکي د لتۍ په خوب ویده دي او تر اوسه پورې په دې تکل شوي نه دي، چې افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتور له ورکاوي او دغه ستر يرغل څخه وژغوري، په داسې حال کې زموږ ملي کلتور په سختو شرايطو او مړژاوندي حالت کې وروستۍ سلګۍ وهي. فرهنګيان بايد په همدې وخت کې متې راونغاړي او خپله ژبه، خپل ملي کلتور او ځوان پښت له دغه سېلاو څخه وژغوري.

دا خو زموږ يو عادت دی، چې هر وخت په تېر وخت پسې ژاړو، خو او سني او راتلونکي حالت ته مو پام نه وي. د طالبانو چارواکو د خپلو بهرنيو بادارانو په لارښوونه زموږ په هېواد کې لرغوني تاريخي او ارزښتناک اثار له منځه يوړل او زموږ پر تېر فرهنګي ميراث باندې يې هم نه جبيره کېدونکی ګوزار وکړ. رښتيا هم د خواشينۍ وړ ده، خو دا چې اوس په هېواد کې څه تېرېږي، زموږ د افغانانو ډېر لږ ورته پام دی. د لرغونو اثارو ناقانوني کېندنې او د نړيوالو د لرغونو اثارو د قاچاق د مافيا په مرسته يې لېږدونه اوس هم په درز سره روانه ده. په خواشينۍ سره چې زيات افغانان د خپل پلار نيکه ميراث په ډېره ارزانه بيه پر قاچاق وړونکو پلوري.

زموږ د ملي کلتور يوه برخه موسيقي ده، اوس افغاني موسيقي په ډېر ناوړه حالت کې ده. په ښارونو کې د ټلويزيون، ويډيو، سي ډي او ډېش انتنونو په دود ېدو سره ډېرو کسانو هندي او لوېديزې موسيقۍ ته مخه کړې او د بې مانا، ناوړو او نااخلاقي فلمونو په ليدو سره زيات شمېر ځوانانو افغاني موسيقي او فلمونو ته شا کړې ده. څوک افغان ځوانان ګرم نه شي ګڼلای، ځکه د فلم جوړونې هغه موسسې چې په افغانستان کې شته، د خپلو ځينو سياسي چارواکو او بادارانو په اشاره په ژبنيز او توکميز توپير کې راګيرې دي. دوی داسې هنري فلمونه نه جوړوي، يا يې نه شي جوړولای، چې د خلکو رښتينې هيلې انځور کړي او د منلو وړ وي. په همدغسې زياتو فلمونو کې دوی افغاني فرهنګ او د خلکو دود، دستور، عنعناتو او ژبې ته پام نه کوي. دوی د داسې فلمونو جوړولو ته مخه کړې، چې يوازې له بهرنيو هېوادونو څخه وربانديې پيسې ترلاسه کړي، همدا لامل دی چې افغانان له دغو فلمونو سره مينه نه ښيي.

د ادبي بهير ستونزې خو زياتې دي، د دې پرځای چې له نويو بدلونونو سره په کې کمی راشي، دا ستونزې لا پسې پراخې شوي او په دې منځ کې ځينې مغرض هېوادونه خپلې ګټې پالي. بهرنۍ خپرندويې ټولنې، په ځانګړې ډول ايران زياتې خپرندويې ټولنې جوړې کړي او عملاً په افغانستان کې د پښتو ادب او ژبې د ودې مخه نيسي، زموږ خواخوږي چارواکي دې ستونزې ته هېڅ پام نه کوي. ايران د همدغې موخې لپاره ډېر اغېزناک او اوږدمهالي پروګرامونه په پام کې نيولي او ډېرې سترې پروژې يې پلي کړې دي. په هېواد کې داسې ارګان او دولتي مرکز نه شته، چې د افغان ولس او ژبې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړ لپاره لیکوالان وهڅوي، یا هم په دې برخه کې پانګه ولګوي.

موږ دا نه وایو چې د یوه هېواد کلتور د بل هېواد له هغه څخه نه شي اغېزمنېدلای، بلکې د بېلابېلو ولسونو فرهنګونه پر یو بل باندې اغېز اچوي، همدغه اغېز د دې لامل ګرځي، چې د زیاتو هېوادونو فرهنګي بیارغونې او ودې ته لار اواره شي. باید چې د نورو هېوادونو له کلتور څخه مثبت شته او مثبت ټکي را واخیستل شي او وکارول شي او هغه څه دې پرېښوول شي چې زموږ د ژبې، عنعناتو، اخلاقو او دودونو خلاف وي.

په ځینو کسانو کې دا روحیه شته، چې غواړي د جامو، چلندونو، کړو وړو او ان د ژبې له لحاظه ځانونه د لوېدیزوالو په څېر وښیي، دا ناوړه پېښه (تقلید) زموږ ملي کلتور ته زیان رسوونکی دی. اوسني زیات ځوانان د خپل پلار نیکه پر پټکي او جامو پورې خاندي، ملي جامې ورته ښکلې نه ښکاري، اکثره چارواکي په ملي جامو کې نه لیدل کېږي.

څرګنده خبره ده چې د اړیکو ډله ییز وسایل د یوه ملت په فرهنګي وده کې خورا اغېزناک تمامېږي، خو افغاني ډله ییزې رسنۍ: راډیو، ټلویزیون او خپرونې که څه هم د کلتور ځینو ارزښتمنو برخو ته پام کوي، خو ځینې اړخونه یې په بشپړ ډول تر پښو لاندې کوي. اوس مهال چې تش په نامه د مطبوعاتو ازادي رامنځته شوې ده، له دغې ازادۍ څخه باید د ملي کلتور، ټولنې او ژبې د پراختیا، دغه راز د پوهنیز پرمختګ پر لوري د حرکت لپاره کار واخیستل شي. ډله ییزې رسنۍ باید د خبري او تفریحي دندو په اړخ کې خلک د ډیموکراسۍ، پرمختګ او ملي ودې پر لوري هم وهڅوي.

لکه څنګه چې اورېدل کېږي، په دې وروستیو کلونو کې د هېواد په پلازمېنه (کابل) کې د ارمان په نامه یوې راډیو په فعالیت پیل کړی، که څه هم دغې راډیو د ازمېښت لپاره خپرونې پیل کړې وې، خو اوس یې خپرونې زیاتې شوي، چې د بازار، کوڅې او سارا خبرې په کې خپرېږي. نااخلاقي خبرې ترې راوځي، دغه راز سندرې یې هم اکثره غربي، هندي او ایرانۍ وي، چې دا هم په کلتوري پردیتوب کې خپله ونډه لري. که دا ومنو چې په راتلونکي کې به د کابل ټلویزیون خپرونې هم همدغسې بازاري شي، نو دا به دا مانا ولري، چې افغانان په خپلو لاسونو د ملي کلتور جرړې غوڅوي.

د پورتنیو حقایقو په یادولو سره دې پایلې ته رسېږو چې چارواکي باید د افغاني کلتور د ساتنې، ودې او غنې کېدو لپاره یوه هراړخیزه عملي تګلاره پلې کړي، باید چې د پردیو کلتورونو د یرغل مخه ونیسي او ځوانان د بته وهڅوي چې د خپل ملي کلتور د پالنې او ساتنې لپاره په خپله لاس په کار شي. هغه لاملونه دې له منځه یوسي، چې د ملي روحیې د مړینې لامل ګرځي او د هغو مغرضو خلکو لاسونه دې لنډ کړي، چې په شعوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ناشعوري ډول کوښښ کوي زموږ افغاني کلتور زيانمن کړي. که چېرې چاروا کي لـه دې ستونزې سترګې پټوي، ښايي د دوی دغه بېغوري به راتلونکي نسل ته ډېر زيان ورسوي او همدغه ځوان پښت به وربانديې سخته نيوکه وکړي. (6)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینا کریمی

# آقاي وزير لياقت ندارد!

۲۲ میزان، ۱۳۸۳

افغانستان و به خصوص کابل هر روز شاهد تحولات و تغییرات سریع است. چهره‌ي اين شهر خوش‌بخت هر روز رنگ و لعابي ديگر مي‌گيرد. در همين راستا، افتتاح تلويزيون‌هاي خصوص بالنفسه نوعي اميدواري را سبب مي‌شود و هر پير و جوان را مي‌فهماند كه افغانستان، افغانستان ديروز نيست .

تلويزيون خصوصي «طلوع» در روزهاي اخير در آغاز فعاليت خود، تصاوير مبتذل و دور از فرهنگ ملي را نمايش مي‌دهد و براي جذب بيننده به ترفندهاي مختلف دست مي‌زند .

آقاي وزير شايد به درستي عمق اين قضيه را درك نمي‌كند. تنها افتتاح چند خانقاه و كشف چند كوزه‌ي شكسته كافي نيست. وظيفه‌ي خاص وزارت اطلاعات و فرهنگ در هر كشور احيا و ابقاي فرهنگ ملي و گسترش اطلاع رساني و آگاهي بخشي عمومي است. حتي رسانه‌هاي غير دولتي در يک كشور وقتي شروع به فعاليت مي‌كنند، الگويي خاص را پيش رو مي‌گيرند و موظف مي‌شوند تا درصدي از برنامه‌هاي خود را براي آموزش و بالا بردن فرهنگ جامعه تخصيص دهند. متأسفانه در اين آشفته بازار - كه حال و احوالش مانند خاري در گلو است - هر پديده‌يي بدون نظارت و بررسي ذهن مردم افغانستان (افغانها) را مورد هجوم قرار داده و تخدير مي‌كند .

رسانه‌هاي خصوص «آرمان، كليد، تلويزيون طلوع و افغان» بدون هيچ گونه احساس مسئوليت به شكل زيركانه‌اي اقدام به پخش برنامه‌هاي هدايت شده و خاص مي‌كنند. حتي در كشورهاي صنعتي و پيشرفته هيچگاه بعضي برنامه‌ها اجازه‌ي نشر نمي‌گيرند، برنامه‌هايي كه ذهن و فكر مردم را پريشان مي‌كنند.

هنوز در جامعه‌يي كه جامعه نيست، و شهري كه شهر نيست، در نزديكترين فاصله‌ي وزارت اطلاعات و فرهنگ، مقر آقاي رهين، مردمان زيادي ديده مي‌شوند كه با زندگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دست و پنجه نرم مي‌کنند. نمي‌توان به بهانه‌ي مدرن شدن و صلح‌جويي، فرهنگ و عقيده‌ي توده‌هاي مردم را به بازي گرفت. آقاي وزير اگر فعاليت خاصي را براي عموميت فرهنگ اجتماع از مسند وزارت انجام نداده، حداقل مي‌توانست نگاهي کوتاه و مسئولانه به رسانه‌هايي داشته باشد که او پايين جوازشان را امضا مي‌کند.

هنوز در يک کشور مسلمان اوقات شرعي اذان و نيايش معلوم نيست و ماه مبارک رمضان با ترانه‌يي از مريم و رقص سياه‌پوست‌هاي امريکايي و دختران هندي استقبال مي‌شود .

گاهي احساس مي‌شود که تمام وقايع بر يک سياست‌زدگي استوار است. پخش تصاوير غير متعارف و مبتذل از تلويزيون طلوع و افغان، هيچ عکس العمل مقامات ديني و ستره محکمه را در پي نداشت، حال آن که فردي از اين جامعه با طرح پرسشي ساده، تکفير شد!(7)

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد قاسم ابراهیمخېل، د انجنیري پوهنځي د څلورم ټولګي محصل

# د ډاکټر سید مخدوم رهین په نوم یو پرانیستی لیک

محترم وزیر صاحب ! سلامونه او احترامونه.
محترما !

د کوچنیانو انیس مجله چې په دولتي سویه د افغانستان د ماشومانو لپاره یوازېنۍ مجله ده، ستاسې د وزارت په وخت کې یې نوم په 'انیس کودک' بدل شو. په دې باره کې ما ډېر فکر وکړ، خو له تعصبه پرته د دې کار بل دلیل مې پیدا نه کړ.

دا مجله چې د دولت په بودجه چاپېږي، یانې د افغانستان د هرې سیمې د ماشوم لپاره ده، ولې تقریباً ټوله یوازې په رسمي ژبه خبرېږي او پښتانه ماشومان له خپلو حقونو څخه محروم ساتل کېږي.

په دغه مجله کې پخوا هم ژبنۍ عدالت نه و، خو لږ تر لږه هغه نوم خو یې پښتو و. مګر تاسې متاسفانه د پښتو له نوم سره هم حساسیت څرګند کړ، حال دا چې تاسې باید د هېواد دواړه رسمي ژبو ته په یوه سترګه وګورئ. دا ولې؟

محترم وزیر صاحب ! خپل ګرېوان ته سر ټیټ کړئ او له ځانه وپوښتئ چې ایا پښتو کلمه او نوم لیرې کول به عقدې او تعصبونه پیدا نه کړي؟

ایا ستاسو دغسې کارونه ملي وحدت ته صدمه نه رسوي؟ ایا دغه مظلوم ملت د دغسې تعصبونو له لاسه تباه او برباد نه شو ؟

تاسې خو مشکل نه لرئ، بېرته به هماغه ځای ته لاړ شئ، چې ترې راغلي یاست، هغه ځای چې تذکره یې درسره ده او اولادونه دې په کې اوسي. مګر دغه ملت څه ګناه کړې ده؟

تاسې خو په تېرو لسو پنځلسو کلونو کې هم چې د تنظیمونو او طالبانو له لاسه په افغانستان کې سرې لمبې بلې وې، په امریکا کې ناست وئ، خو افسوس د ملت پر حال.

تاسې چې د ډیموکراسۍ چیغې وهئ، ایا ډیموکراسي د دېته وایي چې د یوه ملت نیم ماشومان دې دا حق ونه لري چې په خپله ژبه لوستل وکړي؟ ایا ډیموکراسي دا ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت بودجه دي په فرهنګي چارو کې د ځينو لپاره مصرف شي او د ځينو لپاره نه؟

تاسې خانقاه ګانو ته هم ډېر ځئ، عارفان خو د خدای ټول مخلوق ته په يوه سترګه ګوري، په کانړو، بوټو کې هم د خدای جلوه ويني او محبت ورسره کوي. ايا تاسې له پښتنو ماشومانو سره ولې د غسې چلند کوئ، ولې يې له خپله حقه محروموئ؟

زه او زما غونډې نور ډېر کسان ستاسې د ځواب انتظار کوي، ممکن تاسې د ځواب انتظار کوئ، ممکن تاسې هم استدلال ولرئ، لطفاً خپل دلايل وليکئ، ستاسې مطلب خو هره مجله او هر اخبار چاپوي. دا ګز او دا يې ميدان، ملت ته ځواب ورکړئ.(8)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیم جلالزي، غزني

# د سید مډال د چا په چوپړ کې؟

د افغانستان ۳۰ کلنې سیاسي ترینګلتیا له ځانه سره خورا زیاتې ناوړه اغېزې د دغه هېواد پر اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري او ... برخو پرېښې دي. خو څنګه چې د دود له مخې تل سیاسي کړکېچ د نژاد له ګوابښ سره مخامخ کول او یا هغه ته وده ورکول وي، نو پر دې بنسټ له نورو ټولو ډګرونو څخه پر دغه ټکي باندې راڅرخېدل هم ډېر وي. وروستیو څو لسیزو عملاً ټبري لوړ او ځوړ یونلوری جوت کړ او دا ټولو ومنله چې سیاسي وزلوبه د کوم چل ول له مخې باید پر مخ یوړل شي. که موږ د اوسنۍ نړۍ سیاسي لرلید ته وګورو، نو په پوره ډاډ سره ویلای شو چې له هرڅه نه زیات ارزښتناک د یوه سم سیاست پر مخ بېول دي، چې له دې سره نه یوازې د سیاسي څېرو او اډانو د پایښت راز تړلی دی، بلکې د خلکو لپاره هم د ژوندانه د ګراف ټول ټکي له مثبته تر مثبته پورې ټاکي. په افغانستان کې تر ټولو هغو څیزونو - چې په غیرشعوري توګه پر مخ وړل شوي دي، سیاست لومړی ځای درلود. د اپه دې مانا چې په افغانستان کې سیاست د ځان د ګټې او د سیال د پرځونې یو روښانه انځور دی، چې بېلګې یې همدا ټبرې ترخې کودتاوې او د سیاسي پولو او دریځ ادلون بدلون دی.

کله چې سړی د سیاسي فلسفې یون او کړکېښ ته ګوري، نو ارومرو یې ذهن ته د زورزیاتي مانا رسېږي. که څه هم ښایي دا لیکنه یو څه اوږده شي خو موږ غواړو پر څو خبرو باندې یو څه رڼا واچوو.

۱ – کرزی، ژمنې او هیلې.
۲ – د افغانستان راډیو او ټلویزیون.
۳ – مډالونه او ویاړنې.
۴- د سلاکارانو ټاکل او ژبنۍ ستونزې
او وروستۍ خبره به مو هم سیاسي ټرمینالوژي وي.

کله چې درې میاشتې وړاندې د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کېدلې، نو کاندیدانو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېدرېغــه منــډه تــرړې وکــړې، چـې خلــک د ځــان او پــه تــرځ کــې يــې ولسمشــر شــي. د کانديـداتورۍ د فلسـفې لـه مخې، هر کانديـد خپلـه درنـه او د بلـه سپکه پـه رسنيو کې انځوروله. چا به يو څه او چا به بل څه ويل. د کانديدانو په منځ کې يو هم ښاغلی کرزی و چې افغانانو يې تېر درې کلن کارونه ارزولي وو، چې څه يې ترسره کړي وو او پـه څـه کـې هم پاتې راغلی و. ښاغلی کرزی هم د ټاکنيزو منډو ترړو په ترڅ کې لـه نـورو څخـه يـو ګـام هم شا ته نه شو، بلکې تر هغوی يې ښايي ژمنې هم خوړې او هم په زړه پورې وې. د کـرزي يـوه ژمنـه هـم د ملـي يـووالي، ولسـواکۍ او ملـي پيوسـتون خبـره وه او تـل يـې دغـه درې خبرې- د وينا پيـل او پای بلل کېدې.

خلکو هم د باور له مخې کرزي ته رايې ورکړې او په دې ګروهـه وو چې نـور بـه نـو حق حقدار ته ورسېږي. د کرزي صاحب د ژمنو په اړه خلکو ډېر څه ويل او دا يې پـه نېـک فـال نيولي وو چې که کرزي په خپله کابينـه (منځمهـالي دولـت) کـې سـم او پـر ځـای بدلونونـه راولي، نو ښايي چې وروسته بـه ټـولې چـارې همـدا ښـه غـوره کـړي. خـو کلـه چـې کـرزي د غوڅ ډېرکي په مټ ټولټاکنې وګټلې، نو بيا که څه هم په کابينه کې ښـه پـر ځـای بدلونونـه را منځته شول، خو ځينې دا سې ټکي هم شته چې نه يوازې پر کرزي باندې د خلکو بـاور تـه زيـان اړوي، بلکـې د خلکـو لپـاره يـې هـم پـايلې منفـي راخـېژي. د بېلګـې پـه توګـه د اطلاعاتو او کلتور وزارت او چارواکي يادولای شو. د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت د څـو نورو وزارتونو تر څنګ له هغو وزارتونو څخه دی، چې د اساسي قانون په وړاندې يې تل خپلې ناروا کړنلارې ته دوام ورکړی دی او ورکوي يې.

که د افغانسـتان راډيو- ټلويزيون وګورو او يا نورې دولتي رسنۍ وڅيـرو، نو تـل يـې دا هڅه او هاند کړی دی، چې نه يوازې پښتو پرمختګ ته پرې نه ږدي، بلکې محکومـه يې وساتي او پر حقوقو باندې يې په پټو سترګو پښې کښېږدي.

که سرې د افغانسـتان راډيو- ټلويزيون ګوري يا اوري، نو په ډاډ سره به وو ايـي چې دا خو د افغانسـتان راډيو- ټلويزيون نه، بلکې د ايران راډيو- ټلويزيون دی. دا چې د پښـتنو پر غوڅ اکثريت ۲۲.۷۳ سلنې (فيصده) باندې سترګې پټېږي او هغه غوڅ برى هم لـه پامـه لوېږي چې کرزی يې په غوڅ اکثريت د سيالانو په مخ کې سرلوړی کړ، دوه اړخه لري: د ښاغلي کرزي لپاره د دې پر ځای چې ځان ورڅخه ناګاره ونيسي بايد د دغه غوڅ اکثريت ژبني او کلتوري محکوميت ته پام کړی وای او خپل حق يې ورتـه د هغـې مېړانـې پـه بـدل کې ورکړی وای، چې نومو ړی يې د سيالانو پـه وړانـدې د سياسـي لـوبې ګټـونکی اتـل ونوماوه. د دې پر ځای چې دغه اتل ټبر (پښـتون) نور د ژبني او کلتوري ښکېلاک له لومو څخـه وسـاتي، لا يـې محکـوم کـړی او ټـول حقـونـه يـې تـرې اخيسـتي دي. ده بايـد لـومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نوم په اړه کړې وای، چې تر لسګونو کلونو تاریخي پېر راوروسته د دغه وزارت د وزیر د ځانګړې پالیسۍ له مخې په "اطلاعات و فرهنګ" باندې بدل شوی دی. دویم ګام یې باید ارو مرو د سمون په اړه اخیستی وای او د دې پر ځای چې د یوې ډلې یا ټولۍ له موخې سره سم له پښتو ژبې څخه پاکېږي، باید پښتو په رښتیا هم د اکثریت د حقونو له مخې په ملي بڼه اوښتې وای، چې ښاغلی کرزی له یوې خوا اساسي قانون ته ژمن پاتې شوی وای او له بله پلوه به یې د ملي ژبې حق هم پر ځای کړی وای.

بیا هم خبره د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په باب اوږدوو. ډاکټر سید مخدوم رهین هغه وزیر دی چې د تېرو دربیو کلونو په ترڅ کې یې بېلابېل مډالونه او ویاړنې ترګوتو کړې دي. دا چې دغه مډالونه به څومره پر ځای ورکړل شوي وي، هغه به اوس تاسو ته د پرېکړې لپاره وړاندې کړو.

ښاغلي رهین څه وخت وړاندې د مطبوعاتو په ډګر کې د خپل غوره چوپړ له امله په بهر کې هم د ویاړ ځینې سمبولونه ترګوتو کړل، خو که غوره چوپړ ته راشو، سړی حیران شي چې رهین او غوره چوپړ؟!.

که دا چوپړ وبولو چې په هېواد کې په سلګونو خپرونې چاپېږي، دا ښایي د رهین چوپړ نه وي، ځکه دا د ولسواکۍ د یوه اصل په توګه منل شوي توکی دی، چې د وینا ازادي به شتون لري. له بلې خوا که د خپرونو څرنګوالي ته سړی ګوري، بیا هم د غوره چوپړ په توګه د رهین د کوم نوښت شاهدي نه ورکوي او که دا غوره چوپړ وي چې پښتون لیکوال که حق هم ووایي او محکمې ته ورغوښتل کېږي او یا پلټنه ورځخه کېږي بیا خو یوه لاره لري!!!

یوه بله خبره هم رایاده شوه او هغه دا چې ښاغلي رهین ته خپل دریځ د اسلام د موقف په پرتله ډېر ارزښتناک دی، یانې کله چې محمدیار او صالح پر نوموړي کومه نیوکه کوي، هغوی له دې امله چې د ده دریځ ته زیان رسوي، څارنوالۍ ته راغوښتل کېږي او که د (افتاب) مسوول مدیر پر اسلام باندې نیوکه کوي، هغه نه یوازې چې څه ورته نه ویل کېږي، بلکې د تېښتې په برخه کې هم ورسره مرسته کېږي. نو له دې څخه څه اټکل کولای شو- ایا رهین ته خپل دریځ غوره دی، که د اسلام دا؟

خو سړی هک پک پاتې شي، چې رهین د کوم غوره خدمت له مخې مډالونه ترلاسه کوي. دویمه خبره دا چې رهین نه یوازې دا چې له بهره مډالونه راوړي، بلکې په هېواد کې دننه هم کله ناکله په مډالونو باندې د ده د غوره چوپړ!!! له امله نازول کېږي.

څه وخت مخې ده ته بیا هم د ده د کار له امله د ملت د بابا له خوا د سید جمال الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان مډال ورکړ شو.

خو له دغې خبرې څخه سرې لړ په اند ېښنه کې شي او هغه دا چې ښاغلي رهين خو د اروا ښاد سيد په اړه نه کوم نېک نظر څرګند کړی او نه يې هم د هغه په برخه کې کوم د پام وړ کار ترسره کړی دی.

که تاسې د کابل پوهنتون په انګړ کې د سيد جمال الدين افغان قبر ته ورشئ، ژړا به مو پرې راشي، ځکه اوس د پوهنتون په انګړ کې د شپې لپاره هلته ځينې ځناور ورځي. دغه راز د رسته ورځ کله ورباندې جنګ او کله ورباندې لوبې کوي.

د دې پرځای چې رهين د سيد مډال تر ګوتو کړي، بايد د احمد ظاهر مډال ورکړل شوی وای، ځکه اصلي خدمت خو يې هغه ته کړی دی، چې پر قبر يې شاهانه مانۍ ودروله او که احمد ظاهر ته د چوپړ له امله ښاغلي رهين ته د سيد مډال ورکول کېږي، نو بيا ښايي چې تر رهين نور زيات مستحق کسان هم وي.

ځکه د طالبانو په سخته دوره کې رهين ولاکه په فرانسه کې د احمد ظاهر نوم هم اخيستلای سوای، خو د غږ مينه والو به يې دلته دا سندره زمزمه کوله چې: *اگر ميخوارم ومستم به کس چه به کس چه؟*

په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د ننه اته سلنې (فيصده) کارکوونکي هم پښتانه نه دي او دغه راز يې د سلاکارانو مسئله هم د څو شېبو تم کېدو لپاره غوره کوو.

د ښاغلي رهين هم يو کار چې په ډېره ځيرکتيا يې ترسره کوي، هغه د سلاکارانو ټاکل دي. د منځمهالي دولت د واک پر مهال هم د دغه ښاغلي له خوا داسې سلاکاران په کار وګمارل شول، چې هغوی د ښاغلي رهين پښتوضد کړنلاره نه يوازې ټکي په ټکي پلې کېدل غوښتل، بلکې ځان يې يو ګام له هغه نه مخ کې شمېره، چې ښه بېلګه يې د مطبوعاتو شورا او د هغې له غړو سره د مور و ميرې د چال چلند خبره ده. په دې وروستيو کې د ښاغلي رهنورد زرياب تر ګوښه کولو وروسته د سلاکار په توګه داسې يو څوک راوغوښتل شو، چې نه يوازې د هغه له مفکورې څخه به د رهين ګټه څو چنده وي، بلکې د هغه د شتون تر شا له پرتې فلسفې څخه به هم ګټه واخلي. دا سلاکار ميرويس ظاهر دی، چې رهين نه يوازې د ده له شتون څخه ګټه پورته کوي، بلکې د پخواني پاچا له اغېزې څخه هم ګټې اخيستنې ته لار اواروي.

يو مهال به ډاکټر رهين د پخواني پاچا سيوری په کاڼو ويشت، خو نن د خپل پايښت لپاره سهار او ماښام د هغه سلام کوي. که د رهين موخه دا وي چې ميرويس ظاهر به د پښتنو په استازيتوب په موږ کې وشمېري، دا هم د منلو وړ نه ده، ځکه چې د هغه نه يوازې دا چې پښتو يې زده نه ده، بلکې غوړونه به يې ايله اوس د پښتو له نامه سره اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي.

دغه راز کله چې ښاغلي مبارز، د وزارت د مرستیال له دندې استعفا ورکړه نو داسې باور کېده چې ښايي ځیناستی به یې د پښتنو استازی وي، خو دا فکر هم سرچپه وخوت او د "اغای" سنګچارکي په ټاکنه مو له بارانه تر ناوې لاندې شپه شوه.

او وروستی خبره مو هم د سیاسي ټرمینالوژۍ په باب ده، که څه هم ښايي دا زموږ له همدغې لیکنې سره دومره اړخ ونه لګوي، خو څنګه چې خبره د ژبې ده، نو یادول یې اړین دي.

سیاسي ټرمینالوژي د یوه نړیوال پرنسیپ له مخې به ملي ژبه وي، خو له بده مرغه په افغانستان کې د ملي ژبې په پرتله د لږکیو ژبه زیات رول لري او هرڅه ورباندې د قانون پر خلاف لیکل کېږي او په دې توګه د ۲۲.۷۳ سلنې حق تر ۱۲؟سلنې ځارول کېږي، چې موږ به یې دلته د بېلګې په توګه لکه: اطلاعات و فرهنګ، دادستان، دادګاه عالي، دانشګاه، دانشکده... او نور یاد کړو.

خو پښتانه که هرڅو په دښتو او بانډو کې د دربدرۍ ژوند تېر یخ تېروي، خو د خپلې ژبې په قدر پوهېږي او ډاکټر رهین او د هغه د سوچ یارانو ته باید دومره ووایو چې:

ته په خود یې که ېخود یې دا په څه شي لوبې کاندې
دغــه ژبــه د درنـــو ده نــه د هــري نښې ځلــي

او په وروستیو شېبو کې باید کرزي صاحب ته هم دا ورپه یاد کړو چې د هغه غوڅ اکثریت حق، رایې او نظر چې دی یې پر سیالانو بریالی کړ، باید د پنجشېر تر هغې یوې رایې قرباني نه کړي، چې د ده د ټاکنو د منډوترړو پایله وه.(9)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزیر فرهنگ و ارشاد اسلامی در دیدار با وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان

## گسترش فعالیت‌های فرهنگی و هنری میان دو کشور ضروری است

(زیات کارپوهان او د مدني قوانینو متخصصین په دې باور دي، چې یو هېواد په خپلو کلتوري ارزښتونو پېژندل کېږي، دا سمه ده چې هېوادونه حق لري، له یو بل سره کلتوري تبادلې وکړي، دغه راز په دې ډگر کې د یو بل له گټورو تجربو څخه کار واخلي، خو زموږ د هېواد په اوسنۍ کلتوري خلا کې یوه ستره ونډه زموږ د اړوندو چارواکو ده، چې له ځینو گاونډیو هېوادونو سره یې لاسونه ورکړي او غواړي چې افغانستان او دغه هېوادونه په یوه گډه کلتوري حوزه واړوي، ښه بېلگه یې په دې اړه د ایرانیانو په ویبپاڼو کې له هیلو او تمو ډک خبرونه دي، یوه بېلگه یې دلته لولو )

۱۳۸۳/۵/۲۳

«احمد مسجد جامعی» وزیر فرهنگ و ارشاد اسلامی، در دیدار با «سید مخدوم رهین»، وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان با بررسی ابعاد گسترده ارتباطات و مناسبات فرهنگی، دینی، ملی و تاریخی میان دو ملت ایران و افغانستان بر گسترش مبادلات و توسعه روزافزون روابط فرهنگی میان دو کشور تاکید کرد. احمد مسجد جامعی با اشاره به محوری بودن مقوله فرهنگ، گسترش و توسعه فعالیت‌های دو کشور در زمینه‌های سینمایی، هنری، نمایشی، برگزاری نمایشگاه و تجلیل از مفاخر و بزرگان ادبی، فرهنگی را ضروری دانست.

وزیر فرهنگ و ارشاد اسلامی، سینمای ایران را سینمایی اخلاقی، صاحب سبک و مطرح در سطح جهان معرفی کرد و بر لزوم تبادل تجربیات و تولید محصولات سینمایی تاکید نمود. مسجد جامعی، همچنین از آمادگی وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی در زمینه تجهیز کتابخانه‌ها، ارسال کتاب‌های جدید و آموزش کتابداران افغانستان خبر داد. برگزاری اجلاس مشترک، تجلیل از مفاخر، شعرا و شخصیت‌های فرهنگی و ادبی، شرکت در جشنواره‌های فرهنگی، هنری و نمایشگاه‌های قرآنی از دیگر محورهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



گفتگو و مذاکره وزرای فرهنگ دو کشور ایران و افغانستان بود. مسجد جامعی همچنین از آماد گی دولت ایران در بازسازی و مرمت آثار تاریخی و باستانی افغانستان خبر داد. در ادامه این دیدار، «سید مخدوم رهین» وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان که به دعوت رسمی مسجد جامعی به ایران سفر کرده از حضور در کشور ایران اظهار خرسندی کرد و نتایج مذاکرات با مقامات ایرانی را مثبت ارزیابی نمود. گفتنی است وزرای فرهنگ دو کشور ایران و افغانستان همچنین از نمایشگاه «بسم الله و اسما متبرکه» در بنیاد آفرینش‌های هنری نیاوران بازدید کردند که در جریان این بازدید وزیر فرهنگ و ارشاد اسلامی افغانستان گفت: دین و هنر در این نمایشگاه چنان به هم پیوسته است که معنویت حاصل از آن بر تار جان پنجه می افکند. «مخدوم رهین» همچنین با تجلیل از خوشنویسان ایرانی، ایران را مهد هنر خواند. (10)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:
په دې اړه به هم ځيني ليکنې ولولئ چې د افغانستان تاريخي اثار او کلتوري شتمنۍ د چا له خوا لوټل کېږي؟ څوک له قاچاق وړونکو سره لاس لري او پر دغو ارزښتونو يې خېټه اچولې ده، دلته په خپله وزير، د يوه خبري کنفرانس په ترځ کې ژورنالستانو ته اعلان کوي، چې د افغانستان تاريخي اثار له ګواښ سره مخ دي، غله ته وايي ورشه وربانديې او د کور خاوند ته وايي چې ويښ واوسه:

**24**، دلو 1382

سید "مخدوم رهین "وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان اعلام کرد :
آثار تاريخي و ميراث فرهنگي اين سرزمين در معرض غارت عناصر سودجو قرار دارد.

رهين روز پنجشنبه به خبرنگاران گفت: در بيشتر ولايات افغانستان آثار تاريخي كه ميراث فرهنگ اين كشور محسوب مي شود از سوی عناصر سودجو به خصوص جنگسالاران محلي و منطقه ای غارت مي شود.

وزير اطلاعات و فرهنگ افغانستان گفت: متاسفانه گروههای سودجوی داخلي به كمک باندهای غارتگر خارجي چشم طمع به اين يادگارهای نفيس قديمي دارند كه خود فاجعه بزرگي است.

وزير اطلاعات و فرهنگ افغانستان معتقد است: اكثر آثار تاريخي موجود در كشور در معرض تهديد قاچاقچيان و غارتگران است و به توجه و حراست نياز دارند.

رهين با درخواست از جامعه جهاني برای كمک به افغانستان در حفظ و نگهداری آثار و ابنيه های تاريخي گفت: جامعه جهاني تاكنوني در اين زمينه توجه چنداني نداشته است.

وی همچنين از كشورهای جهان خواست كه آثار تاريخي افغانستان را دوباره به اين كشور باز گردانند.

وی با بيان اينكه كاوشهای غيرقانوني عناصر سودجو و خائن در برخي ولايات ادامه دارد و كنترلي و برخورد با آنان نشده است ، گفت: يک نيروی ۵۰۰ نفری بزودی در مراكز حساس تاريخي برای حفاظت از اين آثار مستقر خواهند شد.

رهين هشدار داد ، اگر دولت تا يک سال آينده نتواند مانع ادامه غارت اين آثار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شود ، افغانستان از آثار تاریخي تهي خواهد شد.

وی از تشکلهای غیردولتي و مردم خواست ، حرکات افراد سودجو و غارتگر را زیر نظر گرفته و با آنها برخورد کنند.

وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان همچنین با اعلام اینکه بر اساس برخي گزارشهای منتشره "نصیرالله بابر" وزیر امور داخله پیشین پاکستان در دوران نخست وزیری "بي نظیر بوتو" که از وی به عنوان "پدر طالبان" نام برده مي شود ، برخي از آثار تاریخي و میراث گرانبهای افغانستان را خریداری کرده است ، گفت: امید است با تشکیل دولت ثابت در افغانستان ، بابر این آثار را تحویل دهد.(10)

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنیر روښان اسلامخېل

# ایا د وزیر صاحب ټوکې هم نیم حقیقت دی؟

زموږ وزیر صاحب هم عجیبې ټوکې کوي، داسې ټوکې که خدای مه کړه رښتیا وي، نو بیا خو دې وطن ته خدای خیر پېښنوي.
که خدای مه کړه نیم حقیقت وي، نو بیا خو په هېواد کې د فرهنګ جنازه باید واخلو، ځکه چې دا وزیر صاحب د اطلاعاتو او کلتور، یا د ده په وینا د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ښاغلی سید مخدوم رهین دی.
ما ده ډېرې ټوکې دلته او هلته اورېدلې وې، خو یوازې مې ورته خندلي وو او بیابېزه مې اچولې وې، خو کومې ټوکې مې چې د ده له خولې واورېدلې، نه یوازې مې ورته وخندل، بلکې که هلته بل څوک نه وای، ښایي ژړلي مې وای. یو دوې ټوکې به یې دلته راواخلم:
څه موده دمخه د کابل ښار په جنوب ختیزه لمن، د نارنج په غونډۍ کې یو پخوانی ښارګوټی کشف شو، زه هم د وظیفې له مخې هلته لاړم، موږ یې د ننه نه ورپرېښودو، ځکه چې وزیر صاحب لا نه و راغلی، چې وزیر صاحب راغی نو دلته مو لاسته راغلي اثار ولیدل. وزیر صاحب لومړی دا خبره هم بدله کړه، چې موږ باید د دغو اثارو په باب مطبوعاتو ته دا وواېو چې دا اثار د ینقلیانو په دورې پورې اړه لري. د رهین صاحب د دې خبرې په دلیل، "یا ښایي حکمت!" تر اوسه هم پوه نه یم.
کله مو چې اثار کتل، نو د کلتور رئیس ته یې وویل چې څنګه طلایي اثار په لاس نه دي راغلي؟ بیا یې عینکې سمې کړې، په ټوکو یې پسې زیاته کړه، که چېرې داسې اثار په لاس درتلل، نو پټوه یې. د سترګې له وهلو سره یې وخندل.
ما ته څه موده دمخه د تاریخي اثارو د لوټ او تالان په باب لیکنه رایاده شوه، چې په کوم سیمینار کې وېشل شوې وه او بیا یې په جرم دوه تنه لیکوال او ژورنالیستان بندیان شول. پاک خدای دې دا ټوکه د نیمه حقیقت په ټوکو کې نه حسابوي.
بله ورځ په وزارت کې ډېر کسان ناست وو، زموږ د هېواد یو سپین ږیری خوږژبی هنرمند بېلتون راغی، وزیر صاحب ته یې خپل غوښتنلیک وړاندې کړ، بېلتون استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه کړې وه، چې د حج د فریضې د ادا کولو لپاره دې ورسره مرسته وشي.

رهین صاحب عریضه ولوستله، ویې خندل او بیا یې په مسخرو د هېواد دغه منلي او مظلوم هنرمند ته وویل:

"برو بابا ! عمرت ده تبله و ارمونیه گذشت، ایقه گناه کدي که ده حج مج پاک نمیشه، برو برادر تو از حج چی میخواهي؟".

بېلتون هک پک ودرېد. ښایي باور یې نه کېده، چې د خپل هېواد د کلتور له وزیر څخه دا سې خبره واوري. بېلتون استاد هماغسې ولاړ و، رهین صاحب ته یې کښته پورته کتل.

ښایي فکر به یې کاوه او وزیر ته یې کتل، هسې نه چې د طالبانو له وزیر- هغه هم د امربالمعروف له وزیر سره مخامخ شوی وي.

یا به ښایي په دې تمه ولاړ و، چې وزیر به د خپلې ناسنجول شوې خبرې بخښنه ترې وغواړي. د ناستو کسانو تمه هم همدا وه، خو وزیر بیا هم خپلې خبرې د کلماتو په بدلون په لنډ ډول تکرار کړې.

بېلتون نهیلی د ده له دفتره ووت.

دا وې زموږ د هېواد د اطلاعاتو او کلتور د وزیر چلند له یوه عمرخوړلي او مشهور سندرغاړي سره. وايي چې هره ټوکه نیم حقیقت وي.

آه که رښتیا هم همدا سې وي، نو بیا...

خدای دې نه کړي.(11)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایران ۱۴ هزار جلد کتاب به [پوهنتون] و کتابخانه ملي کابل اهدا کرد

[زیات کتونکي په دې باور دي، چې پر افغانستان اوس مهال یو ستر کلتوري یرغل راروان دی، چې په دې شپه کې د دې هېواد له تاریخي ارزښتونو سره- سره علمي او هنري ارزښتونه هم له ستر ګواښ سره مخ دي، دلته به ولولو چې ایران له افغانستان سره د خپلو پټو موخو لپاره کومې مرستې کوي؟؟].

گروه علمي فرهنگي: ۱۴ هزار جلد کتاب و ۱۰ دستگاه رایانه با تجهیزات جانبي اهدایي جمهوري اسلامي ایران روز یکشنبه تحویل مسئولان [پوهنتون] و کتابخانه عمومي شهر کابل پایتخت افغانستان شد.

غلامرضا امیرخاني مدیرکل اطلاع‌رساني کتابخانه ملي ایران روز یکشنبه‌در یک گفت‌وگوي اختصاصي با خبرنگار ایرنا در کابل با اعلام این خبر، گفت: دو هزار جلد از این کتب به [پوهنتون] کابل و ۱۲ هزار جلد دېر به کتابخانه ملي این شهر اهدا شده است.

ایران طي ۱۸ ماه گذشته نیز در دو نوبت ۲۰ هزار جلد انواع کتب علمي، آموزشي، ادبي، تاریخي و هنري به مراکز [پوهنتوني]، آموزشي و مطالعاتي افغانستان اهدا کرده است.

امیرخاني همچنین در پایان مراسم‌اختتامیه دوره‌آموزش کتابداري در [پوهنتون] کابل گفت: کارشناسان کتابخانه ملي جمهوري اسلامي ایران یک دوره آموزشي ۱۵روزه را براي ۵۵ تن از کتابداران [پوهنتون] کابل، کتابخانه عمومي این شهر، موسسات بیهقي و ابن سینا و رادیو و تلویزیون افغانستان برگزار کرد.

وي افـزود: از میان این عده قرار است ۲۰ نفر که داراي بالاترین نمرات‌آزمون پایان دوره هستند، براي گذراندن دوره پیشرفته کتابداري به ایران اعزام شوند.(12)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستار سعیدی، کابل

# نمایش هم زمان فیلم ایرانی 'دوئل' در کابل و تهران

نمایش فیلم ایرانی دوئل، ساخته احمدرضا درویش، همزمان با سینماهای تهران، در دو سینمای کابل آغاز شد.

این نخستین بار است که یک فیلم ایرانی، همزمان با ایران، در سینماهای کابل نمایش داده می شود.

در مراسم افتتاح نمایش فیلم دوئل در کابل، عوامل تهیه فیلم، به همراه سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان، غلام سخی نورزاد شهردار کابل و محمدرضا بهرامی سفیر و مقامات سفارت ایران در افغانستان در سینما آریانای کابل حضور داشتند.

وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان، در این مراسم، از موفقیتهای سینمای ایران در دو دهه گذشته به نیکی یاد کرد.

آقای رهین گفت که این سینما، توانسته با ایجاد جذابیتهای مردم پسند، از آنچه او ابتذال بازاری خواند، در امان بماند.

احمد رضا درویش کارگردان، سعید راد، پرویز پرستویی، پژمان بازغی و پریوش نظریه تعدادی از بازیگران فیلم ایرانی دوئل نیز، در این مراسم صحبت کردند.

احمدرضا درویش، ابتدا از محسن مخملباف دیگر فیلمساز ایرانی که به گفته او راه را برای کار مشترک سینمایی در ایران و افغانستان باز کرده است قدردانی کرد.

او دو کشور ایران و افغانستان را دارای مشترکات فراوان، از جمله زبان و مذهب خواند و پشت سرگذاشتن جنگ را نیز، از نقاط اشتراک مهم این دو کشور بر شمرد.

پرویز پرستویی گفت: "من در سفر به هیچ کشوری به اندازه افغانستان این گونه راحت با مخاطبان ارتباط برقرار نکرده ام، به خاطر اینکه زبانشان را نمی دانستم."

پریوش نظریه نیز گفت: "من در اینجا آنقدر چهره ها و صداهای آشنا می بینم و می

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنوم، که احساس نمی کنم در خارج از ایران هستم."

نخستین اکران فیلم ایرانی دوئل در سینما آریانای کابل، مورد استقبال تماشاچیان قرار گرفت.

این فیلم همچنین در سینما بهارستان این شهر نیز به نمایش درآمده است.

سینماهای بهارستان و آریانا، در دوران جنگهای افغانستان تخریب شده بود که اخیراً بازسازی شده است.

عوامل فیلم سینمایی دوئل، صبح روز شنبه، کابل را به مقصد دبی ترک کردند.

داستان فیلم

دوئل داستان یک اسیر جنگی (پژمان بازغی در نقش زینال) است که پس از بیست سال اسارت در عراق، به زادگاهش در جنوب ایران باز می گردد.

او در دوران جنگ، زمان حمله عراق برای تصرف خرمشهر، از تحویل دادن یک گاو صندوق که گفته می شود اسرار محرمانه در آن است به کسانی که ادعا می کنند نمایندگان دولتند خودداری می کند و به همراه صندوق ناپدید می شود.

او اکنون خائن- ستون پنجم دشمن- معرفی شده است؛ زینال تلاش می کند با یادآوری خاطرات گذشته، خود را از اتهام خیانت تبرئه کند.

اسکندر (سعید راد) که بیست سال قبل در پی به دست آوردن گاو صندوق بوده است، اکنون و پس از آنکه زینال سرنخهایی از آن گاوصندوق مفقود شده به دست آورده است، قصد تصاحب آن و ازدواج با سلیمه (پریوش نظریه) بیوه یک تن از سربازان کشته شده در جریان انتقال گاو صندوق را دارد.

فصل نهایی فیلم، دوئل بین زینال و اسکندر است که هر دو در پی تصاحب گاوصندوق با نیات متفاوتی هستند.

فیلم سینمایی دوئل ساخته احمدرضا درویش، در جشنجواره بین المللی فیلم فجر در تهران، برنده هفت سیمرغ بلورین شد و در چند جشنواره خارجی نیز به نمایش در آمده است.(13)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل تهران شو

کله چې زموږ "افغانستاني" ورونو د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د "افغان" او "افغانستان" له نوم سره خپل تونند حساسیت وښود او په دې برخه کې یې د خوږبندیز تر کچې پورې هم ځانونه هوډمن وګڼل، ټولې نړۍ یې ننداره وکړه او دا ورته په زبات ورسېده، چې نه، دلته که د وطن او ناموس پر سر ککرۍ خاورې شوې دي، دا سې کسان هم شته، چې له خپل هېواد یانې خپل ناموس او پت سره څه وړ چلند کوي. جرمنیان ایله اوس قانع شول چې په افغانستان کې پر پښتنو زیات ظلم شوی دی. نو ځکه خو یې خپله پخوانۍ خبره بېرته واخیستله، هغوی پخوا دا انګېرله، چې دلته پښتنو پر نورو قومي لړکیو ظلم او زیاتی کړی دی.

دولت خو ځان ژمن ګڼي، چې د هر قوم ژبې ته به خدمت کوي او په دې ترڅ کې یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته هم سپارښتنه وکړه، چې باید دغه بهیر ته وده ورکړي. په همدې تړاو د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د ښاغلي حامد کرزي له خوا د سید جمال الدین افغان دولتي نښان هم په دې پلمه ورډالی شو، چې ګواکې دغه وزارت زیات او بېساري خدمتونه کړي دي، دغه راز یې له نورو دولتونو سره هم فرهنګي اړیکې غزولې دي. خو راشئ وڅېړو او په څو محدودو بېلګو دا کتنه وکړو، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په رښتیا هم د صادقانه خدمت جنډه هسکه کړې او که هسې یې په خپلو شعارونو، چغو او سورو د نورو خلکو غوږونه ورکانه کړي دي؟

د دغه وزارت له خوا د پښتنو مېشتو سیمو خپرنیزو ادارو ته رسمي مکتوبونه ولېږل شول، چې باید 30سلنه په دري ژبه لیکنې خپرې کړي، خو د هرات پر خپرونو هېڅا هم دا نیوکه ونه کړه چې ولې یو توری په پښتو نه خپروي. له کابله په دولتي ورځپاڼو کې هېواد او انیس یو څه کاري سابقه لري، دا مهال هم د او سني وزارت تر څارنې لاندې انیس ورځپاڼه په شپږو مخونو کې خپرېږي. چې 98سلنه دري لري. هېواد ورځپاڼه بیا څلور مخونه لري، چې 30سلنه دري لیکنې په کې راځي.

د نوي کال پر لومړۍ ورځ انیس ورځپاڼه په لسو مخونو، خو هېواد ورځپاڼه په څلورو مخونو کې راووته. چې دا هم د دې وزارت له خدماتو څخه ګڼل کېږي!! په کار ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي لوړپوړي چارواکي دغه وزارت په يوه بله ستره ډالۍ هم ونازوي، هغه دا سې چې د کمکيانو انيس خپرونه له پيله په همدې نامه خپرېده، ان په تېرو جګړه ييزو کلونو کې يې هم چا د نوم بدلولو نيت ونه کړ، خو اوسني وزارت يې نوم "انيس کودک" کړ. دغه راز د راډيو او ټلويزيون خپروني خو اکثره په يوه ژبه وي، اکثره زيګنالونه او عنوانونه په دې نيت وربدل کړای شول، چې پخوا په کې پښتو ځای شوې وه. په همدغه وزارت کې زيات "افغانستاني" ورونه مهمې او لوړې دندې لري، دوی که له يوې خوا د افغاني نومونو په بدلولو پسې لستوڼي رابډوهلي، له بله اړخه يې دا هڅه هم کړې چې يوازې يوې ژبې ته ترجيح ورکړي. د ښاغلي رهين په مشرۍ د کابل ښاريانو شورا هم جوړه شوې چې ايراني نوم ورکړل شوی "شورای شهروندان کابل". دا سې ښکاري چې د خانقاګانو او صوفيانه بنډارونو لوری بلې خوا ته واوښت. سړي ته پوښتنه ولاړېږي، چې ايا دغه وزارت يوازې کابل ته کار کوي او که نه، ټول افغانستان د دوی د کار په ساحه کې نه راځي؟! دغه وزارت زيات عنوانونه او لوحې په ايرانۍ پارسي اړولې دي، که د نورو رياستونو او وزارتونو چارواکي همدغه ايراني توري کاروي، ښايي د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي پر خپلو بريتونو لاس راواکاږي او وبه وايي چې ياره ستره توره مو وکړه!

په هغو خپرونو کې چې د "افغانستاني" ورونو له خوا خپرېږي، د ښاروالۍ پرځای شهرداري، د سترې محکمې پرځای دادګاهْ عالي، د پوهنتون پرځای دانشګاه، د پوهنځي پرځای دانشکده، د محصل پرځای دانشجو، د سرې مياشتې پرځای هلال احمر افغاني، د افغان پرځای افغانستاني، د همشهري پرځای شهروند او.... کاروي. چې په دغو خپرونو کې پيام مجاهد، پنجره، هفته نامهْ کابل او... مخکښې دي. د همدغو "افغانستاني" ورونو له کبله ملي ارزښتونه، ملي ټرمينالوژي او ملي کلتور له ګواښ سره مخ دی. د اطلاعاتو او کلتور وزارت که د دغه خاينانه عمل مخه ونه نيسي، ښايي يوازې يې په ايراني تاريخ کې کارنامه په زرينو کرښو وليکل شي، په افغان ملت کې به يې ځای نه وي.

مصطفی کمال په ترکيه کې د اسلامي قوانينو پرځای غربي قوانين غوره وګڼل، ان چې ترکي ليکدود او ټرمينالوژي يې په لاتيني ليکدود بدله کړه او ټول اسلامي بنسټونه يې له منځه يووړل. هغه ګومان کاوه چې په دې توګه به د پرمخيون او ترقۍ پر لوري روانېږي او ترکيه به د نورو غربي هېوادونو په کتار کې ودرېږي، خو هغسې ونه شول.

دغو "افغانستانيانو" خو له بده مرغه په خپله ځانونه له ملت څخه بېل وګڼل، نو مهرباني دې وکړي، زموږ د اصيل افغاني کلتور په ارزښتونو او وياړونو کې دې لاسوهنه نه کوي. افغانانو پر خپل هېواد سرونه ښندلي او د تاريخ په هر پړاو کې يې توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قلم چلولی دی.

که له زلمو نه پوره نه شوه
افغانستانه ! جینکۍ به دې گټینه(14)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوگر ولایت کی د لرغونو اثارو کیندنی

**BNA**: د لوګر ولایت یو شمیر اوسیدونکی په دغه ولایت کی د لرغونو اثارو د کیندنی او شخصی ګټی اخیستنی څخه سرټکوی او وایی چی لاتراوسه د ساتلو لپاره یی د دولت له لوری هیڅ ډول عملی ګام نه دی اوچت شوی

د لوګر ولایت یو شمیر اوسیدونکی په دغه ولایت کی د لرغونو اثارو د کیندنی او شخصی ګټی **BNA** اخیستنی څخه سرټکوی او وایی چی لاتراوسه د ساتلو لپاره یی د دولت له لوری هیڅ ډول عملی ګام نه دی اوچت شوی. د نوموړی ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ د چارواکو په خبرو د لوګر د محمد اغی ، خرخ ، خروار او د بره کی برک په ولسوالیو کی ډیر لرغونی اثار شته او وایی چی تر ډیره حده د غیر فنی کیندنی او شخصی ګټی اخیستنی د محمد اغی ولسوالی ، مس عینک ،او د خروار ولسوالی د کافر کوت په سیمه کی وسله وال کسان لرغونی اثار را باسی او د سیمی د امنیتی ځواکونو له لوری یی مخنیوی نه دی شوی.

زما نوم حاجی نادر د لوګر ولایت د خروار ولسوالی د کافر کوت د کلی اوسیدونکی یم ، دلته شپه او ورځ وسله وال خلک راځی په هر قسم جامو کی راځی، دلته کار کوی بیا موږ سبا پری خبریږو چی ګورو چی یو وایی دا شی یی وړی دی و بل وایی دا شی یی وړی دی ، نو موږ له دولت نه دا خواهش کوو چی ولسوالی ته وواییی یا نور ځواکونه را ولیږی چی د دغو لرغونو اثارو ساتنه وکړی

د سیمی یو شمیر اوسیدونکی وایی چی د لوګر ولایت په ځینو سیمو کی هغه کسان چی کورونه یی لرغونو اثارو ته نږدی کیندنی کوی او په ځینو برخو کی د دوی د څرګندونو له مخی د تاریخی اثارو د را ایستلو تر څنګ د دغو اثارو قاچاق هم د یو شمیر سیمه ایزو قوماندانانو کار و بار دی د لوګر ولایت د محمد اغی ولسوالی د مس عینک د سیمی اوسیدونکی ګل محمد هم همدغی موضوع ته اشاره کوی او زیاتوی چی د خپل ځان له داره د دغو وسله والو نوم ونه نشی اخیستلی.

موږ د مس عینک دلرغونو اثار څخه دا معلومات لرو چی دا د کلی خلک یی هم باسی ، مسلح کسان راځی دا اثار باسی ، نو موږ له حکومت څخه دا غواړو چی د دی مخنیوی وکړی ، موږ که د دی قوماندانانو نوم ونه واخلو نو زموږ د ځان خطر پکی دی او موږ د ځان خطر پکی وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د لرغون پېژندنې رئیس محمد نادر رسولي هم په ډاګه کوي چې د لرغونو اثارو څخه د شخصي ګټې اخیستنې په اړه په لوګر سربېره د هېواد د نورو سیمو څخه هم ورته شکایتونه را رسیدلي دي خو څرګندوي چې د دغه وزارت په نوبت او د کورنیو چارو وزارت په مرسته د هېواد په ټولو سیمو کې د لرغونو اثارو د ساتنې لپاره یو پنځه سوه کسیز ځواک تر روزنې لاندې دی چې د ده په خبره یو شمیر کسان یې دا اوس، اوس د کابل د خواجه صفا، نارنج تپه او د مرنجان په تپې کې د تاریخي اثارو د ساتنې لپاره بوخت دي خو وایي چې د لوګر ولایت ته لا تر اوسه دغه ځواکونه نه دي ورغلي.

نوموړی وایي لا تر اوسه موږ پدې نه یو بریالي شوي او دا امکانات نه دي برابر شوي چې موږ هغه مهمې سیمې چې د غلو په واسطه لکه چې د لوګر په ولایت کې غلا کیږي او موږ ته یې په اړوند رپوټونه را رسیږي دلرغونو اثارو ساتونکي ورواستو و خو هیله من یم چې ژر تر ژره دغه ساتونکي په ټولو ولایتونو کې د ګرځنده او دایمي پوستو په ډول ځای پر ځای شي.

ښاغلی رسولي وویل چې د افغانستان په هر ګوټ هر افغان د نده لري تر څو د لرغونو او تاریخي اثارو څخه ساتنه وکړي، ځکه چې د هغه په خبره فرهنګي میراثونه د هېواد تاریخي هویت او پېژندنه ده خو دي نه په ګټو سره چې یو شمیر قوماندانان د دغو ارزښتناکو اثارو په قاچاق کې لاس لري ویل کیږي چې پنځه سوه کسیز ځواک به و نه توانیږي چې د هیواد په کچه د لرغونو اثارو څخه ساتنه وکړي.(15)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انجنیر بشیر احمد نوري وردګ لیکنه

# په کابل کې مرموزې پلټنې

لاندنۍ لیکنه څو اوونۍ مخکي لمړی ځل په یوه ویبپاڼه کي خپره شوه ، ورپسې په کندهار کي د بېنوا فرهنګي ټولني د مشر له خوا د کندهار په یوه سیمینارکي چي 'کندهار د تاریخ په اوږدو کي' نومیدی خپره شوه ،هلته د اطلاعات او کلتور وزیر ته ورسیده ، څو ورځي وروسته لومړی صالح محمد صالح د (هوسۍ) مجلې چلوونکی اوورپسې د بېنوا فرهنګي ټولني مشر عبدالاحمد محمدیار د اطلاعاتو او کلتور د وزیر ښاغلي رهین مخدوم په امر او غوښتنه د لویې څارنوالۍ د تحقیقاتو تر ځانګې ورسید .

خواجه صفا د کابلیانو یو مشهور زیارت دی. دغه زیارت ته چې د شېردروازه غره په غېږ کي پروت دی له لیرې لیرې ځایونو خلک راځي او خپل مرادونه ترې غواړي. د خواجه صفا د زیارت تاریخچه معلومه نه ده، خو هلته له زیارت سره څېرمه په یوه ډبرلیک باندې کښل شوي دي، چې د نوموړي زیارت ودانۍ په ۱۳۲۳سپوږمیز کال د امیر حبیب الله خان په زمانه کې جوړه شوې ده. د امیر شهید د زماني دغه ودانۍ اوس هم په خپلو پښو ولاړه ده. له دغه زیارت څخه د کابل زوړ ښار کابو ټول لیدلای شو، دغه راز د زاړه ښار ګڼو سیمو څخه نوموړی زیارت راښکاري.

د زیارت څرګند موقعیت د دې سبب شوی، چې د افغانستان د ځینو مشهورو زیارتونو غوندې په کې غیرقانوني پلټنې ونه شي. تاسې پوهېږئ چې په تېرو څو کلونو کې د افغانستان ګڼ زیارتونه د قدیمه اثارو د قاچاق وړونکو له خوا کینستل شوي دي، چې دا په حقیقت کې زیارتونو ته لیوه بې احترامي او د افغانانو د باورتو او متبرکه ځایونو بې حرمتي ده.

زه د خواجه صفا زیارت ته سږکال د جوزا په لومړۍ اوونۍ کې وروختم، هلته مې څو کسان ولیدل، چې پلټنې یې کولې او ځان یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مامورین معرفي کول.

دزیارت کوټې ته کولپ ورلوېدلی و، ما ورڅخه د زیارت د لیدو اجازه وغوښته، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی وویل: کیلي زموږ له یوه ملګري سره ده او هغه اوس نه شته.

ما ته شک راولوېد، ټینګار مې وکړ، چې زه له لیرې ځایه راغلی یم، زیارت ته مې پرېږدئ، خو دوی تر پایه اجازه رانه کړه.

دغو کسانو د زیارت له کوټې بهر په څو مترۍ کې ژوره کینده جوړه کړې وه. ویل یې: دا د بودایي زمانې کوټنۍ دي، چې د ځمکې لاندې مو راوایستلې. اوس به خپلو پلټنو ته ادامه ورکوو.

ما د پلټونکو مشر ته وویل: اوس چې موږ خپل اثار په موزیمونو کې هم نه شو ساتلای، ایا دېته څه اړتیا شته، چې تر ځمکه لاندې او د مقدسو زیارتونو په ساحه کې پلټنې وکړو؟ ایا که دلته کوم اثار پیدا شي، د هغو د ساتلو امکان شته؟

د پلټونکو مشر په ځواب کې راته وویل: دا د وزیر صاحب امر دی!

د هغوی له خبرو معلومه شوه، چې له دغو پلټونکو سره د اطلاعاتو او کلتور وزیر ډاکټر سید مخدوم رهین خاصه دلچسپي لري او کله ناکله ورته راځي هم.

پلټونکو ټینګار کاوه، چې تر اوسه یې د بودایي زمانې د دوو کوټنیو له ډبرینو دېوالونو پرته، بل څه نه دي موندلي. خو په هماغه ساحه کې یو مردیکار چې پلټونکو د ډوډۍ راوړلو لپاره ښار ته استاوه او د کوزېدو په وخت کې راسره ملګری شو، راته وویل چې د پلټنو پر وخت ځینې طلایي زېورات پیدا شول، چې پلټونکو وزیر صاحب ته ورکړل او دوی سره وویل چې د پلټنو تر پایه پورې باید دا خبره پټه وساتل شي.

ما له مردیکار څخه د زیارت د کوټې د داخل په باره کې پوښتنه وکړه. هغه وویل: د زیارت کوټه له تېرو دوه، درې اوونیو څخه بنده ده. موږ د کوټې دباندې پلټنې کوو، د کوټې له منځه نه یو خبر.

زه د خواجه صفا زیارت ته په دې نیت ورغلم، چې د دنیا غمونه وشنډم او زړه مې سپک کړم، مګر له نویو غمونو او اندېښنو سره راکوز شوم.

څو ورځې دمخه تر دې چې د لرغونو اثارو د ساتنې په اداره کې د خپلو خدمتونو په خاطر د ملت بابا او ولسمشر کرزي د اطلاتو او کلتور وزیر سید مخدوم رهین ته د سید جمال الدین افغان مډال ورکاوه، نو په هغه ورځ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت یوه مامور ما ته وویل چې وزیر صاحب د لرغونو اثارو په قاچاق کې لاس لري او دی د دغسې مډال مستحق نه دی. مګر ما ته د نوموړي مامور خبره مبالغه معلومه شوه. مامورین ممکن د له خپلو امرینو سره مشکلات ولري او دغه مشکلات د تومت ویلو سبب شي. خو کله چې مې د خواجه صفا د زیارت کیندنې په خپلو سترګو ولیدې، نو د شک ځای راته پاته نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د دغو پلټنو موضوع د کورنیو چارو په وزارت کې د پولیسو له یوه لوړ رتبه منصبدار سره مطرح کړه. دغه لوړ رتبه افسر مې پخوانی دوست و. هغه راته وویل چې په خواجه صفا کې د پټو پلټنو اوازه د کورنیو چارو وزارت ته هم رارسېدلې وه او دغه وزارت خپل ځینې کسان موظف کړل، چې د پلټونکو د فعالیت څارنه وکړي. ما ورته د طلایي زېوراتو خبره وکړه. د پولیسو منصبدار راته وویل: موږ د وزیر صاحب له خوا د طلایي زېوراتو د ترلاسه کولو له موضوع وروسته هلته خپل کسان لېږلي، چې که نور څه وموندل شول، د هغو تپوس دې وشي. ما ته د خپل دوست خبره قانع کوونکې ښکاره نه شوه. ورته ومې ویل: تاسې چې د طلایي زېوراتو له موندلو او پټولو خبر یاست، ولې همدا موضوع نه تعقیبوئ؟ هغه وویل: دا ډېره مشکله ده، چې له وزیر صاحب تپوس وشي او که د تپوس کولو اجازه هم ومومو، څنګه به یې ورباندې ثابتوو؟

نوموړي منصبدار راته وویل چې څو کاله پخوا په بامیان کې د لرغونو زېوراتو یوه ډېره ګرانبیه خزانه د ولسمشر اوسني مرستیال کریم خلیلي پټه کړه. دا موضوع ښېخې څرګنده ده او خارجي مطبوعاتو هم ورباندې ډېرې لیکنې کړې دي. خو څوک دا جرئت کولای شي چې له کریم خلیلي څخه تپوس وکړي؟

موږ څومره بدمرغه یو چې خپل تاریخي افتخارات یا د طالبانو غونډې له منځه وړو او یا یې د اوسنیو ځینو چارواکو غونډې د څو ډالرو په بدل کې بهرنیانو ته ورکوو!(16)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بودا اوس هم تهدیدېږي

د (کرسشن ساینس مانیټور) امریکايي جریده په خپله یوه مقاله کې چې (بودا اوس هم تهدیدېږي) تر سرلیک لاندې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزیر ښاغلی رهین مخدوم د تاریخي اثارو له قاچاقبرانو سره په ملګرتیا او په قاچاقي کیندنو کې په لاس درلودلو متهم ګرځولی دی.

لیکنه وايي:

'یو اووه کسیز ګروپ په لوګرولایت کې د مس عینک کلي ته ورغلی و او د دې سیمې د تاریخي اثارو پوښتنې یې کولې او هم یې خلک د بودا د تاریخي اثارو غلا کولو ته تشویقوله. د سیمې خلکو په دې اړه د سیمې امنیتي پولیسو ته راپور ورکړ.

د لوګر امنیتي چارواکو دغه کسان ونیول او تر پوښتنو ګروېږنو وروسته یې کابل ته ولېږل، خو په کابل کې دغه کسان د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په مستقیمه مداخله له توقیف څخه خوشې شول'.

د لوګر ولایت د پولیسو قوماندان نور محمد (پاکتین) وايي:

د تاریخي اثارو دغو غلو د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مامورینو په مرسته د دې سیمې د تاریخي اثارو په اړه معلومات ترلاسه کړي وو او غوښتل یې چې د دې سیمې تاریخي اثار هم غلا او لوټ کړي.

یو غربي ډیپلومات په کابل کې وویل: چې په دولتي ادارو کې د فساد ډېروالی د دې سبب ګرځېدلی، چې ډېر تاریخي اثار غلا کېږي.

انځرګل د مس عینک اوسېدونکی وايي: د دغې سیمې ټول تاریخي اثار د دولت د مامورینو په مرسته غلا کېږي.

هغه وویل: 'دغه کسان چې د دوی سیمې ته ورغلي وو، د تاریخي اثارو ساتونکي نه-بلکې د تاریخي اثارو غله وو'.

انځرګل وايي: ' دې کسانو ماته وویل که چېرې تاسې د تاریخي اثارو په کیندنه کې ورسره مرسته وکړئ او حکومت خبر نه شي، د دې تاریخي اثارو په خرڅولو کې به یې شریک کړي'.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوګر ولایت د پولیسو قوماندان وویل:

'له دغو کسانو څخه د ټولو تحقیقاتو او پوښتنو وروسته معلومه شوه چې دا کسان غله وو، دوی له ځان سره د کورنیو چارو د وزارت او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د ځینو کسانو نومونه لرل. د دغه ګروپ مشر چې په پاکستانی لهجه یې خبرې کولې وویل چې زه په کابل کې د امریکا په سفارت کې کار کوم'.

د لوګر د پولیسو قوماندان وویل :

'د همدې کسانو مشر ما ته راغی او ما ته یې وویل چې زه ستاسې سره یوازې خبرې کول غواړم، زه چې له خلکو لیرې شوم- هغه ما ته وویل چې زه د امریکا د سفارت کارکوونکی یم'.

اوس دا دی د تاریخي اثارو او د مخدره موادو قاچاقبران د خارجي هېوادونو د سفارتونو په نامه، ځایي مامورین او محلي پولیس ډاروي.

محمد نادر رسولي د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د لرغونپوهنې مدیر دا خبره مني چې دغه بندي شوي کسان زموږ د وزارت مامورین نه دي ،بلکې د وزارت په مکتوب کې ویل شوي دي چې نیول شوي کسان هغه څوک دي چې زموږ د وزارت مامورینو ته یې د تاریخي اثارو دا سیمه ورښوولې، څرنګه چې دا کسان زموږ د مامورینو تر مخه هغه سیمې ته رسېدلي وو، نو د ځایي پولیسو له خوا ونیول شول.(17)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ای، دبلیو ، پي ار لیکنه

# د یو هېواد د تاریخ غلا کول!

## د افغانستان یو زیات شمېر تاریخي توکي غلا شوي او په مزایده کوونکو پلورل شوي دي

له مـاینونو څخـه پـه دې ډک هیـواد کې، د سـرو او سـپینو ډبـرو شـتون د مـاین او ناچاودلو توکو د شتون مانا لري، خو ، لوټماران د ملکي وګړو د خوندیتوب پر ځای دا رنګونه دد ې لپـاره کـاروي، چې هغـو ځایونو تـه د خلکو د ورتـګ مخـه ونیسـي، تـر څو وکړای شي په سیستماتیک ډول د هېواد ګران بیه تاریخي توکي ولوټي.

د طالبانو پـه لاس د بامیانو د لویو بوتانو تـر مـاتولو درې کالـه وروسـته د هېـواد د یـو زیـات شـمېر ارزښـتمنو تـاریخي توکـو ویجـاړول لا دوام لـري او دا پـلا د ټوپکیـانو پـه مرسته د لوټمارانو له خوا غـلا کیـږي. دا تـوکي د افغـاني مـاهرینو ، پـولیسـو او د بهرنیـو لرغـون پېژندونکو د وینـا لـه مخې تـر لـوټ وروسـته د ځینـو معاملـه کوونکو لـه خوا د تاریخي توکو په ځیرکو راټولونکو پلورل کیږي .

د فرانسـوي لرغـون پیژنـدونکو د پـلاوي مشـر ، رولانـد بېسـینوال، چې د لرغونـو ځـایونو د خونـدي کولـو پـه منظـور لـه افغـان حکومـت سره کـار کـوي، وایـي: دا پـه افغانستان کې یوه لویه لوبه ده. زه بیخي ناهیلی شوی یم .

د فعالیـت عمـده ځـای د بلـخ لرغـونی ښـار دی، چـې د مـزار شـریف د ښـار پـه **۲۵** کیلومټرۍ کې پروت دی. بلخ د نړۍ د تر ټولو زړو ښارونو په ډله کې راځي. د دغـه ښـار د لرغونو ډبرو ګران بیه توکو یو لوی زېرمتون، چې زړښت یې کم و ډیر پنځو زرو کلونو تـه رسیږي، په منظمه توګه کیندل او پلورل شوی دی .

د بلخ د ولایت د اطلاعـاتو او کلتـور رئیس، عبدالله رویـین وایـي ? :مـوږ بایـد خپـل کلتوري او تاریخي میراث، د خپل دین په څېر وساتو. رویین د غلا پـړه زیـاتره پـه سـیمه ییزو قوماندانانو اچوي. هغه وایي: چې د ښار د سبحان قلي د لرغـوني جومـات څومتره مربع کاشي خښتې غلا شوي، خو هغوی نه دي توانیدلي، چې د هغې د غلا په تور څوک بنـدي کـړي. رویـین وایـي: پـه دې پېښـه کې د ټولـو واقعیتونولـه پوهېدو سره سره مـوږ قوماندانان دې ته نه شو اړ ایسـتلای، چې هغـه بیرتـه راوړي. سـیمه ییـز پـولیس وایـي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ټول هغه قوماندانان پېژني، خو د غچ اخیستنې له ډاره یې څوک نوم نه شي خپرولای.

سیمه ییز پولیس او بهرني لرغون پېژندونکي دواړه وایي، چې نه شي کولای، د افغانستان د بې اندازې ګران بیه لرغونو فرهنګي توکو د لوټ مخه ونیسي. د بلخ د پولیسو آمر، میرحمزه وایي: ? مورږ د تاریخي توکو یو قاچاق وړونکي ونیو، چې په تېر ژمي کې یې هغه غلا کړي وو او په خپله غلا یې اقرار هم کړی و، خو د هغوی د ملاتړو سیمه ییزو قوماندانانو د فشار له امله مو غلا شوي توکي بېرته ترلاسه نه کړای شول .که مو پرې فشار راوړی وای، نو د یوې سختې جګړې د رامنځته کېدو لامل کېده . رویین وایي، بهرنیو لاسونو ته د افغاني لرغونو توکیو لېږد په ۱۹۹۰ کلونو کې د کورنۍ جګړې پر مهال پیل شو. هغه وایي: نړیوال قاچاق وړونکي معمولاً د لرغونو توکو د ځای په هکله بشپړ معلومات لري. ځینې خو یې بیخي د لرغونو توکو ماهران دي. هغوی بېلابېلو ځایونو ته ځي او د لرغونو توکو ځای مومي. له هغه وروسته د مرستې لپاره سیمه ییز غله په کار ګوماري.

بېسیوال وایي، نړیواله ټولنه باید د افغانستان د لرغونو توکو د تریټم کېدو په اړوند یو څه مسوولیت په غاړه واخلي، هغه زیاتوي. له یو نړیوال مارکیټ پرته، لوټ نه شي تر سره کېدای.

دې ته اړتیا نه لیدل کیږي، چې د ویجاړۍ د لیدلو لپاره سړی لیرې لاړ شي. د بلخ په ختیځه څنډه د د غمیو غونډۍ په نوم یو ځای شته. له څو لسیزو راوروسته دغه ځای د لرغون پېژندو نکو پام ځانته اړولی دی خو اوس هغه ځای د سلګونو بې قانونه کیندنو له امله په یوې خالي سیمې اوښتې ده .

دا هغه ځای دی، چې د پېړیو پېړیو زاړه غونې توکي په کې موندل کېدل. زیاتره هغه یې د میلاد **۳۲۵** کاله د مخه د لوی سکندر له زمانې سره تړاو درلود. دا ځای ډېره موده د بودایي او اسلامي فرهنګ مرکزپاتې شوی دی .

په دې لوټ کې نه یوازې ستر نړیوال معامله کوونکي ښکېل دي. د بلخ د مرکز په یو پارک کې د ? انتیک فروشي برادران په نوم یوه هټۍ لرغوني سکې، لوښي، کوچنۍ مجسمې او بوتان ( څېرې ) د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي .

د هټۍ څښتن، عبدالقدیر وایي، هغه دا شیان له هغو سیمه ییزو خلکو څخه رانیسي، چې هغه ته یې د خرڅلاو لپاره راوړي. هغه ته کله کله دا شیان بهرنیان راوړي، خو زیاتره یې پخپله افغانان راوړي. دا هټیوال کوچني لوښي، چې لرغونې ډېزاین لري، په ۲۰ او تر هغه لوی په سلو ډالرو پلوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د تیر تاریخ د لیلام د ودرولو لپاره نوې هڅې پیل شوې. په دې وروستیو وختونو کې د کورنیو چارو وزارت یو ځانګړي پولیسي ځواک جوړ کړی، چې د هیواد د لرغونو ساتنه کوي. د پولیسو دا ۵۰۰ کسیز ځواک به له پیاوړتیا سره سم د هیواد ټولو برخو ته واستول شي .

د کورنیو چارو د وزارت ویاند ، لطف الله مشعل د وینا له مخې په تېره میاشت کې د لوګر ولایت د خروار په ولسوالۍ او د کاپیسا په ولایت کې ددې غونډ ۸۴ تنو افسرانو په کار پیل کړی دی .

مشعل وایي، هغوی ددې مخه نیسي، چې سیمه ییز قوماندانان په سیمه کې له خپل نفوذ څخه کار وانخلي. هغه وایي: د سیمې خلک د پولیسو په دغه ځواک کې نه شاملیږي. د هغې پر ځای، موږ د افغانستان له بېلا بېلو برخو څخه افسران په کار ګومارو .

رویین وایي: هغه خلک چې دا ځایونه لوټوي، ماته د طالبانو په څېر ښکاري. یوازینی توپیر یې دا دی، چې دا خلک زموږ فرهنګ په پټه غلا کوي او لوټوي او طالبانو دا کار په ښکاره ډول کاوه. لکه هغسې چې یې د بامیانو بوتان په ړنګولو ورځ مات کړل.(18)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالاحمد محمدیار

# مننه، سلامونه، ادب او درنښت

## که اسمان دي د زمري په خوله کې ورکړي
## د زمري په خوله کې مه پرېږده همت

په داسي حال کې چې د وخت د وحشي جبر له خونړۍ خولې څخه راوتلی یم، بلکې د دې خولې ټول له زهرو ډک غاښونه پرځمکه راتوی شوي او دا خوله په خاورو او ایرو لړل شوې ده. د افغان ملت سره د زړه خواله کول غواړم:

په افغانستان کې د ډیموکراسۍ رڼغ پورته، د بیان د ازادۍ نغاره وډنګول شوه، د ډېرو نورو په څېر ما او زما د فرهنګي سنګر نورو یارانو هم دا رڼغ واورېد، هرکلی مو ورته وواېه او د پراخ فرهنګي کار او پیکار جنډه مو مسکه کړه. خو له بده مرغه د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت، هغه ودانۍ چې له کړکیو یې د ډیموکراسۍ رڼغ راوتی او د بیان د ازادۍ د نغارې زمزمې، د همدغې جنډې د راټیټولو په ناقانونه او ناځوانه راټیټونه یې لاس پورې کړ. خاص په دې نیت چې ګوندي موږ به د افغان سپېڅلي او آر فرهنګ د مورچل یو مات ګوډ او نیمګړي سرتېری تر ځټ راونیسو، د زندان و تور کونج ته به یې وغورځوو، وینې به یې د خپل همېشني خصلت له مخې ځنې وځبېښو، په پای کې به یې په دې ژمنه خوشې کړو، چې نور به د قلم څوکه د غلو، داړه مارو، ملي خاینانو او د افغان فرهنګ د غلیمانو د رسوایۍ لپاره نه خوځوي. خو د اطلاعاتو او کلتور وزارت یارانو، یا ښه دي وو ایم سرغنه یې ښاغلي ډاکټر سید مخدوم رهین لکه چې د افغان هېواد د زامنو له ننني ذهنیت لوری او کچه ځان ته نه وه معلومه کړې. دا ځکه چې زه لا د دغه وزیر په اشاره د کابل د لویې ښارنوالۍ په وره ورننوتلی نه وم، چې زما د هېواد مور وېښو، ځیرکو او مېړنیو زامنو او زما د فرهنګي سنګر سربازانو وربادې د مدللو، منطقي او قانوني نیوکو، ویناوو او اعتراضونو محشر جوړ کړ. د دې اسرافیلي شپېلۍ اواز د افغانستان له ګوټ ګوټ او د نړۍ له کونج کونج څخه او په هر هغه ځای کې چې زما د خاورې د ابۍ وېښ او حساس زامن او سېدل، پورته شو او پر قانون باندې د هر تېګري کووني د غوږونو پردې یې ورڅیرې کړې. په داسې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت کې راڅخه د لویې ښارنوالۍ د تحقیق او جرایمو په ریاست کې، تحقیق پیل شو. لس دوولس پوښتني راڅخه وشوې او هري پوښتني ته مې د خپلو یارانو او دوستانو په ډاډ دا ډول ځواب ووایه چې بیا مې ورته په کې د بلې پوښتني د پیدا کېدو مجال پرې نه ښود او د تحقیقاتو په وروستیو شېبو کې خو دا ښېخي راته څرګنده شوه چې نور نو د ښارنوالۍ مستنطقین زما د هېواد د بافرهنګه او پوهو شازلمیو منطق او دلیل د خپل پرستیژ لپاره قانوني ګوزار ګڼي، ځکه یې نو په اوبو کې د لوټې اېښوولو او وربانديي د تېرېدو لوبه پیل کړه. په زړه پوري دا وه چې د تحقیقاتو پای ته د ټیکې اېښودو چم هم ځنې هېر و. بالاخره یې د ټلیفون له لارې راته وویل چې له کومې پایلې او ښه و بده پرته رخصت یې، بیا ما ورته وویل: عجبه ده ! د وزیر صاحب حیثیت نه دی پرځای شوی او زه رخصتېږم، خو په هر صورت یوه دا وړ ویزه خو جوړه کړي، یو لیک میک خو راکړئ. بیا یې د کندهار پر ښارنوالۍ باندې سرپټی لیک راکړ، چې زه یې د دوی پښېمانلیک ګڼم.

لنډه خبره دا چې دغو د قانون سرغړوونکو غوښتنه چې د افغان ملت یوه لوبه کتله، د دغه ملت د یوه غړي په ټکولو سره په اروایي او مانیز ډول وټکوي، خو په خپل دغه خام پلان او ارمان کې پاتې راغلل او په دې ډول سره یې د ناموزه اتوریتې خوړین دېوال د ټول افغان ملت او نړۍ په وړاندې رانسکور شو او هم ورته په افغانستان کې د افغان فرهنګیانو د پراخ جوړ شوي فرهنګي کمربند (وردګ، غزني، زابل، کندهار، هلمند، فراه، هرات، لویې پکتیا، خوست، ننګرهار، لغمان، کونړ، کندوز، بغلان، لرغوني بخدي یا بلخ او کابل) زور او ځواک څرګند شو. دلته باید دا معترضه جمله هم زیاته کړم چې د دغه فرهنګي کمربند بنسټ ورځ په ورځ پخېږي، د ډیموکراسۍ، ټولنیز عدالت او بیان د ازادۍ جنډه به تر اسمان پورې لوړ وي او د قانون د غلیمانو نفسونه به نن وي که سبا، ورباسي.

زه په دغه کار او پیکار کې د خپل بري راز د خپل هېواد د بافرهنګه زامنو په پراخ او بېساري ملاتړ کې وینم. د مننې الفاظ ورته نه لرم. بس همدا به زما او د دوی لپاره ستر امتیاز او لوی سوغات وي، چې نن مورږ ټول د قانون او خپل حق په دفاع کې بریمن او برلاسي شولو. ما خو غوښتل چې زه د خپل هېواد خواخوږو زامنو له یوه یوه څخه ځانګړې مننه وکړم، مګر دا خو ماشا الله او د شیطان غوږونه دې کاڼه وي، نژدې ټول ملت مې په ملاتړ ولاړ شوی و، ځکه خو نو د خپلې ټولې مینې، مننې، خلوص، ادب او درنښت سر د خپل ټول ملت او په ځانګړي ډول د هر هغه چا په وړاندې ټیټوم، چې د راډیو، ټلویزیون، ورځپاڼې، ویبپاڼې او بلې هرې خپرنۍ وسیلې له لارې یې د خپل هېواد او افغاني فرهنګي د یوه مات ګوډ چوپړوال د ملاتړ ږغ پورته کړ او په دې ډول سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د افغان اصيل فرهنګ د غليمانو پر سر د اسمان د ژرندې پل وګرځاوه.

د خدای په امان

ستاسو د افغان ملت، فرهنګ، ژبې او ملي ارزښتونو ساتونکی، چوپړوال، په هر حال، هر وخت او هرځای کې قرباني ته چمتو او لېونی.

1383/زمری/18ل کال(19)

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالح محمد صالح

# په دې ټولنه کې د لیکوالو درنښت دا سې کېږي !

(زه يې په کوم تور تر شکنجو لاندې ونيولم ؟)

رښتیا هم وایم، خوشحالي د ملت هم غواړمه
عجب ساده یمه، لا سر سلامت هم غواړمه
که ستوری نه یم، د اسمان تمنا هم نه کوم
که یم ګلاب، نو بیا د خاورو قربت هم غواړمه

*درویش درانی*

د کابل پر وخت به د ماښام پاو باندې اته بجې کېدې چې د ماهیپر له تنګي څخه کابل ته راواوښتو ، دا د جمعې ورځ، د 1383ل کال د چنګاښ (سرطان) پنځمه او د 2004م کال د جون د میاشتې 25مه نېټه وه.

د څرخي پله (پلچرخي) د تالاشۍ په زنځیر کې یوه وسلوال ځوان زموږ کرولا موټر، چې څلور سورلۍ او یو موټر چلوونکی په کې ناست وو ، ودراوه. دغه وسلوال کس به د اتلسو او شلو کلونو ترمنځ عمر درلود ، لومړی یې په غور سره د ټولو څېرو ته وکتل، لکه زموږ په څېرو کې چې د پرتو دوړو په کتو سره غواړي زموږ د ستړیا کچه ځان ته څرګنده کړي، وروسته یې له موټر چلوونکي څخه غوښتنه وکړه چې د موټر ټولبکس پرانیزي، موټر چلوونکی هم کښته شو او د موټر ټولبکس یې ورته پرانیست. موږ ټول په موټر کې ناست و ، که رښتیا ووایم زه خپله زیات ستړی وم، پرون چې له کابله پېښور ته روانېدم، نو د وربښمین تنګي وروستیو حدودو ته رسېدلي وو ، چې زموږ د موټر د تېلو ټانکي له کومې غټې ډبرې سره ولګېده، له دې سره یې ټول پایپونه ورغوڅ شول، په ډېرو ستونزو وتوانېدو ټانکي په پرې او نورو ټوټو وتړو ، چې په دې منځ کې څو ساعته وخت تېر شو ، که په عادي وخت کې تر ماسپښینه رسېدای شوای، نن ماخوستن پېښور ته ورسېدو. خو کله چې د کڅ او سرخکان د سیمو ترمنځ ورسېدو موټر چورلټ ودرېد ، نه چالانېده، نه هم مخکې تلای شوای. موږ اړ شوو چې یوڅه پیسې د کرایې په ډول ورکړو او یوه بل فلانګ کوچ موټر ته لاس ورکړو ، څرنګه چې په موټر کې دننه ځای نه و ، نو پر بام یې کښېناستو ، توند او ګرم باد ، دوړې، د هوا تودوښه او داسې نورې ستونزې مو ټولې وزغملې. تر جلال اباده پورې په رسېدو کې دوه ساعته ولګېدل. کله چې د جلال اباد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالاشۍ چوک کې کښته شوم، داسې مې انګېرل، لکه چا چې په هاونګ کې کوټلی یم.
خو نن چې له پېښوره بېرته کابل ته راتلو، په دې امنیتي پوسته کې له نورو ناپېژندویو ستونزو سره مخ شوم.
وسلوال کس زموږ له موټر چلوونکي څخه د هغې ګونۍ (بوجۍ) په باب پوښتنه وکړه چې ما په کې د هوسۍ نوې چاپ شوې (د لومړي کال، پنځمه ګڼه) اچولې وه او غوښتل مې کابل ته یې ولېږدوم، موټرچلوونکي ورته یوه ګڼه ورکړه او وېې ویل چې په دې بوجۍ کې هم همدا مجلې دي. وسلوال کس مجلې ته په غور سره وکتل چې دوه درې تنه نور ملګري یې هم راټول شول، هغو هم مجله سره واړوله راواړوله، زه لا په موټر کې دننه ناست وم او غوږ مې نیولی و، همداراز مې د خپل څنګ ملګري خبرې هم اورېدې، یوه بل وسلوال چې د مجلې څو پاڼې واړولې، وېې ویل: "کلش پشتوست"
بیا یې له موټرچلوونکي څخه وپوښتل چې دا د چا دي؟
ما د خپل ملګري خبرې غوځې کړې او بخښنه مې وغوښته، کښته شوم او ومې ویل: "څه خبره ده، دا زما مجلې دي، غواړم کابل ته یې یوسم".
یوه تن چې برګ پتلون او یوه خیرنه زېړپېراهنې یې اغوستې وه، وویل: "ای مجلای پاکستانه ده اینجه میاري و تقسیم میکني، کلش پشتوست، کس اینجه پشتو ره نه مېفامه".
ما وویل:
"دا نو کومه حیرانوونکې خبره ده، چې دا مجله ولې په پښتو ده؟ بله دا چې دا زما شخصي خپرونه ده، په خپلو پیسو یې چاپوم، تاسې یې تاوان په څه کې وینئ؟".
ما چې دا خبره وکړه، دوی په خپلو کې سره وکتل، په همدې ترڅ کې یې څو نور وسلوال ملګري هم راټول شول، یوه تن خپل چاقو راوایست او په یوه تونده حرکت سره یې بوجۍ څیرې کړه. ما چې د علت پوښتنه وکړه، د برګ پتلون خاوند ځوان وویل:
"نې مه ای پرسانه از تو میکنم که چرا ده ای مجله تان فارسي نیس؟".
ما وویل:
"وه وروره! ته ولې دا پوښتنه زما څخه کوې؟، دلته په کابل کې په لسګونو مجلې د بهرنیو ټولنو له خوا د ټول افغانستان لپاره چاپېږي، ایا تاسو له ټولو دا پوښتنه کوئ، نو دا چې زما مجله په پښتو ده، ایا دا کوم جرم دی، کوم خیانت دی او..."
له دې سره جوخت یې راباندې ټوپ کړل، هغه ګڼه یې چې په لاس کې وه پرمخ راووهله او دوې نورې کلکې څپېړې یې هم راکړې، ما د ځان د خلاصون کوښښ وکړ، خو د هغه نورو وسلوالو ملګرو لاسونه راته ټینګ کړل او پرې یې نه ښودم چې ځان خلاص کړم. شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



و خوا زیاته ګڼه ګوڼه شوه، ځو نور موټرونه هم ودرېدل، خلکو د دې حالت ننداره کوله، ښایي ګومان به یې کاوه چې ما هم کوم غټ جرم کړی او اوس مې دا وسلوال کسان د محکمې تر مېزه پورې کشوي. وسلوالو کسانو نه یوازې ما، بلکې زما ملت، ژبې او هېوادوالو ته سپکې سپورې کنځاوې کولې، چې زه یې دلته نه شم لیکلای، د قلم درناوي ته په پام سره یې له لیکلو ډډه کوم. پر همدې مهال، د برګ پټلانه خاوند وویل:

"... تو از ګریبان مه میګیري؟ دستته سر مه دراز کدي؟ تو مه ره میشناسي؟ تو بیا داخل برېم، مه زېر کېبل بګیریمت، باز خات فامیدي که مه کیستم..."

زه یې لومړی کش کړم، چې لستوڼی یې راڅیرې کړ، ځو نورو وسلوالو د شا له لوري پر ښی، اوږه یو ټینګ ګوزارونه راکړل، خو زه خجالت نه وم، ځکه چې ما ته د خپل هېواد قانون (!!؟) جزا راکوله، هغه هم د بېګناهۍ په جرم!! زه د خپلې ژبې د خدمت په جرم محاکمه کېدم.

زه یې د سړک په شمالي خوا کې یوه پراته سرای ته دننه کړم، چې لوی غولی یې درلود، لومړی ځو زینې پاس ختلې وې، وروسته یوه سمتې ټوټه راتله، وروسته له زینو څخه بېرته کښته شوو او په مخامخ دېوال کې یوه لرګینه وړه دروازه ښخه وه چې خوله یې زما غوندې مجرمینو (!؟؟) ته خلاصه نیولې وه!! کله چې دغه تیاره دالېز ته ننوتو، چپ لاس ته یوه بله خیرنه دروازه پرانیستل شوې وه، په دې تنګه او وړه خونه کې یوه سره توشکه اواره وه، چې کوچني ګلونه یې لرل، د دروازې څنګ ته د جنوب پر لوري یوه کړکۍ هم پرانیستل شوې وه، د کړکۍ څنګ ته ځو نورې بړستنې هم ترل شوې وې، چې د چرسو او سګرېټو بوی ترې خوت. د دروازې پر پاسنۍ برخه د دوی د سالار "مسعود" ځو عکسونه لګېدلي وو، زه یې پر توشکې ورټېل وهلم او دی مخامخ راته کښېناست، ما ورته وویل:

"...ما خلک د یوه لیکوال او خبریال په توګه پېژني، زه دې د ټولو خلکو په مخ کې ولې په څپېړو ووهلم، زما ګناه څه ده؟.."

هغه بیا په غوسه شو، غاښونه یې وچیچل، لاسونه یې پر خپله ملا ټینګ کړل او یوه بله څپېړه یې راکړه، ویې ویل: "...مه آمر ازی پوسته استم، مره میشناسي؟ مه مثل تو روز ده نفره، ده زنجیرا بسته میکنم، تو از ګریبان مه میګیري؟، تو بشي مه حالي سبق تره میتم".

وروسته یې زما د داسې چلندونو یادونه هم وکړه، چې زه هېڅ ترې خبر نه وم، هغه ویل چې ګواکې ما لومړی ورباندې وار وکړ او کنځا مې ورته وکړه. راته ګواښ یې وکړ چې والله که به مې د چا پلار هم ترې خلاص کړي. په دې جار و جنجال کې یو بل کس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې د تشناب له ورې دروازې څخه راووت، تور کالي يې په ځان، يو کوچنی برگ دسمال يې پر اوږه او پکول يې پر سر و ، هغه وپوښتل:

"چرا ، بی، آمر صاحب !؟".

امر صاحب وويل:

"مه ازی به انسانيت پرسان ميکنم که ای مجلايت چرا پشتوست، سر مه وار ميکنه، مره ميزنه، ای مره نميشناسه که مه کيستم، مه مثل ای وارې ادما ره روز ده تا خام ميخورم".

هغه کس چې د خپل مخ په وچولو لگيا و ، پر خپل ځای وچ پاتې شو ، ما ته يې مخامخ گونډې ووهلې، ويې ويل:

"او بچه ! اميالی بسته ات کنم؟ تو ميفامي که امر صاحب کيس؟".

زه هک پک حيران پاتې وم، چې اوس څه ووايم، ما چې څه ويلي او څه اورېدلي وو ، ومې ويل، خو يوه هم غوږ نه نيوه. په همدې وخت کې د دوی اووه اته تنه نور ملگري هم راننوتل، چې څه له پاسه ټول ځوانان او تر پنځه ويشتو کلونو يې عمر کم و. چا يو ډول دريشي اغوستې وه، چا بل ډول، چا يوازې نظامي پتلون په ځان کړی، چا يوازې کورتۍ اغوستې وه، چا هم د ملي پوځ دريشي په ځان کړې وه، خو په څېره کې ټول يو ډول راته ښکارېدل. په يوه شېبه کې مې احساس کړل، چې شونډو مې پتري نيولي او د مايوسۍ په جال کې مې ځان راښکېل ليد. هغه مايوسي چې ما ، زما قلم او زما فکر يې زيندۍ کړی و.

يوه وويل:

"تو چي کاره استی، از کجا ستي؟".

ما وويل:

"زه يو ليکوال، خپلواک خبريال او د دې مجلې چلوونکی يم".

کله چې مې د خپل ولايت نوم ورته واخيست، د زياتو پر تند يو گونځې راغلې، نور هم توند شول، اوس که به ما خبره کوله، نو ويل به يې: "چپ باش ! !"

د دوی آمر راته وويل:

"ورشه د مجلې اسناد دې راوړه".

ما له جېبه خپل گرځنده فون راوايست، خو هغوی وويل:

"زنگ نزنی که تو ته تو تيت ميکنم..."

وروسته يې څو سپکې کنځاوې هم پسې وکړې...

خو نن ما ته د خپل جگړه ځپلي، خوار او ټوک- ټوک هېواد د ملي پوليسو ، ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتندویانو او ملي سرتېرو د هېوادپالنې، ولسپالنې او سپېڅلې مینې!! جذبه ښه ترا څرګنده شوه، یو ځل بیا مې د دروازې پر سر لګېدلې عکس ته وکتل. هغه راپورې خندل، بیا مې د ځان په وړاندې مخامخو خیرنو څېرو ته وکتل، چې هر یوه پر مخ، سر او اوږو درانه- درانه ګوزارونه راکړي وو، وروسته مې د یوه سرتېري په لاس کې د هوسۍ مجلې څو څېرې شوې پاڼې ولیدې. ما ته داسې وبرېښېدل چې د دغو څیرو شویو پاڼو له هرې ټوټې څخه زما د هېوادوالو چیغې راځي، د اوښکو او فریادونو ازانګې ترې راځي او بالاخره وینې ترې داري وهي، هغه دارې چې ما ته د څو کلونو وړاندې هغه مړي او ټپیان رایادوي چې د کابل په واټونو او راکټ لګېدلو کورونو کې مې په څو- څو ځلې لیدلي وو، دا ځکه چې زه خو هم اخر د دغو جګړو او ویرونو یوه پدیده!! وم. داسې پدیده چې نن د خپل مظلومیت جنازه پر خپلو اوږو لېږدوي. زه په دې وخت کې یوه ګرځنده مړي ته ورته وم، چې هېڅ یې هم په واک کې نه وي، نه د خپل خیر په باب فکر کولای شي، نه هم شر پېژني.

یوه تن بیا خوله جینګه کړه او د پوزخند په ډول یې وویل: "پشتو... پشتو چاپ میکنه او ګپ اضافي هم میزنه، پاکستانیا!!".

ما ته نن دا هم څرګنده شوه چې زما هېوادوال په دې هېواد کې نه یوازې د ژوند کولو حق نه لري، بلکې د مجلو د خپرولو حق یې هم ترې اخیستل شوی او د مطبوعاتو د قانون دا ماده هم راته هسې د کاغذ پر مخ یوه لیکل شوې کرښه وبرېښېده، چې وایي:

په تولیزو رسنیو کې د دغه ډول لیکنو خپرول جواز نه لري:

۱. هغه لیکنې چې د اسلام د اصولو مغایر او نورو دینونو ته سپکاوی وي.

۲. هغه لیکنې چې د اشخاصو د سپکاوي او پر هغو باندې د افترا لامل شي.

خو تر اوسه پورې په هوسۍ کې داسې لیکنه نه ده راغلې، چې هغه دې خدای مه کړه اسلام، یا دې هم نورو دینونو ته سپکاوی وي، تر اوسه پورې په دې خپرونه کې څوک نه دی سپک شوی، خو نن دا دی د همدې مجلې چلوونکی په دې جرم تر ځورونې او جزا لاندې نیول کېږي، چې په خپله ژبه مجله چاپوي او په خپل هېواد کې یې وېشي، په خپله ورته لیکنې برابروي، په خپله یې د چاپ لپاره ورته پانګه برابروي او په خپله یې د چاپ لپاره د جبر تر کرښې ها خوا اوړي، خو بیا یې هم دا کار یو خیانت، ملي غداري او د سپکاوي وړ کار ګڼل کېږي، خو نه پوهېږم د لیکوالو او د خپرونو د چلوونکو لپاره هم په دې هېواد کې کوم تضمین شته چې د دغه ډول ټوپکسالارانو له سپکاوي او افترا څخه خوندي وي؟ او که نه، دا قوانین او اصول د زورورو له خوا لیکل کېږي، یوازې یې مظلوم او بې وسلې قشر په منلو او رعایتولو مکلف دی. ما غوښتل چې په دې اړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چیغه واوري، یو ځوک دې حق او ناحق سره بېل کړي، له بده مرغه چې یو کس مې هم ونه موند.

اخر یې تر ډېر ځنډ، لفظي شخړو، دلیلونو او لانجو وروسته پرېښودم، تر شا یې دا هم ویل چې:

"...برو نوکر و اجیر انگلیسا، ما بچای اسلام استیم، ما اسلامه کمایي کدېم، فامیدي؟ ای تمام مردم باید سر ما افتخار کنه، برو پشت سر ته سی نه کني، که ضربیت میکنم"...

له هغې خونې څخه ووتم. زما د موټر ملګري راته بهر ولاړ وو او هېڅ یې هم نه ویل، ځکه چې هغوی هم زما په ملت پورې اړوند کسان وو، هو رښتیا دوی به څه ویلای، دغو ټوپکسالارانو خو خامخا په همدې جرم هم نیولای شوای چې ولې یې ملي جامې اغوستي، ولې یې خولۍ پر سر کړې او ولې رېږه لري. د خپلې خولۍ له کونج څخه مې د وینو رابهېدلې لیکه پاکه کړه او موټر ته وختم.

په لار کې زموږ موټر چلوونکي، چې یو خوږاروا ځوان و، د همدغو ټوپکیانو ګیلې پیل کړې، په ضمن کې به یې په مخامخ لګول شوې هنداره کې ما ته هم راکتل. هغه وویل:

"همدغه پاټک والا په یوه او بله پلمه زموږ جوازسیر او اسناد راڅخه اخلي، یا د لمبر پلېټ پلمه نیسي او له موږ څخه د پیسو غوښتنه کوي. ټرافیک بېلې پیسې غواړي، دا وسلوال کسان یې بېل".

خو دا خبرې زما لپاره ځکه دومره په زړه پورې نه وې، چې د اورېدو لپاره یې کوم اورېدونکی غوږ او د دغو ستونزو د اوارۍ لپاره کومه صادقه او رښتینې محکمه نه موندل کېده، ما به څه کول؟ زما د قلم ملا خو د ټوپک په وړاندې ماته وه. زه د خپل بدن د دردونو له کبله په عذاب وم، کله چې مې غوښتل خپل اواز تر جګپوړو چارواکو ورسوم، بیا هم بریالی نه شوم، ځکه داسې ځوک مې ونه موند، چې هغه دې په رښتیا هم صادقانه اقدام وکړي. دلته خو هر چارواکی او د هېواد هر خادم (!!؟) تر اوو دېوالونو هاخوا په حرمسرایونو کې ناست دي، دلته ځوک د هغه چا اواز نه اوري، چې ظلم ورسره شوی وي، بله دا چې ما نو څه کولای شوای، له ما سره خو نه وسلوال کسان وو، نه هم وسلې، ما یوازې یو مات او خوار قلم درلود، چې نن یې دوی قدر ورپرځای کړ او ما یې ننداره وکړه!! تر دې وروسته پوه شوم چې د یوه لیکوال او د یوې خپلواکې، ناپېیلې او ملي مجلې د چلوونکي په توګه مې خپل ولس څومره قدر کوي!!؟؟.

زه د خپل هېواد په څېر چور چور یمه ما مه پوښتئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لرم درمان، دا سې رنځور یمه، ما مه پوښتئ
مین

# په هالینډ کې د سلام کلتوري ټولنې خبرتیا

## بد رنګه زمانه شوه چې مینا په کاڼو ولي
## که نن وار زما دی سبا تا په کاڼو ولي

نوزادي

هېوادوالو او نړیوالو ته څرګنده ده چې د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې د جګړه مارو بنسټپالو او د هغوی د ظالمو ملېشو په کرغېړنو لاسونو د هېواد زیات شمېر لیکوالان او روڼاندي له بېلابېلو ستونزو، مصیبتونو او ناخوالو سره مخامخ شوي دي، له بده مرغه دا حالات لا تراوسه په هېواد کې دوام لري.

په خواشینۍ سره مو واورېدل چې د هېواد نامتو لیکوال او د هوسۍ مجلې مسوول چلوونکی ښاغلی صالح محمد صالح د هماغو ټوپکیانو او داړه مارانو په وسیله بندي شوی، ځورول شوی او په بېرحمانه توګه وهل شوی دی.

په هالینډ کې د سلام کلتوري ټولنه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ادارې (یوناما) او د مسوولو دولتي چارواکو څخه په کلکه غوښتنه کوي، چې د دې پېښې لاملینو ته ژر تر ژره درنه سزا ورکړي، ترڅو د نورو ټوپکیانو لپاره د مخنیوي الهام وګرځي او د دې تر څنګ د هېواد له ټولو کلتوري ټولنو او کلتوري مخورو لیکوالو او پوهانو څخه دا هیله کوو چې په یوه اواز کورنیو او بهرنیو مسوولینو ته وواییي چې زموږ ټول هېوادوال له دې ټوپکیانو څخه کرکه کوي او د افغان ولس په نظر همدا ټوپکیان په هېواد کې د روانې بې ثباتۍ او ناوړه حالت اصلي عاملین دي.

په هالینډ کې د سلام کلتور تولنې مشر
رسول باوري

❋❋❋

# په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګي – علمي څېړنو مرکز (خپلواکۍ) اعلامیه

د کابل د څرخي پله د تالاشۍ په پوسته کې د احمد شاه مسعود تر عکس لاندې یوه وسلوال چارواکي، پښتو او پښتنو ته سپکې سپورې ویلي

د ۲۰۰۴ کال د جون ۲۸-کوپناګن

په خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د ګران هېواد افغانستان یو تن پیاوړی فرهنګي شخصیت او د (هوسۍ) مجلې مسوول چلوونکی ښاغلی صالح محمد (صالح) کله چې له ننګرهار څخه کابل ته د تګ په لار کې و، د کابل د څرخي پله په امنیتي پوسته کې تر درولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په دې جرم چې د يوې پښتو خپرونې چلوونکی، ليکوال، ژورناليسټ او وېشونکی دی لومړی تر پوښتنو او ګروېږنو لاندې راځي او بيا نه يوازې هغه ته بلکې ټولو پښتنو او د هېواد ملي – رسمي ژبې پښتو ته سپکې - سپورې ويل شوي او ورسره جوخت په داسې حال کې چې شا و خوا ډېرو کسانو يې ننداره کوله، وهل شوی او په کشولو د په اصطلاح امنيتي پوستې انړ او بيا يوې کوټې ته وړل شوی او په کوټه کې په پوره ډاډ او سپين سترګی د پښتو او پښتنو په آدرس کنځلې شوي او د ښاغلي صالح د لا وهلو – ټکولو وروسته هغه ته د پاکستاني او د (هوسی) مجلې ژبې ته د پاکستانی ژبې خطاب شوی او د اسلام د ګټونکو او قهرمانانو ! په نامه يې ښاغلي صالح ته د انګريز خطاب هم کړی، په خپله صالح په دې باب داسې وايي: "زه يې لومړی کش کړم، چې لستونی يې راخيرې کړ، څو نورو وسلوالو د شا له لوري پر ښی اوږه يو ټينګ ګوزار راکړ، خو زه خجالت نه وم، ځکه چې ما ته د خپل هېواد قانون( ! !؟) جزا راکوله، هغه هم د بېګناهی په جرم ! ! زه د خپلې ژبې د خدمت په جرم محاکمه کېدم".

هوکې ! دا ډېره موده کېږي چې په افغانستان کې همدغه ټوپکيان او د اسلام همدغه درواغجن خادمان او د شر و فساد همدغه قهرمانان زموږ ليکوال، ژورناليسټ او زموږ د ژبې ويناوال د پښتو په جرم ترټي، هغوی سپکوي، تر وهلو – ټکولو لاندې يې نيسي، د زندان تورو ګوټونو ته يې اچوي، قلم يې ورماتوي، اثر يې ورته سوځي، کورنی او افکار يې ورتباه کوي او له وطن يې وتلو ته اړ باسي، چې يوه نوې او ښخې تازه بېلګه يې له ښاغلي صالح محمد صالح سره نومونړی چلند دی.

په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګي – علمي څېړنو مرکز (خپلواکي)، په ډنمارک کې ټول افغان فرهنګيان او په ټوله سکندويايي هېوادونو کې افغان فرهنګپال د دغه شان افغاني ضد چلند او د هېواد د فرهنګ او ملي – رسمي ژبې د خادمانو په وړاندې سپکاوی او په ځانګړې توګه د پښتو او پښتنو او افغان له نوم سره د دغو بې مسوولیته ټوپکيانو او د پرديو د نوکرانو ملي ضد چلند په کلکه غندي او په دې توګه د هېواد ولسمشر ښاغلي حامد کرزي او د هغه د کورنيو چارو وزير ښاغلي علي احمد جلالي ته د خپل اعتراض غږ رسول غواړي او په دې توګه هيله لري چې په خپلو رغنده اجرااتو سره د دغو افغان دښمنه او فرهنګ ستيزه ټوپکيانو مخه ونيسي او د امنيتي چارو او اطلاعاتو او کلتور په وزارتونو کې د پښتون دښمنه اعمالو څارنه وکړي او کنه نو تاريخ خو هسې هم دغه دوره له پښتو، پښتنو او افغان سره د دښمنی د دورې په نوم په خپلو پاڼو کې ثبت کړې ده. موږ په دې توګه د ملګرو ملتونو د ادارې، د اروپايي ټولنې او په ځانګړې توګه د امريکا د دولت او په افغانستان کې د امريکا د سفير ښاغلي زلمي خليلزاد پاملرنه هم د دغه راز ناتار ختمولو ته راګرځوو، ځکه اوس خو زموږ د هېواد اصلي واکداران همدوی دي او افغان ملت له دوی څخه هيله لري، چې د شورويانو په څېر برخورد و نه لري. موږ په ټينګه غواړو چې د ښاغلي صالح د وهلو – ټکولو او پښتو او پښتنو ته د کنځلو کولو دغه عاملين او ويناوال تر پوښتنې لاندې ونيول شي او که چېرې قانون موجود وي، ورسره دې قانوني چلند وشي.

## د خپلواکی د فرهنګي مرکز په استازيتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف هېواددوست

❀❀❀

## د ښاغلي صالح محمد سپکاوی په کلکه غندو

(هوسۍ) یوه ښکلې معیاري مجله ده، د دغې مجلې د لومړي کال پنځمه ګڼه ما سر ترپایه ټوله وکتله، په دې ګڼه کې داسې څه زما نظر ته راغلل چې د هغې مسوول مدیر صالح محمد صالح دې پرېږدو بول شي او د کومې محکمې او څارنوالۍ له پرېکړې پرته دې د غارو تنې د خولې د تالاشۍ د پوستې پازوال دې دی بندي کاندي. د صالح محمد صالح ګناه دا ښوول شوې چې مجله یې ټوله په پښتو ده. د ده دا کار دومره نه و چې دده د وهلو او مجلې د څیرلو سبب شي، ځکه چې په کابل کې په لسګونو داسې مجلې خپرېږي چې یو پښتو مضمون هم په کې نه شته او سویه یې د صالح صاحب تر مجلې ډېره کښته ده.

که د ده په مجله کې کوم مضمون د قانون خلاف خپور شوی وي، نو بیا هم تالاشیوالو دا حق نه درلود ، چې مجله دې سانسور کړي، دا دنده د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو د ریاست وه، چې که کوم مضمون د اساسي قانون، په تېره د مطبوعاتو د قانون چې ( متن یې په همدې ګڼه کې خپور شوی دی ) مخالف و ، مرظف کسان ترې پوښتنه وکړي.

په پېښور کې د مهاجرو ژورنالیستانو اتحادیه پر دغه کار خپله زیاته خواشیني څرګندوي چې د پښتو ژبې په ګناه دغه مستعد ژورنالیست او یا دغه شان نور ژورنالیستان ځورول کېږي، وهل کېږي او مجلې یې د سورلیو په عام محضر کې څیرل کېږي. موږ دغه عمل په کلکه غندو او د مطبوعاتو له قانون سره سم د اطلاعاتو او کلتور له وزارت څخه هیله کوو ، چې د دغه راز خپلسرۍ مخه په کلکه ونیسي.

په درناوي

(لاسلیک)

**عبدالرړف قتیل خوږیانی**

په پېښور کې د مهاجرو ژورنالیستانو د اتحادیې مشر

❀❀❀

## خښې کلتوري ټولنه د صالح سپکاوی د ګرد افغانستان سپکاوی بولي

## صالح اغیارو خمبیره کړ

## بې ننګه ورور یې پر برېتو وهي لاسونه

د غم له پاسه غم، څو ورځې دمخه خبر شوو چې په ننګرهار کې د(ختیځ) اوونیزې چلوونکی (عبدالوکیل اټک) د یوه خبر په خپرونه د ځینو پخوانیو ټوپکوالو او د اوسنیو ښاغلو رئیسانو له خوا وګواښل شو او ورټل شو. خو د شکر ځای دا و چې پر موضوع سم له لاسه په جلال اباد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ او بهرنۍ فرهنګي او د بشري حقوقو ټولنې په وخت خبرې شوې او په دې ډول څښتن د ختیځ اوونیزې د چلوونکي سر په امان کې کړ. د ختیځ د چلوونکي لویه او نه بخښونکې ګناه او جرم دا و چې ولې یې رښتیا ویلي دي؟! ولې یې د امریکایي ډالرو هغه شنې بنډلې رسوا او ښکاره کړي، چې دوی ته د بیارغونې (PRT) د بهرنۍ خیریه مرسسې له خوا د جلال اباد ښار د پاکولو لپاره ورکړل شوې وې، مګر دوی جنابانو بیا هغه ($) غنیمت کړې او د ښار پاکول یې بیا د ښوونځیو په زده کوونکو باندې د ازموینې پر مهال د (داوطلب) په نوم په زور او جبر ترسره کړ.

(ختیځ) اوونیزې فقط همدا جرم کړی و چې دغه ($) بنډلې یې رسوا کړې او په همدې جرم هغه دی تر ننه پورې د ننګرهار ولایت د څارنوالۍ جلبونه او استعلامونه ځوابوي او پایله لا نۀ ده جوته چې یو خوار او تش لاسی قلموال به له یوه زورور، زردار او ټوپکدار سره څه کوي؟

نن دا دی د یوه بل قلموال په غم له سترګو اوښکې او په قلم توري ترم.

نور ولسونه خپل مړي ژاړي، مګر موږ هره ورځ خپلو ژوندیو ته ویرنې (مرثیې) لیکو، په خپل هېواد کې پردي یو، په ډېرو خپلوانو کې بې کسه او له خپل ټول زور او ځواک سره- سره بیا هم بې ځواکه او بېواکه یو، په ژوندیو کې مېړه نه لرو او بیا پرعکس په مړو کې بیا بد او بې ننګه نه لرو؟! عجبه د تعجب، ژړا او د خندا خبرې؟!

که مې لیکوال ملګري نه خوابدي کېږي زه وایم چې دا هرڅه موږ په خپله په ځان کوو او کړي مو دي (ډېر دلایل شته چې دلته نه ځایېږي) پرون مو په (TOLAFGHAN.COM) نومې انټرنټ پاڼه کې د (ختیځ) اوونیزې ویرنه ولوستله، مګر له بده مرغه چې تراوسه پورې پرې پرته له یوڅو تنو، نورو ښاغلو لیکوالو او یا نورو ښاغلو څه وویل؟ څه غبرګون یې وښود؟ که نور (نړیوالې خبري رسنۍ) مو په وسه کې نه وې، نو لږ تر لږه خو مو دا کولای شول چې په همدې (ټول افغان) پاڼه کې خپل کلتوري خو پر ځای پرېږده د افغاني او پښتني احساساتو او مسوولیت پرځای کړی وای!؟!

که مو پرون د هغه ښاغلي په ننګه او ملاتړ کې نړۍ ښورولې وای نو بویه چې بیا چا د لیکوال او یا پښتانه قلموال په وړاندې داسې څه کړي وای، لکه تر هغې (ختیځ) وروسته چې یې دا دی زموږ د زړه د یوې بلې ټوټې (صالح) سره وکړل.

که د امتیاز په وخت کې د کلتوري ټولنو بېلابېلو نومونو ته وګورو نو بویه که یې یو مستوفیت خو لا څه کوې چې ان د احصایې لوی ریاست یې هم وشمېري؟!

مګر د تورې او غرۍ ځای چې راشي، بیا سړی داسې انګېري چې موږ په دا دومره ټبر کې اصلاً هېڅ کلتوریان نه لرو!!؟

خیر خدای (ج) دې وکړي چې زما دا خبرې ټولې ناسمې وي، مګر زه یو ځل بیا خپلو ټولو لوستو او په ځانګړې توګه قلموالو، لیکوالو او د بېلابېلو ټولنو ښاغلو مشرانو ته ځولۍ غوړوم چې په داسې اړینو مسایلو کې لکه په ختیځ اوونیزې او په ښاغلي صالح چې وشول، د یوه بځري هومره زغم هم ونه کړي، خپل غبرګون او غږ دې ټولې نړۍ ته ورسوي، ځکه چې په یوه خوله او یوه اتفاق هرڅه کېږي، تر دې ډېر باید نور د مضر احتیاط قرباني نه شو، که نن مو په یوه خوله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(صالح ) پوښتنه ونه کړه، نو وګڼئ چې سبا زما، ستا او د ټولو وار دی او په دې ډول به د میرځمنو هغه وینا هم خدای مه کړه رښتیا شي چې وایي، پښتانه په سیاسي لحاظ لیډرشیپ نه لري، په قومي لحاظ مشر نه لري او په فرهنګي لحاظ یووالی او پیوستون نه لري، بلکه عجیبه خبره دا ده چې هیرویین او د پوډرو زهر په ښکاره لرو بر کېږي، له دومره بدوالي سره- سره بې بیا هم څوک بد نه ګڼي، مګر پښتنون او پښتو خپرونه بیا تر هیروییینو هم بده ګڼل کېږي.

که نن بیا هم عبرت وا نه خلو او یو ځای، یوه خوله او یو غږ نه شو نو بیا نور خلک مه ګرموئ، هر څه به مو له خپله لاسه وي او په دا خپل لوی ټبر د یوه کوچني عکس پا چاهي، راج او باج ومنئ.

د ښني کلتوري ټولنه، پېښور

❁❁❁

# د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې احتجاج لیک

## د لیکوال او ژورنالیست صالح محمد صالح د ځورولو او شکنجې له کبله د کورنیو چارو وزارت ته د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې احتجاج لیک

جرمني ۲۸ جون ۲۰۰۴

په ډېره خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ، چې ځوان لیکوال او د (هوسۍ) مجلې مسوول مدیر صالح محمد صالح په کابل کې د پل چرخي د امنیتي پوستې د ټوپکوالو له خوا په دې جرم وهل شوی او ټکول شوی، توهین شوی او د مرګ ګواښونه ورته شوي دي، چې ولې د افغانستان په لومړۍ رسمي او ملي ژبه پښتو د هوسۍ په نامه یوه مجله چاپوي او کابل ته یې لېږدوي.

موږ د افغانستان د کورنیو چارو وزارت له چارواکو په کلکه غوښتنه کوو چې د پلچرخي د پوستې چارواکي سم له لاسه له کاره ګوښه او محاکمه کړي. دغو چارواکو په خپل دغه ملي ضد عمل سره خپل بربریت یو ځل بیا څرګند کړ او د افغانستان له ملي وحدت سره یې خپله دښمني یو ځل بیا په ډاګه کړه.

له دې سره یو ځای موږ د ژورنالیستانو له نړیوالي ټولنې او د بشر د حقوقو له نړیوالو ټولنو څخه هیله کوو، چې په دې اړه هراړخیزې پلټنې وکړي او پایلې یې اعلان کړي.

په درناوي

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګه

❁❁❁

# په (نیدرلېنډ ) هالېنډ کې د افغاني کلتوري ټولنې احتجاج لیک

۲۰۰۳_۷_۲۸

په خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ، چې د هېواد تکړه لیکوال او د (هوسۍ) مجلې مسوول چلوونکی ښاغلی صالح محمد صالح د کابل ښار په ختیزه دروازه کې د جنګسالارانو د یوې ډلې ټوپکیانو له خوا په دې جرم چې ولې هوسۍ مجله بشپړه په پښتو ژبه خپرېږي، سخت وهل شوی او ترټل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د ښاغلي صالح سپکاوی د هېواد د ېبوزلو ژورنالیستانو سپکاوی ګڼو او د هېواد له ملي او رسمي ژبې "پښتو" سره دغه راز چلند د قانون سپکاوی، هغه قانون چې یوازې څو میاشتې وړاندې د یوې تاریخي لویې جرګې په ترڅ کې تصویب شو، خو د تطبیق لپاره یې نه واک شته او نه ځواک.

په هالېنډ کې د افغاني کلتوري تولنې د مشرتابه جرګه، د دې ټولنې ټول غړي او په دې هېواد کې ټول افغان فرهنګیان او فرهنګپال د دې پېښې نه یوازې دا چې په کلکه غندنه کوي، بلکې لاملینو ته یې د یوې سختې جزا غوښتونکي دي.

په درنښت

د افغاني کلتوري ټولنې د مشرتابه جرګه ګۍ

❀❀❀

# د روسیې په جنوبي ښار کراسنودار کې د مېشتو افغانانو د ټولنې احتجاج لیک

په خواشینۍ مو خبر ترلاسه کړ، چې ښاغلی صالح محمد صالح په پېښور کې د هوسۍ مجلې تر چاپولو وروسته د راستنېدو پر مهال کابل ته د ننه کېدلو په دروازه (څرخي پله) کې د څو تنو جنایتکارانو له خوا په دې پلمه چې ولې نوموړې مجله ټوله په پښتو ژبه ده رټل شوی، ښکنځلې ورته شوي او وهل شوی دی او هم پښتو ژبې او پښتنو ته بد رد ویل وشوي او سپکاوی یې شوی دی.

موږ د روسیې فدراتیف په یوه لیرې جنوبي ښار کراسنودار کې مېشت افغانان چې د زیاتو نورو بهرمېشتو افغانانو په څېر هره ورځ او هر ساعت په هېواد کې د ارامۍ، امنیت او قانون د ټینګېدلو او هم په هېواد کې د ملي وحدت د رغېدنې او په پایله کې هېواد ته د ستنېدلو زېري ته سترګې په لار یو، دا ډول یوه جنایتکارانه عمل ډېر سخت خپه کړي یو او له دې لارې د دې بېشرمانه عمل ډېره کلکه غندنه کوو او د ملګرو ملتونو له سازمان، د بشر د حقوقو له اړوندو سازمانانو او په هېواد کې له ملي او سالمو قوتونو څخه دا هیله او غوښتنه لرو چې د دې مسئلې په باب جدي چلند وکړي، پلټنه دې وکړي او جنایت کوونکو ته باید حتمي جزا ورکړل شي او هم دې په راتلونکي کې د دې ډول پېښو د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي، چې په هېواد کې ملي وحدت ته ډېر دروند تاوان رسوي او د هغو بدنامو ډلو، چې له ډېر وخت راپه دېخوا په هېواد کې د ملي نفاق او د هېوادوالو ترمنځ د اعتماد د منځه وړلو لپاره ښکاره هڅې کوي، د خاینانه اعمالو مخه ونیسي.

موږ له ټولو افغانانو څخه، که په افغانستان کې دننه، یا هم بهر کې دي دا غوښتنه کوو چې نور د دا ډول پېښو ننداره کوونکي ونه اوسي، بلکې د دا ډول وحشیانه کړنو په وړاندې دې خپل غږ پورته کړي، مخکې تر دې چې هماغه د ټوپک ګوزار به، چې پرون یې ښاغلی صالح په نښه کړ، دوی په نښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درناوي
د روسيې په جنوبي ښار کراسنودار کې د مېشتو افغانانو ټولنه

## د افغان دښمنو وسلوالو ډلو د اصلي څېرو د بربنډولو په خاطر د تبليغاتي کمپاين د پرمخ بېولو اړتيا

که د هغو وسلوالو ډلو کړو- وړو ته چې د (جهاد او مقاومت) د وياړونو نارې سورې وهي ځير شو، وينو چې هغوی د افغانستان د مېشتو ورونو قومونو تر منځ بې اتفاقيو او دښمنيو اور ته لمن وهل دي. د دوی د دې افغاني او اسلامي ضد دريځ له کبله د قوم او ژبې په نامه د خلکو پر پت او عزت تېری، د هغوی د ملکيتونو غصبول، خپلمنځي جګړې او زيات شمېر هېوادوال کډوالۍ ته اړايستل، د هغوی د کړو- وړو هغه نمونې دي چې اصلي هويت يې څرګندوي. دوی هڅه کوي چې د افغاني ټولنې ناوړه وضعيت ښه او د ډاډ من انځور او د هغو هلو ځلو مخنيوی وکړي چې عيني واقعيتونه منعکسوي، نو له دې کبله غواړي چې د رښتينو روڼاندو ليکوالو او د علم او پوهې د علمبردارانو د فعاليت خنډ شي او هغوی د بېته اړ کړي، چې د کړېدلي افغان ولس د زړه خبرې او د افغاني ټولنې ترخه واقعيتونه بيان نه کړي. چې څرګند مثال يې د دې ډلو هغه چلند دی چې په دې وروستيو کې يې د (هوسۍ) مجلې چلوونکي ښاغلي صالح محمد صالح سره کړي دي، چې د هغوی رښتينې څېره ښيي، چې له انسانيت، افغانيت او فرهنګ سره پر دښمنۍ سربېره يې خپل اسلامي ضد هويت هم څرګند کړ. ځکه چې د اسلام سپېځلی دين ټول مسلمانان ورونه ګڼي، د قوم او ژبې په نامه توپير او تبعيض نه پېژني. له بده مرغه هغه څه چې له ښاغلي صالح سره په کابل کې کېږي، چېرې چې د ايساف ځواکونه موجود دي، دا ښيي چې دا او په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد ټلوالې ځواکونه او افغان چارواکي د دې جوګه نه دي چې په هېواد کې څه، چې په پلازمېنه کې هم نظم او قانون ټينګ کړي او س موږ ته يوازې دا راپاتې ده، چې د دې افغان دښمنو وسلوالو ډلو د رښتينې څېرې د بربنډولو او د افغاني ټولنې د واقعيتونو د بيانولو په خاطر هدفمند تبليغاتي کمپاين پيل کړو، چې نړيوال زموږ د هېواد له ترخو واقعيتونو څخه رښتينې انځور پيدا کړي. پر خپلو دولتونو او نړيواله ټولنه فشار راوړي، چې افغانان د دې بې فرهنګه ډلو له شر څخه وژغوري او هغوی ته د نورو نړيوالو په څېر د انساني ژوند او فعاليت زمينه برابره کړي.

د انترنتي پاڼې مسوولين

د جون د مياشتې ۲۹ نېټه

❁❁❁

## په سويډن کې د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز احتجاج ليک

د ژورناليستانو او فرهنګيانو سپکاوی، د افغان ولس سپکاوی دی

سويډن ـ مالمو د جون ۲۹ مه

په دې وروستيو شپو او ورځو کې چې له يوې خوا د راتلونکي ولسمشرۍ او پارلمان لپاره د ټولټاکنو مسئلې افغان ولس او روڼاندي په خپلو کې مصروف ساتلي او هر يو صادق افغان دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره- چاره لټوي چې څنګه وکولای شي افغان ولس له يوې بلې غميزې څخه وژغوري. له بده مرغه ټوپکسالارو او ملي متعصبينو له موقع څخه په استفادې سره په يوه او بل نامه پر هغو ژورنالیستانو او فرهنګیانو ګوزارونه پيل کړي چې ازادخياله او ډيموکراسي پلوه سياست يې غوره کړی دی.

دغه ژورنالیستان هغه څه خپروي او وايي چې د لوی اکثريت او ټول افغان ولس د پخلاينې او يووالي من روښانه راتلونکي ګرځندوی دی.

په پښتو ژبه د يوې نشريې خپرېدل کوم قانوني جرم او د وطن خلاف عمل نه دی، د اساسي قانون او مطبوعاتو د قانون له مخې هر څوک حق لري نشرات وکړي او د خلکو غوښتنې منعکسې کړي.

د (هوسی) د چلوونکي، ښاغلي صالح محمد صالح ګناه يوازې دا ده چې په پښتو ژبه خپرونه چاپوي. هغه چا چې ښاغلی صالح صاحب يې ځورولی او توهين کړی دی، دا هېره کړې ده چې په دې وطن کې غوځ اکثريت "پښتون" دی، چې په پښتو ژبه خبرې کوي. که په پښتو او يا بله کومه ژبه په ويلو يا ليکلو سره د چارواکو له خوا کوم ژورنالیستې او ليکوال تر تهديد لاندې نيول کېږي، پايله به يې ډېره خواشينوونکې وي.

په سويډن کې د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز ټول غړي او د مالمو د ښار اوسېدونکي افغانان په يوه اواز نه يوازې دا چې د هېواد له تکړه ژورنالیستې او ليکوال ښاغلي صالح محمد صالح سره دغه شان غيرانساني اعمال په کلکه غندي، له چارواکو (کورنيو چارو وزارت او اطلاعاتو او کلتور وزارت) څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د دغه شان غيرقانوني او بې مسووليته اعمالو سرته رسوونکي، افغان ولس ته ورو پېژني او هغوی په قانوني سزا ورسوي. نه بايد هر څوک چې زړه يې غواړي پرخپل سر، بې له قانونه خپرونې مصادره او چلوونکي يې زنداني او تهديد کړي. دا د ځنګل قانون بايد پايته ورسېږي!!

موږ په هېوادنۍ او نړيواله کچه د بشر د حقوقو له ټولو سازمانونو څخه په غوڅه توګه هيله کوو، چې د دغه شان خپلسريو مخه ونيسي او دا په کلکه وغندي، چې په دې توګه په راتلونکې کې ژورنالیستان او فرهنګيان تر قانوني حمايې لاندې خپل وطني چوپړ ته دوام ورکړي.

په درنښت

په سويډن کې د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز د مشرتابه جرګه

❁❁❁

## د افغاني فرهنيانو د ناپېيلې ټولنې اعلاميه

د مقدس خدای په سپېڅلي نوم

د کابل په امنيتي کمربند کې د ښاغلی صالح محمدصالح د وهلو او توهينولو له کبله د افغاني فرهنيانو ناپېيلې ټولنه د امنيتي چارواکو دغه سپک او بې پرنسيبه عمل غندي او له عدلي چارواکو غوښتنه کوي چې د دې قضيې لاملين رسماً توبيخ او ملامت کړي او په رسمي توګه دې له ښاغلي ليکوال او فرهنډوست صالح محمدصالح څخه بخښنه وغواړي او په مطبوعاتو کې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه جریان خپور شي.

په ټولې فرهنګي مینې
محمد آصف ننې
(د اقتصاد مجلې چلوونکی)

❀❀❀

## په کندهار کې د نارنج خپرندویې ټولنې احتجاج لیک

موږ ټولو پښتنو واکمنو ته دا احتجاج کوو، چې ولې بیده یاست؟ ایا تاسې د اکثریت ولس استازي نه یاست؟ په افغانستان کې چې دا د ګوتو په شمېر خپرونې لرو، هغه هم د پردي پلویو او متعصبو وګړو له خوا له منځه وړل کېږي او مسوولین یې وهل او ټکول کېږي ایا که د نورو ژبو له ویونکو سره پښتنو داسې چلند کړی وای، نو هغه وخت به هم چا ته څه نه ویل کېدل؟

موږ د (هوسی) د درنې مجلې مسوول ښاغلي صالح محمد صالح سپکاوی د ټولو پښتنو سپکاوی ګڼو، واکمنو ته دې دا په ډاګه وي چې که نن موږ ډبول کېږو، نو سبا د دوی وار دی، رابېدار شئ او د خپلو ورونو غم وخورئ.

په کندهار کې د نارنج خپرندویې ټولنې مسوول
سید احمد قانع

❀❀❀

## له ښاغلي صالح محمد صالح سره د روسیې فدراسیون په پلازمېنه مسکو کې د ځوانانو د ادبي ټولنې خواخوږي

ټول په دې پوهېږو، چې نن ورځ هېواد د چا په لاس کې دی، دا هغه داړونکي ټوپکیان دي چې ټیپي افغانستان به یې تر پېړیو پورې له ځانه څخه خیرې پاکې نه کړي. صالح محمد صالح یو تکړه لیکوال دی، چې په یو داسې (وحشي) کړو یې د قلم په زور موږ ټول خبر کړو، موږ صالح محمد صالح ته ډاډ ورکوو او خواخوږي یې یو، خو زموږ په هېواد کې زموږ هېوادوال هره ګړۍ په دې ډول په سلګونو سپکاوي زغمي او د لتې ګتې څوک نه شته، دولت نه شته او قانون یوازې پر کاغذونو لیکل شوی دی. صالح محمد صالح ته د پښتو په چوپړ کې ټینګ هوډ او بریالیتوبونه غواړو، موږ پاک خدای (ج) ته دعا کوو چې د هغه پښتنه هوسی د تل لپاره د افغانستان پر دنګو غرونو ټوپونه ووهي او زموږ د مینې تنده دې ماتوي. په دې هیله چې د داسې داړونکو ځای څرخي پل شي.

د ځوانانو د ادبي ټولنې له خوا

❀❀❀

## په کوېټ کې د افغانانو ثقافتي اتحادیې احتجاج لیک

په زیاته خواشینۍ سره مو له تکړه لیکوال صالح محمد صالح سره چې په رښتیا هم د ټولنې یو صالح بچی دی، د ځینو بې ادبو او بداخلاقو له خوا د بېرحمانه چلند خبر تر لاسه کړ، چې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره زيات د خواشينۍ سبب شو. موږ په کوټ کې ټول مېشت افغانان او په ځانګړې توګه د افغانانو ثقافتي اتحاديه په کلکه د دې ظالمانه تېري غندنه کوو او دغو جاهلانه تېري کوونکو ته د سختې سزا غوښتونکي يو او د افغانستان له انتقالي اداري څخه دا غوښتنه کوو، چې د داسې بې کفايته او خودغرضه کسانو لاسونه ورلنډ کړي او پرې دې نه ږدي، چې دا کسان په خپلو بدو او کرغېړنو افعالو باندې د پښتنو په پاکو زړونو کې د نفرت اور بل کړي، چې بيا به په دې اور کې وچ او لانده ټول وسوځي، همدا راز صالح صاحب ته د خواخوږۍ مراتب وړاندې کوو او له ده سره په دې وير کې ځان کاملاً شريک ګڼو

په درناوي

***

# په جاپان کې د ادب د مينه والو ټولنه د ښاغلي صالح ځورونه او سپکاوی غندي

## د طالع ستوری مې وينې تر خوله باسي

## د غم تندر، د بخت لمر نيولی دی

نن بيا د ادب د مينه والو پر زړه ټکه پرېوته او په ډېره خواشينۍ سره اورو چې د هېواد تکړه ليکوال او هڅيالی ژورناليست ښاغلی صالح د پښتو په ليکنه، خپرونه او وينا "تورن" شوی، وهل شوی او سپکې سپورې ورته ويل شوې دي.

نن د پښتنو زړه "کابل" ته د پښتو مجلو او خپرونو په وړلو د نامه او پت څښتنان د.... له خوا ډېول کېږي او سپکاوی يې کېږي، موږ نه يوازې د دې کرغېړن عمل کلکه غندنه کوو، بلکې د هغو وعده خلافو وعدې هم ورپه يادوو چې پر څوکۍ د سرېښېدو په نيت يې د پښتو پر سر معاملې کولې او تر ملي کېدو يې "دفتري ؟؟؟ " کېدل غوره ګڼل.

دا عمل د هغه اپارتايد لړۍ ده چې له کلونو راهيسې يې د پښتنو، هزاره و، ازبکو، ترکمنو، بلوڅو، پشه يانو، نورستانيانو، هندوانو او نورو پر حقوقو خېټه اچولې، ښوونه او روزنه، لوړې او مسلکي زده کړې، ډله ييزې خپرونې، کورني او بهرني ملي اسناد، ډيپلوماتيکې چارې، هېواد ته د ننوتلو او وتلو پاڼې، د هېواد د وياړ شمله "اريانا افغان الوتنه"، د سوداګريزو چارو، د سرشمېرنې، د انتخاباتو اسناد، ورځنۍ عريضې او...ټول د دغه اپارتايد په.. لړلي دي او د نورو ژبو وده خو پرېږده، چې اسناد او خپرونې يې لا له لاسه سوځول کېږي او داسې نور...

د ښاغلي صالح د سپکاوي او ځورونې د کرغېړن عمل لاملينو ته د سزا غوښتنه به د ځان غولول وي، ځکه په رسمي کړيو کې داسې واک او سېک نن نه وينو، چې د بل په مټ واک ته رسېدلي لنډه غرو ته دې څوک تر بانه لوړ وګوري.

خو دې بدمرغۍ ته به د کړېدلي افغان ملت مبارزه او ملي غوښتنې د پای ټکی ږدي.

په جاپان کې د ادب د مينه والو ټولنه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کندهار کې د ښنوا فرهنګې ټولنې احتجاج لیک

## د وخت د جبر پر وړاندې د بغاوت کریږې

## (احتجاج لیک)

دا دی د هیواد، ملت، کلتور، فرهنګ، پوهې او ادب غلیمانو له خپل ټیټ خصلت سره سم د خپلو ناروا وو او خیانتونو ځنځیر ته یوه بله کړۍ ورزیاته کړه، سپینه خبره دا ده چې:

صالح محمد صالح هغه نوم دی چې ډېر زیات شمېر افغانان ورسره سره آشنا دي، خو په هغو ځانګړنو او غوره صفتونو چې دغه ځوان پسوللی دی کېدی شي، ټول ورځني خبر نه وي، کېدی شي وخت او تاریخ به د دې ځوان پولادي هوډ، مېړانه، بر هیواد، ملت، فرهنګ، پوهه او انسانیت مینه په زبات ورسوي، د دې مېړني د کار او کمساري کار ارزول او وربانديږغېدل وخت او کار غواړي، خو دلته یې یوازې پر هغه اړخ څه وایو چې دم ګړي ته مو اړه ورسره پیدا شوې ده.

ګران او ځوان صالح ګل له خپل کلتور او ژبې سره لېونۍ مینه لري، د ډېرو آثارو پر ژباړې او لیکنې سربېره د هیواد له بېلابېلو خپرونو سره ښه په زیات شمېر لیکنۍ مرستې کړې، چې زیاتو خپرونو د ده په مېړانه د ژوند سا اخیستې ده.

دی اوس د بي.بي.سي راډیو په پوهنیزو پروژو کې کار کوي، د نورو فرهنګي چوپړ تر څنګ دی په یوازې سر او یوازې د خپل ایمان او همت په زور یوه د ښه معیار پښتو خپرونه(هوسۍ) چاپوي، چې د ټول مادي، مانیز، تخنیکي، لیکني، چاپ، خپراوي او ... د غم پېټی ټول د همدې یوه انسان پر اوږو بار دی.

دا به بل وخت ته پرېږدو چې دا کار په څنګه انداز مخته بیایي.

خبره دلته ده چې کله دغه مېړني د هوسۍ پنځمه ګڼه له پېښور څخه رابار کړې وه، له سره تر نوکه په خولو کې ډوب و، د کابل د پلچرخي سیمي په اصطلاح امنیتي ځنځیر(اخو اصلاً لنډغرتون) ته راورسېد، د دې ځای توپکمارو پلټونکو چې کله هوسۍ مجله ولیده چې ټوله په پښتو ژبه لیکل شوې وه، نو په خورا سپین سترګۍ سره یې ځیري ویري او ایسته وغورځوله او ویې ویل:

چې دا ولې ټوله په پښتو ده، دا خو د پاکستان لپاره خپریږي(؟) او ستومانه صالح یې د خپلې امنیتي پوستې په یوه تور غار ننه ایست او هلته یې مضبوطه د توپک د کنداغ تر ګوزارو لاندې راوست.

ښه، اوس دا خو نوې خبره نه ده چې دا توپکمار د خپل هیواد له انسان، انساني کرامت، کلتور، ژبې او ملي ارزښتونو سره دا ډول ناروا چلند کوي، دوی خو هغه ازمویل شوي د هیواد، ملت او فرهنګ غلیمان دي چې د خپل واک په انډوخر کې یې کابل او نور لوی ښارونه لوټه ـ لوټه کړل، افغان فرهنګ یې د دوزخ په لمبو کې وسوځاوه او د افغان ملت په ناموس یې تولوژنه ګډه کړه.

نن چې بیا د امریکایي استکبار تر سیوري لاندې یو نیمچه واک په لاس ورغلی، نو لا یې د وحشت لمنو د نورو او لا نورو جنایتو ټپلي پرې باسي، دوی کېدی شي دا فکر کوي چې پرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ سرغنه ګانو دا هر څه جنایتونه کول، نو نن د هماغو جنایتونو پـه بدل کي تر مرګ وروسته د ملي اتلانو لقبونه ورکول کیږي او یا یې د بې سوادو او ساده ژوندو پر ټټرونو د مارشالۍ نښـانونه ټومبل کیږي. نو که موږ هم د ملي جنایتو، او ناروااوو کړنو ته زور ورکړو، کېدای شي موږ له دا ډول ناز څخه برخمن شو.

خو ریښتیا خبره دا ده چي د ملي خاینانو خبیثي اروا وي به هیڅکله د ملي اتل په لقب خوښي نه شي او د بېسوادو توپکیانو پر ټټرونو د مارشالۍ او جنرالۍ نښـانونه ټومبل پر دوی باندي د تاریخ خندول دي.

دا ملي خاینان، د هیواد، ملت او فرهنګ غلیمان باید پوه شي چي افغان ملت دومره ړوند او کوڼ هم نه دی چي د دوی ناروا وي به یې یو وخت له یاده ووځي، نن وي که سبا د دې مېړني ملت وګړي ـ وګړي به له دوی سره د دوی د هري ناروا حساب کوي.

زموږ مومن ملت دا باور لري چي دا جنایتکاران به نه یوازي دا چي په دنیا کي به یې پړه او غوړونه پرې کیږي، بلکي د قیامت په ورځ به هم د کایناتو د بېساري پاچا او عادل قاضي پر وړاندي په توبو نه خلاصیږي او د خپلو کمسارو ناروااوو، جنایتونو او لویو ګناهونو په سزا به رسیږي.

نن د صالح ګل پښتو هوسۍ ورځېرل، د ده وهل او ټکول زموږ لپاره د همت او پولادي هوډ الهام راکوي، دا ناروا وي به د صالح ګل د فرهنګي سنګریاران او سرتېري لا نور کار او پیکار ته وهڅوي، لا به یې د لوړو آرمانونو په رګونو کي د اور سکروټي ورغړوي، لا به یې خپل اوچت سرمنزل ته د ورلنډېدو لپاره په وجود کي د برېښنایي خوځښت او انرژۍ توپانونه وپنځوي.

لا به د وخت د نااهلو زامنو پر وړاندي د سرکښۍ او بغاوت جنډه هسکه کړي.

لا به د نه ماتېدونکي ایمان ننداره ورکړي او لا به د زمانې د جبر پر وړاندي د ملي جهاد پیغام ورکړي.

او دا چیغې به یې د شینکي آسمان غوږونه لا کاڼه کړي چي:

**ما د سیند یاغي څپو ته واچوئ**

**غواړي سېلابونه د توپان بچي**

ښنوا فرهنګي ټولنه کندهار ـ افغانستان

***

## په بلجیم کې د مېشتو افغانانو د پوهاوي، مرستې او پیوستون ټولنې د غونډې احتجاج لیک

د ۲۰۰۴ کال د جون د میاشتې پر ۲۹ مه نېټه د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې د یوې درنې غونډې په ترڅ کې د ښاغلي صالح محمد صالح تهدید او ځورونه د ټولو افغاني فرهنګیانو، لیکوالانو او په تېره د افغانستان د غوڅ اکثریت وګړو د کلتور او ژبې، اهانت او توهین وګڼه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې مشرتابه جرګه ګۍ، د ټولنې غړو او د غونډې ټولو ګډونوالو په یوه اواز له ښاغلي کرزي، ښاغلي جلالي، ښاغلي احمدزي، ښاغلي احدي، ښاغلي هېوادمل او... څخه د ملي او رسمي ژبې (پښتو) د ټولو حقوقو، په کلکه د ضمانت او حفاظت غوښتنه وکړه. د غونډې ګډونوالو د کورنیو چارو له وزیر څخه په کلکه وغوښتل چې د څرخي پله مسوولینو ته له اساسي قانون څخه په سرغړونه، سخت او د عبرت درس ورکړي. همدارنګه په غونډه کې د ځوان او زړور لیکوال او شاعر ښاغلي صالح د هڅو ملاتړ او د دولت د مسوولینو چوپه خوله وغندل شول. غونډه په افغانستان کې د افغان ټبر د هوښیارۍ او پوهاوي لپاره، د نه سترې کېدونکو هڅو په دعایې سرته ورسېده. د پرېکړه لیک نقل د کورنیو چارو وزارت ته په رسمي ډول ولېږل شو.

❁❁❁

## د احمد شاه بابا د ژباړې مرکز شورغږ لیک

ګران صالح د پښتو ژبې یو تکړه او هڅاند لیکوال دی، موږ د ده پر شتون او فرهنګي چارو ویاړ کوو، وروستۍ پېښه نه یوازې صالح ته بلکې دا ټول پښتون او افغان ولس ته سپکاوی دی. وایي کارغان تېرېږي سپیان غپېږي، خو د دغو سپیانو د غپا مخنیوی هم په کار دی که نه؟ په ټول کابل کې په شمېر څو پښتو خپرونې لرو، که هره خپرونه مو داسې ځیرې کېږي او هر لیکوال مو د صالح په څېر ډبول کېږي، ناشونې ده چې خپل فرهنګي او ژورنالیستیک بهیر همداسې پرمخ بوځو. یوازې په تشو اعلامیو او ډاډګیرنو څه نه جوړېږي، باید د عمل ډګر ته ودانګو، خپلې خپرونې او پر پښتو مین لیکوالان په مادي او مانیزه توګه ځواکمن کړو او د دغسې غوځکیو د مخنیوي لپاره عملي لارې چارې ولټوو. د صالح ملاتړ ته اړ یو، سبا زموږ بل صالح توهین کېږي، دغه توهین باید له بېخه وشړول شي، موږ باید د دوی د هوډ په پیاوړتیا کې کارنده ونډه واخلو.

منته

نذیر احمد سهار

د احمد شاه بابا د ژباړې مرکز- کابل

❁❁❁

## په اتریش کې د افغانستان د بیا ودانولو مرستې ټولنې احتجاج لیک

په ډېره خواشینۍ سره مو دا خبر واورېد، چې د افغانستان تکړه او بااستعداد ژورنالیست او د هوسۍ مجلې مسوول مدیر ښاغلي صالح محمد صالح د جلال آباد_ کابل پر لار له څرخي پله سره د دفاع وزارت د داړه مارو ټوپک لرونکو له خوا وهل شوی او په دې تورن شوی چې په مجله کې بې ولې پارسي نه شته بیا ورته پاکستاني ویل شوي دي.

زموږ د ټولنې غړي او په اتریش کې ډېر مېشت افغانان د دفاع له وزیر څخه هیله لري، چې هغه داړه مار ټوپکوال چې تعصبي نیت لري او په هېواد کې تفرقه او تضاد راولي، ژر تر ژره له کاره ګوښه او سزا دې ورکول شي.

د افغانستان له حکومت څخه زموږ هیله دا ده، چې په رسمي ډول له ښاغلي صالح محمد صالح

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه بخښنه وغواړي او مسوول وزير ته دې خبرداری ورکړل شي، چې دا سې مضر عناصر چې په هره جګه رتبه وي له کار ګوښه او قانوني سزا دې ورکړل شي.

د افغانستان د بیاودانولو مرستې ټولنه

ویانا ښار ــ اتریش

۱۳د سرطان کال ۱۳۸۳

●●●

## په امریکا کې د افغاني کلتوري ټولنې احتجاج لیک

موږ په شمالي کلفورنیا کې مېشت افغانان له ښاغلي صالح محمد سره د شوي چلند له کبله خپله ژوره اند ېښنه څرګندوو او د کابل له اداري څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دې کرغېړن عمل ترسره کوونکو ته دې سخته سزا ورکړل شي، چې په راتلونکي کې دا ناوړه چلند تکرار نه شي.

په درناوی

څه د سر و هلو توره ښايي ما ته

لکه شمعه تا زه کېږم په بل- بل سر

●●●

## د ژورنالیستانو د ملاتړ د نړیوالې اتحادیې لیکنه چې په بهر کې خپره شوې ده

**JUNE 27, 2004**
**Posted: June 30, 2004**
**Salih Mohammed Salih, *Hosey***
**ATTACKED**
***Hosey***
**CENSORED**

**Salih, the editor and chief reporter of the bimonthly magazine *Hosey*, was assaulted by soldiers from the Afghan national army at a checkpoint near the capital, Kabul. *Hosey* is a Pashto-language magazine focusing on the culture of Pashtuns, the largest ethnic group in Afghanistan.**

**According to Khalid Hadi, the magazine's publisher, Salih was bringing the entire print run of *Hosey* in a rented car from Pakistan, where the magazine is printed, to Kabul, where *Hosey* is based, when soldiers at a checkpoint stopped his car and searched it. When the soldiers looked through the magazine and saw that it was written in Pashto, they destroyed the magazines and attacked Salih, beating him with their hands and rifle butts. While the soldiers were assaulting him, they accused Salih of being a Pakistani and a member of al-Qaeda, Hadi told CPJ.**

**According to local sources, the Afghan army is dominated by ethnic Tajiks and members of other minority ethnic groups in Afghanistan. These groups are often biased against ethnic Pashtuns, whom they perceive as being loyal to the deposed Taliban government or to al-Qaeda.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**The soldiers later released Salih, and his driver drove him to Kabul. Salih sustained back injuries in the attack and has trouble walking, according to Hadi. He visited a local clinic after the attack, Hadi said.(20)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبه له پاسه خړې دي

د هرې ژبې او ملت د فرهنګیانو، د قلم د خاوندانو او دولت تر منځ د اړیکو پُل، د هماغه هېواد د فرهنګي چارو سمبالوونکې او څارونکې موسسې او ادارې وي، چې دغه ادارې بیا د دغسې یوه پُل درول تر سر ته رسولو برسېره په خپل ملک کې د ټولو ژبو د قلم د خاوندانو، هنرمندانو او لیکوالو د پالنې، له بېلابېلو لارو د هغو د هڅونې او په فرهنګي چارو د بوختو ځوانانو د روزنې لپاره ځانګړې پروګرامونه لري.

خو په افغانستان کې دغه چارې په ټپه ولاړې دي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت چې دغه کار ته ګمارل شوی او یوه دنده یې دا ده چې په دغه هېواد کې د ژبو د پراختیا او متوازنې ودې لپاره کار وکړي په دې برخه کې یو د پام وړ ګام هم نه دی اوچت کړی، او لا هغه په لسګونو دولتي ورځپاڼې، جریدې، مجلې او تر هغو برسېره راډیو او ټلوېزیون، چې د همدې وزارت تر څارنې لاندې خپرونې کوي، په ښکاره په خپلو نشراتو کې د نورو د ژبو پر حق سترګې پټوي. د همداسې یوې ناځرګندې پالیسۍ نتیجه ده چې نن سبا په ټولو دولتي مطبوعاتو، ورځپاڼو، مجلو، اوونیزو او راډیو- ټلوېزیون کې د پښتنو برخه دومره خواره ده، لکه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په لوړپو ستونو کې چې ده.

تر دې برسېره د اطلاعاتو او کلتور وزارت هغه اداره ده، چې د ادیبانو، فرهنګیانو، د قلم د خاوندانو او هنرمندانو کور بلل کېږي. ان په نورو هیوادونو کې چې دیوه لیکوال پو ښتنه کېږي نو خلک یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته مراجعه کوي. د دې خبرې مانا دا ده چې دغه وزارت باید د شاتو د مچیو د ملکې په شان وي، چې ټول فرهنګیان او د قلم خاوندان پرې راټول وي. خو په افغانستان کې خبره سرچپه ده؛ د اطلاعاتو او کلتور وزارت، له فرهنګیانو، په تېره بیا پښتنو فرهنګیانو څخه دومره بې خبره دی، لکه هندو له لمانځه نه.

که داسې یو څوک، چې د افغانستان له شرایطو سره بلد نه وي او د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورننوځي، نو ګومان به یې ونه شي چې دا د افغانستان یوه دولتي اداره ده. دا ځکه چې له ښاغلي وزیر نه نیولې، بیا تر یوه عادي رئیس پورې ټول د یوې ژبې او فرهنګ استازي ګمارل شوي او دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان د اوسني دولت له اولویتونو څخه یو دا دی، چې ټولې دولتي ادارې باید ملي شي. خو عجبه دا ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطلاعاتو او کلتورو زارت لا تر اوسه له دا ډول ټولو اداري اصلاحاتو او بدلونونو نه ګوښې پاتې دی. د دې خبرې مانا دا نه ده چې خدای (ج) مه کړه موږ له کومې بلې ژبې سره رخه او کینه لرو، بلکې باور مو دا دی چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، چې د هر قام او هرې ژبې په منفي کولو سره به مو د خپل ګران هېواد د ګډ وجود یو کاري غړی له لاسه ورکړی وي، ځکه تجربو ښودلې چې د تاریخ په اوږدو کې د خپلو او پردو په لمسون د دغه هېواد د اوسېدونکو بېلابېلو قامونو، ژبو او فرهنګونو د ورکاوي لپاره ډېرې هلې ځلې وشوې، چې ګردې ناکامې وې. د همدې ترخو تجربو په رڼا کې د سالم عقل خاوندان دې پایلې ته رسېدلي چې د افغانستان د عظمت او له ویاړه ډکو فرهنګي ارزښتونو ساتنه یوازې له دې لارې ممکنه ده، چې ټول افغانان، په تېره بیا د فرهنګ په چارو بوخت هغه دا هېواد خپل وګڼي، د یو بل عقیدو، بېلابېلو کلتوري ارزښتونو او فرهنګي ویاړونو ته، که څه هم د دوی په ګړونج برابر نه وي، درناوی وکړي او په دغه هېواد کې شته هرې ژبې او فرهنګ ته د برابرې ودې حق ورکړي.

دغسې هدف ته تر اوسه د نه رسېدلو یو لامل زموږ په باور دا دی چې او به له پاسه خړې دي. دا ځکه چې که د یوه هېواد د دولتي مطبوعاتو او فرهنګي چارو د څارنې تر ټولو لویه اداره پر دې حال وي، لکه زموږ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چې دی، نو په داسې یوه ملک کې د ملي دولتي مطبوعاتو د رامنځته کېدو او له اساسي قانون سره سم د ټولو ژبو د متوازنې او برابرې ودې هیلې بېځایه دي.

په دې هیله چې یوه ورځ په خپل ګران هېواد افغانستان کې د ملي دولتي مطبوعاتو او د دولتي مطبوعاتو د څارونکې یوې سالمې ادارې د لیدو شاهدان واوسو. (21)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې د ای. ډبلیو. پي آر د خبریالانو محمد شفیق حقپال او دانش کړوخېل لیکنه

# تاریخي اثار د نابودۍ له ګواښ سره مخامخ دي

داسې برېښي چې حکومتي چارواکي د تاریخي آثارو د قاچاق پر ضد په مبارزه کې له بریالیتوب څخه لیرې دي.

د افغانستان د ملي موزیم کلیکسون پداسی حال کی کرار کرار د بډای کېدو په حال کی دی چی صادق ښاریان او پولیس لوټ شوي تاریخي آثار بېرته ور سپاري. خو غله د تاریخي آثارو د مرکزونو لوټولو او له هېواد څخه بهر ته د هغو قاچاق ته دوام ورکوي.

د سږکال په مني کی د اطلاعاتو او کلتور وزارت وکولای شول یو شمېر لرغوني آثار، چې په کی پر ډبری لیکل شوی کتیبه او د بودا شپږ مجسمی راځي چی د بامیانو او لوګر له ولایتونو وړل شوي وو تر لاسه کړي دي.

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د لرغونپوهنې رئیس وايي خلک د خپلو لرغونو آثارو له ساتنی سره مینه لري. په حقیقت زموږ ځینی هیوادوال د لرغونو آثارو د قاچاق په هکله موږ ته اطلاع راکوي.

د بیلګی په توګه د سرای خواجه یوه او سیدونکي د یوی تاریخي ډبری په هکله چی ۱۰۰۰ کاله یي عمر درلود او قاچاق شوی وه موږ ته اطلاع راکړه. په نتیجه کی مو وکولی شو هغه بیرته تر لاسه کړو.

د افغانستان ګوټ ګوټ له ښخو شویو مجسمو، هنري او لرغونو آثارو ډک دی چی ځینی یي **۵۰۰۰** کاله عمر لري. د هغو ډیری په افغانستان کی د بودايي فرهنګ او عصر پوری اړه لري.

د کورنیو جګړو پر مهال، د دغو آثارو ډیری پر بهرنیو دلالانو پلورل شوي دي. د لنډمهالی اداری له تاسیس څخه راپدی خوا پولیسو د دغی سوداګری پر ضد جدي مبارزه پیل کړی، خو له بده مرغه د سیمه ییزو واکمنو تر منځ د واک پر سر د جګړی له امله دا کار له ستونځو سره مخامخ دی.

په ډیرو سیمو کی، د امنیت نشتوالی د دی سبب شوی چی د دغو آثارو لوټول دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومومي. سیمه ییز خلک او مامورین رپوټ ورکوي چې وسله والو کسانو په څو ولایتونو کې د لرغونو آثارو د تر لاسه کولو له پاره په کیندنو او لوټماریو لاس پورې کړې دي. د بیلګې په توګه د لوګر په ولایت کې یوه سیمه ییز مامور وویل چې د وسلوالو کسانو یوه ډلې د خروار په ولسوالۍ کې د ۲۰ کیلو متر مربع په ساحه کې کیندنې کولې او ۱۲۷ مجسمې یې لوټ کړې.

د لرغوني میراث د لوټولو د مخنیوي له پاره د اطلاعاتو او کلتور وزارت تیره اوونۍ د لرغونو آثارو د ساتنې له پاره د پخواني باچا د زوی میرویس ظاهر تر نظر لاندې یوه شورا جوړه کړه.

دا شورا چې په افغانستان کې د خپل ډول یوه بې سابقه شورا ده ، یو ځانګړی کمیسیون یې جوړ کړ تر څو د لرغونو آثارو د ساتنې له پاره یو امنیتي پروګرام جوړ کړي.

د افغانستان د لرغونپوهنې د ادارې د رئیس عبدالواسع فیروزي په وینا هغه مجسمې او کتیبې چې د بامیانو او لوګر له ولایتونو تر لاسه شوي د خپل قدامت له پلوه په افغانستان کې د کوشانیانو او یفتلیانو په پیر پورې اړه لري ، یعنې ۱۲ یا ۱۸ پیړۍ وړاندې، هغه مهال چې افغانستان د بتانو عبادت کوه یا بت پرسته و.

هغه زیاته کړه هغه مهال چې د اسلام دین افغانستان ته راغی خلک یې له بت پرستۍ منع کړل خو ځینو خلکو په پټه خپل عبادت ته دوام ورکړ. خو وروسته د وخت په تیریدو دا له کاره ولویدل او په ځمکه کې ښخ شول.

د بامیانو ولایت د بودایي پیر د لرغونو آثارو د درلودو له امله بډای دی. په دوه زره او لومړي کال کې د بامیانو ولایت هغه مهال نړیوال شهرت تر لاسه کړ چې طالبانو په هغه ولایت کې د بودا دوې لوړې مجسمې ورانې کړې.

د بامیانو د ولایت یو تن بزرګر حاجي مختار احمدي شپږ کاله وړاندې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بوټو د ویستلو پر مهال د خپل کور تر څنګ یوه کتیبه او ځینې نور لرغوني آثار تر لاسه کړل چې پکښې د سرو زرو سکې او یو ښیښه یې بوتل هم و.

هغه دا آثار د حکومت یوه هیئت ته وسپارل خو پریکړه یې وکړه چې کتیبه بیرته په خپل ځای کیږدي. خو وروسته نورو هغه غلا کړه او احمدي په کلي کې د هر چا کور ولټوه، تر څو یې هغه وموندله او د سپټمبر په میاشت کې یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته تسلیمه کړه.

د بامیانو د ولایت والي علي یارزاده په دې هکله وایي: حکومت له احمدي څخه مننه کوي او هیله لري چې خلک د احمدي لار خپله کړي. علي یارزاده وایي: نه پوهیږي پر هغو آثارو چې شپږ کاله وړاندې یې حکومت ته سپارلي وو څه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اطلاعاتو او کلتور وزیر مخدوم رهین وایي: کتیبه ۱۵ پیړۍ عمر لري ځکه هغه لیک چې پرې لیکل شوی حروف یې په خروشتی رسماالخط پوری اړه لري چې ډیر کمیابه دي. لرغونپوهان د دغو لرغونو لیکنو په لوستو بریالي شوي نه دي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت احمدي ته یو لیک استولی او د لیک په ترځ کې یې د هغه له اخلاص څخه د ډک خدمت ستاینه کړې او ژمنه یې کړې چې حکومت ورته نقدي مرسته هم په پام کې نیولې.

د اطلاعاتو او کلتور وزیر همدارنګه زیاتوي چې زموږ هڅې دوام لري. موږ هڅه کوو چې نور لوټ شوي تاریخي آثار هم تر لاسه کړو. موږ باید خپل تاریخي آثار د خپلو مقدساتو په شان وساتو.

د لرغونو آثارو د تر لاسه کولو له پاره باید قاچاقوونکي تعقیب شي. د پولیسو د قوماندانۍ جنرال محمد هارون یوسفي په دې اړه وایي: د لوګر په ولایت کې د پولیسو مامورین د عینکو د مسو په ساحه کې د غیر قانوني کیندنې په اړه د یوې محرمې اطلاعیې پر بنسټ ګام واخیست او ویې کولی شو چې درې بودایي مجسمې تر لاسه کړي.

جنرال یوسفي دغه راز زیاتوي: له بده مرغه په داسې حال کې چې آثار یې له منځه وړي وو د پولیسو تر رسیدو وړاندې قاچاقوونکي وتښتیدل.

د لوګر ولایت د تاریخي آثارو مدیر جلات خان وایي: کافي سرچینې نه لرو چې د لرغونو آثارو د ټولو سیمو ساتنه وکړو. هغه یوازې یو بایسکل لري چې پرې د کور او دفتر تر منځ تګ راتګ کوي.

هغه وایي د قانونو د تطبیقوونکو د دغې بې لاس او پښې توب له امله، لرغوني آثار یې د راغون په ښارګوټي کې د زیارت علي ملنګ له جومات څخه تالا کړل.

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او کلتور مدیر محمد ظاهر صدیق ادعا کوي چې د سیمې سپین ږیري او سیمه ییز قوماندانان د لرغونو آثارو په قاچاق کې لاس لري.

صدیق سیمه ییز قومندانانو ته په اشاره وایي: کیندنې د سیمه ییزو وسلوالو کسانو په وسیله تر سره کیږي. هغه کسان چې د دغو آثارو د ساتنې له پاره ګمارل شوي دهغوږ په لوټولو لاس پورې کوي.

صدیق ادعا کوي چې موظف قوماندان پخپله د دغو آثارو د ایستلو څارنه کوي او هغه مهال چې صدیق مطبوعاتو او مرکزي حکومت ته اطلاع ورکړه، قوماندان خپل کسان ولیږل او هغه یې تهدید کړ چې هغه به ونیول شي.

یو تن عسکر خلیل الله چې په ګردیز کې کار کوي د صدیق تورونه ردوي. هغه وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په څلورو ولایتونو (لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست) کې د لرغونو آثارو د ساتنې دنده لرو. هغه زیاتوي موږ شپه او ورځ هڅه کوو چې څوک په غیر قانوني کیندنې لاس پوري نه کړي. موږ همدارنګه هڅه کوو، یو ځانګړی پوځي ځواک جوړ کړو تر څو د هغو سیمو ساتنه وکړي چې تاریخي آثار لري.

دهغو سیمو او سیدونکي چې لرغوني آثار لري وايي دوی اکثره د دغو آثارو د تالان شاهد وو او دا چې غله ټول وسلوال کسان وو نو څوک دا مجال نه لري چې ګام واخلي.

د کورنیو چارو د وزارت د قاچاق او د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د څانګې آمر جنرال سلطان محمد وایي بهرني جنایتکاران د لرغونو آثارو سوداګري کوي. دوی هغه کسان دي چې سیمه ییز غله استخداموي تر څو ورسره مرسته وکړي.

د بغلان ولایت د درۀ کیان یو تن او سیدونکی سید علي شاه وایي بهرنیان دلته راغلي دي. دوی سیمه ییز وسلوالو کسانو ته پیسې ورکوي چې د دغو آثارو په ایستلو کې ورسره مرسته وکړي. بیا دا آثار له هیواد څخه باسي.

د کابل له ښار څخه بهر پلچرخي ته نژدې د تنګای د کلي یو او سیدونکی صبغت الله وایي: غلو په دغه سیمه کې پر بلې حیله ګرې لاس پورې کړی. په دې نامه چې ګوندې دوی د یوه سازمان دي او غواړي د اوبو څرخي بند د جوړولو له پاره کار وکړي، په کیندنو لاس پورې کړ. هغه مهال یې چې آثار تر لاسه کړل دوی له سترګو پناه شول.(22)

سنځرخېل - کابل۴ -۱۲- ۱۳۸۳

# ۲۵۰۰ کلنه تاریخي کلا له ګواښ سره مخامخ ده



( بازي - بازي اخر به ریش بابا بازي ؟ )

زموږ په هیواد کي دا لوبي اوس تر دې کچي رسیدلي دي چي بازیګر اوس زموږ په ملي ویاړونو هم لوبي کوي . یوه ورځ له دې خبر شوو چي په کابل کي د خواجه صفا له زیارت څخه د دولت د چارواکو په ملتیا کیندني کیږي ، تاریخي توکي له مځکي را ایستل کیږي او په غلا بهرنیو هیوادونو ته تر وړل کېدو وروسته پلورل کیږي. دا خبره د نړۍ او افغانستان په مطبوعاتو کي خپره شوه ، فرهنګي او کلتوري ټولنو غبرګونونه وښودل ، خو لکه څنګه چي ګران لوستونکي پوهیږي ( په کابل کي مرموزي پلټني ) تر سرلیک لاندي لیکنه ، او د اطلاعات او کلتور وزارت پر چارواکو نیوکي تر اوسه پر خپل حال پاته دي . او دوی ددې تورونو په اړه د ځانونو د سپیناوي هڅې داسي وکړې یو ځل یې د کندهار د اطلاعات او کلتور په ریاست کي کله چي ( کندهار د تاریخ په اوږدو کي سیمینار ) ادامه لرله لیکوالو ته بد رد وویل ، تر دې حده چي له نزاکت او اخلاقو چوکاټونه یې مات کړل ، د هغه تر څنګ یې څو تنه افغان لیکوال د وسلې او زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څرګندولو سره د ښارنوالۍ او نږدې محکمو پوري ورسول . زه نه پوهیږم ، چې د زور واکو هغه تجارت به اوس هم روان وي که نه ؟ که به روان وي کومې قیمتي ډبرې به کوم هیواد ته وړي ؟ او په کوم ځای کې به د کابل موزیم په نامه څوکسانو ته جعلي کارتونه ورکړل شوي وي او پر کومو لویو لارو به یې د توپک په ملګرتیا د پنجابیانو تر هیواده رسوي ؟ ددې ولس او ددې هیواد هویت ، ددې خاوري تاریخي اثار به څوک ، څنګه ، چیري او په څو شلو کلدارو او ډالرو پلوري او پیرودي ؟

داسي ښکاري لکه د تاریخي اثارو د غلا کولو د خبرونو د لیکلو او د هغو د خپرولو جرئت چې نور کوم لیکوال کې نه وي پاتي. ځکه داسي مي لا هم ولو ستل چې یوه ملګري لیکوال ته مي د کومې ویېپانې چلوونکي ویلي وو چې ژوند لیک دي راولیږه ، او د لیکنو سره دي ولي اصلي نوم نه خپروې ؟

ملګري مي په جواب کي ورته ویلي وو ، چې زه غریب سړی یم ، سر او نیم سر اولادونه لرم ، نه غواړم د صالح او محمد یار غوندي په ښارنوالیو او قومندانیو وګرځم !

او نور کېدای شي هغه لیکوال هم د ځان ساتني په سبب له داسي لیکنو او پټو رازونو تر ښکاره کېدو تېر شوي وي.

دا ځل بیا د ښاغلي کرزي صاحب د پراخ بنسټه دولت او مسلکي کابینې ( اهل کار وزیرانو صاحبانو ) په شتون کي د یوې بلې زړه بوږنوونکي پېښې څخه خبریږو ، دا ځل داسي ښکاري له عامه ولس چې هم د دولت ځینو وزیرانو ته کتلي وي ، او له هغوی نه یې زده کړه کړې وي. ځکه دوی به هم وایي چې وزیر صاحب لا دومره اقتصادي ستونزي لري چې په تنخوا یې ښه نه کېږي او د تاریخي اثارو په کاروبار ځان چلوي نو موږ خو هر سړی وینې چې دلته په دې کنډوالو کي څو شپې تیروو . د خدای پر مځکه او سیږو !؟

د هلمند ولایت له والي ښاغلي ملا شیرمحمد اخند زاده او دهغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور له ښاغلي ریس څخه په کلکه غوښتنه کوم چې دهلمند په ښکلي ولایت کښې دي د هیواد دتاریخي ودانیو او زړو کلاوو او د هغه سیمې د تاریخي اثارو په ساتنه کي کلکه پاملرنه وکړي. او په هلمند کښې د بست فرهنګي ټولني او په هغه ولایت کښې نور لیکوال ، فرهنګیان او ژورنالیستان باید په دې اړه رښتیني مالوماتپه بېلابېلو خبري رسنیو او خپرونو کښې خپاره کړي او ددې ترڅنګ یې د یونسکو ادارې ته ولیږي.

نه غواړم خبره ډیره اوږده کړم ، نن د ۱۳۸۳ لمریز کال د کب د میاشتي پر څلورمه نېټه د پژواک خبري اژانس د یوه ازاد خبریال له خوا لاندني خبر خپور شو : ښاغلي محب روښان داسي لیکلي و:

*دغصبوونکو لاس دبست دتاریخي کلاګربوان ته هم ورسېد*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند ، د بُست کلا په تاریخي سیمه کې چې، ۲۵۰۰ کاله لرغونتیا لري ، ۱۱۷ کسانو غیر قانوني کورونه او د کوکنارو کروندې جوړې کړېدي.

د بُست تاریخي کلا ، شاوخوا ۲۵۰۰ کاله لرغونتیا لري چې ،د ډاکتر نجیب الله د حکومت له ړنګېدو راهیسې یې شاوخوا تاریخي سیمه د هستوګنې په کورونو او د کوکنارو په کروندو اوښتې ده.

دغه لرغونی ښار د اویستا یې بسته وئیري له نامه سره تړاو لري چې، د ګشتاسب وراره او د زریر زوی وو. د بُست ښار په شپږمه میلادي پېړۍ کې د هفتلیانو پلازمېنه وه او وروسته ساساني لومړي خسرو له هغو څخه بېرته لاندې کړه.

بُست ښار په اوومه مېلادي پېړۍ کې د زابل او رخج د واکمن رتبېل د واکمنۍ پر مهال د عربو د یرغلونو په وړاندې له ډېرو ټینګو او محکمو ښارونو څخه ګڼل کېده.

او س د همدې ښار په پاتې شونو کې د بُست شیشک ،د بُست لښکربازار او جنګي کلا تر سترګو کېږي.ځینې قبرونه هم دلته پاتې دي چې، د ۵۰۰-۲۰۰ هجري قمري کلونو پخواني ډبرلیکونه لري

پدې هکله د اطلاعاتو او کلتور رئیس جانګل خان وویل: (( زه نوی موظف شوی یم ، او وظیفې ته د راتلو سره سم مې ، د بُست کلا د تاریخي کمان د ساتلو لپاره، د یوې ډلګۍ عسکرو امر واخست او اوس هلته وظیفه اجرا کوي. ))

د هغو کسانو په اړه چې، په دې تاریخي سیمه کې یې ځمکې نیولي ، د اطلاعاتو او کلتور رئیس وویل چې، د ۱۱۷ کسانو نومونه یې والي ته وړاندې کړي چې، تر اوسه یې پر خلاف هېڅ ګام ندی پورته شوی.چې، نومړي یې اندېښنمن کړیدی : د اطلاعاتو او کلتور رئیس ددې ولایت د نورو تاریخي کلاګانو یادونه داسې وکړه: (( بې له بُست کلا څخه ،۴۰ نورې تاریخي کلاګانې هم لرو چې، هغو ته هیچا پام ندی کړی او دولت خو لاپرې خبر هم ندی !. ))

د بُست کلا د بیا رغونې په اړه د اطلاعاتو او کلتور رئیس وویل: (( د موسسې لخوا د زرګونو ډالرو خبر مې اورېدلي دی او والي هم ویلي چې، یو ملیون افغانۍ مرسته یې د بُست کلا د ترمیم لپاره کړېده ،خو درک یې چې، چېرې مصرف شوې ،ندی معلوم.

یو تن ۲۳ کلن ځوان عبد الصمد روحاني چې شاعر او په هلمند کې د سباوون FM سیمه ییزې راډیو خبریال پاتې شوی دی،د بُست کلا د سترګو لیدلی حال داسې بیان کړ: (( هرڅوک پر خپل سر د بُست کلا تاریخي خښتې وړي چې، د راګرځېدو سړی یې نسته ! ))

د هلمند ولایت والي شېرمحمد اخونزاده ،د د اطلاعاتو او کلتور د رئیس جانګل خان د ټولو خبرو د منلو ترڅنګ د تاریخي ځایونو د ارزښت په هکله و غږېد او زیاته یې کړه: ((

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر ملک تاریخ د تاریخي شیانو او ځایونو پواسطه معلومېږي ،زه دې خلکو ته حیران یم ،دا څنګه افغانان دي چې ،خپل ریښې پخپله وهي او د یوه جنایت پرځای دوه جنایته کوي چې، یو د تاریخي ساحې لاندې کول دي او بل پر دغه مځکه ، د کوکنارو دبدنامه او ناروا کښت کرل دي !؟))

ده، نو موږ دې خلک د پردیو دلاس آلې وبللې او ګواښ یې وکړ چې، ژر ترژره به تاریخي سیمه له لاندې کوونکو کسانو ، پاکوي.خو دا یې په ډاګه نکړه چې، څه مهال؟

ددې خبر تر لوستلو وروسته د سړي سترګو ته دوې خبرې درېږي:

۱ - کله چې مو ښاغلي ولسمشر ځان کاندید کړی و ، نو یې په پرله پسې توګه دا خبره تر ټولو ډېره کوله چې( زه به د افغانستان ملي ګټې ساتم ، خیانت به له منځه وړم ، عدالت را منځته کوم او ...... )

۲ - کله چې نږدې یو کال مخکې په هیواد کې د تاریخي اثارو د غلا په اړه پر وزیرانو نیوکې وشوې او تورونه پرې ولګېدل خو بیا هم نه چا په دې اړه څه رڼا واچول او نه هم دومره څوک پیدا شو چې له ښاغلي وزیر صاحب څخه په دې اړه پوښتنه وکړي. اوس ګیله له چا وکړو ؟

## چې مشر یې غومبر شي اختر یې ماځیګر شي(23)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استرداد اشياي باستاني افغانستان نشانه كمال حسن نيت دو كشور است

[اينجا مصاحبه ايست از وزير اطلاعات و كلتور كه ادعا دارد اثار تاريخي افغانستان فعلاً هم به خطر مواجه است، ببينيم كه وزير در محدوده خود چه كرده او چه افتخاراتيكه را كمايي كرده؟، بعداً مقاله هاى ديگري هم ميخوانيد كه كار اين وزارت را به ما نشان ميدهد.]

افغانستان كه در پي سقوط طالبان و روي كار آمدن دولت حامد كرزي دوران بازسازي خود را مي‌گذراند ، همچنان با مشكلاتي مثل قاچاق اشياي عتيقه و حفظ آثار به جا مانده از گذشته خود دست و پنجه نرم مي‌كند. تا آنجا كه به حفظ و احياي ميراث فرهنگي افغانستان مربوط مي‌شود ، اساس كار چنانكه دكتر سيد مخدوم رهين وزير فرهنگ و اطلاعات افغانستان مي‌گويد ، «مهم اين است كه در مرحله اول آنچه را كه مانده است حفظ كنيم و بعد به فكر دوباره‌سازي و از اين جور مسايل باشيم.»

برخي خبرها حاكي از آن است كه قاچاق اشياي قديمي با سرعتي پرشتاب‌تر از گذشته پي گرفته مي‌شود. روزي نيست كه سر و كله نشانه‌هاي فرهنگ كهن افغانستان در مغازه‌هاي عتيقه‌فروشي لندن و نيويورك پيدا نشود.

در همين حال حفاري‌هاي غير مجاز نيز در افغانستان ادامه دارد و گاهي در اين فرايند قاچاق‌چيان مواد مخدر دست قاچاق‌چيان آثار عتيقه را مي‌فشارند.

روز پنج‌شنبه هياتي از افغانستان با حضور حامد كرزي رئيس جمهور و دكتر عبدالله عبدالله وزير امور خارجه افغانستان در مجموعه فرهنگي تاريخي نياوران گرد آمدند تا 298 شي باستاني كه به‌صورت غير مجاز وارد خاك ايران شده بود را از سيد محمد بهشتي رئيس سازمان ميراث فرهنگي كشورمان تحويل بگيرند.

دكتر رهين كه به همراه كرزي در مجموعه فرهنگي تاريخي نياوران حاضر بود ، در فرصتي كوتاه به سؤالات ميراث خبر پاسخ داد كه در پي مي‌خوانيد:

298 شي تاريخي افغانستان را از ايران تحويل گرفته‌ايد ، در اين خصوص چه نظري داريد؟

به عنوان وزير فرهنگ و اطلاعات افغانستان مي‌توانم بگويم كه اين اتفاق از اهميت فوق‌العاده‌اي برخوردار است و نشانه كمال حسن نيت حكومت و ملت مسلمان ايران و

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت و ملت مسلمان افغانستان (افغان) است.

مسجمه‌هاي باميان بودا توسط طالبان نابود شد. اما بقايايي از اين مجسمه‌ها هنوز برجا مانده است. در همين حال بحث‌هاي گوناگوني هم پيرامون اين مسئله وجود دارد و مشخص نيست دولت افغانستان براي اين مجسمه‌ها چه تصميمي گرفته است. سرنوشت اين مجسمه‌ها چه خواهد شد؟

در صدد حفظ بقايا هستيم. چرا که همين بقايا نيز در حال انهدام هستند. در همين حال در کنار مجسمه‌هاي غول‌پيکر بودا مغاره‌هايي وجود دارد که نشانه‌هايي از ارزشمندترين آثار هنري باستان را در خود جا داده است. اما بسياري از اين مغاره‌ها نيز نابود شده است و ما بايد سعي کنيم بازمانده آن‌ها را نيز نجات دهيم.

گفته مي‌شود در دولت افغانستان کساني حضور دارند که مي‌گويند مجسمه‌هاي بودا بايد دوباره ساخته شود، در همين حال برخي از باستان‌شناسان برجسته جهان مثل باستان‌شناسان يونسکو اعتقاد دارند که نبايد مجسمه‌هاي بودا دوباره ساخته شوند چرا که در اين صورت آن‌ها ديگر يک اثر قديمي نخواهند بود. شما در اين باره چه نظري داريد؟

در اين باره بين باستان‌شناسان و اهل هنر اختلاف نظر وجود دارد. باستان‌شناسان يک حرف مي‌زنند و اهل هنر حرفي ديگر. اما آنچه ما بايد در اين مرحله انجام دهيم، حفظ بقاياي اين مجسمه‌ها است. ما در حال حاضر قصد داريم تکه‌هاي موجود را ترميم کنيم و دوباره کنار هم قرار دهيم. تازه در همين مرحله بازسازي نيز نظرات مختلفي وجود دارد که با يکديگر فرق مي‌کند. اما به هر حال مهم اين است که در مرحله اول آنچه را که مانده، حفظ کنيم و بعد به فکر دوباره‌سازي و از اين جور مسايل باشيم.

-آيا دولت افغانستان موافق دوباره مجسمه‌هاي بودا هست؟

نظر شخصي من اين است که اگر اين مجسمه‌ها دوباره ساخته شوند، مجسمه‌هاي تازه‌اي خواهند بود و مجسمه‌هاي قديمي از بين خواهند رفت.

-در حالي که حکومت طالبان در افغانستان سقوط کرده است، اما خبرها حاکي از آن است که قاچاق اشياي عتيقه با سرعت زيادي ادامه دارد. افغانستان براي رفع اين مشکل چکار کرده است؟

بله. متاسفانه همين‌طور است، غارت آثار عتيقه ادامه دارد. اما دست مديران بسته است، چرا که هزارها محوطه باستاني در سراسر افغانستان وجود دارد، که رسيدگي به همه آن‌ها در حال حاضر ممکن نيست. بسياري از محوطه‌هاي باستاني در فضاي آزاد قرار دارند و نمي‌شود جلوي همه حفاري‌هاي غير مجاز را گرفت.

-به خاطر اين گفت‌وگو از شما متشکريم. (24)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب الله ـ غمخور
مالمو سویډن ۲۰۰۴ ـ اګست ۴

# د هیواد له فرهنګي او تاریخي اثارو څخه ملاتړ

څه موده پخوا د انترنت د یوې پاڼي په مټ "په کابل کې مرموزې پلټنې" تر نامه لاندې یو په زړه پورې مطلب خپور شو. د دمطلب لیکونکي د موضوع په هکله دخپلو سترګو لیدلی حال لیکلی و چې د هر ویونکي وجدان ته یې ټکان ورکاوه. په هیواد کې د پردیو په لمسون د کورنۍ جګړې د پیل نه بیا تر همدې او سنیو شېبو پورې زموږ وطن په خرابو بدل، تر دوه ملیونه زیاتو افغانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ، له یو ملیون زیات معلولین او معیوبین افغان ولس ته په میراث پاته شول، د افغان له توره بخته دا لړۍ او افغان وژنه همدا اوس هم روانه ده.

که افغانستان په فزیکي لحاظ له خاورو سره برابر شو او ښارونه کنډواله شول، نو فرهنګي او تاریخي ارزښتونه یې هم د جنګسالارو، ټوپکسالارو او هیواد دښمنو له لاسه په امان کې پاته نه شول. نه یوازې دا چې موزیمونه چور او تالا شول پر خپل سر کیندنې شروع او تاریخي اثار یې په بهرنیو بازارونو کې وپلورل شول او یا د مذهبي تنګ نظرو له خوا د پردیو په لمسون او هڅونه- له منځه ولاړل.

دهغو تاریخي او فرهنګي اثارو شمېر چې د جنګسالارو او فرهنګ دښمنه واکمنانو له خوا په بهر کې پلورل شوي او یا خپلو بهرنیو بادارانو ته ډالۍ شوي، شمېر یې هیچا نه دی معلوم او نه به معلوم شي، ځکه دا سې څرګندېږي چې دا واکمنان به تر ډېره په دې جنګ ځپلي هیواد کې د افغان ولس پر اوږو د قدرت پر ګدۍ ناست وي او دخپل قدرت او واک ساتلو لپاره په خپل ټول توان او طاقت، په زیاته سپین سترګۍ تلاښ کوي، ځکه همدا علت دی چې د حقیقت په ویلو ناارامه کېږي.

که د سپیڅلي وجدان خاوند دا مقاله چې ( د کابل د ښار د خواجه صفا په زیارت کې پلټنو ) مسئله چې د مطبوعاتو د قانون او اساسي قانون په اساس دهغه مکلفیت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې چې هر افغان یې لري لیکل شوې ده، ولولې دابه ورته څرګنده شي چې د لیکوال هدف د خپلسریو بربنډ مثال او د تاریخي اثارو دغلا کولو مسئله د چارواکو غوږونو ته رسول او په هغو د افغان ولس خبرول و، خو دا د دې باعث وګرځیدل چې دافغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزیر دومره هیجاني او خپه شو چې آن یو غښتلی لیکوال، ژورنالیست او د پیژندل شوي فرهنګي ټولني مشر ښاغلی عبدالاحمد محمدیار یې بې له دې چې هر څه باید د قانون له مخې سرته ورسیږي په خپل زور، تنظیمي شناخت او اړیکو څخه په استفادې سره په کابل کې لویې څارنوالۍ ته راوغوښت چې له هغه نه به همدا نن ۲۰۰۴ م کال د اګست څلورمه د دویمي ورځي لپاره سوالونه کیږي.

سوال پیدا کیږي:

۱ _ که چیري د خواجه صفا په زیارت کې پلټني خپلسري او غیرقانوني وي او د اطلاعاتو او کلتور ښاغلی وزیر له هغه نه خبر نه وي اوس خبر شو، باید ددغه شان فرهنګي غلو مخه ونیسي او د مقالې له لیکوال څخه مننه وکړي.

۲ _ که چیري ربښتیا هم ښاغلی وزیر صاحب اویا دهغه تنظیمي یارانو چې د کابل او په هیوادکې دهیواد د اوسنۍ بې امنه حالت نه په استفادې سره هر څوک پاچا او امر دی دوی هم موقع غنیمت بللې، دغه نژدې په کابل کې پاته شوي فرهنګي اثار چور چپاول او په بهر کې یې خرڅ کړي. په دې صورت کې نه یوازي د دې مقالې لیکوال بلکې هر هغه څوک چې د هیواد له فرهنګي ارزښتونو څخه دفاع کوي اوهغه د افغان ولس تاریخي او ملي افتخارات او پانګه بولي، نه یوازي لویې څارنوالۍ ته راوغوښتل شي او زندان ته په لیږلو تهدید- بلکې کله کله لکه دوی چې عادت کړی مرموز یې له منځه وړلای شي. تر څو چې دا واکمنان وي افغان ولس او د افغانستان د فرهنګ او تاریخي اثارو ملاتړ کوونکي به چو په خوله پاته نه شي.

۳ _ په هر حال، سره له دې چې له پورته نه تر کښته ټول چارواکي د قانونیت، خوندیتوب اوعدالت ناري سورې وهي، د مطبوعاتو دازادۍ او ډیموکراسۍ ډبره پر ټټر ټکوي په یوه وړه خبره چې هغه هم درواغ نه، بلکې حقیقت دی یو ژورنالیست او لیکوال په ۲۴ ساعتو کې له کندهار څخه کابل ته عاجل وغوښتل شو . ایا په کندهار کې د مرکزي حکومت دڅارنوالۍ چارواکي او اداره فعالیت نه لري؟ ایا هلته پر هغو کارکوونکو چې په دولتي څوکیو کې کار کوي اعتماد نه شته چې د وزیر صاحب د شخصیت د اعادې دا ډول مسئله دي وڅېړي اودفاع دي وکړي؟ ، ایا د قانون پلې کول یوازي اویوازي په کابل کې شونی دي؟، دا په خپل ذات کې دا مانا لري ګویا مرکزي حکومت په ولایتونو کې کوم واک نه لري هر څه سمبولیک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ _ که په ربښتیا هم د مطبوعاتو ازادي په نسبي توګه وي؟ او که هر افغان دا دنده لري چي د خپل هیواد او فرهنګي ارزښتونو او تاریخي اثارو څخه دفاع او ملاتړ وکړي، بیا نو ولي د ښونوا فرهنګي ټولني له مشر ښاغلی محمدیار سره دا ډول سپک چلند کیږي؟ په دې باید هر څوک پوه وي یو پښتو متل دی چي وایي 'په یوه څپېړه د زرو مخ خوږیږي' او یا وایي چي 'په زور کلي نه کیږي' موږ له بهر څخه وینو چي هره ورځ دکابل په خپرو شویو مطبوعاتو کي داسي لیکني او په لیکنو کي داسي جملې، نومونه او اصطلاحات د یو شمېر چارواکو او آن د ولسمشر په نوم او ادرس خپریږي چي په هیڅ اخلاقي نورم او د مطبوعاتو په ژبه کي یې د استعمال جواز نه شته، هلته ولي د اطلاعاتو او کلتور ښاغلی وزیر چوپه خوله پاته وي او له څارنوالۍ څخه د مقالې د لیکوال څخه د تحقیق غوښتنه نه کیږي ؟

ممکن علت یې دا وي چي دا چارواکي چي دکابل په ځینومطبوعاتو کي یې سپکاوی کیږي په یوه لوی او ځینو ته د نه زغملو وړ پښتون قوم پوري تړلي وي او اوس خو هر څوک خپل لاس پر پښتنو پاکوي او ځان ته دا جرئت او اجازه ورکوي چي د پښتو او پښتنو په وړاندي یې هرچي څه زړه وغواړي هغه سرته ورسوي.

د ساري په توګه که دا عادي، خوار او بې دفاع پښتانه وي چي په ولایاتو او کلیو کي ژوند کوي هغه د طالب او طالبانو د ملاتړو په نامه ځپي او که چارواکي وي او دهغوی سپکاوی کیږي، نو دا دلیل راوړي چي: 'در کشور ازادي مطبوعات است برادر هر کس حق دارد هر چیزي که بخواهند میتواند بنویسد' ، زه وایم: 'بلې برادر، پشتون لیکوال و ژورنالیست نیز حق باید داشته باشد هر کسي که میخواهد افتخارات تاریخي و اثار فرهنګي را به غارت ببرد رسوا سازد و در مطبوعات داخلي کشور و بیرون از مرز مطالب و مقالات به نشر بسپارد'.

زما په نظر که په یوه او بله بهانه د پښتو ژبې او یا بلې هري ژبې ویونکي چي حقیقت وایي او هغه په خپلو لیکنو کي انځوروي او د بې استحقاقه چارواکو کړنو او درغلیو ته ګوتنیونه کوي په یو او بل شکل تهدید او چوپتیا ته اړ ایستل کیږي، پایله به یې زړه بوږنوونکې وي. په غټ ګومان فکر کیږي چي دا ټول کارونه او دسیسې د یوه سنجول شوي پلان او پروګرام له مخي تر سره کیږي.

موږ نه غواړو د افغان دښمنه کسانو په کړنو او دښمنیو نور قومونه له ځانه خپه کړو، ځکه په دې ښه پوهیږو او ټینګ باور لرو چي دا ډول کسان په خپلو قومونو او سیمو کي هم په خلکو کي کوم اعتبار او عزت نه لري، خو له بده مرغه تر اوسه لا هم تنظیم، قوماندان او جنګسالار مسلط دی، ځکه هغوی چوپه خوله پاته دي. دا ورځ هم، ژر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که لیري راتلونکې ده چې افغان ولس د ټولو قومونو او ژبو ویونکو د صبر کاسه به ډکه شي یو متل دی چې وایي 'چې په د بګ کي وي، په کاسه کي به ټول راڅرګند شي' په دغو حساسو شېبو کي چې له ټولو درغلیو سره سره د ولسمشرۍ لپاره ټولټاکني راروانې دي او په مخ کي یې بیا د ملي شورا لپاره د ټولټاکنو د سیاسي مبارزې میدان یو په بل پسې تودیږي، د دا شان خپلسریو پښتون دښمنه عملونو مخنیوی د ښاغلی حامد کرزي یوه ملي او وطني دنده بولو، کنه دا ځل به ملک په یوه بل اور کي کباب شي او د لمبو دودونه به یې د ټولي نړۍ د ازار سبب وګرځي.(25)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر رحیم ګل افغانمل

# موږ د اطلاعاتو او کلتور یو ملي وزارت غواړو

ما به یو وخت په ځینو خپرونو کې د اطلاعاتو او کلتور د اوسني وزارت په باب زیاتې لیکنې لوستلې چې ګواکې په کارونو او چارو کې یې ځینې نیمګړتیاوې شته، نیمګړتیاوې څه چې سترې تشې په کې ترسترګو کېږي، خو په خپله مې نه وو تجربه کړي، دومره ډاډمن هم نه وم چې دغه وزارت دې د افغاني ژبې (پښتو) او (افغانانو) په وړاندې دومره حساسیت ولري.

له بده مرغه چې نن سبا پښتانه په افغانستان کې دننه او بهر په دفاعي حالت کې دي، په دې چې دښمنان یې په زور کې دي او ټول هڅه کوي، چې دغه قوم ورک، ژبه یې سپکه او ځوانان یې ورټي، ویې غندي او د پرمختګ لار یې ډب کړي. زه بیا هم خوښ یم چې نن سبا هغه د چا خبره د ډیموکراسۍ څپه راروانه ده، په دې برخه کې به زیات کسان تونند غبرګون ښیي او نه به یې مني، ځکه چې د دوی جنایتونه به رسوا کېږي او په دې توګه خو خلک کولای شي دوی د محکمې او حساب و کتاب مېز ته راکش کړي. ځکه نو دوی له خپلو امکاناتو څخه په ګټه اخیستلو کوښښ کوي د دې سېلاو مخه ونیسي.

څه موده وړاندې ښاغلي کرزي د اطلاعاتو او کلتور وزیر ډاکټر سید مخدوم رهین ته د سید جمال الدین افغان مډال په دې ویاړ ورکړ، چې دغه وزارت د خپل کار په دوران کې زیات خدمتونه کړي، له زیاتو هېوادونو سره یې غوره فرهنګي اړیکې نیولې او داسې نور... خو زه نه پوهېږم چې د پښتو ورکاوی او ورسره د میرې چلند خدمت دی؟ او ایا یوازې له ایران سره د فرهنګي اړیکو غزول د دې هېواد لپاره ویاړ دی؟

یو وخت د یوه رسمي کار لپاره دغه وزارت ته ورغلی وم، هورې مې په یوه شعبه کې یو پښتون کارکوونکی ولید، چې هماغه شېبه راسره بلد شو. ما هم ګومان کاوه چې په دې وزارت کې به لږ تر لږه په سلو کې پنځوس پښتانه وي، نو ځکه مې عریضه هم په پښتو لیکلې وه، خو ما ولیدل چې یو هم نه ورباندې پوهېده، زه اړ شوم چې هر یوه ته یې یو ځل ولولم او ورته ویې ژباړم، دلته زما هغه هېوادوال هم راسره مرسته وکړه، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې به ځینو کارکوونکو یو ډول پردی سلوک را سره کاوه. هسې خو ما انګېرلې وه چې که نور څه نه وي د دې وزارت زیات کارکوونکي به په پښتو پوهېږي، ځکه دا خو د ټول افغانستان استازیتوب کوي، په دې چې که په نورو وزارتونو کې د ژبې اندول دومره مهم کار نه وي، دا وزارت خو باید چې دغه اړخ په پام کې ونیسي. خو ما هلته احساس کړل چې د دوی سلنه تر اتو هم کمه ده، یانې پښتانه کارکوونکي یې په سلو کې اته هم نه دي.

هغه اشنا مې خپل ډک زړه راته تش کړ، چې سخت یې ودردولم. زه وپوهېدم چې یاره دا دومره زیاتې لیکنې چې پر دې وزارت راځي او نیوکې ورباندې کوي، هسې بابولالې نه دي، په رښتیا چې دلته هماغه لوبه روانه ده. خو تر هرڅه وړاندې به د ننښتر مجلې له پاڼو څخه څو کرښې راواخلو، چې پر همدغه وزارت نیوکه کوي، ځکه دغه وزارت اوس مهال (د کمکیانو انیس) خپرونه په (انیس کودک) بدل کړ، چې دلته په دې خپرونه کې لیکوال د ګیلې په ډول وایي: "... تاسې د ډیموکراسۍ چیغې وهئ، ایا ډیموکراسي دېته وایي چې د یوه ملت نیم ماشومان دې دا حق ونه لري چې په خپله ژبه لوستل وکړي؟ ایا ډیموکراسي دا ده چې د ملت بودجه دې په فرهنګي چارو کې د ځینو لپاره مصرف شي او د ځینو لپاره نه؟..." [ننښتر، لومړی کال، دریېمه او څلورمه ګڼه، (تله- مرغومی)، 1382ل کال، پنځم مخ، د ډاکټر سید مخدوم رهین په نوم یو پرانیستی لیک].

دغه راز د پخلاینې اوونیزې پرله پسې څلور پنځوسمه ګڼه کې چې د 1383ل کال د غبرګولي پر دېرشمه نېټه خپره شوې ده، په نهم مخ کې د (چرا وزارت اطلاعات و کلتور ملي نداشته باشیم؟) تر سرلیک لاندې یوه لیکنه راغلې چې په پیل کې یې د هغه دوه ورځني سیمینار پر منځپانګې خبرې کړي، چې څو میاشتې وړاندې د همدغه وزارت په نوښت رابلل شوی و او پر ملي مسایلو په کې بحثونه کېدل. دلته یادونه شوې چې د دې سیمینار په ترڅ کې پر یوه قوم ملنډې ووهل شوې او په زغرده یې سپکاوی وشو، د ملي نفاق اور ته په کې لمن ووهل شوه. دلته به یې یوه برخه وژباړو:

"...د اطلاعاتو او کلتور وزارت ملي کېدل یوازې دا نه دي چې د افغانستان ټولو مېشتو قومونو ته دې برابره ونډه ورکړل شي، بلکې تر ټولو مهمه دا ده چې لږ تر لږه دې د کلیدي پوستونو په وېش کې دواړو ملي ژبو (پښتو_دري) ته برابره او متوازنه ونډه ورکړل شي، خو موږ وینو چې د افغانستان په راډیو ټلویزیون کې له یوې رسمي ژبې سره ناوړه چلند کېږي او ګردسره څنډې ته کړې یې ده، موږ ولیدل چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر مشرتابه لاندې سیمینار راغوښتل کېږي، چې په کې یو قوم سپک کېږي، د ډیموکراسۍ او د بیان د ازادۍ تر شعار لاندې له دولتي ټلویزیون څخه توهین امېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې خپرېږي، چې لامل يې بايد په نوموړي وزارت کې د ملي جوړښت نشتوالی وښيو. د يوې شمېرنې له مخې په دې وزارت کې کليدي پوستونه په سلو کې اته داسې کسانو ته ورکړل شوي، چې له پښتو ژبې او کلتور سره يو څه بلد تيا لري، دا شمېرنه په هغو ادارو کې چې د کلتور په رغونه او پراختيا کې کار کوي، ډېره کمه ده، که دغه وزارت په دې کې شک ويني، مهرباني دې وکړي، د مهربانۍ له مخې دې اعلان کړي چې د پښتنو فرهنگيانو شمېره په کې څومره ده !...".

دا خو شوه د پخلاينې اوونيزه کې د يوې خپرې شوې ليکنې د يوې برخې ژباړه. موږ په عمل کې وينو چې دغه وزارت تر حد ډېر کار کړی، چې بايد سترگې وربانديې پټې نه شي (؟!)، دغه وزارت دومره زيات بنسټيز کارونه کړي، دومره ډېرې رغونې او سمونې يې کړي چې په هېڅ حکومت کې يې ساری نه ليدل کېږي، دغه وزارت موږ ته د ملي گالرۍ لوحه لومړی په هنرستان ملي افغانستان واړوله، وروسته يې دغه نوم په نگارستان ملي افغانستان بدل کړ، د افغانستان په ټلويزيون کې يې پښتو په نشت کې راوسته، خو بل پلو يې بيا ايراني فلمونه او ايرانۍ سندرې دومره زياتې کړې، چې سړي ته کله-کله د ټلويزيون په ليدو دا شک ولاړېږي چې ايا دا د افغانستان ټلويزيون دی، که د ايران؟ نو اوس تاسې ووايا ست چې ايا دا د دې وزارت له خوا يوه ډېره ملي هڅه نه ده؟ بيا نو وزارت په څه گرم گڼئ چې کار نه کوي؟

دغه وزارت د پښتنو ولايتونو ته رسمي مکتوبونه لېږلي او د دغو ولايتونو په دولتي خپرونو کې يې 30٪ دري ژبې ته حق غوښتی، موږ اوس وينو چې په زياتو دغسې خپرونو کې 30٪ سلنه ونډه دري ژبې ته هم ورکړل شوې ده. خبر شوم چې پر خوست مجلې يې هم دا شرط ايښی و، خو هغوی گيله کړې وه چې له موږ سره د دري ژبې ليکوال نه شته، د اطلاعاتو او کلتور وزير ورته ويلي وو چې موږ به ليکنې په خپله درکړو !کله چې خوست مجلې دا کار ستونزمن وگاڼه، چې د هرې گڼې د چاپ په وخت کې يو ځل وزارت ته راشي، ليکنې ترلاسه، بيا يې خپرې کړي، نو وزارت هم مالي سرچينه وربانديې ودروله او دا مجله يې په دې توگه بنده کړه، چې اوس نه خپرېږي.

خو موږ که د هرات اتفاق اسلام خپرونه وگورو چې يو توری هم په کې په پښتو نه خپرېږي، دغه راز په همدغو خپرونو کې له ملي ټرمينالوژۍ او نوي اساسي قانون څخه سرغړاوی وينو، نو دا گومان مو په ټينگ باور بدلېږي، چې رښتيا هم دغه وزارت ډېرې ساري خدمتونه کړي ! !؟؟

دغه وزارت ولې په کابل کې خپرېدونکو خپرونو ته يو معيار نه ټاکي، ځکه همدا اوس هم ځينې خپرونې (لکه پيام مجاهد، هفته نامهٔ کابل، پنجره او....) نه ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرمينالوژي مني، نه ملي هويت، د ژبو انډول خو پرځای پرېږده، دغه وزارت چې پښتو خپرونو ته پارسي ليکنې ورکولای شي، ايا نورو خپرونو ته هم پښتو ليکنې برابروي او که يوازې د يوې ژبې د خدمت او پراختيا غم ورسره دی؟؟

دغه وزارت به د شمال له هغو مېشتو پښتنو سره څه کوي چې په خپله ژبه له وېرې خبرې هم نه شي کولای، په پښتو خو به يو توری هم څه نه شي خپرولای. ځه خير دا خو هم د دغه وزارت لپاره يوه پلمه ده، چې وبه وايي هورې ټوپکسالاران حاکم دي او د دوی زور نه ورباندې رسېږي ! !. همدا په کابل کې دې مور ته راوښيي چې څو پښتو مجلې يې تاسيس کړي، دغه وزارت دې داسې پښتو مجلې يا نورې خپرونې راوښيي چې دوی يې د دولت په چوکاټ کې د محبوبيت او پراختيا لپاره کار کړی وي، که وي هم معيار به يې دومره ټيټ وي، چې په يوځل لوستلو به هم نه ارزي.

څه موده وړاندې خبر شوم چې دغه وزارت اوس بل نوښت ته هم لاس غزولی، هغه دا چې زموږ پښتنانه ليکوال اوس ښارنواليو ته هم ورمعرفي کوي او دوسيې ورپسې جوړوي. مبارک دې شه افغان ولسه ! د اطلاعاتو او کلتور په دې ملي وزارت ! ! موږ اورېدلي وو چې کلتور وزارتونه او رياستونه له ليکوالو او فرهنګيانو سره ځانګړې مينه لري او دوی ته تر خپلو وزرونو لاندې ځای ورکوي کار او زيار ته يې هڅوي، خو دا مو نه وو اورېدلي چې ليکوالان ښارنواليو ته ورکش کړي. موږ نه يو خبر چې له څومره نورو پښتنو ليکوالانو څخه به يې قلمونه اخيستي وي او په تورو نظارت خانو کې به يې اچولي وي !؟

د هوسۍ مجلې چلوونکی د ټوپکوالو له خوا وټکول شو، ووهل شو، دا ځکه چې ده په خپل او ځينو نورو دوستانو په لګښت پښتو مجله راباسي، دوې اوونۍ تېرې نه وې چې ښارنوالۍ ته وغوښتل شو، ده ګومان کاوه چې څوک به يې د تېرې پېښې څېړنه کوي، ټوپکسالاران به غندل کېږي او د يوه ليکوال د حق ناره به پورته کېږي، خو هلته ښاغلي رهين ورته دوسيه جوړه کړې وه، چې ګواکې د هوسۍ مجلې چلوونکي ورپسې داسې ليکنه کړې، چې ګواکې رهين تاريخي اثار غلا کړي، خو کله چې صالح ورته هوسۍ مجله وښوده چې دا ده په دې نامه کومه ليکنه دلته په دې مجله کې نه ده خپره شوې او ده نه ده ليکلې، نو د نورو ګډو وډو پوښتنو په ترځ کې د مجلې راجسټر په باب ځنې پوښتنې وشوې، چې ولې راجسټر نه ده، خو کله چې صالح ورته د مجلې راجسټر پاڼه وښوده، ښارنوالانو نيوکه درلوده چې دا ولې په دې وروستيو کې راجسټر شوې، دا دومره وخت ولې ځنډېدلې ده؟

په ښاغلي رهين پسې څه ليکل دومره ستره ګناه ده چې بايد په تور يې موږ نور بېګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ببوسه لیکوالان څارنوالیو ته کش کړو؟ ښاغلی رهین به که خدای کول د ټوپکسالارانو په مرسته بله ورځ په پېښور کې خپرېدونکې سهار ورځپاڼې ته هم دغسې دوسیه جوړه کړي، ځکه چې په دې ورځپاڼه کې هم داسې یوه لیکنه خپره شوې، چې د همدغه ښاغلي په باب وه!

دا دی د اطلاعاتو او کلتور وزارت ملي هڅې چې د بیان ازادی ته یې لاره اواره کړې او د افغانستان ملي ژبو ته په یوه سترګه ګوري او دواړو ته پراختیا ورکوي. زموږ د کلتور وزیر خو په خپلو ښو کارونو کې یو دا هم ډېر یادوي چې ګواکې په افغانستان کې یې د لومړي ځل لپاره د بیان ازادي پلې کړې او لیکوالو ته یې دا زمینه برابره کړې ده، چې په ازادانه ډول قلم وچلوي او له بشپړې خپلواکۍ څخه برخمن شي.

موږ د هېچا پلوي نه کوو، بلکې له خپل هېواد، ژبې او کلتور سره مینه لرو. ما پخوا اورېدلي وو چې پیام مجاهد خپرونه په کلتور وزارت کې نه ده راجستر شوې او نن سبا چې د ټولیزو رسنیو (مطبوعاتو) قانون توشیح شوی، نو دا خو یو غیرقانوني کار دی، خو باور مې نه راته، ځکه چې ما دا ګڼل دغه وزارت به ټولو ته په یوه نظر ګوري او توپیر به نه کوي، خو یوه ورځ موقع په لاس راغله، کله چې مې د دغه وزارت د راجستر شویو مجلو او نورو خپرونو لیست ولوست، په هغو کې مې د پیام مجاهد نوم ونه لید، خو دغه وزارت د هوسۍ پر راجستر کېدو سربېره د ښاغلي شاه زمان ورېځ ستانیزي په واسطه صالح ته په کراتو کراتو زنګونه ووهل او له هغه څخه یې د راجسترېشن اصلي پاڼه وغوښته، دوی دلیل درلود چې ګواکې په دې پاڼه کې کومه تېروتنه ده! خو کله چې د راجستر پاڼې یوه کاپي وروړل شوه چې تېروتنه یې په ګوته کړي، دوی ورته ویلي وو چې موږ ته اصلي پاڼه راوړه، موږ غواړو چې د راجسترېشن اصلي پاڼه درکړو، دا پاڼه چې تاسو ته درکړل شوې، د راجسترېشن اصلي پاڼه نه ده، اصلي پاڼه یې غټه دی، چې پښتو، دري او انګرېزي لري او....

واه، واه! زموږ زړونه به څنګه نه چوي چې اوس د یوه وزارت په کچه د پښتو او پښتنو پرضد داسې غیرقانوني اقدام کېږي! زه به دلته د مړوند مجلې راجستر پاڼه هم ستاسو مخې ته کښېږدم چې له هوسۍ سره یوځای راجستر شوې، تاسې وګورئ چې ایا مړوند مجلې ته د راجستر داسې پاڼه ورکړل شوې، چې پښتو، دري او انګرېزي لیکنې لري او که د هوسۍ مجلې له راجسترپاڼې سره توپیر نه لري؟ ایا د هغوی په پاڼه کې هېڅ یوه غلطي نه شته، یوازې هوسۍ دا تېروتنه لري؟ بله دا چې ښاغلي ستانیزي صالح ته دا ګواښ هم کړی و، که چېرې دی د راجستر اصلي پاڼه نه وروړي، دوی به یې بیا څارنوالۍ ته ورمعرفي کړي او سخته سزا به ورکړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ښاغلی عبدالاحمد محمدیار د ښاغلي رهین په ځانګړي امر له کندهار څخه کابل ته راوغوښتل شو او څارنوالۍ ته وروستل شو ، نو دا خبره نوره هم جوته شوه چې دغه وزارت اوس شخصي تربګنیو او دښمنیو ته هم ملا تړلې ده، زموږ کارنده ځوانان نه شي زغملای، غواړي چې په یو نه، یو ډول زموږ فرهنګي بیا رغونه شنډه او د پرمختګ لار یې ډب کړي. کله چې یې له ښاغلي محمدیار څخه څه ترلاسه نه کړل او وزیر په کې ملامت شو ، نو امر یې وکړ چې بېرته دې لاړ شي، نه یې بخښنه ترې وغوښته، نه یې هم د نورو افغانانو شکونه لیرې کړل، چې د ښاغلي رهین په باب یې درلود.

د ښکلا مجلې د راجستر پر وخت یې هم محمدیار ته ویلي وو چې وزیر امر کړی چې د صالح چینل (پښتو خپرونو ) ته دې هېڅ د راجستر زمینه نه برابرېږي، نه دې هم همکاري ورسره کېږي. د صالح چینل څه مانا ؟ ایا دی کوم سیاسي شخص دی، کوم سیاسي ګوند لري او که د دې هېواد نه دی؟ خو ښاغلي محمدیار چې ټول قانوني پړاوونه یې بشپړ کړي وو ، دا خلک په ډېره سختۍ سره قانع کړل چې د قانون په چوکاټ کې ښکلا مجله راجستر کړي.

دا دی د یوه هېواد د کلتور وزارت ! چې په ټول عمر یې همدغه ورډ خدمتونه کړي دي ! دا دی د افغاني کلتور روزنځی، چې له دې ځایه به له خیره زموږ د کلتوري او ټولنیزې ودې لپاره لارې چارې برابرېږي، خلک بیا ولې ګیله کوي چې ګواکې د اطلاعاتو او کلتور وزارت کار نه کوي، یا یې د خدمت کچه ډېره ټیټه ده؟؟ ! !

د ملي ټرمینالوژۍ بېخ و بنیاد به له خیره وایستل شي، تاسې په تمه واوسئ یو وخت به د اشخاصو نومونه هم واړول شي، ملي ارزښتونه به هم له خیره د کرکې په دوړو او ګردونو کې پټ شي او په سیاسي سازشونو کې به د هېواد ټول تاریخي ارزښتونه هم لیلام شي. نور به یوازې پښتانه افغانان بلل کېږي، نور خلک به "افغانستانیان" شي، د هېواد نوم به دې هم "خراسان کبیر" یا هم "اریانای بزرګ" شي. نور نو له دې وزارت څخه څه غواړئ، ایا همدا یو ملي خدمت نه دی؟

هو رښتیا ؛ نن سبا خو "ملي" توری دومره وشاربل شو چې نور نو د خلکو ترې کرکه کېږي، په هرڅه کې ملي یووالی غوښتل کېږي، که څوک د هېواد پرضد هڅه هم کوي، په کې "ملي " توری ډېر یادوي، خو دا شعار یوازې تر الفاظو محدود وي، نه یوازې عملي جنبه او عملي اړخ نه لري، بلکې پرضد یې چلند کېږي.

موږ د خپلې لیکنې په سرلیک کې ځکه دا توری کارولی، چې موږ یې رښتینې بڼه غواړو ، موږ یې عملي جنبه غواړو ؛ دا دی ټولټاکنې راروانې دي، موږ غواړو چې په دې ټاکنو کې په خپله خوښه داسې یو زعیم وټاکو چې هغه دې دغه (ملي ) توري ته عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامه ورکړي، موږ په همدې نوښت او بدلون کې د اطلاعاتو او کلتور یو داسې وزارت غواړو چې په کې د تعصبونو لمبې بلې نه وي، داسې وزارت نه غواړو چې پښتانه لیکوال او فرهنګیان مو ځارنوالیو ته ورکشوي او پښتو خپرونو ته خنډ پېښ کړي، موږ داسې وزارت غواړو چې د زړه له اخلاصه ټولو ژبو ته حق ورکړي او د ټولو ودې ته لارې چارې وسنجوي.

په پای کې د افغاني فرهنګي ټولنو د ګډې جرګه ګۍ یو احتجاجي لیک هم دلته رااخلم چې په دې وروستیو کې خپور شوی دی، له همدې سره به لیکنې ته هم د پای ټکی کښېږدو:

## د افغاني فرهنګي ټولنو د ګډې جرګه ګۍ احتجاج لیك

پښتو او دري دواړه د افغانستان رسمي ژبې دي. دواړه حق لري چې برابر کار ورته وشي. په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت مکلف دی، چې په خپلو ټولو مطبوع او برېښنایي خپرونو کې دواړو ژبو ته برابر کار وکړي او وده ورکړي.

زموږ هېوادوالو په تېرو دوه نیمو لسیزو کې په هېواد کې دننه او له هېواده بهر ډېرې بدې ورځې تېرې کړې دي. په کار خو دا وه چې د ۲۳ کلنو جګړو او بدو ورځو په تېرېدو، هېواد ته د ډیموکراسۍ او نوي حکومت په راتګ سره زاړه تعصبونه، کرکې او کینې هېرې شوې وای، مینې، ورورولۍ او ملي وحدت ته هېوادوال هڅول شوي وای. خو له بده مرغه چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت داسې ونه کړل، دوی لومړی د وزارت په تشکیل کې له پښتنو سره له دښمنۍ او تعصب څخه کار واخیست. د وزارت نوم یې بدل کړ او د اطلاعاتو او کلتور وزارت ټولې اړوندې لوحې یې هم له پښتو نه واړولې، سره له دې چې دا د پښتو ژبې منل شوی حق و، د دې لپاره چې اکثره مکتوبونه په پارسي لیکل کېدل، نو د ادارو لوحې او د رسمي سندونو او مکتوبونو لوحې پښتو وې چې د دواړو ژبو رسمیت وساتل شي.

د دغه وزارت په جوړښت کې هم له پښتو سره له ژور تعصب څخه کار اخیستل شوی دی. ریاستونه یې ټول دري ژبو ته ورکړي دي، که څه هم ځینې پښتانه مرستیالان او رئیسان لري، خو دا هم په پښتو ژبې پسې خندا ده، ځکه دوی قصداً هغو تش په نامه پښتنو ته ځای ورکړی، چې یوازې تخلص یې پښتو دی او پښتنو ته منسوب دي، نور نه په پښتو خبرې کولای شي او نه لیکل او لوستل.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت باید داسې کسان په دندو ګمارلي وای، چې له مسلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره- سره د یوه قوم د ژبې او کلتور نمایند ګي وکړي ، لیکوال وي او د پښتو او دري ژبو د انډول ساتنې وړتیا ولري.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په دې دوه نیمو کلونو کې د پښتو لپاره هېڅ کار نه دی کړی او ان په اکثره وختونو کې یې د پښتو پر ضد ګام پورته کړی دی، په ځانګړې توګه په ټلویزیون پورې اړوند ټول کارونه د پښتو او پښتنو پر ضد دي.

دا سې فکر کېږي چې دا د کابل نه، بلکې د ایران ټلویزیون دی او یو څه خپرونې د دري ژبو افغانانو لپاره هم لري او کله- کله یو ه نیمه خبره په کې په پښتو هم وي.

د راپور راوړلو لپاره پښتنو سیمو ته هم دري ژبې ژورنالیستان لېږي، چې په ګډه وډه او غلطه پښتو ژبه راپور ورکوي، حال دا چې په راډیو ټلویزیون ریاست کې له دوی سره ښه تکړه او غښتلي پښتانه ژورنالیستان شته، خو وخت نه ورکوي، چې دا کار هم له پښتو ژبې سره لوی خیانت بللای شو.

د ښاغلي رهین له وزیر کېدو سره سم پښتو په ټلویزیون کې دویمه ژبه او ورو- ورو ببخي په نشت و شمېرل شوه.

د ټلویزیون په پرده کې چې کوم سمبول جوړ شوی هغه هم یوازې په دري او انګرېزي دی.

په لنډ ډول به یې و وایو چې د ټلویزیون په هېڅ پروګرام کې د پښتو انډول نه ساتل کېږي، حتی ځینې پروګرامونه پښتو برخه هېڅ نه لري او ځینې یې چې لري، هغه هم ډېره کمزورې او تش د نمونې لپاره ده.

د راډیو- ټلویزیون لپاره چې د ښاغلي حامد کرزي له خوا کوم کمیسیون جوړ شوی و، هغه په خپلو چارو کې په بشپړ ډول ناکام دی، هېڅ لاسته راوړنې نه لري.

موږ دواړو ژبو (پښتو او دري) ته د متناسب او قانوني حق غوښتونکي یو، موږ د ملي وحدت د پیاوړتیا لپاره د پښتو او دري تر منځ د انډول ساتل، په تعلیمي او حکومتي ادارو کې هغوی ته مساوي برخه ورکول د قانون عملي کول ګڼو، نو له همدې امله موږ پښتانه لیکوال له دولت څخه غواړو:

ــ لکه څنګه چې اساسي قانون پښتو د لومړۍ ژبې په توګه ثبت کړې، همداراز باید دولت عملاً د پښتو رسمي مقام ته درناوی وکړي، تثبیت یې کړي او کوم حقونه چې لري ورېې کړي.

ــ د اطلاعاتو او کلتور وزیر باید داسې څوک وټاکل شي چې نه یوازې په پښتو او دري پوه وي، بلکې د دواړو ژبو لیکوال وي.

ــ د نشراتي مرسسو رئیسان او مرستیالان باید په یوه وړ تناسب وټاکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ پـه ځـانګړې توګـه د ټلويزيـون رئـيس چې د خپـل تعصب او بې کفـايتۍ امتحـان يې وکړی، بايد ژر تر ژره له دندې ګوښه شي او پرځای يې يو ربښتينی افغان چې پر ملي وحدت او ملي ګټو ايمان ولري، وټاکل شي.

که زموږ دا غوښتنې ونه منل شي، زموږ احتجاج به د قانون په چوکاټ کې لـه ليکنـي ډول څخه عملي لاريونونو او لوړو مقامونو تـه، ان د يونسکو نړيـوالې ادارې تـه چې د ژبو حق ساتلو مسووليت لري، د ورتللو بڼه غوره کړي او موږ بـه خپلـو دغـو هڅـو تـه پـه ملي او نړيواله کچه د بري تر وخته دوام ورکړو:

1. هېواد کلتوري ـ ادبي ټولنه
2. ګوربت کلتوري ټولنه
3. بغلان ادبي بهير
4. قلم ادبي ټولنه
5. ميوند کلتوري ټولنه
6. د ځوانو ژورناليستانو ټولنه
7. لغمان ادبي بهير
8. استقلال ادبي ټولنه
9. د بُست فرهنګي ټولنه
10. زرمت ادبي بهير
11. د هوسۍ مجلې اداره
12. د ښځې غږ فرهنګي انجمن
13. د ښکلا نشراتي اداره
14. پښتو ادبي غورځنګ (پکتيا )
15. اريوب کلتوري ټولنه
16. سورغر ادبي يون
17. کندوز ادبي بهير
18. پکتيا ادبي بهير
19. د بلخ فرهنګي مرکز
20. ننښتر خپرنۍ اداره
21. د تندې مجلې اداره
22. افغان ادبي بهير
23. د شيخ متي ؒ ادبي ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



24. پښتو ادبي یون
25. زلمي اداره
26. د کونړ ادبي بهیر
27. د خوست کلتوري اداره
28. رشاد کره کتنه
29. د ځوانو قلموالو انجمن
30. سلايي خپرونه
31. ننګرهار ادبي بهیر.(26)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابلی والا ـ هند

# نوې کابینه ملې کابینه ده که مسلکې؟

په افغانستان کې خوښاغلي کر زي خپله په اصطلاح مسلکي کابینه له سختو کړکیچونووروسته دلویدیزو والودسیالۍ له توپانه په امن سره راویسته، نژدې یوه دوي میاشتې ددغه توپان اوسیلاب له پاره لکه دافسانوي اواساطیري ښاماردراتلو خبرې اوهنګامې له هرې خوا رااوریدل کیدې ، هرچا به فکرکاوه چې ددغه توپان اوسیلۍ پایله خوبه خامخا یوځه وي. خولکه چې له امریکا دباندې سیاسي څارونکوپخواوړاندوینه کوله (چې هم هغه زوړ ملا اوزړې ... ) ترډیره حده سمه راوخته، په دې مانا چې ښاغلې کرزي اوپه افغانستان کې امریکایې ویسرای ښاغلې خلیل زاد په خپل ټول توان سره ونه شوای کولای چې دافغانستان دملې ګټو په پام کې نیولو سره دي یوه ملې اوپه ریښتنې مانا مسلکي کابینه رامنځ ته کړي، زه نه پوهیږم چې له مسلکي توبه دښاغلې کرزي مطلب څه دی؟ که مسلک داوې چې یوسړی دښه مزی اوچاغ وي نودهغه مانا داده چې هغه دخوراکې شیانو په مزه اوخوند ښه پوهیږي نوهغه باید دخوراکې توکونواوارزاقووزیروي ، اوکه هد ف داوي چې یوچا ټول عمرله بریښناپرته یوه ورځ هم ژوندنه وي کړی نوهغه دبریښنا په مزه پوهیږې اودبریښنا مسلکې انجنیردی اویایوڅوک چې دخپل ملت په رسمې ژبه نه پوهیږې هغه باید دکلتوروزیروي. اوپه همدې شان که چا دکابل په طب اویانورو غیررسمي کالیجونوکې یوازې دلیسانس دوره په ځوبیلابیلو وقفوسره ویلې وې نوډاکتر ورته ویل کیږې، په دغه حال کې خبره سمه ده موږ به هم خوله پټه ونیسو اوهم به دا وایو چې ښاغلي کرزي په ریښتیاهم مسلکېي کابینه جوړه کړه مبارکه دې وي!! خویوشمیر بیا داهم وایې چې بس په دغه یوڅوخبرویوه ناکامه اداره اوکابینه په کوم لحاظ سره سړی مسلکې وبولې، له بلې خوا په هرځای اوهروخت کې دمسلک مانا داده چې یوڅوک باید په هماغه خپله څانګه کې دومره (شی) وي چې که ډیرڅه یې نه وي ترسره کړي نولږترلږه یونویاودپاملرنې وړکارخویې کړی وي اوهغه خوباید خلکو ته معلوم وي،مسلکي کسان له ښاغلې کرزي څخه پوښتنه کوي چې ته دله خپلویوشمیروزیرانوڅخه پوښتنه وکړه چې دوی دغه ټکې ته څه ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري ؟ اوکه دانه وې اجازه خلکوته ورکړه چې ویې پوښتي چې دوې په دغه برخه کې څه ځواب لري. مطلب مې دادی چې دغه کابینه په هیڅ ډول مسلکي کابینه نه ده په دې چې په اوسنې کابینه کې یوشمیروزیران داسې هم دي چې دوی په خپل مسلک کې ناکام شوي وو ځکه یې سیاست بازیو ته ورمخه کړې او اوس یې هلته دمسلک ماسک پرخپل مخ راکش کړی دی .اوکه نه وي تاسې ددوی تعلیمې سوابق وګورئ، چې آیاپه دوې کې کوم یوه ددغه مسلک له پاره ورړدی چې اوس یې وزیران یې دي. دوی کیدای شي په یوه برخه کې تعلیمې ډیپلوم ولري خوداچې اوس په کوم وزارت ټاکل شوی له هغه ډیپلوم سره یوهم سم نه دی. یوازې کیدای شو ووایو چې داد سیاست بازی له مسلکه پرته بل څه نه دی. زه فکرکوم یوشمیرښاغلي وزیرصاحبان به هم انشاالله په دغه برخه کې له ماسره هم نظره وې ځکه دوی ته خپله ورتیا په خپله ښه معلومه ده !

ښاغلی کرزی اویاران یې که زموږ مسلکیانو منې باید داخبره ونه کړي چې دوی په رښتیاهم مسلکې وزیران ټاکلې داخبره سمه په دې نه ده چې په اوسني سیاسې نړۍ کې وزیران کله هم مسلکې نه وو اونه دي آن دایرغلګرامریکایې واکمنان وګورئ چې دباندنیوچارو وزیرکولن پاول یې ښه سیاست پوه دی که ښه جنرال ؟ اویاداچې نن سبا یې دانوې میرمن(رایس ) په دغه څوکۍ باندې راځې ، هغې سیاست چیرې ویلې؟ هغه دترهرڅه دمخه دګنګل پرمخ یوه پیژندل شوې رقاصه ده. موږ په دې نظریو چې ددغې کلیمې کارول دنړۍ په سیاسې قاموس کې ورځای نه لري ، نوزموږ دهیواد دکابینې له پاره دانوم یادول په خپله له یوې لاپې پرته بل څه نه دي. اوکه دانه وای نواشرف غني احمدزي به په دغه حساس وخت کې له خپل تجربې مسلک ( مطلب دا چې دهغه هم اصلي مسلک نه و ، خوداڅوکاله یې دومره تجربه په کې موندلې وه چې ترمسلکې هم زیات و ) به اوس کابل پوهنتون ته چې دعلمې اوعملې اسانتیاوو درک په کې نشته نه استول کیده.دایوه دنه منلو وړ خبره ده چې دمالیې دوزارت له اجازې پرته به ښاغلی احمدزی یوډالر هم په پوهنتون باندې ولګولای شي ، اوکه فرضا په خپل واک داکاروکړي زه باوري یم هغه ټاپه چې په اسماعیل خان اونوروبآندې وهل شوې وه هغه به پرده هم لګیږي اوپه دغه نامه به ملي ضد ورځچاري یاران نوهم دپیاوړتیا جوګه شي .

لنډه داچې دمسلک مانا یعني ( کارپوهنه، ایمانداري ، خدمت اواستعداد په یوه علمي برخه کې )

دویمې خبرې ته راځو اوهغه دا چې ایاداکابینه یوه ملې کابینه ده ؟

افغانستان په خوراسختوحالاتوکې راښکیل شوی هیواد دی، ددغه هیواد ملې واکمنې دډیرو ورو ورو خبرو ترسیوري لاندې هرچاته داسې ښودل کیږي چې ګواکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال ځواکونه دلته پراته دي اويوشميرورته کښته او پورته کيږي اوپه افغانستان کې ګواکې خيرخيرت دی ، موږ دنړيوالوقوانيو اوملګروملتو دهرچال چلند اومنشور هره ماده اوهرپراګراف منو، خودابه ډيره ګرانه وي چې دملګروملتو په نامه دې يوټاکلې هيواد لکه امريکا زموږ دملت اوخلکو په برخليک باندې دنړيوالې ټولنې په نامه هغه کارونه وکړي چې هغه دهرډول انسانې اوزموږدافغانې خپلواکۍ دملي نورمونو ضد وي.تيره اوونې دامريکاپوځي مامورينو په ډاګه کړه چې دوی به زموږ په هيواد کې ديوې اوږدې مودې له پاره پاتې وي. وايې چې ديوچا کورته يوڅوک چې ددغې کورنۍ ماما کيده په ميلمستا ورغی، هغه دومره دلته پاتې شو چې کوروالايې په تنګ کړل ، په کورکې که به ماشوم هم وژړل، نودابه يې دده له ژړا سره ويله چې خيردی مه ژاړه ماماجان دې هم په خيرسبابله ورځ روان دی ،ماماته بې څه موده همدا تبليغات وکړل خوپه دغوهم نه شوه، ترڅوچې ما ما په تنګ شو، اوپه ډاګه يې وويل چې ، داخبرې ګټې نه لري ، مامادې تلونه دې دهغه دلته شپې دي..

دری کاله امريکايې پوځونه دافغانستان په جنوب اوختيزکې پراته دي اوچې څه يې په زړه ورجوړه شې هغه کوي، نه يې د ښځو ،نه د ماشومانوپه وژنولاس ونيو اولاخته دي زموږ پرملت دهرې ورځې په ترڅ کې نوې نوې طرحې اوتجربې عملي کوي، په زندانوکې وژنې اوپه بټوابرالاتوګه ديوشمير کسانو ځورول اوله هغوی سره معاملې کول داهغه ورځنی پروژې دي چې امريکايي په افغانستان کې عملي کوي اوددغه هيواد خلکوته آجازه نه ورکوي چې دخپل هيواد په باره کې فکروکړي، نن سبا دلته په لوديديز خلک په ډاګه داوايې چې افغانستان يعني دامريکا مستعمره ، اوداسي يوهيواد چې په نژدې راتلونکې کې به دغه هيواد(افغانستان ) دامريکايانو له لاسه په يوه داسې ناسورداغ باندې واړوي چې په سيمه کې به يوګاونډی هم دآرامې احساس ونه کړي اوله لاسپوڅوافغانانو به داسې شيان جوړکړي چې ټوله اسلامې نړۍ به ترستونې راولې اوکه بياچيرې په امريکا باندې کوم غضب راپريواته نو بيا زموږ وږې ګاونډې لکه ليوان زموږ پرملت باندې هغه ناروا وې زغمې چې له تصوره به لرې وي. لاس پوڅې به بياهم د دويم تابعيت په نامه دامريکايانو داوږو بازان وي اوزور به يې له مومنوافغانانو وځي .په افغانستان کې اوسنۍ کابينې وښوده چې هرڅوک سره ږيره ولري هغه به ملاشاه ګل وي ، هرڅوک چې امريکا ته ولاړ هغه دسرټوب اوپوهې معيارشو، نه ، په اوسنۍ کابينه کې داسې وزيرهم شته چې دډاکترۍ ترڅنګ په امريکاکې دهوټلدارۍ ډيپلومه لري يووخت کې يې په امريکا کې ټولو خلکو ته ويل چې زه تر هغې دوکتورا دغې اوسنۍ دهوټلدارۍ ډيپلومې ته ارزښت ورکوم ،خوله بده مرغه چې هغه ښاغلي ته دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوښې له ديپلوم سره دنده نه ده ورسپارل شوې. په هرصورت داډول خبرې شته خوزما اوس افسوس په دې راځي چې دولت بايد خپلو دغو وزيرانو ته ددوی دنويو ديپلومو په پام کې نيولو سره دندې ورسپارلې وای ، اوسنۍ کا بينې ته په ملي لحاظ يوه جدي کتنه په کارده . زه خوپه دې نظريم چې  داضروري نه ده چې هروزير بايد ياله امريکا ديپلوم ولري اويا يې بايد راوابط له امريکا سره وي ، داهغه تجربه ده چې روسانو  په افغانستان کې دوې لسيزې دمخه ترسره کړه اوهغه په خپلې ناکامۍ سره اوس امريکايانوته ورميراث شوې ده، دايوه ناکامه طرحه ده اوهمدغه ټکې دی چې ډېرخلک خوپه هيڅ ډول ديوې ملې کابينې نوم نه شي ورته اخيستې .اونه زموږ له پاره په ملي لحاظ کومه بريادرلودای شي.که څوک ددغوکسانو ټاکل دملې مصلحت پربنسټ اقامه کوي داهم يوه لويه تيروتنه ده. ځکه دوې مخکې تردې چې دملت دباوروړ کسان وي ديوه خارجې ځواک په اشاره اوخوښه ټاکل شوې اوغوره شوي دي. په اوسنۍ کابينه باندې چې څومره جنجالونه د امريکا ، انګريزانو اوداروپايې اتحاديې ديوشمير هيوادو له خوا ترسره شوې دا دافغانستان مظلومو اوجنګ وهلو خلکو ته هيچاهم ورپه ګوته نه کړل ؟

بله داچې دې کابينې ته به څوک په کوم ژبه يوه ملې کابينه ووايي چې دافغانستان داکثريت (پښتنو ) ښځو په استازيتوب يوه ميرمن هم په کې  وزيره نه شوه، که هدف داوې چې په پښتنوښځوکې داسې څوک نشته داهغه کينه اودښمني ده چې په تيره يوه لسيزه کې دپښتنو په وړاندې ترسره شوه اولا هم په خپله دښتنو په وجود کې پرپښتنو باندې عملې کيږې ، ښاغلې کرزی بايد دغه ټکې په خپله ځواب ورکړي او کنه دابه هغه کينه وې چې پښتنو ښځوپه پښتنې سيموکې دپښتنې ننګ په نامه ده ته رايه ورنه کړه اويوې ميرمنې ته يې چې دده په مقابل کې کانديده وه رايه ورکړه.

لنډه داچې زموږ ملت يوستراووياړلی ملت دی ، يوتاريخي ملت دې ، چې دهيچا کړه اونيتونه ددوی په وړاندې پټ نه شي پاتې کيدای. دوی دخپل ملت دبرخليک دسمبالتيا په کارکې ترهرچا ښه اورښتيانې قاضيان دي. دوی ته بايد رښتياوويل شي اوددوی دايمان اوافغانيت له روغ نيتۍ څخه بايد ناوړه ګټه وانه خيستل شي. موږ هيله من چې زرترزره به يو ملې وجدان اوقضاوت داسې هم  رامنځ ته شې چې هلته يوڅوک داوسنۍ کابينې په وړاندې دابوښتنه طرحه کړي چې کوم وزيرکوم مسلک لوستی آياپه دغه اوسنۍ مقام، مسلک ټاکلی اوکه دنورو په غوښتنه اومصلحت يې يوازې دغه ځای نيولی دئ !؟

*( پاک الله په هرهغه څه چې موږ نه پوهيږو ښه پوهيږي ) !*(27)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامه رسیده

## [پیام مجاهد]

ارسالی: امید نوری

به اداره محترم هفته نامه وزین پیام مجاهد !

درین وروز ها انتظار آن برده مي شود که پس از اعلام نتیجه انتخابات هجدهم میزان آقاي "حامد کرزي" کابینه جدیدي را اعلان نماید.

مردم درین انتظار اند ؛ تا ببینند ، آقاي "حامد کرزي" که از ماه ها بدینسو تشکیل دولت ائتلافي را مردود شمرده است، چطور مي تواند کابینه یکدست تشکیل دهد ، در حالي که در سایر کشور ها ، احزاب سیاسي تنها از عهده این امر برآمده مي توانند ، چیزي که آقاي حامد کرزي فاقد آنست. همچنان اشخاص علاقه مند به تحولات سیاسي افغانستان مشتاق اند ؛ تا ببینند که میان دولت ائتلافي و دولتي بگفته کرزي براساس مشارکت ملي بوجود مي آید چه تفاوت وجود دارد ؟

این انتظارات چیز غیر معمولي نیست، بل در همه یي کشور ها وقتي انتخابات صورت مي پذیرد ، چنین مسائلي را بهمراه مي آورد ؛ اما براي آگاهان امور ، وضعیت شماري از اعضاي کابینه کنوني بسیار دلچسپ است، زیرا شب و روز خود را صرف آن مي دارند تا نسبت به حضور خویش در کابینه آینده اطمینان حاصل نمایند.

وزیراني که در انتخابات موقف آشکاري داشتند ؛ خیال راحت تري دارند ؛ ولي نگراني بیشتر وزیراني را فرا گرفته که طي سه سال پسین هم به نعل زده اند و هم به سم. که درین میان بنا بر برخي گزارشات آقاي "سید مخدوم رهین "گوئي سبقت را از همه ربوده است.

جناب "سید مخدوم رهین "که در سال هاي جهاد که اسلام گرایي در افغانستان به اوج رسیده بود و مرز هاي قومي وزباني را لدمال کرده بود ، به تعصبات قومي دامن مي زد. آن عده مجاهداني که در جبهه نجات ملي در آن روزگار عضویت داشتند ، بخوبي به این مسئله آگاهي دارند. موصوف وقتی براساس سازشنامه بن به مقام وزارت اطلاعات و فرهنگ رسید ، یک بازي دوگانه را در پیش گرفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سري هم به "کرزي خان" داشت و سري هم به "فهيم خان"، به او چيزي مي گفت و به اين چيزي ديگری در محفلي سخن از جهاد و مجاهدت ميراند و در انجمني هم از غرب و غرب سالاران. دستش با تسبيح و لبش با پياله بود. آنجا در مذمت مجاهدان سخن مي گفت جايي هم با بدگويي از دوران سلطنت به مجلس آرايي مي پرداخت.

اکنون ديده است، همه تيرهايش بخاک رفته و نامش به پنسل هم نگاشته نشده، بقول معروف در چارسو مانده است. نه فهيم خاني است، تا دستش را بگيرد نه صدای "شوراي شهروندان کابل" بجايي ميرسد و نه هم آقاي حامد کرزي فريب مي خورد. تنها راهي که براي خود سراغ ديده است، تجديد آستان بوسي شاه سابق افغانستان می باشد. ازين رو چند شبي است که رفتن به اقامت گاه شاه را نسبت به خانقاه ترجيح داده است؛ تا مگر گشايشي در کارش پيش آيد.

هرچند شاه سابق افغانستان در دوره پسين نشان داده که نمي خواهد با سفارشات خود کسي را بر دولت تحميل نمايد و مشکلي برای دولتمردان ايجاد کند بويژه پشتيباني از سيد مخدوم رهين آسيب شديدي بر اعتبار او وارد مي آورد، با وجود آن بايد انتظار کشيد که رهين با چه چرب زباني و تملق حمايت شاه را کسب کرده می تواند و به کابينه راه مي يابد و يا خير؟ مهم اينست که درين بازي يک پيروز وجود دارد- رهين يا شاه سابق؟(28)

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوث الدین فروتن، کندهار

## د کرزي د کابینې تر ټولو بده څېره

## د سهیل لوېدېځې حوزې د ادبي ټولنو د اطلاعاتو کلتور وزارت پر تېر کاري بهیر احتجاجي غونډه وکړه

د روان کال د سپټمبر په ۲۷مه دماښپین په ۴ بجو په کندهار کې د افغان مطبوعاتي مرکز اینې په انګړ کې دسهیل لوېدیځ زون دادبي ټولنو له خوا د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر تېرنیمګړي کارې بهیراحتجاجي غونډۀ جوړه شوه.




په پیل کي د غونډې اجنډا دمیوند مجلې مسئول مدیر عبدالنافع همت لخواوړاندي شوه، ده د خپلو خبرو په ترخ کې وویل : "افغانستان له کلونوکلونوراهیسي دژوند په هرډګرکي درانه زیانونه لیدلي چه ترټولو زیات زیانونه یې کلتوراوفرهنګ ته اوښتي دي. ده زیاته کړه چه داطلاعات وکلتوروزارت مسئولیت لري چې زمونږ حق راکړي اومونږ هم دځان په اړه مسئولیت لروچې دخپل حق غوښتنه وکړو. داساسي قانون له مخي دولت مکلف دی چه دپښتواودري ژبودمتوازن انکشاف لپاره کاروکړي، خوله بده مرغه چه تراوسه نه دولت اونه هم داطلاعات وکلتوروزارت په دې اړه کوم مثبت ګام اخیستی دی، کله چه څوک دکابل ټلوېزیون خپروني ګوري نوکټ مټ لکه دایران دکوم ښارګوټي ټلوېزیوني چېنل چه وي اویادیوې سیمي دخلکو لپاره ځانګړی شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملي ټرمينالوژي په اړه بايدووايوچه دافغانستان ملي ټرمينالوژي دمختلفوژبوله الفاظوڅخه جوړه شوې لکه لېسه،قول اردو ، دارالمعلمين، اکاډمي، پوهنتون اوداسي ... دپښتو ،دري،عربي،انګليسي،ترکي اوداسي نوروژبوڅخه اخيستل شوي همدارنګه داساسي قانون په ۱۲ماده کي راغلي چې دافغانستان ملي ټرمينالوژي دي پرخپل حال پاته وي اما ددې برخلاف مونږشعورا وينوچه دملي ټرمينالوژی په برخه کي په ځانګړې ډول له پښتوسره ستره جفاکېږي،هغه منل شوي الفاظ لکه پوهنتون، پوهنځی،ستره محکمه چه په پښتودي په دانشګاه،دانشکده، دادګاه عالي باندي اړول کېږي خو لېسه،قول اردو ، دارالمعلمين، اکاډمي اوداسي نورچې په نوروژبودي پرخپل حال پاته دي.

دمطبوعاتوپه برخه کي هم همداحال دی داطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا ځنيوهغو دولتي خپرونو ته چې په پښتو ژبه خپرېږي ويل شوي دي چې تاسو بايد په خپله خپرونه کې٪۳۰ فارسي مضامينو ته ځای ورکړی ،دبيلګې په توګه يې دخوست مجلې څخه ورته غوښتنه شوې وه خو دمجلې ادراې له دې امله چې فارسي ليکنې يې نه درلودې بخښنه غوښتې وه ، خو دوزارت له خوا ورته ويل شوي وه چې ليکنې موږ درکوو. اوس نو که چېرته داسي وي نو هرات ،مزار شريف اوداسي نورو سيمو په خپرونو کې هم بايد ۳۰ فيصده پښتو مضامينوته ځای ورکړل شي.

کله چه يوپښتون ليکوال يوڅه ليکي اوهغه هم پرحقيقت ولاړي ليکني وي په نه څه ځورول کېږي، دخپرونودبنديدوګواښونه ورته کېږي اوحتی ترمرکزاوڅارنوالی پوري غوښتل کېږي خونورکسان که هرڅه وايي يايې ليکي مخه يې نه نيول کېږي دبېلګي په توګه پيام مجاهد ،پنجره اوځيني اشخاص وايي اوليکي: کرزی جاسوس پاکستان، پښتانه بې فرهنګه دي، کرزی ناخوانده امضاميکنداوپه ټلويزيون کي په ښکاره وايي چه زه افغان نه يم او اساسي قانون نه منم ،اياداسي کسانواوملي وحدت ضدويناوومخنيوی داطلاعات وکلتوروزارت دنده نه ده؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟

دتاريخي اثاروپه ساتنه کي هم دموراوميرې چلندکېږي ديوې سيمي دتاريخي اثارودساتني لپاره هره وسيله په کاراچول کېږي خودبلي سيمي تاريخي اثاروته که څه هم په لوټ اوتالان يې خبروي هيڅ ياملرنه نه کيږي دبېلګي په ډول داحمدظاهرقبرجوړېږي خومتآسفانه داطلاعات وکلتوروزارت دملي اتلي ملالی د قبرجوړول خولاڅه کوې تراوسه ورغلي هم نه دي.

نوموږ داوايو چې نوموړی وزارت يو بې کيفيته وزارت دی او په راتلونکي کابينه کې بايد داطلاعاتو اوکلتور وزارت په يو ملي وزارت بدل شي اوده داسي کسانو چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعصبه ډک وي محه ونیول شي.

ورپسې ډاکترمحمد ابراهیم شینواري دخپلو خبرو په لړ کې وویل: دنیا اوس دیو نړیوال کلي حیثت غوره کړی او په دې نړیوال کلي کې به هغه قومونه فعال او ژوندي وي چې کلتور یې ژوندی وي په افغانستان کې دکلتور خبره مهمه ده خو متاسفانه دهیواد دکلتور په برخه کې له پښتو ژبې سره جفا شوې او په حقیر نظر ورته کتل شوي دي نو موږ غواړو چې خپل حقه حقوق تر لاسه کړو تر څو له خپلو حقوقو څخه بر خورداره شواودا زموږ حق ده او موږ ټولو قومونو ته دهغوی دمساوي حقونو دورکولو غوښتونکي یو .

وروسته عبدالاحمد محمد یار او حیات الله رفیقي په دې اړه خبرې وکړې.

دیادونې وړده چې په دې احتجاجي غونډه کې پر کندهار سربیره د روزګان ، زابل ،غزني او هلمند ولایتونوادبي ټولنوګډون درلودچې دغونډې په پای کې یې په ګډه یو پرېکړه لیک صادر کړچې په لاندې ډول دی.

د کندهار، زابل او هلمندولایتونو د فرهنګي ټولنو ګډ پرېکړه لیک

۱: د مرکز او ولایتونو په راډیو ګانو او ټلویزونونو کې دې دفارسي او پښتو انډول په پام کې ونیول شي

۲: د هیواد د ټولو سیمو تاریخي اثارو او ودانیو ته دې یو ډول پاملرنه وشي.

۳: د افغانستان د اساسي قانون سره سم دې د افغانستان ملي ترمینالوژي پخپل حال وساتل شي او د پردیو هیوادونو د ملي ترمینالوژی مخه دې ونیول شي.

۴: هغه ترانه چې د ملي سرود په ځاي کارېده د اساسي قانون تر تصویب وروسته لغوه ده نو باید چه نور د ملي سرود په ځای و نه کارېږي او ونه ږغول شي، ملي سرود چه په پښتوژبه دی باید ژرترژره جوړ شي.

۵: ددې لپاره چه د افغانستان دري لهجه وساتل شي د هیواد په تلویزونونو کې دې د ایراني فلمونو مخه ونیول شي.

۶: دافغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت دې داسې چاته وسپارل شي چه د افغانستان د ټولو ژبو د متوازن انکشاف لپاره کار وکړي.

۷: په کندهار کې دې د ملي اتلانو لکه ملالۍ او زرغونې آنا مقبرې جوړې شي.

۸: د هیواد په تلویزونونو کې دې هغه چاته اجازه نه ورکول کېږي چه د حکومت په افغاني هوئت، ملي وحدت او اساسي قانون باندې باور ونه لري.

۹: دافغانستان هغه خپروني دې بندې سي چې د قومونو تر منځ نفاق اچولو ته لمن وهي او په ملي اتلانو پسې بد رد وایي.(29)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد نسیم شفق لیکنه

## پر کېبلي ټلویزیون بندیز افغانان په غوسه کړي دي

د ستری محکمی د یوه نوي حکم پایله به د ولس مشر حامد کرزي له پاره د یوی نوی معما سبب شي.

د کیبلي تلویزیون او مطبوعاتو د آزادۍ د یو شمیر نورو پراخو موضوع ګانو په اړه ، د افغانستان په نوي انتقالي حکومت کی د جګړی کرښی د هغه څه په اړه چی ورته د سمون پالو او زاړه پالو تر منځ مقابله ویل کیدی شي ویستل شوي دي.

تیره میاشت په جلال آباد کی چی د هیواد په ختیځ کی موقعیت لري د یوه خصوصي ستیشن د بندولو د استیناف غوښتنی پر ضد ، ستری محکمی په ځواب کی د جنوری د میاشتی په پای کی، په ټول هیواد کی پر کیبلي تلویزیون بندیز ولګوه.

قاضي القضات مولوي فضل هادي شینواري وویل مذهبي مشرانو او ډلو شکایت کړی و چی دا چینلونه بربنډ او غیر اسلامي فلمونه ښیي.

هغه یوه ورځ وروسته دا موضوع تعقیب او پر بهرني تلویزیون او فلمونو یې د بندیز لګولو غږ وکړ چی پکښی د سپوږمکۍ خپرونی، وارد شوي ویدیویي فلمونه او سي ډي ګانی هم راځي. دا یو داسی ګام دی چی د سخت دریزه طالبانو د پنځه کلنی واکمنی یاد یې راژوندی کړ ، چی هغه مهال نڅاه ، موزیک فلمونه او د تلویزیونونو پر پیر او پلور بندیز لګول شوی و.

هغه وضع د ولس مشر حامد کرزي له خوا پداسی حال کی بدله شوه چی د مطبوعاتو او بیان د آزادۍ ژمنه یې وکړه چی د سپوږمکۍ د کاسو له پاره یې بیړه زیاته کړه. برسیره پر دی د کابل په سینماګانو کی سوداګري په درز سره پداسی حال کی روانه ده چی ځوان افغانان یعنی نارینه د هندي فلمونو د لیدو له پاره چی نڅاه ګانی ، سندری او موزیک لري ورځي.

د کرزي یوه ویاند جنګ او سولي راپور ورکوونکی ټولني ته وویل زه پدي تبصره نه شم کولی ځکه نه پوهیږم ولس مشر به د ستری محکمی سره موافقه کړی وي او که څنګه.

د سنما ګانو له غوړیدو سره د بالیوډ د وروستیو فلمونو او لوید یځوالو فلمونو سي ډي ګانی هم د کابل په کوڅو کی لږ تر لږه په یوه ډالر تر لاسه کیدی شي. د وروستیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپورونو په اساس که څه هم ځنیو دوکانونو ته د تړل کیدو حکم ورکړ شوی او په ولایتو کی ځینی گوښی حملی هم د دوی پر ضد شوي دي.

شینواري چی د مخه یي د نجونو او هلکانو د گډ تعلیم پر بندولو د ټینگار له امله ناندری رامنځ ته کړی وه. او پداسی حال کی چی افغانستان په زیاته پیمانه له دوو لسیزو جگړو وروسته پر بهرنی مرستی متکي دی ، هغه پر دی خبری هم په شدیده توگه حمله وکړه چی هغه یي پر افغانستان د لویدیځ د اغیز تحمیل بولي.

د اطلاعاتو او کلتور وزیر مخدوم رهین په چټکی سره د ځواب په ویلو ژمنه وکړه چی په څو ورځو کی به نوی قانون معرفي شي چی د کیبل خپرونکي به وکولی شي د نوم د ثبتولو سره خپلو خپرونو ته دوام ورکړي، حکومت ته به مالیه ورکړي او پر ځان پخپله د سانسور پر مراعات کولو سره دغه کود عملي کړي، خو په دی اړه تفصیل نه دی ورکړ شوی.

د رهین مرستیال عبدالحمید مبارز یو څو ورځی وروسته د جنگ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل: موږ د ستری محکمی له دغه حکم سره موافق نه یو.

هغه وویل: موږ د کیبلي تلویزیون په اړه په هغو غونډو کی چی د عدلیي وزارت استازی هم پکښی و موافقه کړی او مسوده هلته لیږل شوی. وروسته له دی چی د کابینی له خوا منظور او د ولس مشر حامد کرزي له خوا لاس لیک شي ، په مطبوعاتو کی به چاپ شي او هر څوک به وکولی شي کیبلي تلویزیون ولري.

هغه زیاته کړه کیبلي او د سیوږمکی کمپنی مثبت او منفي پروگرامونه لري. موږ باید له مثبتو پروگرامونو څخه گټه واخلو.

دا خبره واضحه نه وه چی پر خپرونو به بندیز وي او که څنگه، او دا به څه ډول شکل غوره کړي.

زلمی چی په جلال آباد کی د بند شوي کیبلي تلویزیون چلوونکی دی د جنگ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته یي ویل داسی یو بندیز لکه دا چی دی د مطبوعاتو پر آزادی حمله ده او داسی گامونه د دموکراتیکی واکمنی سره په تضاد کی دي.

هغه وایي موږ په قانوني توگه خپل ستیشن چلوا او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا د ټاکل شوي کمیسون مکتوب هم لرو. مونږ داسی خپرونی لرو چی خلک و نه شي کولی غیر اخلاقي شیان ووینی، موږ یوازی اطلاعاتي او تفریحي شیان خپرو. که چیری کیبلي تلویزیون بند شي نو حکومت باید ټولی هغه پیسی مونږ ته بیرته راکړي چی موږ پر دغی سوداگری لگولي دي.

په کابل د کیبلی خپرونو یو بل چلوونکی عبدالسمیع صامیت وایي دوی هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو له ړنګیدو وروسته له همدغه کمیسون څخه مکتوب تر لاسه کړی چی خپلو خپرونو ته دوام ورکړي او په دوامداره توګه حکومت ته مالیه هم ورکوي.

هغه وایي پر هغه څه چی مو سم لاسي موافقه نه ده کړی هغه د مالیي بیه ده، دوی د ګټو په سلو کی د ۳۰ غوښتنه کوله، خو مونږ د هغی پر نیمایي موافقه وکړه. موږ په لمړي سر کی له خپلو مشتریانو ۱۰۰۰ افغانی (۲۲ امریکایي ډالر) اخلو او وروسته بیا هره میاشت ۲۰۰ افغانی راکوي.

د ستری محکمی د ریس مرستیال فضل احمد معنوي د خپلی پریکړی دفاع کړی. هغه د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل: کرزي د دغه ګام ملاتړ کړی، او دا خبره یي تائئد کړه چی دا کار باید د سپوږمکی خپرونو ته هم وغزول شي، او ادعا یي وکړه چی کیبلي چلوونکي حق نه لري چی خپله سوداګري پر مخ یوسي. هغه دا خبره هم وکړه چی د ولس په غوښتنه دا ګام اخیستل شوی.

د بهرنیو فلمونو د واردولو په اړه هغه نرم دریځ غوره کړ، او ویلي چی هغه باید مخکی له خپریدو د اطلاعاتو او کلتور وزارت سانسور برخی ته وسپارل شي.

معنوي وویل: کیبلي تلویزیونه او د سپوږمکی خپرونی باید په بشپړه توګه بندی شي. زموږ هیوادوال باید دا درک کړي چی دا خپرونی د دوی اخلاق له منځه وړي ځکه چی د جنسي اړیکو ټکان ورکوونکي صحنی په کی ښودل کیږي.

هغه وویل: دا دولس مشر حامد کرزي سره په پوهاوي او موافقی بند شوي ځکه دا غیر اخلاقي او د اسلام د قوانینو سره مخالفت لري. موږ د خلکو د غوښتنو پر بنسټ دا بندیز اعلانو.

دا وینا د حاجي نور علي له خوا چی د کابل د مکرویانو په سیمه کی د ۳۰ کورنیو استازیتوب کوي چلنج شوه، او هغه استدلال وکړ هر هغه څوک چی غواړي غیر اخلاقي فلمونه ووینی نو سي ډي ګانی یي رانیولی شي.

هغه وویل: زموږ پروګرامونه شهرت لري او خلک له دی خبرو چی په نړۍ کی څه پیښیږي. زه پوهیږم چی دا ۳۰ کورنی چی په ۱۱۳ بلاک کی اوسیږي غواړي د کیبل تلویزیون ووینی او هیڅ یوه یي هم شکایت نه دی کړی.

د کابل د پوهنتون یوه محصل کنیشکا د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل: که چیری حکومت دا سی ګامونه اخلي ، نو وضع به لا پس خرابه شي. نن پر کیبل بندیز ولګید ، سبا پر تلویزیون او بله ورځ پر رادیویي موزیک. نو زموږ د حکومت او طالبانو تر منځ به توپیر نه وي.(30)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رهين خيبر ټلويزيون نه غواړي

خيبر ټلويزيوني شبکه لومړنۍ پښتو نړيوالو شبکه ده، چې په پښتو خپروني کوي، ايله دا څو مياشتې وړاندې يې خپروني پيل شوې، چې په ټوله نړۍ کې ګڼ شمېر مينه وال لري. په ځانګړې توګه په افغانستان کې، چې خلک وايي د افغانستان د اوسني راډيو ټلويزيون خپروني يې تنده نه شي ماتولای.

د وږي (سنبلې) مياشتې په وروستۍ لسيزه کې د اطلاعاتو او کلتور وزير سيد مخدوم رهين په کابل کې د ټلويزيوني شبکو پر ټولو دفترونو امر وکړ، چې تر دې وروسته دې د خيبر ټلويزيوني خپروني بندې کړي، که چېرې يې بيا په کېبل کې دا ټلويزيوني شبکه وليده، نو پر دوی به نور بنديزونه هم ولګوي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي دا پلمه کوي، چې ګواکې په دې شبکه کې ځينې سياسي خپروني هم راځي، چې له افغانستان سره اړيکي لري. دا په داسې حال کې په همدې کېبلي شبکو کې درې څلور ايراني چينلونه هم خپروني کوي، چې په هغو کې هم سياسي خبرې اترې راځي، خو نه ده څرګنده چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ولې پر هغوی دا ډول بنديز نه لګوي؟

کتونکي په دې باور دي، چې رهين په دې ډول نه غواړي چې يو چينل دې په پښتو وي، ځکه چې دا وزارت يې په وړاندې د ميرې چلند لري. ځکه يې په کابل راډيو ټلويزيون کې د پښتو کچه ډېره راکمه کړې ده.(31)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر زرمتي، پکتیا

# ایا قاچاق وړونکي باید په کندهاري لهجه خبرې وکړي؟

زموږ یوه ګاونډي هغه وخت خپل رنګه ټلویزیون د مېز له سره راکوز او ټوټې - ټوټې کړ، چې ویې لیدل د خپل هېواد په ټلویزیون کې یې د ژبې سپکاوی کېږي.

پر ما هم نژدې دا ټوکه شوې وه، خو ولاحول والله مې وویله او د کمکي اختر د خوښۍ په شپو کې مې هغه دوه خواشینوونکي فلمونه تر پایه ولیدل، چې په کې زما د مورنۍ ژبې او هېواد د ځینو سیمو د ځانګړو لهجو سپکاوی له ورایه ښکارېده.

زما غونډې ښايي نورو هم دا فلمونه لیدلي وي، د ېرو به د بېوسۍ اوښکې تویې کړې وي. د ځینو به پر دې حالت چې یو ځل بیا زموږ د ښلوالي لپاره شعوري هلې - ځلې کېږي، له خولې ساړه اسوېلي وتلي وي. یو شمېر نورو ښایي د ناعاقبت اندېشه مسوولینو پر دغه کار خندلي وي او د ټلویزیون په لیدونکو کې به ښايي داسې کسان هم وي چې دغو فلمونو به یې په ذهنونو کې عقدې رامنځته کړې وي او وخت ته به ګوري. خو زه مې خپله دغه خواشیني له تاسو سره شریکوم.

هو ! د تېر کمکي اختر په ویاړ د کابل ټلویزیون له خوا فلمونو فستیوال په لړ کې د "زمین داغ" په نامه یو افغاني فلم هم ننداري ته وړاندې شو.

د فلم کیسه د مخدره موادو پر کرنه او قاچاق راڅرخي. په سیمه کې د مخدره موادو د قاچاق یوه ډله کار کوي، دوی له بهرنیو قاچاق وړونکو سره هم اړیکې لري. د مخدره موادو کرنه په سیمه کې هڅوي او بهر ته یې لېږدوي. د دغې ډلې قوماندان هیبت خانو په سیمه کې په نورو ناوړو کارونو کې هم لاس لري. پر یوې کلیوالې مېرمنې د ناوړه تېري نیت لري، چې د کلي یو بل اوسېدونکی (مومن) یې مخه نیسي. تر دې پېښې وروسته له مومن سره د هیبت خان دښمني پیلېږي، په دې منځ کې د قلندر زوی چې په مخدره موادو اخته دی، د نشو له وجې مري. مومن خان د هغه په ښېر خبرې خبرې کوي. دی او د کلي یو بل ښوونکی د قبر پر سر د قوماندان هیبت خان پر ضد خبرې کوي او خلک له هیبت څخه د قلندر د زوی د مړینې غچ اخیستنې ته رابولي. هیبت خان هم د هغوی له نیت څخه خبرېږي او د دواړو د مرګ تابیا نیسي. ښوونکی او مومن یوې کنډوالې ته تښتي، هلته له یوې ناڅرګندې خوا وسلې ترلاسه کوي او د هیبت خان پرضد جګړه کوي، په پای کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخدره موادو قاچاق وړونکي وژل کېږي.

سره له دې چې په تېرو دوو لسيزو کې زموږ په هېواد کې زياتره فلمونه د مخدره موادو پر موضوع جوړ شوي دي، خو د مخدره موادو د کرنې او قاچاق ستونزه زموږ په هېواد کې له هغو ستونزو څخه ده، چې بايد په اړه يې زيات تبليغات وشي او د "زمين داغ" فلم هم په کې برخه اخيستې ده. په فلم کې د نشه يانو رول په ډېر ښه ډول سره لوبول شوی دی. هماغه پېښه ده، چې د دغو کسانو په وړاندې کرکه لا زياتوي. فلم په مناسبو ځايونو کې فلمبرداري شوی دی. زياتره منظرې يې په زړه پوري او تر ډېره حده ښتينې برېښي، خو زما په اند د "زمين داغ" فلم نيمګړتياوې دومره زياتې دي، چې د فلم اصلي موخه او پيغام ته يې ډېر زيان رسولی دی.

دلته لومړنۍ موضوع ته چې بايد ګوته ونيسو، د فلم د کرکټرونو نومونه دي. د فلم مرکزي کرکټر ته د بي بي سي د نوي کور، نوي ژوند ډرامې د مشهور او مرکزي کرکټر قوماندان هيبت خان نوم غلا شوی دی، چې په هغه ډرامه او دې فلم کې يې نژدې يو شخصيت ګڼلای شو. په دواړو کې منفي رول لري. د "زمين داغ" د فلم د يوه بل مثبت کرکټر "رحيم" نوم هم د نوي کور، نوي ژوند ډرامې يو بل مثبت کرکټر معلم رحيم له نوم څخه راغلای شوی دی. چې د بي بي سي د ډرامې ښېښمېره اورېدونکو ته په پام سره دا مسئله د ډېر ځنډ وړ ده.

د بي بي سي د نوي کور، نوي ژوند له ډرامې څخه تقليد، د فلم په نورو برخو کې هم ليدل کېږي. د فلم د يوه بل کرکټر "ښوونکي" تکيه کلام "بس فاميدی که اس" د هغې ډرامې د مشهور کرکټر (فتح خان) تکيه کلام دی، چې ټول افغانان ورسره بلد دي. په زړه پورې خو دا ده چې د "زمين داغ" په فلم کې د معلم په رول کې د هېواد ښه ليکوال او فلم جوړوونکي زما نژدې دوست موسی رادمنش هم کار کړی دی، چې په خپل رول کې ډېر بريالی هم دی. او د "بس فاميدی که اس" د تکيه کلام له طرحه کوونکو څخه دی. ده ولې اجازه ورکړې ده، چې دا تکيه کلام، نومونه او زياتره مکالمې دې په فلم کې بيا - بيا راوړل شي؟ او جملې لکه "بهوت" دومره زياتې استعمال شوې دي، چې هر ليدونکی په تنګوي.

په دې فلم کې تر ټولو ستره تېروتنه او نيمګړتيا دا ده، چې په کې د افغانستان سيمه ييزې لهجې په منفي رول کې راوړل شوې دي.

هر ليدونکی پوهېږي چې بهرنی قاچاق وړونکی چې افغانستان ته راځي، پاکستانی دی او ورسره ملګری چې د قاچاق وړونکي مرستيال او لاربنود دی، پښتون او د کندهار اوسېدونکی دی. په داسې حال کې چې د فلم ژبه دري ده. يو منفي کرکټر يې ولې بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبې وي؟

بهرنی قاچاق وړونکی له سیمه ییز قوماندان (هیبت خان) او د هغه له ملګرو سره ډوډۍ خوري او هغوی د نشه یي توکو کرنې او قاچاق ته نور هم هڅوي. د هغه افغان ملګری او لاربښود په ماته ګوډه دري وايي: "بالا ما دیگه مېریم، که بالا او جام بسیار کار داریم..."

د ټول فلم ژبه او لهجه بله ده او د مخدره موادو دلال په بله لهجه خبرې کوي. په کندهارۍ لهجه یانې څه؟؟ باید د مخدره موادو ټول قاچاق وړونکي او دلالان په کندهارۍ لهجه خبرې وکړي؟ ایا د دې ژبې ویونکي ټول قاچاق وړونکي دي؟ نه پوهېږم د فلم د جوړوونکو د دغې لهجې له کاروني څخه هدف څه و؟ ایا د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د کابل ټلویزیون چارواکي له دې بې خبره وو؟

په دې پسې درېیمه څلورمه ورځ وروسته یو بل فلم هم د کابل ټلویزیون له لارې خپور شو، چې د فلم د منفي کرکټرونو ژبه یې پښتو وه.

دوی د دې کار لپاره پوشش پیدا کړی دی او هغه "طالبان" دي، چې نه خو ټول پښتانه طالبان وو او نه هم ټول طالبان پښتانه. خبره رانه اوږده شوه. "زمین داغ" فلم نورې نیمګړتیاوې هم لري. د بېلګې په ډول د مخدره موادو پرضد د مبارزې لارې چارې په سنجول شوي ډول نه دي په ګوته شوي، د کلي ښوونکی د دې پرځای چې په کلي کې ښوونځی فعال کړي او خلک د مخدره موادو له کر او قاچاق څخه راوګرځوي، په یوه ټوپکوال بدلېږي او د وسلوالو ډلو په څېر وسلواله ډله جوړوي، دوی هم جګړې کوي او وینې تویوي.

د "زمین داغ" په فلم کې د کونډې زوی له سریال څخه هم په ځینو برخو کې غوښ تقلید شوی دی. لکه د کلي ژرنده، د کوژدې مراسم او ځینې نور کلیوال دودونه.

د "زمین داغ" فلم د مخدره موادو په باب جوړ شوی و، که په بې لارې نه و سر شوی، نو کېدای شوای چې یو بریالی فلم موګڼلی وای. خو نورو ژبو، لهجو او دودونو ته د سپکاوي مسئلې د فلم ځینې مثبتې خواوې هم تر سیوري لاندې راوستلې دي. په کار ده چې چارواکي په راتلونکي کې دېته پام وکړي او په لوی لاس دې د فرهنګي خدمت پرځای نه بخښونکی خیانت نه کوي.(32)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورښت سمنګاني

# 'پنجره' د 'امید' پر پله

## (د قاسمشاه اسکندروف د اپلتو په باب څو څرګندونې)

څو ورځې د مخه مې د "پنجره" په نوم د یوې اوونیزې د لومړې کال شپږویشتمه ګڼه لاسته راغله. پاڼې مې یې سره واړولې راواړولې او د عادت له مخې مې لومړی ټول سرلیکونه له نظره تېر کړل چې په همدې ترڅ کې مې غالباً په شپږم مخ کې د کوم روسي لیکوال ډاکټر قاسمشاه اسکندروف د لیکنې پر عنوان "توجه به اقوام در افغانستان و ضرورت اصلاحات جدي در ساختار دولت" سترګې ولګېدې، نو په لوستلو مې یې پیل وکړ.

د یادونې وړ ده چې تر اوسه په روسي افغانستان پېژندونکو او دهغو بهرنیو لیکوالو په کتار کې چې د افغانستان له مسایلو سره سر او کار لري ما د ښاغلي اسکندروف نوم نه و لیدلی، خو کله چې مې یې دا لیکنه چې عمداً او عمدتاً له افغانستان او افغانانو سره د دښمنۍ په روحیه لیکل شوې ولوسته نو هک حیران شوم. خدای شته سوال راته پیدا شو چې اخیر ښاغلي ډاکټر ته چې د یوه بل هېواد اوسېدونکی دی د افغانانو د یووالي او ورورګلوي نه څه تاوان وررسېږي؟ او تر پایه په دې ونه پوهېدم چې پښتنو د دغه ښاغلي او د ده د کورنۍ پر لمن کوم داسي داغ ورایښی، چې ده داسي دښمنۍ ته لستوني رابډ وهلي او مشران یې چې په ښکاره د افغانستان او افغانانو ملي مشران دي سپکوي او د دوی د شمېر د لږښودلو هڅه کوي؟ ښایي دغه ښاغلي ته دا پکه پنجره خپلو، یا **K. G. B** والا په لاس ورکړې وي، چې د افغانانو تر منځ د نفاق اور ته پوکي ورکړي. د لیکني تر لوستلو وروسته مې فکر وکړ چې غلی پاتي کېدل په دې ښه نه دي چې یو خو ښایي د ځینو بې خبرو لوستونکو ذهن د دې اپلتو په لوستلو مغشوش شي او بله دا چې اسکندروف په خپله په دې غلط فهمۍ کې واقع نه شي چې تقریباً افغانان د خپلو دښمنانو شومو پروپاګندو او ناسمو تبلیغاتو ته ځواب نه شي ورکولای، نو ځکه مې قلم را واخیست او دا څو کرښې مې په دې امید توري کړې چې، یو خو د افغانانو دغه دښمن بې ځوابه پاتي نه شي او بل هغه لوستونکي چې د افغانانو د قومي جوړښت په باب لا سمه پوهه نه لري، په دې باب لازمه او رښتینې پوهه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی اسکندروف په پیل کې لیکي چې "امروز در شرایط گذار به صلح و تدوین قانون اساسي در افغانستان، مسله توجه به تنوع ملي، فرهنگي، زبان و مذهبي یعني مسله نمایندګي واقعي ملیتهای ګوناګون افغانستان با جدیت هر چه بیشتر مطرح میګردد "د مقالې د پیل تر لوستلو وروسته ښایي د دې پوښتني د ځواب په لټه کې شو، چې څنګه په دې حساسه موقع کې چې افغانان لګیا دي، پر خپلو هغو پخوانیو زخمونو پټۍ لګوي، چې د ښاغلي اسکندروف د اسلافو له لوري پر دوی لورول شوي دي، پر یوه محور راټولېدونکو افغانانو ته د ژبنۍ، مذهبي او قومي تنوع وریادول څه مانا لري؟ تر شا یې څه اهداف پټ دي؟ د دې پوښتنو ځواب اسانه دی او هغه دا چې اسکندروف دنده اخیستې چې د **K.G.B** د قابو درې لسیزو اهداف چې غوښتل یې د افغانستان د وروڼو قامونو تر منځ زهر وشیندي، او به خړې کړي او کبان ونیسي، پلې کړي.کنه ایا دا بس نه ده چې دوی د خپلو ګوډاګیانو په واسطه، په واحد افغان ملت کې د قومونو زهر لرونکې او مکروه اصطلاح پوره دوې لسیزې په دې هیله ګردان کړه، چې افغانان سره وویشي، تیت او پرک یې کړي او پر یوه محور چې هغه افغان ملت دی، دوی راټولېدو ته پرې نه ږدي؟ له دې جوتیږي چې لا هم د اسکندروفانو خوا پر دې مظلوم ملت نه ده سړه او غواړي چې اوس "توجه به ملیتهای ګوناګون "ډنډوره وغږوي او په دې ډول د افغانانو تر منځ د ورورولۍ رامنځ ته شوې فضا هم ورخرابه کړي. ډاکټر تر دې وروسته سر شمېرني را اخلي او تر ټولو لومړی مذهبي پیوندونه راسپړي او لیکي چې " پیروان چې ښایي له "پروان" سره د ډېرې مینې له امله پروان لیکې: مذهب سني حدود ٪80ساکنان کشور را تشکیل میدهند ، قسمت قابل ملاحظه ای ٪20شیعیان و کمتر از انها پیروان اسمعلیه هستند ، برعلاوه در شهرهای افغانستان دهها هزار هندو (سکه) زه نه پوهېږم چې له سکه نه یې هدف څوک دی؟ ښایي سکهان وي چې ډاکټر سکه لیکلی وي "و چند هزار یهودي هم زندګي میکردند "د ډاکټر پام نشته چې په دې سلنه کې ډېري تېروتني شته، ځکه چې ٪80 سنیان او ٪20 شیعیان زموږ سلنه را پوره کوي، نو دا " کمتر از انها پیروان اسمعلیه "بیا څه شول؟ او دا "دهها هزار هندو "او "چند هزار یهودي "به څنګه کوو ؟ اصله خبره دا ده چې ډاکټر صاحب خو نه اسمعلیه په سلنه کې راولي او نه هم هندوان چې دا په خپله د اسکندروف تېروتنه ښیي، بله خبره دا ده چې ډاکټر له دې هم نه دی خبر چې ډېر لږ شمېر یهودان به درې لسیزې د مخه په افغانستان او هغه هم یوازې په کابل کې لیدل کېدل، خو دا دېرش کاله هیچا هم په افغانستان یهودي نه دی لیدلی ، نه پوهېږم چې "چند هزار یهودي "د اسکندروف په کوم جیب کې پټ شوي دي؟ تر دې وروسته ډاکټر قاسمشاه په خپله له پښتنو سره دښمنۍ ته په ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونه رابېږوهلي او د خپلو اسلافو د زړه هغه ټولي غوټيي چې کلونه، کلونه يې د ويلو زړه نه و کړی په يوه ځل راسپړي، هغه ليکي "اغلب بر رسيها و سر شماريها که انجام شده، کميت واقعي اقوام را پنهان نگهداشته اند و يا طور غير واقعي تعداد قوم حاکم يعني پشتونها را... (اکثريت جلوه داده اند ) دې ته وايي اوښ په بډه وهل. زه نه يم خبر چې ښاغلي اسکندروف افغانستان ليدلی، پکې ګرځېدلی او که يې په کولاب کې د قاچاق په کومه معامله کې د بل پوډري شريک نه دا معلومات تر لاسه کړي دي.

ايا ښاغلي اسکندروف تر اوسه په افغانستان کې داسي حکومت ليدلی چې هغه دي د پښتنو د پر مختګ لپاره هڅه وکړي؟ د پښتنو خو بد قسمتي دا ده چې: دښمن په زوره ننوت په کور د پښتانه - خو دغه کار يې هم وکړ په زور د پښتانه. د افغانستان په ټول تاريخ کې پښتانه د پښتنو په واسطه وهل شوي دي، پښتون سردار چې په ارګ کې کښېنستلی نو بيا يې پښتو پرې ايښې او نه يوازي يې په خپله پرې ايښې بلکې په دربار کې يې هم دغې بد بختي ژبې ته ځای نه دی ورکړی. په پښتنو واکمنو کې دې د يوه اولاد څوک را وښيي چې هغه دي په پښتو ژبه خبري کړي وي، ان تر بابا ملت پوري، د دې برعکس همدې بې پښتو پښتنو مشرانو پښتانه يوائې په دې دوکه کول چې د پوهنتون، درملتون، زېږنتون او نور نومونه يې په پښتو واړول. خو په دغو مرکزونو او دفترونو کې دننه يې د پښتو ويلو حق هم چاته نه ورکاوه، نو بيا دا څوک و چې (کميت واقعي اقوام را پنهان نگهداشته اند و به طور غير واقعي تعداد قوم حاکم يعني پشتونها را اکثريت جلوه داده اند ) خبره دا ده چې اسکندروف د تومتونو او تورونو يو پنډ په شا کړی او يوازي غواړي تورونه ولګوي، بې اسنادو او بې ماخذه تورونه چې ټول دروغجن خلک يې پر نورو لګوي.

ډاکټر قاسمشاه پر دې هم بسنه نه کوي نوري اپلتي هم وايي او په خوب کې پر ټول افغانستان ګرځي، د قومونو سلنه (فيصدي) معلوموي او د طاهر بدخشي پر قبر کښېني او د هغه د اروا د خوشحالولو لپاره سترګګې پټوي او خوله خلاصوي چې (واقعيت اصلی در افغانستان اينست که هيچ قوم ٪40 اهالي کشور را تشکيل نميدهد ) او چې پر دې يې هم زړه نه يخېږي، نو بيا د 1979م کال سرشمېرنه هم غلطه بولي او وايي چې: (اخرين سرشماري نفوس که در سال 1979 بصورت ناقص انجام گرفت، اهالي افغانستان را 15\5 مليون نفر قلمداد کرد ، که از اين شمار 13مليون اهالي مسکون 2\5 مليون کوچی نشان داده شده است، که اين رقم قابل ترديد به نظر ميرسد ) ، زه نه پوهېږم چې ډاکټر اسکندروف په کوم دليل او منطق دا ادعا کوي چې په افغانستان کې هېڅ قوم د دغه ملک ٪40 نه جوړوي، په داسي حال کې چې د 1979 م کال سرشمېرنه پښتانه په سلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ٪50 ښيي. لـويي دوپـري **Dufrent Lios** پـه 1980م کـال کـې د افغانسـتان لـه 14،000،000نفوسو څخه پښتانه په سلو کې 46وښودل. ورلډ المانک 1979کال، د امریکا چاپ، پښتانه په سلو کې 38ښيي، د افغان ملت جریده په 1995م کال کې د پښتنو شمېر پـه سـلو کـې ٪50 ښـيي، د اسـکندروف روسـي تربـور محقـق پروفيسـر اسلانوف، د افغانستان پښتانه په سلو کې 60 ليکي. ايرانی ليکوال عبدالعظيم وليان بيا پښتانه ان په سلو کې 70 ګڼي. ستر نابغه سيد جمال الدين افغان، په خپل (تتمه البيان في تاريخ الافغان) کې پښتانه د افغانستان غالب عنصر بولي. انګرېزی محقق انتوني هايمن **Anthony Hyman** چې کتاب يې په 1685م کال کې په ايران کې ژباړل شوی هم دی، پښتانه په سلو کې ٪45 ښيي او يو بل ايرانی ليکوال علي اکبر جعفريان بيا د سخن په مجله کې د پښتنو مجموعي شمېر په افغانستان او نورو هېوادونو کې ان يوولس مليونه ښيي، **Wak Foundation for Afghanistan**په 1991- 1996م کاله پورې څېړنه خو بيا پښتانه ان د افغانستان د نفوسو ٪63 ښيي، خو ډاکټر قاسمشاه پر دې ټولو سترګې پټوي او ليکي چې هيڅ قوم د سلنې په حساب ٪40 نه جوړوي، خو رښتيا خبره دا ده چې اسکندروف غواړي چې پر هر څه سترګې پټې کړي او د خپل هدف د تر لاسه کولو لپاره چې هغه د افغانانو سره جنګول او د يو تر بله اچول دي، لـه کاليو سره يوځای د خلکو په سترګو کې ننوځي، دا ټولي شمېرني او ارقام ورته ناسم ښکاري، په داسي حال کې چې پورته ذکر شوي شمېرني يوه هم د اسکندروف د خبرو په شان هوايي ډزې نه دي، بلکې دغه هر شخص او هره مرجع خپل ماخذونه لري او تر دقيقو څېړنو او پلټنو وروسته يې دغه ارقام ورکړي دي. لـه دې چې ورتېر شو، اسکندروف لکه د ترومـا د ناروغـانو پـه شـان، پـه نـورو اپلتـو سـر کېـږي، د افغانـانو لـه بـدو ورځـو او وروروژنې څخه هم ګټه اخلي او هغه د چا خبره زموږ په شر کې د خپل خير په لټولو پسې وځي. هغه داسي چې ليکي: (اکثريت کلي پناهندګان افغانستان در پاکستان است، که اکثراً از ولايات عمدتاً پشتون نشين ميباشند. طبق سرشماري هاى ملل متحد )- "خو دا يې نه دي ليکلي، چې د ملګرو ملتونو کومي او د کوم کال سر شمېرنې؟" مثلاً در سا لهای مقاومت ضد شوروی ٪45 ساکنان ولايت ننګرهار و ٪70ساکنان ولايات مرکز به پاکستان پناه برده اند ، طبق امار های ارائه شده (معلومه نه ده چې کوم امار او سرشمېرنې ښيي) بيش از نيمی از پناهجويان افغانستانی پناهنده را به ايران، مردمان هزاره تشکيل ميدادند ) او زياتوي چې: (تعداد مجموعي افغانهای پناهنده در ايران ٪60 هـزاره هـا و ٪30 پشـتونها را تخمـين شـده انـد ) او بيـا پسـې ليکـي: ( موافـق سـه نظرخواهی که در سا لهای 1996_1989صورت ګرفت) "معلومه نه ده چې د چا لـه خوا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته او څنګه "؟ ! فیصدی پشتونهای پناهنده به پاکستان بین ٪70_٪85 میباشد. تاجکهای پناهنده در هر سه نظرخواهي انجام شده، تنها ٪60 را تشکیل میدادند ) یو خو ښاغلی ډاکتر ماخذ نه ښیي، چې دغه احصایې او ارقام یې له کومه کړي او چېرته خپرې شوې دي؟ بله دا چې په همدې پیل کې ډاکتر خپله څېره ښکاره کوي او هغه کرکه یې چې د افغانستان له ملت سره لري نه پټوي، ځکه چې دا ښاغلی دومره د افغان له نامه سره حساسیت لري چې، د افغانستان او سېدونکو ته هم افغانستاني وايي، البته د افغان له نوم سره حساسیت د ده په ټوله لیکنه کې ښکاري، خو دلته ډېر په بې شرمۍ د افغانستان د اوسېدونکو لپاره د افغان پر ځای ځکه افغانستاني لیکي چې یو خو دوی د افغانستان له نوم څخه د پښتون مانا اخلي او پښتون خو د دې روسي ښاغلي پر لمن داسې داغ پرې ایښی، چې تر عګمره به یې دی او نور روسان ملګري نه شي پاکولای، نو ځکه ورسره دښمني کوي او په دې لټه کې دي چې د یوه ژوندي او اوږده تاریخ لرونکي ملت نوم ورواړوي. دویمه خبره چې د قاسمشاه په پورتنیو پراګرافونو کې روښانه کېږي هغه دا ده، چې دی په خپله هم دا مني چې عمدتاً پر پښتون مېشتو ولایاتو سربېره د مرکزي ولایاتو اوسېدونکي هم زیاتره پښتانه دي، ځکه چې د ده په وینا خو ٪80 فیصدو زیاتو پښتنو پاکستان ته مهاجرت کړی دی او ځکه یې دغه ملک ته پناه وروړې، چې قومي او ژبني تعلقات سره لري، چې په دې ډول له درې ملیونو کډوالو څخه ٪85 پښتانه دي، چې دا په خپله د ده مخکښنۍ خبري ردوي، ځکه د یوه ملک په کډوالو کې چې اتیا فیصده پښتانه وي، نو په ملک کې پاتي خلکو کې خو هم دوی په خپله اکثریت کې راځي. ځکه دا خو شونې نه ده چې په یوه ملک کې دې جنګ راشي، هلته دې لس قامه ژوند کوي، خو یوازې دې یو قام هجرت وکړي او نور دې ټول پر ځای پاتې وي، بله د تامل وړ خبره دا ده چې ما په خپله تر یوې لسیزې ډېر عمر په پاکستان کې تېر کړی دی، تاسو باور وکړئ چې د پاکستان په هر یو ښار کې تر پښتنو پارسي ژبي کډوال ډېر وو، زه نه پوهېږم چې دا ٪16فیصده تاجکان چې د ښاغلي اسکندروف په وینا یوازې همدوی مهاجرت کړی و، څنګه تر ٪85 پښتنو زیات ښکارېدل؟ ! !. ورځه دا خبره مو هم ومنله نو بیا خو یوه بله خبره رامنځته کېږي او هغه دا چې په افغانستان کې د روسانو پر ضد جهاد د هجرت له چاپېریاله پیل شوی او له هماغه ځایه پر مخ وړل کېده، نو که د اسکندروف شمېرنه سمه وي، نو بیا خو یوازې ٪16فیصده تاجکانو د افغانستان په جهاد کې برخه اخیستې ده، نور نو د ازادۍ جنګ باید پښتنو کړی وي، ځکه چې دوی هېواد له لاسه ورکړی، هجرت یې کړی دی، دا خو ښکاره خبره ده چې مهاجرین به بېرته راستنېدل او دلته به د مقاومت په جبهه کې جنګېدل چې په دې ډول اسکندروف، د روسانو د شړلو او د هېواد د ازادولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاړ په ناپوهۍ کې پښتنو ته وربخښلی دی. په هر صورت قاسمشاه په دوام لیکي، چې: (با در نظگگرداشت رشد سریع فیصدي پناهنده و فیصدی مرگ و میر چهره های قومي در داخل افغانستان در این سالها تغییر یافت) او بیا زیاتوي چې: (در سال 1987در افغانستان تاجکها با داشتن ٪37،3 نفوس در صدر جمعیتهای قومي قرار داشته اند ، در پی انها هزاره ها ٪6، 15 و ازبکها ٪4، 15 بودند. پشتونها که در گذشته از لحاظ قومي اکثریت پنداشته میشدند ، تنها ٪31،1 جمعیت را تشکیل میدادند ). داسې ښکاري چې ډاکټر د مقالې د لیکنې پر وخت سترګې پرې پټې وې، کنه نو هر چا چې یو ځل افغانستان لیدلی وي او یا یې حد اقل دوه کتابه د دغه ملک په باب لوستي وي، داسې چټیاټ نه لیکي او په داسې بې اساسه او غلطو شمېرنو اتکا نه کوي. دا سمه ده چې د افغانستان په اوږدو جګړو کې د دې لپاره پښتانه ډېر وژل شوي او کډوال شوي دي، چې د افغانستان د دفاع ډېر بوج پر دوی و او دا ځکه و چې دوی ډېر وو ، نو چې د جنګ بوج پرې ډېر و ، نو خامخا به ډېر وژل شوي او کډوال شوي وي. خو له دې سره، سره باید اسکندروف له دې خبر وي چې په پښتنو کې لکه د ده د قام **Family Planing** نه دی رواج او د الله فضل دی پښتنو میندو که یو زوی له لاسه ورکړی، نو داسې زمري یې نور زېږولي، که یو کور کډوال شوی، نو بېرته څلور کوره راستانه شوي، که دوه تنه له هیواده تللي، نو له هغې خوا چې بېرته راستنېدل نو څلور شوي، شپږ شوي او ان لس شوي دي. په همدي خاطر ضروري بریښي چې ډاکټر ته ووایو چې: روکیه دا خوب به دې هېڅکله هم رښتیا نه شي، بلکې باید هر وخت خبر واوسې چې:

هر یو ښاخ یې چې و دار د زیدارانو
هغه وور نیالګی هسک شوی لوی چنار دی

اسکندروف له دې وروسته په پټو سترګو دا ادعا هم کوي چې "اما از لحاظ زبان ګویندګان بیشتر افغانستان بیش از ٪50 مردم به زبان فارسي- دری سخن میګویند ". دا نو بله بې انصافي ده چې قاسمشاه یې کوي، ځکه هغه چا چې افغانستان لیدلی او یا په کې ګرځېدلی وي، دا ورته پته ده چې د افغانستان څو فیصده خلک په دری غږېږي او څو په پښتو. زما په فکر د دې خبرې سپینولو ته به هېڅ حاجت نه وي، دا هم هغه خوب دی چې هیڅکله به رښتیا نه شي، ښاغلی ډاکټر چې د یوه بهرني ملک اوسېدونکی دی، تل هغه ځایونه ګروي چې خارښت نه کوي، که نه زه نه پوهېږم چې په اوسنیو شرایطو کې چې افغانان لګیا دي خپل هغه پرهرونه ټکوروي، چې د اسکندروف د اسلافو له خوا پرې ورتپل شوي، ده څنګه د دې مسلې سپړني ته لستوني رابډ وهلي، چې: (کوچ دادن پشتونها به مناطق غیر پشتون که با غضب اراضی انها توأم بود و اعلام نظامنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناقلین به شمال نیز همین وقت اغاز گردید ، که برای دهقانان غیر پشتون شمال پیامدهای نا گواری را بباورد. این کوچ دهی، نقشهٔ افغانستان را تغییر داد و مناطق زیاد پشتون نشین را به وجود اورد ). باید له ښاغلي ډاکتر نه پوښتنه وشي، چې د یوه بهرني په توګه له دې مسلو سره څه علاقه لري؟ او بله دا چې ده ته چا ویلي وو او د کوم سند له مخې وایي چې ناقلو پښتنو د غیر پښتنو سیمې لاندې کړې دي، باید دا ټکی روښانه کړو هغه پښتانه چې د اعلیحضرت شهید محمد نادر شاه خان په واکمنۍ کې شمال ته ولیږدول شول، دوی ته د چا یوه لوښت ځمګکه هم نه ده وېشل شوې، بلکې هغه پراخې او ناابادې دښتې او ښوره زارې ځمګکې ورکړل شوې دي، چې نه خو د چا شخصي وې او نه خو یې هم کوم سیمه ییزو وګړو قواله درلوده، بلکې پر دې سربېره د سیمې خلکو نه د دغو ځمکو د ابادولو توان درلود او نه یې هم ورسره مینه وه، چې په دې ډول د افغانستان د هغه وخت حکومت فقط په دې خاطر چې دغه شاړې ځمکې ابادي کړي، هغه یې پر بېوزلو او بې ځمکو پښتنو ووېشلې او دوی هم د خپلو لاسونو په تنها کو او سلو خواریو هغه ابادې کړې، نو پوښتنه دا ده چې ایا دولت دغه حق نه لري چې دولتي ځمکې پر خپلو وګړو ووېشي،طبیعي ده چې دا حق لري، چې دا حق لري بیا خو دا د حکومت خوښه ده، چې دغه ځمکې چا ته ورکوي او یا یې نه ورکوي. بله خبره دا ده چې که چیرې دغه ځمکې هماغه وخت پر بې ځمکو پښتنو نه وای وېشل شوي، نو ایا د شمال خلکو چې اسکندروف یې د حقوقو د دفاع پر څوکۍ ناست دی، دغه ځمکې ابادولای شوای؟ ښکاره خبره ده چې هغوی نه د دې ځمکو د ابادولو وس نه درلود او نه یې ورسره مینه وه. بله دا چې په ټوله نړۍ کې دا قانون دی چې د یوه ملک وګړي حق لري چې د خپل هېواد په هره ګوښه کې چې یې زړه وي همغلته واوسي، کار وکړي او ژوند پر مخ بوځي، نو په دې کې کومه ګناه ده چې یو څو کوره پښتانه له جنوب یا ختیځ څخه شمال ته وکوچېدل او هلته یې ژوند غوره کړ، ډاکتر اسکندروف پسې زیاتوي، چې: (اشخاص متعصبی مثل "محمد گل خان مومند " رئیس تنظیمهٔ شمال، که سوگند خورده بود ، هیچگاه تا اخر عمرش به فارسی صحبت نخواهد کرد ، در دامن زدن نفاق و تعصب قومی نقش زیادی بجا گذاشت ) په دې ځای کې ضروري برېښي چې یو خو اسکندروف په هغه چا پسې خوله خلاصه کړې، چې ټول افغان ملت بابا ورته وایي، په هغه درانه او عظیم انسان پسې یې تهمتونه تړلي، که د هغه تدبیر نه وای نن به د واحد افغانستان او سنی جغرافیایي جوړښت هم نه وای او دا هغه څه دي چې په ښکاره د یوه بهرني له خوا زموږ د ملي مشاهیرو سپکول، رټل او کنځل ورته ویلای شو. په کار ده چې ان یوازې د همدغه سپکاوي په خاطر د افغانستان د انتقالي دولت چارواکي د لیکوال مطبوع هېواد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي شکایت وکړي او هغه دې ته اړ کړي چې د یوه واحد افغان ملت نه د دوی د یوه منل شوي بابا او زعیم د سپکاوي په خاطر بخښنه وغواړي، البته چې زموږ انتقالي دولت له بده مرغه په دې خبرو پسې د مصلحتونو او مضر احتیاط له مخې ډېر سر نه ګرځوي، ځکه چې دا د همدې محمد ګل خان مومند بابا(رح) د تدبیرونو برکت و ، چې په وروستیو اله ګولو کې یې د افغانستان د تجزیې او ټوټه کېدو مخه ونیوله، اسکندروف په دې هم بسنه نه کوي او پسې زیاتوي چې: (قانون اساسي 1964م کال تمام باشنده ګان افغانستان را افغان اعلام داشت، در حالیکه معلوم بود که افغان نام یکی از اقوام افغانستان است، مرادف پشتون. قانون اساسی زبانهای پشتو و دری را برابر حقوق اعلان کرد ، ولی مادهٔ 35 قانون اساسی، به طور یکجانبه امتیازاتی را برای زبان پشتو اعلام کرد ، که دولت موظف بود برای رشد و انکشاف زبان پشتو برنامه های موثری را روی دست ګیرد ). ښاغلي ډاکټر ته دا خبره هم د منلو نه ده چې افغان ملت دې د افغان په نوم یاد شي، جالبه ده چې دغه ښاغلی د **Ph.D** له لرلو سره، سره تر اوسه په دې هم نه پوهیږي چې افغان د یوه قام نوم دی او که د ملت؟ (که وغواړو چې د افغان د نوم لرغونتوب چې د افغانستان ټولو اوسېدونکو ته ویل کیږي راوسپړو ، فکر کوم خبره به ډېره اوږده شي) لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د دغه نوم د لرغونتوب په باب یوه اوږده رساله لیکلې چې پر نورو خپرونو سربېره په جلا ډول هم په 1994 کې د خوشال فرهنګي ټولنې له خوا چاپ شوې ده، نو ښاغلي ډاکټر ته زما مشوره دا ده چې یو ځل دې دلوی استاد دغه رساله خامخا ولولي، اسکندروف پر دې برسېره پر دې هم خواشیني ښکاري چې ولي د 1964 م کال اساسي قانون دولت د پښتو ژبې لپاره پر کار کولو ګومارلی دی، باید ووایو چې لکه څنګه چې اسکندروف قاسمشاه هم لیکلي په دغه قانون کې دري او پښتو ژبې دواړي رسمي ژبې ګڼل شوي دي، نو که چیرته په قانون کې دا راغلي هم نه وای، نو بیا هم دولت په اخلاقي لحاظ موظف و چې د خپلي هغي ملي ژبي لپاره چې تر اوسه لږ کار ورته شوی کار وکړي، هغه پراخه او بډایه کړي، نو نه پوهېږم چې ډاکټر ولي په دې خبره خپسمېدلی دی؟ ډاکټر قاسمشاه اسکندروف که ربښتیا هم دا یو اصلي نوم وي، د یوه بهرني ملک اوسېدونکی دی، هغه اخلاقاً دنده لري چې زموږ په کورنیو لانجو کې لاس و نه وهي او بله دا چې د دې کار اړتیا هم نه لیدل کیږي، ځکه چې که دلته هر څه پېښیږي نو ده ته یې ګټه او تاوان څه دی؟ خو ښکاره خبره دا ده چې دا ښاغلی به له کوم لوري نه د افغانانو تر منځ د نفاق اور ته د لمن وهلو لپاره ګومارل شوی دی، خو پوښتنه دا ده چې د پنجره اوونیزه ولي د دغسي افغان ضد بهرنیو لیکوالو لیکنو ته چې د افغان واحد ملت په منځ کې د تفرقې اور ته لمن وهي، د نشر زمینه برابروي؟ ایا د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کار د دښمن ژرندې ته د اوبو ور شېوه کول نه دي؟ ایا دوی په دې نه پوهیږي چې موږ له همدې روسانو له لاسه څومره بدې ورځې او څومره کړاوونه وګالل؟ ښکاره خبره ده چې د پنجره والاوو په دې ټولو خبرو سر خلاص دی او که داسې نه وي نو بیا خو لا اقل د همدې کلیشه یې جملې پر اساس هم چې دوی د خپلې اوونیزې پر تندې لیکلې چې (پنجره در پیرایش و ویرایش مقالات دست باز دارد ) کولای شوای چې د یادې شوې لیکنې خوا واړوي او حد اقل یې ور سمه کړي، زما وړاندیز دا دی چې د افغانستان او سني حالات د دغسې بېولالو د نشرولو نه دي او نه هم دا وخت د دغو خبرو د سپیناوي دی، اوس باید د یوه واحد افغان ملت د تشکل لپاره کار وشي، نه دا چې د سره یو موټي کېدونکي ولس د بېلولو لپاره او دا هغه وخت دی چې افغان ملت د پنجرې له روښاندو چلوونکو څخه د خپل ملي رسالت د تر سره کولو غوښتونکي دی او که داسې نه وي بیا خو به "پنجره" د امید پر پله ولاړه وي، لکه چې روانه ده او د دې پر ځای چې خپل ملي، وطني او افغاني فرض ادا کړي، د هغو پر عکس موقعیت به خپلوي.(33)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواک

## د افغانستان په نامه ټلویزیون ته یوه کتنه

خبري رسنۍ یا ډله ییز ارتباطي وسایل (راډیو، ټلویزیون، جریدې او مجلې) د یوې ټولنې لپاره د ژبې او سترګو حیثیت لري. همدا وسایل دي چې په ټولنه کې د اوسېدونکو لپاره د پوهاوي وسیله ده او د ټولنې د وګړو او په هغې کې د حاکم سیستم (حکومت) ترمنځ د اړیکو پول دی. غوره لا دا چې د ټولنې د وګړو په فکري او مانیز جوړښت کې ستر رول لري.

له همدې ځایه ده چې دا وسایل او اسباب باید داسې وي چې په ربښتیني ډول د پرګنو د هیلو، غوښتنو او ضروریاتو ښکارندوییې وکړي.

خو دا ضرورت زموږ په ټولنه کې له دې واقعیتونو سره بالکل توپیر لري او هېڅکله یې د خلکو غوښتنو ته ځواب نه دی ویلی، بلکې د خلکو له غوښتنو، نظریاتو او ضروریاتو سره په مخالف کې واقع دی او د دې ښه ثبوت زموږ د معاصر حاکم سیستم (موقت او انتقالي) دولت د ډله ییز ارتباطي وسایل دي. دا وسایل په ټوله مانا د ولس له غوښتنو سره په تضاد کې دي. چې ښه بېلګه یې د افغانستان ټلویزیون په نامه یوه تنظیمي او یو اړخیزه خپرونه ده.

د افغانستان په نامه ټلویزیون څه له پاسه یو نیم کال وشو، چې د یوه خاص ګروپ او تنظیم له خوا ګرو نیول شوی دی. دا ډله چې اصلاً د حکومت عقده لري، د دې لپاره د حکومت کولو خوبویني، خو له دې ناخبره چې دا وضعه د دې ښاغلو په تاوان ده. ځکه چې د ولس د غوښتنو د منعکس کولو پر ته د خلکو غوسه او کرکې زیاتېږي.

ګران هېوادوال په تېره هغه ښاغلي چې له فرهنګي او کلتوري مسایلو سره مینه لري، په دې خبر دي چې د افغانستان د راډیو ټلویزیون پخوانی رئیس په څه ستونزو او مقاومت ګوښه کړای شو. مګر په بدل کې یې کوم نوی رئیس چې د دې عهدې لپاره وټاکل شو، بیا هم هغه غوټه چې اوارېدل یې هدف و، اواره نه شوه.

د انتقالي اسلامي دولت د یوه ځانګړي فرمان له مخې ۱۰-۱۲ کسیز کمیسیون چې د راډیو ټلویزیون ټولې چارې او خپرونې به کنټرولولې او په راس کې یې محترم عبدالحمید مبارز، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مهم مرستیال هم [و] وټاکل شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ټلویزیون!!

هغه خدای ببلاري کړی په لار نه شو.

د دې کمیسیون له دوو دربیو ښاغلو سره چې د همدې ناخوالو په اړه خوب کاوه، یو ځواب یې درلود، هغه دا چې زموږ خبره څوک نه مني او نه هلته (ټلویزیون) کې زموږ واک شته.

ایله په دې نامه کمیسیون دی. د ټلویزیون رئیس چې څه وایې بس همغسې کېږي. د افسوس وړ خبره خو دا ده چې د ۲۰۰۳م کال د مارچ له اتمې نېټې څخه څلور ورځې مخکې، په یوه تجارتي شرکت دفتر کې ناست وم، چې د راډیو ټلویزیون د هنر او ادبیاتو د اداري دوه تنه مهم مامورین هم هلته د ښځو د ورځې د لمانځلو لپاره د بسپنې جلبولو په نیت راغلي وو او په رسا الفاظو یې ویل چې د وزیر امر په راډیو ټلویزیون کې نه چلېږي. که وزیر هر امر ولیکي او د رئیس خوښه نه وي، نو نشر به نه شي او که چېرې کوم خبرونه خپرېږي هم، نو زموږ د ایډیټ او سانسور خبرونه خپرېږي، د هغه لر و بر یې کچه کولای شو.

د دې ټولو سرغړونو او خپلسریو لامل یوازې او یوازې د دې ریاست تشکیلاتي جوړښت دی. د دې ریاست په تشکیل کې ۱۲ ریاستونه دي، چې له یوه سره د یوه تنظیم او خاصې ډلې د غړو له خوا د موقتي دورې د پیل په چور کې نیول شوي دي.

جالبه خو دا ده چې د ۱۲ ریاستونو مرستیالان هم د دې ټولې او تنظیم غړي دي. چې ورڅخه له بل قوم، ژبې او ګروپ څخه یو مامور، وپاند او یا سندرغاړی هم نه شي مقررېدلای.

د ټلویزیون د ۴۰-۴۵ خپرونو په شا و خوا کې چې هره اوونۍ خپرېږي د ټولو خپرونو نومونه او د پېژندنې سرلیکونه په دري ژبه دي او د خپرونو په موضوعاتو او متن کې خو حتمي خبره ده چې پښتو نه شته. هغه خپرونې چې پخوا یې پښتو نومونه درلودل اوس بدل کړای شوي دي او که چېرې یوه نیمه خپرونه د کومې ادارې له خوا معرفي کېږي، نو په داسې پښتو ژبه یې لیکي، چې املا او انشا یې غلطه وي.

د هرې خپرونې پیل او پای باید په دري ژبه وي.

د هرې خپرونې د پیل او پای سندره باید په دري ژبه وي.

که چېرې کومه پښتو سندره خپرېږي، هغه به په رنګارنګ او یا انتخابي سندرو کې کومه محلي او یا کلاسیکه سندره وي، چې اصلاً د خپرونې له سلیقې سره سمون نه خوري او دا په لوی لاس او اګاهانه ډول د یوې ژبې د سپکاوي لپاره کار دی.

د حیرانۍ خبره خو دا چې د ډرامو مدیریت په پښتو څانګه کې یوازې ۴ تنه لوبغاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ممثلین) موجود دي او نور ځوک هلته نه منل کېږي، چې ګواکې کمبود نه شته او په بدل کې د دري برخې ممثلین پوره ۳۲ تنه دي او د نورو د جذب لپاره هم دروازې د هر چا پرمخ خلاصې دي.

دلته د بېلګې په توګه ځو خپرونې یادوو:

د پاسخ چیست؟، ایینه شهر، بزم محلي، ازمونګاه ذهن، جوانان، شما و تلویزیون او داسې نورې خپرونې چې لـه نـوم څخـه نیـولې تـر موضـوعاتو، موسـیقۍ، پوښـتنو- ځوابونو، تمثیلي ټوټو او د پروګرام د ختم خدای پاماني. پورې ټول پروګرام پـه دري ژبـه وي.

د پښتو ژباړلي سریالونه که خپرېږي، لنډ وي او لږې برخې بـه ولـري، خـو د دري ژبې سریالونه چې خپرېږي ۱۸_۲۰ برخې به لري.

د جمعې او دوشـنبې شـپې فلمونـه دوه دري نوبتـه وروسـته پښـتو ژبـاړې فلـم تـه وار رسېږي.

ایراني فلمونه او سریالونه هره شپه، له سانسور پرته په ټلویزیون کې نوبت لري او ان ډېـر وخـت سـړی دا فکـر کـوي، چـې دا د ایـران(صـدا و سـیما ) ده، کـه د افغانسـتان ټلویزیون؟؟.

پښتو ډرامې او سندرې چې د کوزې پښتونخوا د کلتور غني برخه ده او زموږ د خلکو د ذوق او اړتیا په سویه دي، له پاکستان سره په دښمنۍ کې د خپراوي وړ نه دي.

د یوه دولت په حیث د دې ډول فرهنګي او کلتوري تګلارې تعقیبول نه یوازې دا چې د حاکم (سیستم) په وړاندې د خلکو کرکه او نفرت زیـاتوي، بلکـې د ټـولنې د فرهنګي او مانیز جوړښت تګلورى د انحراف خوا ته بیایي.

زمـوږ هیلـه د انتقـالي- اسـلامي دولـت لـه مقامـاتو څخـه دا ده، چـې پـه دې اړه پـوره پاملرنه وکړي او دا ستونزې دې چې د ملت او دولت په کچه دي، اوارې کړي.(34)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع. س زرمتي

# 'شاه ليلا بې وروه مه شې...'

## (د افغانستان ټلويزيون د چا لپاره؟)

يوه ورځ مو د استاد سراهنګ خوږې او په زړه پورې سندرې اورېدلې. يوه سندره يې ټوله په دري ژبه وه، خو په پای کې به يې "شاه ليلا بې وروره مه شې" په پښتو ورزياته کړه. زما يوه دوست راته وويل: د کابل ټلويزيون هم نن سبا د استاد سراهنګ د دغې سندرې غوندې شوی، ټول په دري وي او په پای کې د "شاه ليلا بې وروره مه شې" غوندې څو پښتو ټکي ورزيات کړي، خو کاشکې د استاد د سندرې غوندې خوند هم ولري.

ما چې تېر کال په کابل ټلويزيون کې يو دوه ملي ضد او افغان ضد فلمونه ليدلي وو، بيا مې دا ټلويزيون نه و ليدلی، په ناباورۍ مې ورته وويل: نه، دغسې به نه وي.

دوست مې راته وويل چې د ټلويزيون يوه خپرونه هم په پښتو نه وي، کله- کله که شاه ليلا بې وروره مه شې هغه هم په خطايي په کې وي، نو نه شم ويلای.

په همغه ماښام مې د کابل ټلويزيون د ليدلو زحمت په ځان ومانه. دا د 1383 ل کال د غبرګولي (جوزا) د مياشتې 19 مه نېټه وه.

د ټلويزيون د هغې ورځې خپرونې دا وې:

- برنامهٔ کودک، ټوله په دري ژبه.
- پوليس خدمتګار مردم، په دري ژبه.
- مېز مدور د مورد حفظ محيط زيست، په دري ژبه.
- ګزارش سفر ټلويزيوني، په دري ژبه.
- د اوو بجو دري خبرونه.
- اخبار خارجي.
- اهنګ دري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• ورپسې د نوای کهسار خپرونه وه.

تر پښتو خبرونو وروسته چې یوې دري ژبې ویاندې سر تر پایه غلط ولوستل، د احمد ولي پښتو سندره خپره شوه. ورپسې د جامعه و قانون خپرونه په دري ژبه خپره شوه. له هغه وروسته د پر طاووس خپرونه وه، چې له یوې سندرې او یوه کوچني مطلب پرته ټوله په دري ژبه وه.

د خپرونو په پای کې د اختاپوت ټلویزیوني سریال و، چې دا هم په دري ژبه ژباړل شوی و.

زما د دوست خبرې ټولې رښتیا وې، دا راته څرګنده شوه چې د ښاغلي سید مخدوم رهین د وزارت په وخت کې د افغانستان په ټلویزیون کې رښتیا هم پښتو ژبه په اوړو کې د مالګې ځای لري او زما د دوست خبره د "شاه لیلا بې وروره مه شې" خبره ده.

له نورو تبصرو به تېر شو، وبه ګورو چې پښتو خبرونه څنګه ولوستل شول او تر کومه حده یې د هېواد په مهمو خبرو خلک پوه کړل وګورئ:

ویاندې وویل: درې ماینونه د دولت د مخالفانو له خوا ایښودل شوی و...

د نورو غلطیو تر څنګ یې جمع په مفرد بدله کړه.

یو بل ځای یې وویل: .... او د خصوصي سکتور د برخه وسایط کمشت وبوله....

زه ورباندې پوه نه شوم، چې خبر څه و؟

دغه راز د پکتیا ولایت د ستو کنډو یې "ستي کاندو" سیمه وبلله، چې ستي کاندو، په هغه سیمه کې ښځې نه شته.

"زانې تاوان نه دی اوښتی" یوه بله جمله وه، چې په ناسمه بڼه یې وویله. یو بل ځای یې وویل: "کلنی مانی" او اونۍ یې اونی ولوستله.

"د ایټالیا سفارت ورزشي وسایل او لوازمو مرسته وکړ" دغه ډول مونث په مذکر او مذکر په مونث او جمع په مفرد بدلول خو په هر خبر کې و. په پای کې یې وویل: "خبرونه ختم شو".

خدای شته ډېره مې خوا بده شوه، ایا په دې دومره لوی وطن کې هېڅوک نه شته، چې مور ته په خپله ژبه د هېواد خبرونه راواوروي او پرې پوه مو کړي؟ زما د دوست وروستۍ خبره مې هم رایاده شوه، چې د خدای پامانۍ پر وخت یې راته وویل:

"وروره! مه پسې ګرځه، په کابل ټلویزیون به داسې پښتو سندرې واورې، چې له خپلې ژبې به دې زړه تور شي، ځکه چې د داسې سندرغاړو په اواز کې وي، چې په پښتو نه پوهېږي.

څو ورځې نور مې هم د ټلویزیون خپرونې ولیدلې او دې پایلې ته ورسېدم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ټلويزيون د يوې خپرونې نوم هم پښتو نه دی، د ځينو نومونه يوازې په پښتو ژباړل شوي دي.
- د ټلويزيون ژبه په سلو کې 25 پښتو ده.
- د ټلويزيون سمبول په دري ژبه طرحه شوی (ر، ت، ا) په داسې حال کې چې په پښتو ژبه ډېر مناسب دی (ا، ر، ت). چې مخفف يې هم درست راتلای شي، په دري کې مانا نه لري (رتا). پښتو نوم له انګرېزي نوم سره هم سمون لري (**RTA**). چې پښتو ته يې اوس هېڅ ونډه نه ده ورکړې.
- زياتره هنري فلمونه پښتو ته نه ژباړل کېږي، د نوي کال او د ثور د اتمې نېټې په هنري فستيوال کې يو فلم هم په پښتو نه و ژباړل شوی.
- د ټلويزيون زياتره فلمونه ايراني دي، چې د ايران په زياترو سيمه ييزو لهجو زموږ دري ژبې ورونه هم نه پوهېږي، ځينو ليدونکو لا ما ته دا هم وويل چې په ايراني فلمونو کې زموږ د مذهبي احکامو سپکاوی هم ليدل شوی دی. مثلاً داسې فلمونه شته چې د پيغمبرانو په رول کې نور څوک څرګندېږي، حال دا چې پيغمبرانو ته د بديل ټاکل ګناه ده.
- په ټلويزيون کې د ملي ټرمينالوژۍ ساتلو ته هم پام نه کېږي. دانشګاه د پوهنتون پرځای، دانشکده د پوهنځي پرځای، دانشجو او شهروند په وار-وار ترې اوربدل کېږي، چې دا په خپله له اساسي قانون څخه يوه څرګنده سرغړونه ده.
- د ټلويزيون راپورټران په پښتو نه پوهېږي، پښتو ژبو ولايتونو ته هم داسې کسان لېږل کېږي، چې په پښتو نه پوهېږي. په ټولو رپوټونو کې پوښتنې په پښتو ژبه نه وي.
- نور اختصاصي او موقتي پروګرامونه يو هم په پښتو ژبه نه دي.
- داسې هم ليدل شوي دي، چې د ټلويزيون چارواکو د ژبې سپکاوی هم کړی دی. مثلاً د 1383 ل کال د وري د مياشتې په وروستۍ اوونۍ کې د سينما په خپرونه کې يو ليک خپور شو، چې غوښتنه يې کړې وه، فلمونه دې په پښتو نه ترجمه کېږي، تر پښتو اردو ښه ده!.
- په خپرونو کې دوه ويندويان وي، خو مطالب په پښتو لږ وي.
- د ازمونګاه ذهن خپرونه د يوه وياند له خوا خبرو پرته ټوله په دري ژبه وي.
- د جمعې د شپو د فلمونو په ژباړه کې ژبنی انډول نه مراعاتېږي.
- په پښتو ژبه مطالب له هر لحاظ کمزوري دي او اکثره بې مانا وي، چې پوښتنه وشي، وايي چې پښتو ليکوال او کارکوونکي نه لرو، دا خپله يوه لويه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، چې ولې پښتـانه لیکـوال او ژورنالیستـان نـه لري؟ دوی کـه کـارکوونکي نـه لري، دا نورو ژبو ته یې څنګه تجربه کاره خلک پیدا کړي؟ دوی ځینـې پروګرامونـه لري، چې پـه بدل کې یې جوړوونکي او پروډیوسر ته ځانګړې حق الزحمه ورکوي، خو دا امتیاز پښتو ته نه دی منل شوی.

- ډرامې په سلو کې لس پښتو دي په داسې حال کې چې د دغو کړښو لیکوال د ډرامو د برخې مدیر همایون فېروز ته له حق الزحمې او نورو امتیازونو پرتـه ډرامې لیکلي او سپارلې دي، خو خپرې کړې یې نه دي.

د ټلویزیـون پـر خپرونـو ډېرې لیکنـې او نیـوکې شـوې دي. خـو چـا سـر نـه دی پـسـې ګرځولی او هسې بابېزه یې ګڼي. هیلـه ده چې د افغانسـتان د اسلامي دولت ورتـه جدي پاملرنه وکړي او ټلویزیون د څو تنو لـه انحصـار څخه بهر او د ټول افغانسـتان پـه ملي ټلویزیون یې بدل کړي. موږ له خپل نوي ولسمشر څخه همدا هیله کوو، چې موږ حق لرو، پـه خپلـه ژبـه راډیـویي او ټلویزیـوني خپرونـې ولـرو. کـه چېرې د خیبـر پـه نامـه پښـتو ټلویزیوني شبکې باندې بندیز لګول کېږي، د ایران چنلونه دې هم بند کړای شي، کـه نـه، زموږ د خپل هېواد خپرونې دې سمې او ملي کړای شي.(35)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مطبوعاتو ازادي، که د تورونو تود بازار

خپلواکي او ازادي د هر انسان روا حق دی، چې باید د ترلاسه کولو لپاره یې هاند وهڅه وکړي. خو خپلواکي دا نه ده چې د انسان دي هر څه ته زړه وشي، هغه دي وکړي او یا دي د خپلو غوښتنو لپاره نړۍ او هر څه استعمال کړي. هره وسیله او امکانات که په سمه توګه و نه کارول شي، زیان رسوونکي تمامېږي. خو که موخه او ارمان سپېڅلی وي، انسان په لږو امکاناتو کار کولای شي. په افغانستان کې هم له ډېرې مودې راهیسې د مطبوعاتو د ازادۍ چیغې وهل کیږي او زیات کسان ادعا لري چې مطبوعات دي په بشپړ ډول ازاد کړای شي، سانسور دي نه وي. خو باید یادونه وشي چې د مطبوعاتو ازادي هم خپل چوکاټ او اصول لري چې باید له پامه ونه غورځول شي. په پرمختللو هیوادونو کې د مطبوعاتو ازادۍ ته ځانګړي قوانین وضع شوي چې د هغو له مخې دغه خپروني چاپیږي. دا مهال په افغانستان کې مطبوعاتو ته نسبي خپلواکي ورکړل شوې، چې د همدغې خپلواکۍ په رڼا کې تر یونیم سلو زیاتې خپروني پیل شوي دي.

په دغو خپرونو کې زیاتې داسې دي چې د یوه ځانګړي ګوند په چوپړ کې دي، چې موخه یې د خپل ګوند اېډیالوژیکو او سیاسي موخو خپرول دي. له دغو خپرونو سره د عام ولس درد او غم نشته.

څرنګه چې په افغانستان کې تر ملي او اسلامي شعار لاندې یو شمېر نژادپاله ګوندونه فعالیت کوي، نو له بده مرغه د دغو ګوندونو نژادي غوښتنو او تعصباتو مطبوعاتو ته هم لاره کړې ده. د چا چې څه په زړه کې راګرځي نو د کاغذ پر مخ یې لیکي، څوک له ځانه د افغانستان د قومونو احصائیې خپروي، څوک د فدرالي حکومت لپاره کار کوي، د ځینو خو لا په دې هم زړه نه سړیږي، د تاریخ مسخ او تحریف کولو ته یې ملا تړلې ده، زمونږ په تاریخي څېرو، ملي اتلانو او قهرمانانو پسې بد رد وایي. بلکه دا چې ځیني لیکوالان له دې بې پروایۍ څخه هم خوند اخلي، چې د اسلام پر سپېڅلي دین ملنډې وهي، دوی داسې فکر کوي چې پر اسلام د نقد کولو صلاحیت او استعداد لري. لنډه دا چې د مطبوعاتو د ازادۍ تر سرلیک لاندې د تورونو بازار ښه تود دی. داسې برېښي چې زمونږ ځیني ړانده ذهنه فرهنګیان داسې فکر کوي چې د مطبوعاتو ازادي په دې مانا ده، چې څه خولې ته درځي، که هغه د اسلام د سپېڅلي دین، ملي ارزښتونو، ملي ګټو او ملي ویاړونو پر ضد هم وي، د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ دي او په لوستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزي.

ډګر ښه خالي دی، داسي ځوک نشته چې دغه ډول ملي ضد خپروني وڅاري او لیکوالان یې محکمې ته راکش کړي. په نورو ټولنو کې ملت او ملي ارزښتونه مقدس ګڼل کیږي، خو په افغانستان کې حکومت مقدس او واجب الاحترام دی، چې سالم انتقاد وربانديي کول هم د ځان لپاره قبر کیندل دي. حکومت د همدې لپاره جوړ دی او ملت د همدې لپاره د حکومت اطاعت کوي چې د ملت د مادي او معنوي شتمنیو د ساتني او ښه اینې لپاره کار وکړي. نو دا د حکومت وظیفه ده چې د ملي ضد خپرونو او لیکنو مخه ونیسي او پرې نه ږدي چې په افغانستان کې له ډېره وخته وروسته لاس ته راغلې نسبي سوله په جګړه بدله او بیا د پلورل شویو او ملي ضد اشخاصو او ډلو په لاس په افغانستان کې د جګړې اور بل شي.(36)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هنر را آلوده نکنید!

[ببینیم که در زمان وزارت سید مخدوم رهین به تعبیض هاي لساني او قومي چقدر دامن زده شد ، این نوشته در صفحه انترنت نشریه پیمان ملي به نشر رسیده]

روز نخست سال نو ، برنامه ي شعر خواني در ارگ ریاست جمهوري برگزار شد. از دیوارهاي امنیتي پیچ در پیچ که گذشتیم، به قصر گلخانه رسیدیم، جایي که رئیس دولت اغلب دیدارهاي خود را دارد. قریب 40 نفر از شاعران اقوام و زبان هاي مختلف دعوت شده بودند. اکثریتي از پشتون ها ، اقلیتي دري زبان و سه شاعر ترکمن و بلوچ. این هم نمونه ي دیگري از وفاق ملي و ترکیب آبرومند در مراسم دولتي بود. اما دیري نگذشت که این بافت جلسه به گونه ي دیگري تغییر شکل یافت و احساس یگانه بودن و رفاقت و خوش باوري رنگ از چهره داد .

ابتداي جلسه، پیش از حضور در مراسم شعر خواني، کسي که بعداً مشخص شد مجري برنامه است، از تک تک شاعران مي پرسید که شعر دري مي خوانید یا پشتو؟ دیرتر این تفکیک شاعران، به گونه ي رندانه یي نمایان شد .شعرخواني به مدت چند ساعت به زبان پشتو جریان داشت، بدون این که توجهي به دیگر شاعران بشود. گاه گاه یک شاعر دري زبان از روي لیست تفکیک شده به شعرخواني دعوت مي شد .

اجرا به زبان پشتو بود. حتي یک کلمه غیر پشتو براي احترام به زبان هاي دیگر بیان نشد. کم کم حس وجود در آن جلسه به نوعي توهین شدن، شباهت پیدا کرد. تراکم و بي نوبتي و شعرهاي بلند پشتو و... باعث شد که چند شاعر دري زبان جلسه را ترک کنند . این پرسش پیش مي آید که در جامعه ي افغانستان براي آن که به ناسیونالیسم متهم نشد ، باید یک طرفه و اغراق آمیز اکثریت حاکم را به رسمیت شناخت. در حالي که وفاق و یگانگي تعامل، تفاهم و احترام متقابل را مي طلبد. در جمع فرهنگي آن چنان، هیچ نباید این قدر صریح و بي شرمانه زبان هاي دیگر مورد بي اعتنایي قرار مي گرفت. تنها رسمیت زبان ها در قانون اساسي کافي نیست، بلکه نوع برخورد ، به خصوص حکومت که ادعاي برابري و یگانگي ملت افغانستان را دارد ، باید محترمانه و متناسب باشد.

نکته ي مهم این است که هیچ تفاوتي بین پشتو زبان و دري زبان و یا ترکمن نیست. اما باید توجه داشت که استفاده ي سیاسي از هنر ، معضل سرطاني است که کم کم شیوع پیدا مي کند و پاک ترین گوشه هاي فطرت انسان ها را تخریب مي کند .(37)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه ډول د بیان ازادي؟

د افغانستان، د اسلامي انتقالي حکومت تر منځته راتلو وروسته د خورا ډېرو لاسته راوړنو ادعاګاني کېږي، چې یوه هم د بیان ازادي ده. د مجلو، جریدو او ورځپاڼو شمېر سلګونو ته رسېدلی او د اکثرو پر تندي لیکلي وي، چې خپلواکه، ناپېیلې...

کله چې سړی په دغو خپرونو کې د حکومت پر لوړپوړو چارواکو، لکه ښاغلي حامد کرزي، د ملت بابا، ښاغلي جلالي، ښاغلي اشرف غني احمدزي، ښاغلي احدي، ان دا چې تاریخي اتلانو، لکه لوی احمد شاه بابا، غازي محمد نادر خان او داسې نورو باندي بېشمېره نیوکي لولي، نو داسي ورته ښکاري، چې په رښتیا په افغانستان کي د بیان ازادي سته. خو د حکومت هغه اداره د دغه ډول تورونو بازار يې ګرم کړی دی او د بیان، د ازادۍ ممثله اداره بلل کېږي او څو مډالونه یې هم تر لاسه کړي، پر خپل ځان یوه کوچنۍ نیوکه هم نه سي زغملای.

خبره به سپینه وکړو؛ د اطلاعاتو او کلتور وزیر، ښاغلی سید مخدوم رهین یادوو، چې تل ځان ډیموکراټ او د بیان د ازادۍ کلک پلوی بولي، دا هڅه کوي، د هغو خلکو خولې وروګنډي، چې پر ده او د ده پر اداره باندي نیوکې کوي.

د روان کال، د غبرګولي د میاشتي پر اوویشتمه نېټه په کندهار کي یو علمي سیمینار جوړ سوی و، چې ښاغلي رهین هم برخه په کښې درلوده. په دغه سیمینار کي یو شمېر پاڼې، چې له انټرنیټ څخه را اخیستل سوي، وویشل سوې. په پاڼو کي راغلي وه، چې د کابل، د خواجه صفا په زیارت کي چې کومي کیندني رواني دي، نو په نتیجه کي يې یو شمېر طلایي اثار را ایستل سوي او ځیني یې د رهین له خوا غلا سوي دي.

ښاغلي رهین که څه هم له ځان څخه دفاع وکړه، خو په دې یې زړه سوړ نه سو، په دې تور یې په کابل د "هوسۍ" مجلې مسوول، صالح محمد صالح د تحقیق لپاره څارنوالۍ ته راوغوښت. تر دې وروسته یې په همدې تور په کندهار کي د "ښنوا فرهنګي ټولنې" مشر، ښاغلی عبدالاحمد محمدیار هم څارنوالۍ ته راوغوښت. څرنګه چې له یوې خوا د قانون خوله ورته جوړه نه سوه او له بلې خوا په فرهنګیانو کي شور او زوږ را پورته سو، نو رهین مجبور سو، چې دغه دوه کسان بېرته خوشي کړي.

ښاغلی رهین نور وزیران ټو پکسالاران بولي، خو که چېري دی د دفاع یا کورنیو چارو وزیر وای، نو خدای Ψ خبر چې د دغو دوو لیکوالانو به اوس څه حال وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د حکومت پر لوړپوړو چارواکو انتقاد کول، د نوي عصر غوښتنه او د هر چا قانوني حق وي، نو ښاغلی رهین ولې ځان غیرمسوول او واجب الاحترام بولي؟ او که خبره د ناسالم انتقاد وي، نو هغه تورونه چې پر ښاغلي کرزي، جلالي، اشرف غني، احدي او نورو باندې لګول کېږي، ولې یې خبره تر ځارنوالۍ پورې نه رسېږي؟

خپله د اطلاعاتو او کلتور، د وزارت مشاور، ښاغلی رهنورد زریاب چې د زمري، د اته ویشتمې جشن ته "قصهٔ غم انگیز جشن های ما" وایي او نامتو سپه سالار، غازي محمد نادر خان او د هغه ملګرو غازیانو ته د ټوکرانو، د څو تانو غله وایي، ولې محکمې ته نه راکش کېږي؟ ولې څوک حساب و کتاب نه ورسره کوي، هغه لیکنې چې د افغاني قومونو تر منځ د نفاق اور ته لمن وهي او ملي وحدت ټوټې، ټوټې کوي، ولې نه بندېږي، ولې ملي ضد اشخاصو ته موقع ورکول کېږي، چې د افغانستان له راډیو ټلوېزیون څخه د خپلو ناوړو اهدافو لپاره استفاده وکړي او په جار، جار وایي چې موږ نه افغانان یو، نه او سنی حکومت او نه هم اساسي قانون منو، ولې د کابل، د راډیو او ټلوېزیون له خوا قانون تر پښو لاندې کېږي او د افغانستان ملي ټرمینالوژي، په ایرانۍ ټرمینالوژي اوړي؟

که د افغانستان مطبوعات په دقت وڅارو، نو نژدې ټول بد رد د پښتنو په مشرانو پسې ویل کېږي؛ له ښاغلي کرزي څخه نیولې، بیا تر احمد شاه بابا پورې خو کومه دی داسې نر، چې پر ناپښتنو مشرانو هم یوه نیوکه وکړي، که ټوپکیان نه لري، نو ځارنوالي خو ورسره سته.

د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې له پښتو خپرونو سره ښه په پراخ مټ د مور او میرې سلوک کېږي، نه د دولتي پښتو خپرونو خوند سته او نه ازادې پښتو خپروني خپل سر ته پرېښوول کېږي. موږ د دولت د ریاست له مقام څخه دا هیله کوو، چې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې له پښتنو او پښتو خپرونو سره د مور او میرې سلوک پای ته ورسېږي او دغه وزارت ملي سي.

که چېرې خبره د ډیموکراسۍ او د بیان د ازادۍ وي، ولې پر ټولو په یوه شان نه تطبیقېږي؟ موږ ټولو اسلامي او افغاني ارزښتونو ته درناوی لرو، خو له نورو څخه هم دا هیله کوو چې باید دغه اړخ له پامه ونه غورځوي. او سنی دولت دا مسوولیت لري چې په دې برخه کې جدي اقدام وکړي. زموږ په اند نور نو باید د ټوپک او ټوپکوالۍ پاچاهي پای ته ورسېږي، نور نو باید افغانانو ته د سالم فرهنګي کار زمینه برابره شي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خپل تشکیل کې یو ریاست د فرهنګي ستونزو د اوارې لپاره لري، دغه وزارت ولې خلک ځارنوالیو ته ورغواړي؟ ایا دا ظرفیت په دوی کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سته؟ دغه راز کارپوهان د دې وزارت پر دغه اقدام دا شک هم لري، چې غواړي په دې توګه د زیاتو خپلواکو خپرونو مخه ونیسي او د زیاتو ازادو لیکوالو له ګوتو قلمونه واخلي، ځکه چې خپلواکي خپروني او ناپېیلي لیکوالان رښتیا لیکي او که چېرې رښتیا ولیکل سي، کېدای سي زیات خیانتونه رسوا او د زیاتو کسانو له څېرو څخه نقابونه لیرې سي، خو بیا هم افغان فرهنګیان د ژورنالیستانو له نړیوالي اتحادیې څخه غوښتنه کوي چې باید د دوی ځاني امن تضمین کړي او دوی ته دې د سالم فرهنګي کار زمینه برابره کړي.(38)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر طارق رشاد ، هالېنډ

# ازاد مطبوعات که متعصب مطبوعات

## څارنوالي او که جګړه ماري

### که نن ورته پاملرنه ونه شي سبا به درنه پښتو او درانه پښتانه په افغانستان کې هم د محکومیت تر پولې ورسېږي

دوینا ، اند ، اورسنیو د ازادیو له ډنډورو څخه که یوازې دا موخه وي چې د پښتو او پښتنو په وړاندې سپکې ، سپور ي وویل شي او یا د ربښتیني افغان ویاړلي تاریخ او ملي ارزښتونو په اړه له دښمنۍ ډک چلند وشي او یا هم په بې انډولۍ کې نژادي ، قومي ، ژبنیو ، سیمه ایزو او مذهبي کرکو ته لمن ووهل شي او زموږ په یو موټي افغان ولس کې د کرکې چړاخونه پیدا او زموږ په واحد افغان کور کې کورګۍ جوړ کړي ، ملي بیلتونپالني او تجزیې ته هڅه وشي او یا د افغانستان په ویاړلي نوم او یا افغان ملي هویت باندې ملنډې ووهل شي.

خو که کوم د ملي اوافغاني احساس څښتن پښتون روڼ اندې لیکوال ، شاعر ، ژورنالیست او کلتوري شخص غواړي د خپلو ملي او افغاني ارزښتونو ددفاع او د افغانستان د اوسنۍ جاري اساسي قانون پر بنسټ د ملي پښتو ژبې د رسمیت حق او انډول دږغ پورته او د خپلې خوږې او درنې پښتو ژبې سره پښتو وکړي او د ملي ویاړ او تاریخ لوټولو په وړاندې د غبرګون دږغ پورته کړي او زموږ د افغاني کلتور ، ژبې او ملي ارزښتونو سره ددښمنۍ چال چلند وغندي او دهغه په وړاندې ملي او افغاني دریځ غوره کړي له هغه سهر وسله وال چلند کیږي ، دا په دې مانا چې ټول ژورنالیستان ، لیکوال ، فرهنګیان او روڼ اندې به د مطبوعاتو له قانون څخه یو ډول ګټه اخلي ؟

نو له دې عمل څخه دا پایله راوزي چې د افغانستان د اساسي قانون ، مطبوعاتود قانون اونورو قوانینو اوبشري حقوقو په پلې کولو کې د مور او میرې چلند کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مراجع اودولتي موسسات چي د قانون د ساتني دنده لري اوباید د بي ګنا او بي دفاع خلکو ژورنالیستانو او فرهنګیانو ګریوانونه د ټوپکیانو ، قاتلانو ، قانون ماتوونکو زورواکانو او مستبدانو د خپلسرۍ له منګولو څخه خلاص او د قانون ینجې ته وسپاري او د نړیوالو ژورنالیستیکو ادابو ، دمطبوعاتو د قانون او د اوسني جاري اساسي قانون پر بنسټ د هغوی د حقوقو ملاتړ وکړي او په چارواکو کي د ولسواکۍ او زغم روحیه غښتلې ، څو له دې لاري ځان وارزوي ؛ برعکس دغه د مطبوعاتو د ازادۍ په اصطلاح دولتي علمبرداران خپل خبث باطن څرګندوي او د خپل ژبني اواتنیکي متعصبو ټوپکیانو او د شر او فساد له څرګندو څېرو څخه مرسته غواړي اولاسونه یې ددغو هڅنده کلتوري اشخاصو ګریوانو ته ورواچولي او ددې پرځای چي له مرکزي اداري څخه سرغړونکي قاتلان ، د اساسي قانون اونورو قوانینو اوبشري حقوقو ناقضین ، جګړه مار ، د نشه يي توکو قاچاق وړونکي ، دملي اوتاریخي شتمنیو لوټماران ، ملي اوافغاني ضد ډلي ټپلي ، دجګړې جنایتکاران ، دافغان ولس د پت اوعزت دښمنان او ملي شر اچوونکي رسوا او څارنوالۍ ته ودروي له بده مرغه دغه کلتوري اشخاص څارنوالۍ ته کشوي ؛ هغه هم هغه څارنوالي چي د شر اوفساد دډلو ټپلو ، ملي بیلتونپالو او جګړه مارو له خوا یرغمل شوي ، چي په دې عمل سره دقانون څخه ددفاع مراجع او موسسات خپله ، اوسنۍ جاري او اساسي قانون ، اونور مدني قوانین اوهمدا رنګه د بشر د څلورو اساسي حقوقو څخه چي یو یې د وینا ، اند ، وجدان ، او رسنیو حق دی تر پښو لاندي کوي.

په افغانستان کي د ملګرو ملتو د ( یوناما ) د موسسې او د بشر د حقوقو د کمیسون په اوسنۍ ګډه څېړنه کي چي د بشري حقوقو ارزونه تر سره کوي د مشروع فشار د دریومیکانیزمونو له لاري چي هغه: د ولس ازاد اند اورایه ( ووټ ) د مدني ټولني پرګنیز چلند او فشار او له دولت سره مستقیمي خبري دي تر سره کیږي ، خو لکه څنګه چي یې اصول څرګند سوي دي چي هغه به له کرکي او ګواښ پرته د بې پرې خلکو له لاري تر سره کیږي څه ناشوني ښکاري ، ځکه سیمه ایزي له کرکو ډکي واکمنۍ خو پریږده ، مرکزي اداره هم چي د یوې متعصبي ټوپکوالي ډلي او دهغو دملاتړولخوا یرغمل شوي ، خپله له کرکي ، ګواښنه ډکه ، او بي پرې نه ده . ځکه موږ وینو چي پر چارواکو باندي د نیوکو ( چي مخکي یي یادونه وشوه ) داډول د مور او میرې چلند د ملي بیلتونپالني دستمي کرکي یوه ډرامه او توطیه ده.

که نن ورته پاملرنه ونه شي سبا به درنه پښتو او درانه پښتانه په افغنستان کي هم د محکومیت تر پولي ورسیږي او ددوی پر سر به پریکړې نو رڅوک کوي اوهم ددې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای چي پښتنو ته د یو اکثریت په توګه او پښتوژبي ته داوسني اساسي قانون پربنسټ په رسمیاتو ، زده کړو او میډیا کي وړ حق ورکړه شي او اڼدول وساته شي ان پر سرونوبه يې د ستمي کړکي او تعصب سیاسي ـ پوځي چپې میچني وڅرخي ، ځکه کورني او بهرني افغان دښمنه ځواکونه په دې پوهیږي چي دافغانستان سیاسي او ملي ثبات او د ثقل مرکز د اکثریت په ملاتړ اویو موټي افغان ولس کي دی اوددې لپاره چي دا ثبات رامنځ ته نه شي ، نو د پښتنو په بې سېکه کولو لګیا دي او هغه پښتانه چي سربې په تن ارزي بدناموي ، له ګوابښ سره مخامخ کوي او یو نیم يې تطمیع کوي اوله منځه يې وړي او د (( نابود سازي وخاموش سازي )) پروګرام پر مخ بیایي.

چي په دې ډول اعمالو سره دفرهنګیانو ، فرهنګپالو ، روڼ اندو او رښتیني افغان ولس لیکي له اوسني دولت او په تېره بیا له وسله والو اوهم ددوی په اصطلاح ( داطلاعات وفرهنګ ) له چارواکو څخه بېلي او د بې باوری‌واټن به نور هم پراخ شي اوټول ولس به دهغو په وړاندي ودریږي.

ځکه هرهغه دولت چي دولس رېغ وانه وري اوچارواکي يې د ازادو مطبوعاتو له لاري ځان ونه ارزوي او دولس ملاتړ تر لاسه نه کړي ، دخپل یاد بل پردي په زور پر خلکو واکمنان شوي وي ، ډیر ژر به خپل قانونیت له لاسه ورکړي اورانسکور شي.

نو مخکي له دې ولس چي دې ته اړ شي ، څو په یو پراخ پاڅون اوخښم سره داډول زورواکه بلواکه دولتونه له منځه یوسي اویابه د بدیو دمورېیو اومتعصبینو پروګرام هم داوي چي افغان ولس کي د کرکي تخم وپاشي اوولس پاڅون ته وهڅوي اوپه پایله کي رښتینی افغان ولس په کورنیو اوبهرنیو وسله والو وځپي څو دهغو په وینو ددغو متعصبو دکرکي اور سوړ شي.

خو ښه به داوي چي په روغو تنیو اوبیله کړکي د ولس رېغ واوریدل شي ځکه په تشو وعدو او د ولسواکۍ او د مطبوعاتو د ازادۍ په وچو چغو ، دوکو ، غولولو او زور دولتونه نه کیږي ، هغه چي وایي:

((په زور کلي نه جوړیږي ))

که همدا رنګه راتلونکي ټولټاکني هم د داډول مطبوعاتي کمپاین له لاري او دداسي اشخاصو پر لاس تر سره شي نو ګمان کوم چي(( دا وړۍ به شړۍ نه شي ))

پـه داسـي حـال کـي چـي زه دا عمـل غنـدم نـه پـوهیږم چـي دوی دازادو مطبوعـاتو علمبرداران وګڼم کـه د متعصبو مطبوعـاتو علمبرداران اودا څـارنوالي وګڼم کـه جګړه ماري !؟(39)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلموال

# د ولسواکۍ تر شعارونو لاندې

په افغانستان کې اوس ډیموکراسي د ورځې یو مهم شعار دی، ډیموکراتان، زورواکان ان ډیموکرات ضد اشخاص ټول د ډیموکراسۍ شعارونه پورته کوي، خو عملاً ولسواکۍ تر اوسه پورې د هېواد په ګوټ ګوټ کې خپل وزرونه نه دي غوړولي. عملاً اوس هم زورواک - زورواک دي، یوازې د جامې بدلانه ځه بدلون نه دی راوړی.

د بیان ازادۍ د ولسواکۍ یوه اساسي برخه او د هر انسان حق دی. خو کله چې کوم لیکوال د زورواکانو او د هغوی د پلوي مصنوعي ډیموکراتانو په باب رښتیني څه ولیکي، نو یودم پرې ټول رابرګ شي او پر تهدید پیل وکړي.

غوره بېلګه یې په همدا نژدې تېرو وختونو کې د دوو افغان لیکوالو ځورونه او تهدیدونه وه، چې د رسمي ټوپکوالو او فرهنګي چارواکو له خوا ترسره شوه.

ځوان لیکوال ښاغلی صالح محمد صالح په دې (غټ جرم!) وځورول شو، چې ولې یې ټوله مجله په پښتو چاپ کړې، ځوان لیکوال عبدالاحمد محمدیار د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر ښاغلي مخدوم رهین له خوا په دې جرم ځارنوالۍ ته معرفي شو، چې ګنې د ده پر ضد کوم چا په انټرنټ کې مقاله لیکلې وه او محمدیار دا لیکنه په کوم سیمینار کې وېشلې وه. دغه دي جرمونه!! دلته سړي ته د مرحوم استاد روهي دا خبره رایادېږي، چې: 'که په خپلې ژبې ګړېدل او هغې ته کار کول ګناه وي، نو بیا خو د دنیا ټول وګړي ګناهکار دي' که صالح محمد صالح ته په پښتو ژبه د مجلې چاپ جرم وي، نو بیا خو زموږ ټول دري ژبي لیکوال ورونه مجرمین دي، ځکه دوی خو ټول په دري ژبه نشرات کوي او که د عبدالاحمد محمدیار جرم دا وي چې د ښاغلي رهین پرضد لیکل شوې مقاله یې په سیمینار کې وېشلې، نو بیا خو خپله رهین صاحب تر ټولو غټ مجرم ځکه دی، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د ده تر مشرۍ لاندې د نشراتو ریاست دی، چې هره ورځ په سلګونو خپرونې توزیع کوي. طبعاً به په دې خپرونو کې د یو چا په ګټه او د چا پرضد لیکنې وي.

نو که چېرې د لیکوالو د جرم معیارونه په دې ډول سنجول کېږي، نو بیا خو هېڅوک هم بې جرمه نه دی. له دې څخه ښکاري، چې افغانستان کې ولسواکي او د بیان ازادي یوازې د شعار تر بریده ده، نه په عمل کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



‘قلموال’ خپرونه او د هغې چلوونکي په داسې حال کې چې د بېلابېلو زورواکو او په فرهنګي حلقو کې د هغوی د پلویانو له خوا د ښاغلي صالح محمد صالح او عبدالاحمد محمدیار ځورونه غندي، له دې دوارو نوښتګرو افغان لیکوالو څخه خپله ننګه او ملاتړ څرګندوي او هغوی ته ډاډ ورکوي، چې تاسې په دې لار کې یوازې نه یاست او ټول ملتپال لیکوال مو ملاتړي دي.(40)

(c) ketabton.com: The Digital Library



گزارش رحیم الله سمندر خبرنگار آی دلیو پی آر در کابل.

# دولت به سانسور متهم میباشد

ادیتر مهم میگوید که مسدودیت اخبار دولتی وی یک ضربه به مطبوعات آزاد محسوب میشود.

اتهامات سانسور علیه وزارت اطلاعات و فرهنگ زماني وارد گردید که تصمیم اتخاذ نمود تا مطبوعات دولتي را محدود سازد.

آرمان ملي توسط سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنگ بمنظور پرنمودن خلای مطبوعات که بعد از سقوط رژیم طالبان بمیان آمده بود به فعالیت آغاز نمود این درست زمانی بود که اخبارهای دولتی هنوز هم غیر منظم بودند.

رهین میگوید کابل جمعاً پنج اخبار دولتی دارد که در نتیجه یکسانی بوجود آمده " اکثر راپورها با عین تصویر و از عین مرجع تکرار شده ، عین اخبار و حتی عین کلمات استعمال میشود بناً ما تصمیم گرفتیم که آنها رامحدود سازیم. "

به اساس پیشنهاد جدید فقط اخبار انیس بناءبر سابقه طولانی آن در دست دولت باقی میماند.

دریک مصاحبه به آی دبلیو پی آرمدیر سابق آرمان ملي میر حیدر مطهر ادعا ي رهین را رد نموده گفت که تصمیم مسدود ساختن اخبار در ماه اکتوبر بطور غیر مترقبه زماني اتخاز گردید که به فشار ها ي وارده اطلاعات و فرهنگ تن داده نشد .

" هئیت تحریرمایان فیصله کردند که از نشر زیاد این اخبار جلوگیری بعمل آید فلهذا ما اخبار مربوطه به شخصی وزیر را نشر نساختیم و یک عامل مسدود شدن اخبار همین است. "

وي اضافه نمود که اخبار درین اواخر یک مصاحبه انتقاد آمیزي را بالاي ایجاد شوري شهروندان کابل که رهین در تاءسیس آن کمک نموده نشر نمود.

رهین باوجود آن اصرار ورزید که مسدود نمون اخبار جز از پروگرامهای وسیع دولت بود که میخواهد دست دولت را در مطبوعات کوتاه سازد "ما باید مثل سابق وسیله تبلیغ نداشته باشیم. بمنظور تحقق بخشیدن دموکراسی بهترین کار اینست که دولت نشرات زیاد نداشته باشد . "

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی عـلاوه نمـود کـه ممکـن آژانـس بـاختر کـه یـک اژانـس دولتـی اسـت و رادیـو و تلویزیون خصوصی شوند ، زیرا بخاطر اینکه یک وظیفه اخلاقی را انجام داده باشیم و ثابت بسازیم که به تعهدات خویش مبنی بر اینکه منافع ملی را ترجیح میدهیم باید به چنین کار متوصل شویم، زیرا درین موارد پول گزافی به مصرف میرسد.

از پول ذخیره شده که قبلاً درکابل در عرصه مطبوعات به مصرف میرسید بخاطر تقویه مطبوعات در ولایات استفاده خواهد شد ، جایکه بجز ازصدای والی کسی چیزی دیگریرا نمی شنود.

بـآنهم یکتعداد مبصرین نگران هستند کـه کابـل اکنـون کـاملاً امـاده مطبـوات آزاد نیست ، زیرا از یک طرف خواننده زیاد اخبار وجود ندارد و نه هم دالر ها درین عرصه به مصرف میرسد . پس بیم آن میرود اگر دولت از مطبوعات عقب نشینی کند ، مطبوعات بدست کسانی تمرکز خواهد کرد که پول زیاد دارند.

فعلاً اکثر اخبار خصوصي مربوط تنظیم هاي سیاسي است و در چند موارد محدود مربوط تجاران سر مایه دار است.

موسسه غیر حکومتي انکشاف مطبوعات انتر نیوز درین اواخر بر آورد نموده که حکومت بخاطر نشر فقط سه اخبار انیس ، هیواد و آرمان ملي 69000 دالر امریکایي ماهانه به مصرف میرساند که پرداخت چنین پول را فقط چند افغان تحمل کرده میتواند.

ادیتران افغان در رابط به خصوصي سازي مطبوعات نظریات مختلف دارند.

سیامک هروی مدیر مسئول روزنامه انیس میگوید بدون مساعدت قیمت های اخبار خیلی بالاخواهد رفت. باوجود آن اصولاً وی موافق است که خصوصی سازی مطبوعات یک اقدام بسوي پیشرفت محسوب میشود . وی علاوه مینماید کسانیکه درین عرصه سرمایه گذاری میکنند باید دقیقاً مورد ارزیابی قرارد گیرند که "معلومات آنها دقیق باشد ، روحیه ملی را مدنظر گرفته و بدان احترام بگذارند ، مربوط کدام تنظیم و یاگروپ مشخص نباشند. "

فضل الرحمن اوریا مدیر مسئول نشریه آزاد مشعل دموکراسی ، که یک تنظیم کوچک طرفدار دمواکراسی است درین مرحله انکشافی افغانستان ، رول دولت را در مطبوعات ضروری میپندارد "کدام مرجع (نشریه) منعکس کننده احکام ، فرامین واهداف دولت خواهد بود. "

حبیب الرحمن رفیع مدیر مسئول نشریه کلید که علاقمندان خیلی زیاد دارد و توسط موسسه خیریه بنام انکشاف خدمات انسانی برای افغانستان چاپ میشود خصوصی ساختن مطبوعات دولتی را تقاضاء بازار اقتصاد آزاد میداند اما میگوید "به اینطور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصی سازی مخالف هستم تا سیستم تک دولتی ایجاد نشود. اول باید سیستم ایجاد شود تا تصدی پول دولت را خورده نتواند ورنه دارائی دولت ضایع خواهد شد.
(41)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد یونس برهان**

# د مطبوعاتو په ډګر کې د کال لوړې او ژورې

په اوس وخت کې چې افغانستان د په اصطلاح د بشپړې ولسواکۍ او ازادۍ پر لوري ګامونه پورته کوي او د هېواد اوسني چارواکي هم خپلې ټولې هڅې کوي نړیوالو ته چې د دوی ټینګ ملاتړي دي، دا په ګوته کړي چې دوی غواړي لوېدیزه ولسواکي تر شوني بریده دلته پلې کړي. دا به ډېره مهمه وي چې په رښتینې مانا هغه څه ولرو چې په نوره نړۍ کې ورته څلورم ځواک وایي. هو، هغه ازاد مطبوعات دي چې له اجراییه، قضاییه او مقننه ځواک سره د ټولنې او دولت ترمنځ په اړیکو او چارو کې برابر اغېز او رول لري.

خو د سهیلي اسیا په دې هېواد کې چې ډېره موده نه کېږي له جنګ- جګړو څخه راوتلی د مطبوعاتو او وینا ازادۍ ته درناوی یوازې په ستاینو پورې محدود دی او د نیوکو یا اعتراضي لیکنو او ویناوو لپاره هېڅ ځای نه شته. ایا موږ اوس یوازې لاپو او ځانستاینو ته اړیو او که د چارو د پرمختګ او سمون لپاره نیمګړتیاوو ته هم باید ګوته ونیول شي؟ .

په تېر میلادي کال کې داسې پېښې ډېرې د پام وړ دي، چې مستقیماً له افغان ژورنالیستانو او یا په هېواد کې له ډله ییزو رسنیو سره تړلې وي، چې ځینې یې په خبري سرچینو کې په ملي او نړیواله کچه را څرګندې شوې. په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې **۵۲** خبریالان د دندې پر مهال وژل شوي او د ژورنالیستانو لپاره په وروستۍ لسیزه کې تر ټولو مرګونی کال ګڼل شوی. له نېکه مرغه په افغانستان کې د کوم خبریال د وژنې خبر نه و- خود بندي کولو، شکنجې، شړلو، سپکاوي او آن وهل ټکولو خبرونه د ژورنالیستانو د ساتنې ټولنو لپاره په نړیواله او کورنۍ کچه د اندېښنې وړ وو، چې خپله د مطبوعاتو د ازادۍ او ورته په مخکې پرتو ګوابنونو ښې بېلګې کېدی شي .

ځینې پېښې د کمزوري امنیت ښوونه کوي خو ډېرې یې د قانون په وړاندې د چارواکو او وسلوالو جګړه مارانو د زغم او د هغوی نه ژمنتیا، دغه راز ژبنې تبعیض او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعصب څرگندوي. دا پېښې يوازې د افغانستان تر پولو محدودې پاتې نه وې، بلکې افغان ژورنالیستانو تر هېواد بهر هم بوږنوونکې کیسې ولیدې. په تېر کال کې که په افغاني مطبوعاتو کې د ډېرو وېروونکو پېښو شاهدان وو، خو په دې ډگر کې مو ځو ښه خبرونه هم لرل.

راځئ دا ټولو پېښو او پرمختگونو ته له سره کتنه وکړو او د هغوی د پېښېدو د نېټې په ترتیب یې لنډه یادونه وکړو، البته کېدی شي دا ټولې پېښې احتوا نه کړي، ځینې به یې پاتې وي، خو بیا به هم خپله هڅه وکړو.

۱ ? د ۱۳۸۳ال کال په پسرلي کې نوښت مجله د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا وتړل شوه، دوی پلمه کوله، چې په دې مجله کې سیاسي لیکنې راځي او د دولت د پالیسۍ خلاف مطالب خپروي، دا په داسې حال کې چې په ۱۳۸۲ال کال کې هم دا مجله په کندهار، کابل او جلال اباد کې هم بنده کړای شوه.

۲ ? د الجزیري یو خبریال د پسرلي په پیل کې نړیوالو سوله ساتو ځواکونو له خوا ځکه سخت وډبول شو چې ولې په کابل کې د منع شوې سیمې عکاسي کوي.

۳ ? د اپرېل پر ۲۱مه نېټه سمیع یوسفزی چې د نیوزویک **Newsweek** امریکایي خپرونې لپاره کار کوي، د پاکستان په قبايلي سیمه شمالي وزیرستان کې ددې لپاره د پاکستان د استخباراتي ځواکونو له خوا ونیول شو چې گواکې ده سیمې ته د نظامي عملیاتو پر مهال د ننوتلو اجازه نه لرله. له ده سره یوه خپلواکه امریکایي خبریاله هم ملگرې وه، چې د بنو ښارگوټي په یوه پوسته کې ونیول شوله. خو امریکایي ژورنالیستې بیرته ژر خوشې شوه په داسې حال کې چې ښاغلي یوسفزي تر یوې میاشتې زیاتې مودې لپاره په بند کې وساتل شو. څو ورځې وروسته په کابل کې، چې د یوسفزي کورنۍ او سېږي د افغان ژورنالیستانو یوې ټولنې د پاکستان پر حکومت کلکه نیوکه وکړه، چې دوه مخې پالیسي چلوي او په یوه تور دوو نیول شویو کسانو کې امریکایي خبریاله خوشې کوي، خو افغان خبریال په بند کې ساتي.

سمیع یوسفزی د جون د میاشتې پر دویمه نېټه په میرانشاه کې له بندیخانې څخه تر هغه وروسته خوشې شو، چې د یوې دودیزې جرگې په مخ کې مجبور شو چې (اقرار وکړي) یوسفزي ویل هغه په پیل کې شل ورځې په پېښور کې د نظامي استخباراتو استازو نیولی و. هغه مهال چې په وزیرستان کې د طالبانو او القاعدې د شکمنو غړو په لټه کې پاکستاني ځواکونو عملیات ترسره کول بهرنیو خبریالانو ته اجازه نه وه چې سیمې ته له ځانگړې هوکړې پرته ننوځي.

۴ ? د درېیو بهرنیو خبریالانو او یوه افغان عکاس د وژلو په تور د ۲۰۰۱ میلادي کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وروستیو کې یو سړی چې رضاخان نومېده- د جون په میاشت کې ونیول شو. په اګست کې یې په همدې وژنه کې پر لاس لرلو اعتراف وکړ او په نومبر کې د سترې محکمې له خوا په اعدام محکوم شو. پر ښاغلي رضاخان تور و چې د طالبانو تر پرځېدو وروسته یې د یوې لاروهونکې ډلې په ملګرتیا یوه ایټالوی، یو هسپانوی او یو استرالیایي تبع او د رویټرز خبري اژانس یو افغان عکاس کابل ته نژدې په سروبي کې وژلي دي. دی لا اوس هم کولای شي د استیناف غوښتنه وکړي.

۵ ؟ د جون د میاشتې پر ۲۵مه نېټه د افغانستان یو ځوان لیکوال او د هوسۍ مجلې چلوونکی ښاغلی صالح محمد صالح د ګارنیزیون د وسلوالو له خوا کابل ته نژدې د ځرخي پله د سیمې پر یوه پوسته ودرول شو، د هغه پښتو مجله چې نوې یې چاپ کړې وه، د هغه په مخکې ځیرې شوه. د ښاغلي صالح په وینا ده خپله مجله په پېښور کې چاپ کړې وه کابل ته یې په یوه کرایه شوي موټر کې راوړله، چې وسلوالو د کابل ختیځ ته په ځرخي پله (پل چرخي) کې ودراوه او چې کله یې ولیدل مجله یې په پښتو ده، نو هغه یې وواهه او د څو ساعتونو لپاره یې بندي کړ. ده ته وسلوالو چې په پنجشېري لهجه یې خبرې کولې د پاکستاني، د طالبانو او القاعدې د غړي خطاب کړی و او د ده په وینا له سپکاوي ډک چال چلند یې ورسره وکړ.

۶ ؟ د همدې لیکوال یاني صالح په اړه بله د یادونې وړ پېښه د اطلاعاتو او کلتور د وزیر سید مخدوم رهین له خوا د کابل لویې ځارنوالۍ ته د هغه راغوښتل و. لومړی یې دی د چنګاښ (سرطان) پر ۱۷ مه نېټه) چهارشنبه) چې د ۲۰۰۴ م کال د جولای ۷ مه نېټه کېږي، وغوښت، له هغه څخه یې څېړنې وکړې، دویم ځل یې د چنګاښ پر ۲۱ مه نېټه وغوښت، چې بیا یې څېړنې ورڅخه وکړې.

د ژورنالیستانو د دفاع د کمېټې په وینا، ځارنوالۍ له ښاغلي صالح نه د هغې لیکنې په اړه پوښتنې وکړې چې صالح په انټرنټ کې یوه خپره شوې لیکنه راکاپي کړې او بیا یې چا ته په بربښنالیک کې لېږلې وه. په دې لیکنه کې لیکوال (انجنیر محمد بشیر نوري وردګ) پر ښاغلي رهین تور لګولی و، چې د لرغونو اثارو په قاچاق کې لاس لري. لیکنه د صالح خپله نه وه خو وزیر د لیکنې پړه پر ده اچوله او په لویه ځارنوالۍ کې یې د ده پر ضد رسمي دوسیه پرانیستله، چې دا دوسیه تر اوسه پورې نه ده تړل شوې.

۷ ؟ د جون د میا شتې پر ۲۸ مه نېټه د SBS استرالیایي ټلویزیون خبریاله کارمیلا برانوسکا له خپل افغان ژباړونکي او موټرچلوونکي سره یو ځای له کندهاره ګرشک ته پر لار نادرکه شوه او له نورو همکارانو سره یې مخابراتي اړیکې وشلېدل. دا سې وبره وه چې ۳۵ کلنه ژورنالیسته او فلم جوړوونکې کېدی شي طالبانو تښتولې وي. یوه طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاند خو دا هم ویلي وو چې دوی یوه بهرنۍ ښځه په سهیل کې نیولې ده. خو درې ورځې وروسته د کارمیلا دفتر وویل چې د دوی کارکوونکې تښتول شوې نه وه، بیا هم د دې د ځای ځایگي په اړه معلومات نه وو او په همدې ورځ دوه استرالیایي کونسلران له اسلام اباد څخه کابل ته راغلل، چې د کارمیلا د ځای لټون وکړي. خو تر اوسه هم دا خبره سپینه نه شوه چې دغې مېرمنې ته څه ورپېښ شوي وو .

۸ ? د جولای پر دویمه په مسکو کې د ازادۍ راډیو افغان خبریال فرید عمر باندې ناپېژندو یه کسانو برید وکړ او د چاقو په وسیله یې څو ځایه ټپي کړ. ښاغلي عمر په سهیلي مسکو کې خپل کور ته پر لار روان و، چې کورته نژدې ورباندې برید وشو او ډاکترانو یې روغتیایي حالت کړکېچن ښودلی و. فرید عمر څو ورځې وروسته ورغېدو او له روغتون څخه رخصت شو، خو لا تر اوسه هم نه ده څرگنده، چې برید کوونکي څوک وو او ولې یې دی په نښه کړی و.

د بې پولې خبریالانو ټولنې هغه وخت ویل چې کېدی شي دا برید به په افغانستان کې د قومي دښمنیو او یا په روسیه کې د سیاسي پېښو په تړاو کې شوی وي. د ازادۍ راډیو د دري خپرونې همکار په مسکو کې بیا په دې اند و چې دا پېښه په روسیه کې د توکمیزو توپیرونو له کبله رامنځته شوې ده.

۹ ? د زمري(اسد ) پر لسمه، چې د جولای ۳۱ مه نېټه کېږي، په کندهار کې د ښېښوا فرهنگي ټولنې مشر محمدیار ته لومړی په ټلیفون کې یو زنگ راغی، چې باید ځان د کندهار چاروا کو ته وسپاري، په دې وخت کې وسلوال کسان ورپسې ورغلل او محمدیار قوماندانۍ ته وغوښتل شو، تر هغه وروسته د کابل لویې څارنوالۍ ته راغی او څېړنې ورڅخه وشوې، دا سې ښکاري چې له هغه څخه یې هېڅ هم ترلاسه نه کړل، دا څېړنې هم د صالح محمد صالح د پېښې په تړاو وشوې، سید مخدوم رهین پر محمدیار شکمن شوی و، چې گواکې دا لیکنه هغه خپره کړې ده .

۱۰ ? د اوکتوبر پر ۲۱مه افغان ژورنالیسټ، عکاس او فلم جوړوونکی اسلام الدین مایل چې په شمال کې د بلخ د دولتي راټیو ټلویزیون سره یې کار کاوه، د ولسمشرۍ یوه پخواني کاندید او پیاوړي قوماندان جنرال دوستم ته د وفادارو وسلوالو له خوا وتښتول شو او د لسو ورځو لپاره بندي شو، د همدې مودې په ترڅ کې شکنجه شو. ښاغلي مایل د هغو ادعاوو له خپرېدو وروسته ونیول شو چې گواکې ده هغه ویډیو ټیپ غلا کړی، چې دوستم جنگیالي د جنگي جرایمو او د طالبانو د ډله ییزې وژنې په اړه و. د مایل په وینا دی د مزارشریف له ښار څخه شبرغان ته بېول شوی و او هلته په شخصي زندان کې ساتل شوی او شکنجه شوی و. مایل د مستندو فلمونو جوړوونکی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ویل کېږي چې دده د ویډیو ټیپ ځینې برخې چې د طالبانو ټولوژنه په کلا (قلعه) جنګي او دشت ارګانک کې ښیي، د یوې ایرلنډۍ فلم جوړوونکي چې (ټولوژنه په مزارکې) په نامه یو مستند فلم یې په ۲۰۰۲ م کال کې خپور کړ کارول شوې وي .

مایل چې کله خوشې شو ویې ویل چې جنرال دوستم دی د ځینو هغو پټو رازونو له کبله نیولی و، چې دی ورباندې خبر و، خو هغه ویلي وو کله چې دی یوځلې له هېواد څخه بهر ووځي ټول رازونه به ښکاره کړي.

۱۱ ? په خوست کې یوه میاشتنۍ طنزیه خپرونه، غومبسه، د نومبر د میاشتې په وروستیو کې د هغه ولایت د والي معراج الدین پټان له خوا وتړل شوه. د مجلې ټولې ګنې له ښار څخه ټولې شوې او ځینې چلوونکي یې و نیول شول او د پولیسو له خوا وګواښل شول.

غومبسه په ټولیزه توګه د الفتح سیمه ییز ښوونځي د زده کوونکو له خوا خپرېده. پولیسو سلطان ولي وفا چې له دې میاشتنۍ سره یې همکاري کوله له ښوونځي څخه ونیوه او د غومبسې د مسوولینو په اړه یې ورځنې پوښتنې وکړې. ښاغلي پټان وویل ده مجله ځکه وتړله چې هغې له ده سره په یوه خپره شوې خیالي مرکه کې د ده سپکاوی کړی و او چلوونکي یې ټول نالوستي (بېسواده (خلک دي .

۱۲ ? د ډسمبر پر اوومه نېټه شکریې بارکزۍ، د آیینه زن د ښځینه اوونیزې مسوولې مدیرې ته په نیویارک کې د مطبوعاتو نړیواله جایزه او د کال د ایډیټرۍ لقب د ورلډ پرس **Press World** د سازمان له خوا ورکړل شو، چې مرکز یې په متحده ایالاتو کې دی. دا جایزه مېرمن بارکزۍ ته په ژورنالیزم کې د هغې د لوړې کچې کارونو او د بشري حقوقو په دفاع کې د هغې د شهامت او رهبري کوونکي رول په درناوي کې ورکړل شوه. د ورلډ پرس جایزه له دېرشو کلونو راپه دېخوا هر کال د نړۍ وتلو ژورنالیستانو ته ورکول کېږي.

۱۳ ? او د کال وروستۍ پېښه خو به مو په یاد وي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د هېواد یو تکړه او پېژندل شوي لیکوال عبدالحمید مبارز د ډسمبر پر ۲۹مه نېټه له خپلې څوکۍ څخه استعفا وکړه. اوربدلي به مو وي چې هغه ولې د مرستیالۍ له مهم پوست څخه تېر شو. سره له دې چې پنځه کاله یې په مخ کې درلودل، چې باید خپل کار ته یې ادامه ورکړې وای. دلته به د یوې لنډې شننې لپاره لږ تم شو .

کېدی شي هغه به په دې هیله و چې که په نوي کابینه کې به په اطلاعاتو او کلتور وزیر بدل شي او دی به وکولای شي خلکو ته په ښه توګه کار وکړي، خو کله چې یې ولیدل نو موړی وزیر خپل ځای وساته، نو د ځان لپاره یې کار ته د دوام ورکولو چاپېریال

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګ ولید ، نو استعفا یې ورکړه. د ښاغلي مبارز له څرګندونو څخه ښکاري، هغه د خپلې استعفا لاملونه دا وښودل چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر مخدوم رهین د بیان پر ازادۍ باندې سانسور لګولی و او په دوو مهالونو کې خو یې آن د د ده دویناوو د خپرېدلو مخنیوی هم وکړ .

د ښاغلي مبارز په وینا ، ده له رهین سره له ډېرې مودې راهیسې د هغه د سانسورپلوه او د بیان د ازادۍ ضد پالیسي پر سر اختلاف و ، خو کله چې یې ولیدل د ده ټینګار پر مقابل لوري کومه مثبته پایله نه شي ترلاسه کولای، نو غوره یې وبلله چې نور د مرستیالۍ له دندې څخه ګوښه شي.

دا لومړی ځل و چې د افغانستان په یوه وزارت کې په دومره لوړه کچه یو مامور د دولت دننه له بل جګپوړي چارواکي څخه سر ټکوي. نو کله چې د بیان او مطبوعاتو د ازادۍ د دودولو لومړۍ درجه مسووله سرچینه تر دې بریده د خپلې ژمنتیا پر ضد باندې کړنې تر سره کړي او خپله د بیان او رسنیو د ازادې په مخ کې یو خنډ واقع شي، نو له نورو خلکو څخه به څه ګیله وکړو. کفر چې په مکه کې راښکاره شي نو نه مسلماني به چېرته وي!(42)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام الدین

# مطبوعات باید د افرادو حرمت وساتي

تېره اوونۍ د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال عبدالحمید مبارز له خپل مقام څخه استعفی ورکړه.

عبدالحمید مبارز چې پوره نیمه پیړۍ یې د افغانتسان په مطبوعاتو کې کار کړی او تر شلو زیاتو علمي کتابونو مؤلف دی، په تېرو دریو کلونو کې یې د مطبوعاتو د آزادۍ له پاره ډېره هڅه کړې ده. ده له بي. بي. سي راډیو سره په مرکه کې د خپلې استعفی علت د اطلاعاتو او کلتور وزیر سید مخدوم رهین له سیاستونو سره اختلاف ښودلی دی.

متل دی چې وایي: یوه خوله خوړه وي، که مور یې وازې د ښاغلي مبارز استدلال ته وګورو او د دغه اختلاف ټوله پړه په سید مخدوم رهین واچوو - نو ممکن انصاف به مو نه وي کړی.

په هر حال، دا د دولت وظیفه ده چې د خپل یوه عالي رتبه مامور د شکایت په پاره کې جدي او بې طرفانه غور وکړي، خو هغه څه چې زه یې د دې لیکنې لیکلو ته مجبور کړم د انیس د دولتي ورځپاڼې د تېرې پنجشنبې د ورځې یوه مقاله ده چې (مبارز، خدا کشته را به قرباني حساب می کند ) نومېږي.

دا مقاله چې لیکوال یې (سروش) معرفي شوی دی، د لیکلو د طرز او سبک په لحاظ د بل چا ښکاري.

په دې لیکنه کې د عبدالحمید مبارز د توهینولو او تحقیرولو هڅه شوې ده.

د مقالې په یوه برخه کې لولو: "همه می دانند که این تنها دوکتور رهین بود که با حوصله فراخ، ترحم و گذشت رفتار اورا تحمل کرد و اگر باز هم وزیر اطلاعات و فرهنگ از روی ترحم و گذشت عبدالحمید مبارز را اجازه کار در این وزارت دهد من مطمین هستم که همه کار مندان این وزارت دستجمی استعفی خواهند کرد ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تـر دې جملو راوروسته د انیس ورځپاڼې لیکوال د ښاغلي عبدالحمید مبارز د سپکاوي له پاره نور هم وړاندې ځي ،لیکي: " عبدالحمید مبارز که در هر حال باید شر خود را از سر این وزارت کم کند چون میداند که... "

تاسې فکر وکړئ په یوه دولتي ورځپاڼه کې چې د دولت د یوه عالي رتبه مامور په دومره سپکو الفاظو یادونه کېږي نو د عادي خلکو د حرمت د ساتلو به څه حال وي؟

د دولتي ورځپاڼې لیکوال د افغاني ارزښتونو برخلاف حتی د ښاغلي عبدالحمید مبارز د لور احترام هم نه ساتي او په دې الفاظو یې د لور (میرمن نیلاب مبارز) یادونه کوي:

"... وبعد هم خود را و دختر خود را به ریش یک کاندیدای ریاست جمهوری آویخت. "

د انیس د دولتي ورځپاڼې په لیکنه کې د ښاغلي عبدالحمید مبارز د تحقیر او سپکاوي له پاره یو پوچ متل ته اشاره شوي او داسې راغلي دي:

"راستی آقای مبارز به علامت احترام به قانون هنگامي که به همایون اصفي پیوستي باید از موقعیت معین بودن استعفی میکردی. استفعی فعلي شما چهار زانو نشستن بی موقع است. "

زه نه پوهېږم د وګړو سپکول او تحقیرول او د هغوی په مقابل کې د پوچو او چټي الفاظو استعمالول به د دنیا په کوم قانون کې اجازه او مشروعیت ولري؟

حضرت سعدي علیه الرحمه وایي چې که پاچا د رعیت د باغ یوه مڼه وشوکوي نو رعیت به د منې هغه ونه له بېخه وباسي. اوس چې دولتي مطبوعات د وګړیو د سپکاوي له پاره داسې لیکنې خپروي نو له نورو خلکو به څوک ګیله کوي

اوس چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خپله د مطبوعاتو د قانون او د خلکو د معنوي حقوقو احترام نه کوي، دا ضرور ده چې د اسلامي دولت د وزیرانو شورى او د هغې په راس کې ولسمشر حامد کرزي ته التجا او خواست وکړو چې له دغسې خلاف ورزیو سره مبارزه وکړي.

افغانستان چې اوس یې تازه د ډیموکراسۍ پر لوري مزل پیل کړی دی، د چارواکو زغم، حوصلې او عالي وقار ته ضرورت لري. که چېرې زموږ چارواکي د عادي وګړیو غوندې هم حوصله ونه لري، دا په یقین سره د خطر زنګ دی، ځکه که د ملت اعضا د بېړۍ له سورلیو سره پرتله کړو ، نو چارواکي د دې بېړۍ کپتانان دي.

موږ له دغه کپتانانو څخه غواړو چې په پوره حوصله او تدبیر له توپانونو او ګردابونو څخه بېړۍ وژغوري، نه، دا چې دغه کپتانان د بې مسوولیته زلمکو په شان له وحشي څپو سره لوبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي او خدای مه کړه بیړی په بل مخ واوړي

د انصاف تقاضا خو دا ده چې زموږ اسلامي دولت باید دولتي مطبوعاتو ته د افرادو د بې حرمتۍ اجازه ور نه کړي، څو په دې ډول، افراد د خپل شخصیت د حفاظت احساس وکړي.(43)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ګل حیدري، کراچي

# په افغانستان کې د مطبوعاتو بازار

په دې وروستیو وختونو کې په کابل او نورو ولایتونو کې له یو نیم سلو زیاتې خپرونې شته او هغه د چا خبره لوستونکي د ورځپاڼو، جریدو، مجلو او اوونیزو لوستلو ته رسېدای نه شي، هر سړی چې له یوه سیاسي چاپېریال سره ارتباط پیدا کړي او یا یې کومې سوړې ته لاره وموندله، بیا یې اخبار راویستو ته ملا تړلې وي. د اخبارونو د راویستلو شوق خو هغه وخت د خلکو په زړونو کې روې ګډې کړې چې د دیموکراسۍ نغارې ودربېدې...

زموږ له دې خبرو څخه هدف دا نه دی چې د مطبوعاتو او خپرونو له زیاتېدو نه سپړمو ته راغلي یو، بلکې غواړو دا ووایو چې دا دومره خبرې به د دې وطن په جوړېدو کې څه مرسته وکولای شي؟ ښه به دا وي چې دغه موضوع لږه په غور وشاربل شي، هغه دا چې، دا سمه ده چې مطبوعات دیوې ټولنې د سیاسي، ټولنیز او خلاقي شعور د لوړتیا په لاره کې ګټور بلل کېږي، خو هغه مطبوعات باید ښه وبولو چې واقعاً پر انساني او اخلاقي بنسټونو ولاړ وي.

مطبوعات باید د دې توان ولري چې حقیقتونه لکه څنګه چې دي، په هماغه ډول څرګند او بیان کړي، د خلکو غوښتنې لکه څنګه چې دي له لاسوهنې پرته خپرې شي. په اوس وخت کې د ټولنې ضروري او بېړنۍ اړتیاوې په ګوته کړي او د دې تر څنګه د ستونزو د لیرې کېدو په خاطر د حل لارې ولټول شي. د تعصوبونو د له منځه وړلو لپاره صادقانه کار وشي.

که چیرې دغه ټکی په پام کې ونیول شي، کېدی شي مطبوعات زموږ په ټولنه کې ګټور رول ولوبوي. خو څنګه چې لیدل کیږي، زموږ مطبوعات په دې برخه کې کمزوري ښکاري.

زموږ د اوسنیو خپرونو معنوي کیفیت ډېر ټیټ شوی او د خپرونو چلوونکي په دې برخه کې له ستونزو سره مخامخ دي. سره له دې چې په سلګونو کاغذونه په تورو ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او د ورځپاڼو، مجلو او اوونيزو په نامه په وړيا توګه د يو چا مخې ته ايښودل کيږي، خو بيا هم داسي لوستونکي نه موندل کيږي، چې د يوه اخبار د تر لاسه کولو په لټه کې شوی وي، نو ځکه په زياترو مطبوعاتو کې تکراري، قيچي شوي او سانسور شويو خبرونو په خلکو کې د ورځپاڼو اخيستلو شوق وژلی دی.

اوس خبره دا ده چې زموږ لوستونکي ولي له افغاني مطبوعاتو سره ډېره نه لګوي؟

يو علت يې دا دی چې خلک په دغو کاغذونو کې خپلي څېرې نه شي ليدای او د خپلو غوښتنو او هدفونو په باب په کې يوه کرښه هم ليدای نه شي.

نو کله چې مطبوعات يوازې د چاينلونو د هدفونو د خپرولو وسيلې وي، نو هغه به څنګه وکولای شي ځان ته لوستونکي ومومي؟ نو دلته دا پوښتنه راولاړيږي چې دغه يو شمېر مطبوعاتيان په داسي حال کې چې يو هم له زړه لوستونکي او مينه وال نه لري او له دکاندارانو او هټيوالو پرته چې هغه هم د کڅوړو د جوړولو په تمه دي بل داسي لېوال نه لري، نو دوی بيا د چا لپاره دومره کاغذونه توروي؟ د بيت المال سرمايه مصرفوي، دوی بايد له خپلو ځانونو څخه پوښتنه وکړي چې مطبوعات د چا لپاره؟ موږ ولي نشرات کوو او له نشراتو څخه مو هدف څه دی؟

که چيري هدف د خپلي سياسي چينې د موخو تبليغول او عامه ذهنيت په شک کې اچول وي او ديوې شخصي دستګاه د ماشين چالانول وي، نو دا خو په حقيقت کې يوه لويه ګناه ده.

دغه کسان خو د ملت دښمنان دي، دوی په خپله له خپلو مخونو څخه ځادر ليرې کوي او هره شېبه خپل پټ او شوم راز بربنډوي او که چيري بيا داسي نه وي مطبوعاتو واقعاً د خلکو لپاره د خدمت لاره وهلې، ټولنيز عدالت د تعميم او د بشري حقونو د تامينېدو او د تعصباتو د له منځه وړلو په خاطر هڅې کيږي، نو بيا ولي لوستونکي نه لري، ولي خلک دغو مطبوعاتو ته د لوستلو او اورېدلو بيړه نه لري؟

د اکثرو اخبارو او مجلو په سرونو کې ليکل شوي وي چې: بې طرفه، بې ګونده، غيرسياسي... خو کله چې يې محتوا ته وکتل شي، نو د يو لړ ناروغيو وژونکي مکروبونه په کي له مايکروسکوب او ذره بين پرته ليدل کيږي او ځيني خو يې په دې پلمه چې يا ره څه د مطبوعاتو ازادي او ديموکراسي ده هر څه چې کوي هغه کوه، ان يو قوم ته کنځلي هم خپروي او ځيني خو يې پر يو بل ملنډې هم وهي او ځيني بيا ګوري چې د خپلو وګړو شمېر او احصائيې هم خپروي او ځيني خو يې داسي کينې خپروي، چې د قومونو ترمنځ د سختو لانجو او ټکرونو د رامنځته کېدو سبب کيږي.

بله خبره چې په دغو مطبوعاتو کې ورته لمن وهل کيږي هغه د دوو ملي ژبو پښتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري تر منځ د تفاوت او ناانډولۍ خبره ده. په دې وروستیو کې د هېواد په زیاترو مطبوعاتو کې دغه ستونزه موجوده ده. دغه خبره هغه کسان چې خپرونې کوي ښه احساسولی شي. که وواییو چې ای لیکوالو ! او په اصطلاح د اخلاقي او بشري رسالت مسوولینو او د پیغمبر وارثانو ! ستاسو له دغه شان توپیر او ضدیت څخه مطلب څه دی؟ نو دوی به زموږ د دې پوښتنې په ځواب کې څه وایي؟

په دغه لانجه کې د کشرانو ترڅنګ د مشرانو لاس هم دی.

داسې ښکاري چې په دغه شراچونه کې لویان هم شریک دي. که چیرې د دوی له خوا د دغې ناروغۍ په خپرېدو کې لاس نه وي، نو ولې یې مخنیوی نه کوي؟ ایا دغه اوسنې مطبوعات دوی نه ګوري ایا دغه کاغذونه چې چاپیږي د دوی ګوتو ته نه ور رسیږي؟ ضرور وررسیږي او له شکه پرته ویلای شو چې دغه راز ټولو مشرانو ته ښه معلوم دي اوس پوښتنه دا ده چې دوی ولې د دغې ستونزې د لیرې کولو په خاطر اقدام نه کوي؟

په دې وروستیو کې دغه خبره اوج ته رسېدلې او که وواییو چې د خپرونو د زیاتېدو علت همدا شراچونه ده، اشتباه به مو نه وي کړې.

اوس ټول مطبوعات انحصار شوي دي ،داسې برېښي چې زیاتره یې له یوې چینې څخه خړوبېږي. که چیرې زموږ دغه خبره غلطه وي، نو بیا تاسې وواياست چې د دې دومره اخبارونو او خپرونو پیسې له کومه کیږي؟ دا خدای ښنلی ملنګ جان څوک دی چې دوی ته دومره بې هدفه پیسې ورکوي؟ نو بیا کېدی شي دا ومنو چې ځه یاره ! دوی خو دې ولس ته خدمت کوي او دا پیسې د دې خلکو له ویښتیا سره خاطر لګوي، نو بیا یې ولې د پښتنو او تاجکو تر منځ لانجې رامنځته کړې دي؟ ولې د پښتو ژبې لپاره لکه څنګه چې یې حق دی، ځای نه ورکول کیږي؟

دا ننني یو شمېر مطبوعات دومره بېچاره شوي، چې اوس یې د هنري فلمونو د اداکارانو نیم بربنډ عکسونه او د هغوی د ژوند په باب خبري خپروي، هرې ډلې د خپلو هدفونو د تبلیغاتو او د خپلو مشرانو د عکسونو د چاپولو لپاره له اخبارونو څخه شخصي سفرنامې، راپورونه او البومونه جوړ کړي دي او که ورته وویل شي چې صاحبه ! دغه کومې څېرې او کارنامې چې ته یې خپروې له دې نه خو موږ نه خبر یو، نوې خبره وکړه چې په کڅوړه کې دي څه راوړي دي؟

د دغې خبرې یادول ضروري بولو چې دغه خدای ښنلي ملنګان چې له مطبوعاتو سره مالي مرستې کوي، دوی له دري ژبو پرته له پښتنو سره هم اشنایي لري کنه؟ او که یوازې دري ژبې د افغانستان او سېدونکې بولي او بس !؟

که چیرې له دوی سره دا معلومات نه وي نو ضرور ده چې ورته وویل شي او که چیرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي پښتانه وپېژني او له هغوی سره اشنايي ولري، نو ضرور نه ده له دغو کسانو څخه پيسې واخيستل شي. بېشکه چې دوی درواغ وايي.

د دوی هدف په هيواد کې د عدالت تامينېدل، نه- بلکې شر اچول دي. په اوس وخت کې چې افغانستان د تاريخ په يوه نازک پړاو کې واقع دی او هره شېبه يې د تباهی احتمال شته، نو په دې برخه کې د مطبوعاتو رول له پخوا نه زيات دی.

مطبوعات بايد ولس، ملي يووالي او ورورګلوی ته راوبولي، د تعصبونو د له منځه وړلو په خاطر هڅې وکړي، د قومونو ترمنځ د ګډ تفاهم او اهيمت روحيه پياوړې کړي، د عامه- سياسي شعور په لوړتيا کې ونډه واخلي. اوس وخت د دې خبرو نه دی، چې دا تاجک دی او دا پښتون دی، دا هزاره او دا بل ازبک دی. اوس بايد ټول قومونه د پخوا په شان اوږه پر اوږه د دې وطن په جوړېدو کې برخه واخلي او د نورو په خبرو او وړيا سوغاتونو او پيسو ونه غولېږي. ځکه چې په نړۍ کې داسې څوک نه پيدا کيږي چې چا ته دې وړيا پيسې ورکړي او له هدفه پرته دې مرستې ورسره وکړي. مطبوعات بايد د خلکو د غوښتنو د څرګندولو او د ستونزو ليري کولو په خاطر وقف شي، نه د يوې او بلې ډلې د شخصيتونو د عکسونو او البومونو د جوړولو او هسې بېځايه ستاينو په خاطر وکارول شي او د دې تر څنګ د يوه قوم په بل قوم د تفوق او لوړتيا ښودنې وسيله وګرځي.

لکه څنګه چې ليدل کيږي، که چيري بېځايه څيزونه له مطبوعاتو ليري کړو، نو موږ د نورو انساني او بشري موضوعګانو له نشتوالي او فقر سره مخامخ کيږو او زموږ خپروني محدودېږي، ښه به دا وي چې مطبوعات محدود او لږ کړو او ستراتيژي دومره لوړه کړو چې په ټول افغانستان کې حد اقل لسو کسانو ته خو يو اخبار ورسيږي او دا خبره بايد هېره نه شي چې يوازې د کابل څو حوزې او ولسوالۍ د ټول افغانستان نمايندګي نه شي کولای.(44)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان سالار عزیز پور

# جرگه بزرگان و سنگر بندي
# قبیله سالاران پارسي ستیز

[اوس مهال چې افغان ملت د بېلابېلو سیاسي او نظامي ډلو د تربگینو په اور کې سوځي او د بربادۍ پر لوري تېل وهل کېږي، زیاتې کړۍ او ډلې کوښښ چې د دغو قومونو ترمنځ د بې اتفاقۍ د اچونې په موخه خپلې گټې وپالي، یوه بېلگه یې او سنۍ لیکنه ده چې قومي تربگنیو ته په کې لمن وهل شوې او په کې ښکاره ناانصافي له ورایه ښکاري]

بار نخست نیست و آخرین بار هم نخواهد بود که از سنگر قبیله دست پلیدي بسوي ما دراز میشود تا دامن زبان و فرهنگ ما نرا بر چیند.

سوگمندانه حاصل تلاشهاي فارسي ستیزان فرهنگ گریز در جرگهٔ بزرگان، نا گفته پیدا و پنهان بوده است.

با یستي دانست که این گونه تلاشها به دیروز و امروز محدود نمي شود پیشینهٔ بسیار دراز دامني دارد.

در یک نگاه پیشینهٔ تاریخي این تلاشها را به دو دورهٔ گسسته از هم اما با آماج یگانه میتوان دید.

نخست دوراني که عرب زبانان فارسي ستیز از جایگاهي فرا دستان فرمانروا بر ما میتازندو با سیطرهٔ سلطهٔ انحصاري خویش در گسترهٔ زبان وفرهنگ، توانایي علمي و فلسفي زبان فارسي را میربایند.

دو دیگر دوراني که اژدهاي استعمار سر بلند میکنند تا به کمک قبیله، زبان میان تباري و میانجي حوزه هاي تمدني و فرهنگي را از ما بربایند.

شگفتا با وجود این همه دست اندازي ها و فراز و فرود هاي بسیار این زبان توانست از توفان هاي مرگبار رهایي بیابد و همچنان راهي رشد خود را در پیش بگیرد. اما در اثر زبان هاي وارده از سوي عوامل استعماري و قبایلي زنجیره تکاملي آن آسیب میبینند و دچار افت هاي بسیاري میشود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عوامل استعمار

استعمار گران اگر از یک سو میکوشند تا به منافع زمیني و زیر زمیني کشور ها دست یابند از سوي دیگر از بر پایي دستگاه سیاسي و اداري وابسته و برداشتن فرهنگ و زبان کشور ها به سود خویش چشم نمي پوشند .

به گفته دانشمندي ـ براي اسارت ملتي کافي است زبانش را گرفت و همچنان براي از میان برداشتن تمدني و فرهنگي.

تصادفي نیست که انگلیسها زبان اردو را در برابر زبان فارسي در نیم قاره هند برمیکشند و همچنان زبان محلي پشتو را در برابر زبان فارسي در افغانستان.

پیوند نا میمون قبیله با استعمار

اگر از عوامل نطفه بندي پارسي ستیزي در زمان امیر شیر علي خان بگذریم در دوران حاکمیت عبد الرحمان خان است که وصلت نا میمون پیوند قبیله و استعمار بسته میشود . در اینجاست که انگلیس ها با استفاده از حربه ء زبان بقاي زمامداران طرفدارخود را در کابل ضمانت میکنند و از سوي دیگر به مقاصد استعماري خود دست میابند .

از همان زمان به بعد عنوان کردن زبان پشتو به جاي زبان ملي و رجحان دادن در قاموس نامهاي مقامات و مراسم نظامي و پیوستن آن با برنامه هاي آموزشي و درسي و دادن امتیازات اجتماعي و سیاسي به گوینده گان زبان پشتو از جمله رسم هاي سنتي و عنعنوي این کشور شده است.

در زمان امیر حبیب الله خان است که بسي از واژه هاي زبان پشتو وارد زبانزد هاي نظامي میشود و در عصر نادرخان است که دامنهء این تلاشها گسترده تر میشود . محمد گل خان مومند وزیر داخلهء وقت تحریکاتي را درجهت تعمیم زبان پشتو و طرد زبان فارسي نه تنها از دوایر دولت بلکه از موسسات تعلیمي و حتا خانه و بازار آغاز میکند .

در ضمن وي مردمان فارسي زبان و ترکي زبان را وا دار میسازد تا عرایض شان را به زبان پشتو بنویسند و عرایضي که به زبان فارسي و یا ترکي میبود به آن ترتیب اثر داده نمیشد .

و همچنان به خاطر استفاده از تفرقه زباني و امتیاز بخشیدن به زبان پشتو و پشتو زبانان گروه بزرگي از خانواده هاي پشتون را از بیرون مرز ها به شمال هندو کش جاي گزین کردند تا با این کار توانسته باشند در صفوف فارسي زبانان تفرقه و به پشتو زبانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمکي کرده باشند . تا اینکه در قانون اساسي سال 1342 خورشیدي مسئله دوگانه گي زبان مطرح میشود و درآن جاست که گروهي از تمامیت خواهان و فارسي ستیزان از جمله غلام محمد فرهاد ، رشتین ، زابلي ، زدران ، عصمتي و ارشاد اعتراض میکنند . و پیشنهاد میکنند که رسمیت تنها و تنها به زبان پشتو محدود بماند . هرچند تمامیت خواهان در برابر اکثریت مخالف درین راه به مقصد نمي رسند ؛ اما با اصرار ماده 35 مبني بر موظف بودن دولت در تقویت زبان پشتو از طریق برنامهء مؤثري در فصل مربوط به حقوق و وظایف مردم اضافه میشود. چون در ضمن مباحثه راجع به این موضوع محمد قدیر تره کي زبان ازبکي و سایر زبان هاي محلي را منحط خواند . محمد کریم نزیهي نویسنده و ادبشناس افغانستان به رسم احتجاج با مجلس مقاطعه کرد .

زبان اکثریت

زبان اکثریت مردم افغانستان زبان فارسي بوده و میباشد .

با وجودیکه اکثریت مردم افغانستان از جمله ولایات شمالي ، مرکزي ، غربي و کلیه شهر هاي افغانستان به استثناي چند شهر در مشرق و جنوب به زبان فارسي سخن میگویند و از دیر زمان به این سو زبان رسمي و اداري کشور که با کمي اختلاف لهجه یي تقریباً 90 فیصد مردم افغانستان به این زبان تکلم میکنند و افهام و تفهیم مینمایند.

با آن هم قبیله سالاران فارسي ستیز نه تنها به این باور نیستند ؛ بلکه به پخش تیوري هاي بي اساس در میان مردم دامن میزنند. زبان فارسي را زبان اقلیت مردم افغانستان جا میزنند. چون پخش این اکاذیب با واقعیت دیروزي و امروزي همسازي ندارد.

به نا چار تلاش مي نمایند تا زبان پشتو را ملي اعلام کنند !!

پشتو سازي همه نامها و زبانزدهاي اداري و لشکري جزء همین تلاشها میباشد.

این پشتو سازي به گفتهء دانشمند فرزانهء باختر زمین در همه جا درد سر آفرین است و حتا ارتباطات طبعي مردم را خدشه دار میسازد.

تیوري هاي بي اساس

مخالفان زبان فارسي از هیچ گونه تلاش در بر انداختن این زبان دست بر نمیدارند.

از مخالفت مستقیم گرفته تا پخش تیوري هاي بي اساس و واکنش هاي بیمار گونه اگر محمد گل خان مومند و طالبان مستقیماً مانع گفتگو به زبان فارسي میشدند ، برخي از پشتونها و فارسي زبانان پشتو تبار همصدا با نظریه پردازان استعماري زبان فارسي را چند زبان جا میزنند و آنرا به زعم خود شان به زبان هاي به اصطلاح تاجکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري و.. تجزيه مينمايند. بي خبر ازينكه ما در تمام دنيا يک زبان فارسي داريم. آنگونه يي كه يک زبان انگيسي داريم و همچنان آلماني و يا هم پشتو. البته با گونه هاي مختلف تاريخي ، جغرافيايي و كاربردي آن.

زبان فارسي در پهلوي گونه هاي تاريخي آن: فارسي قديم ( اويستايي، پهلوي ) ، دري و گونه هاي جغرافيايي آن مانند: شيرازي ، كابلي ، تهراني ، سمرقندي ، بدخشاني ، هراتي ، مشهدي ، پنجشيري ، بامياني و... گونه هاي ادبي خود را نيز دارد .

زبان فارسي با ظرفيت و توانمندي كه داشته و دارد در ابعاد فرهنگي و هنري خود يكي از بزرگترين ده زبان زنده دنيا ميباشد.

دشمني با زبان فارسي دشمني با فرهنگ انساني است

دشمني با زبان فارسي نه تنها دشمني با يگانه گي و وحدت ملي است ، بلكه دشمني با حوزه هاي تمدني و فرهنگي است كه بزرگترين افتخارات بشري را در خود داشته و دارد بزرگترين و نام آور ترين كسان در گستره عرفان، شعر ، فلسفه و كلام به اين زبان قلم زده اند .

كساني كه به خاطر به اصطلاح تقويه تبار خود آبروي به دست داشتهء خود را كه از طريق همين زبان كمايي كرده اند به باد ميدهند و يا آنرا به زر نا سره ميفروشند دير و يا زود پشيمان خواهند شد و آنگاه پشيماني سودي نخواهد داشت.

جايگاه زبان در دولت هاي معاصر

بسياري از كسانيكه ادعاي روشن فكري و روشنگري داشته و دارند به باور پا ميفشارند كه زبان به صورت عام نقش كليدي ديروزي خود را از دست داده است. بر خلاف پندار اين گروه بايد گفت: امروز هيچ دانشمند با هوشي از نقش كليدي زبان نميتواند چشم پوشي نمايد تعريفي كه امروز از انسان مينمايند در پهلوي گفته هاي گذشته كه انسان موجود ابزار ساز است و يا انسان اشرف مخلوقات است ؛ انسان را حيواني به اضافه ء زبان ميدانند .

از همين رو نقش پديده ء زباني را نبايد در محدوده ء وسيلهء افهام و تفهيم محدود كرد و يا آنرا وسيلهء نا چيزي بر شمرد .

زماني ما به نقش كليدي و بنيادي زبان بهتر آشنا خواهيم شد كه از تاثير گذاري زبان و فرهنگ انگلو ساكسون ها در تشكل امريكا آگاه شويم. تا كنون نمونهء بهتر ازين دولت را از نگاهي تركيب نژادي قومي ، فني و اداري نداريم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنون که ما در برابر تهاجم فرهنگي و زباني خلع سلاح هستیم ، اما مقاومت فرهنگي ما به جایش باقي است و زمزمه هاي ازین دست ما را نسبت به زبان و آینده فرهنگي ما امید وار میسازد :

" زبان من حریرین است

ولي این پرنیان را قطره یي از خون پولاد ست در هر تار

به جنگ من میا زنهار ".

واصف باختري(45)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع. گ. زرمتی

# ایا د مطبوعاتو ازادي د توهین لپاره ده؟

کله چې زموږ د هېواد مشران د خپلو سفرونو په وخت کې بهرنیانو ته د خپلو بریالیتوبونو یادونه کوي، نو په ډېر ویاړ دا هم وایي چې په افغانستان کې مطبوعات ازاد دي او په کابل کې تر سلو زیاتې ورځپاڼې، مجلې او اوونیزې خپرېږي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي هم د خپلو فعالیتونو د بیانولو په وخت کې په ډېر ویاړ همدا خبره کوي. دوی شایي خبر نه وي چې په کابل کې په خپرېدونکو جریدو کې څه څه خپرېږي؟

په داسې حال کې چې زموږ د هېواد د مطبوعاتو په قانون کې هېچا ته اجازه نه شته چې زموږ دیني مقدساتو او ملي ویاړونو ته توهین وکړي او یا زموږ په هېواد کې سمتي او ژبني تعصباتو راپیدا کولو ته لمن ووهي. خو شته داسې خپرونې چې په ډېر جرئت سره هم زموږ ملي ویاړونو ته سپکاوی کوي، هم سمتي او ژبنی بدبینی راپاروي او هم د ځینو اشخاصو سپکاوی کوي.

په کابل کې شته داسې خپرونې چې دا هرڅه په ډېر جرئت په خپلو پاڼو کې خپروي، کله په کې زموږ د هېواد د ازادی د اتلانو لکه وزیر اکبرخان او نورو کارنامو او سرښندنو ته په ټیټه سترګه کتل کېږي او لوستونکو ته داسې ښیي چې ګواکې هغوی هېڅ هم نه دي کړي. یوازې یې په ټول عمر کې یو ځل تومانچه راایستلې او د هېواد دښمن یې پرې ویشتلی دی او یا خو په ځینو خپرونو کې ژبنیو تعصباتو ته لمن وهل کېږي.

خو راځئ د داسې یوې جریدې پاڼې سره واړوو، چې محترم لیکوال او کارکوونکي یې په ټېټو سترګو هغه څه لیکي، چې نور خلک یې یوازې له ځانه سره ویلای شي او دویم کس ته یې هم د ویلو جرئت نه کوي. ځکه چې ناسنجول شوې خبره به یې چا ته ټوپک په لاس ورکړي او د خپل ورور او خپل هېوادوال وینه به تویه کړي، چې دا لوی مسوولیت دی او هېڅ د سلیم عقل خاوند نه غواړي یو ځل بیا زموږ په جنګځپلي هېواد کې د وینو تویولو لامل وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتظار کې مو نه پرېږدم، دا جریده د 'پنجرې' جریده ده، چې له ځانه پرته یې له ټولو سره دښمني رااخیستې ده. دا جریده په خپله ۴۲ مه ګڼه کې 'در جنوب کشور چه میگذرد؟' لیکي:

'درین اواخر اخبار و گزارشهای غم انگیز و پیاپی از حریق کردن مکاتب، بخصوص مکاتب نسوان در ولایات وردگ، لوگر، قندهار و ننگرهار توسط گروه جاهل و ضد فرهنگ طالبان و سایر دشمنان صلح و ازادي مردم افغانستان در رسانه ها منتشر میگردد.

در حالیکه در همین ایام اخبار احیای بازسازی و نوسازي ده ها مکتب و مدرسه در شمال کشور از طریق مطبوعات و رادیو تلویزیون کشور منعکس گردیده است و پروسه ساخت و ساز مکاتب، توسط دولت و موسسات خارجي امدادرسان همچنان ادامه دارد. بایک مقایسه اجمالي این دو فکتور متضاد، واضح میشود که در شمال مردم تشنه اموزش علم و دانش برای بدست اوردن ابزارهاي کسب دانش در تلاش و تقلا هستند؛ حالانکه معلوم نیست چه بر سر مردم جنوب ادمه است که در پیش چشمان شان، مکاتب و مدارس شانرا اتش میزنند ولی انها خاموشانه به نظاره میپردازند و دم بر نمي ارند.

پس حق داریم بپرسیم بر مردم جنوب چه امد؟'.

دوی پوښتنه کړې ده اوزه دلته ځکه نه غواړم چې د دوی مکمل ځواب ولیکم، چې خدای مه کړه له خولې مې داسې خبره ونه وځي، چې په کې د کومې سیمې او یا شخص مقام ته سپکاوی وشي او نه غواړم ځان ورسره په یوه جوال کې واچوم او په مسوولیت کې ځان ورسره شریک کړم.

یوازې دومره به ووایم چې د جنوب پر خلکو نه، بلکې زموږ پر یو شمېر نورو هېوادوالو هم هغه څه راغلي دي، چې دوې لسیزې دمخه په ټولو راغلي وو. چې سرو لښکرو یې کلي او کورونه بمبارول او ځینو نورو یې ښوونځي ورانول او مکتبي زامن یې ورته وژل، دوی خاموشانه ورکتل.

زموږ پر خلکو، په تېره بیا له پاکستان او نورو ګاونډیانو سره پر اوسېدونکو سرحدي سیمو هغه څه راغلي دي، چې یوه لسیزه دمخه د کابل پر خلکو راغلي دي، چې د تنظیمونو په بېرحمانه جګړو کې کورونه، ښوونځي او جوماتونه ورانېدل، د زړه ټوټې یې له منځه تللې او دوی 'خاموشانه' ورته کتل.

پر ټولو حقونو یې تېری کېده، دوی 'خاموشانه' ورته کتل، یوازې سوړ اسوېلی به یې له خولې وایست، نور یې هېڅ هم نه شوای کولای، ځکه خپل ژوند یې هم د بې مسوولیته ټوپکوال له خوا په خطر کې زموږ د هېواد په جنوبي سیمو کې هم د بټه ورته یو حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمن دی.

پاکستان یې تر ځنګ واقع دی او ټولو ته معلومه ده چې پاکستان ‹په خوله یوه او په زړه بله کوي› په یوه لاس لهو امریکا او نړیوالې ټولنې څخه له تروریزم سره د مبارزې په نامه پیسې او نور امتیازات اخلي او په بل لاس هغه پیسې بهرنیو تروریستانو ته ورکوي، چې زموږ په هېواد - په تېره بیا جنوب کې وربانديې امنیت له منځه یو سي. ښوونځي یې وسوځوي، لارې او پلونه یې وران کړي او بېګناه خلک یې شهیدان کړي.

د جنوب خلک هم د نورو هېوادوالو په څېر د علم او پوهې تږي دي، ښایي له راډیوګانو څخه مو اورېدلي وي، چې نجونې او هلکان په سوځول شویو ښوونځیو او کېږدیو کې زده کړو ته دوام ورکوي. زموږ د هېواد د دښمنانو او تروریستانو او د علم د دښمنانو لاس چې هرځای ته ورسېږي، د بهرنیانو په اشاره خپل هېواد ورانوي.

ښایي اورېدلي مو وي، چې څو شپې دمخه یې ښوونځي وسوځول. نو په یوه او بل نوم زموږ د هېوادوالو وېشل به د هوښیارو خلکو کار نه وي. دا چې لیکلي یې دي چې زموږ د هېواد په شمالي سیمو کې دولت او بهرنیو مرستندویو موسسو له خوا ښوونځي او مدرسې جوړېږي، ډېره د خوښۍ خبره ده، لوی خدای دې وکړي چې په ټول هېواد کې داسې زمینې برابرې شي.

خو که موږ متضاده مقایسه وکړو، ښایي د نورو سیمو خلک ګیله وکړي او ووایي چې موږ څه ګناه کړې ده، چې ښوونځي او مدرسه نه راته جوړېږي؟

که ښوونځي سوځول کېږي، تاسې هم لیکلي دي چې د طالبانو جاهله او فرهنګ ضد ډله او د افغانانو د سولې او ازادۍ دښمنان یې سوځوي، د هېواد په جنوب کې او نورو سرحدي سیمو کې خلک په خپله په ښوونځیو پېرې کوي او له دښمنانو څخه یې ساتي، خو ترور، ترور دی. کله- کله په ډېرو لیریو هېوادونو کې هم ماښې ورانوي. هلته خلک په خپل لګښت ښوونځي او د لوړو زده کړو موسسې چلوي، د خوست پوهنتون او زیاتره ښوونځي یې ښه بېلګه بللای شو.

دا چې په دې سیمو کې هم د امنیت چارې د ځینو غیرمسلکي کسانو او جنګسالارانو په لاس کې دي او د امنیت په تامین کې پاتې راغلي دي او خارجي دښمنانو یې ښوونځي سوځولي دي، نو د دوی څه ګناه ده؟

تاسې هم د ۱۳۸۲ المریزکال د زمري (اسد) د پنځمې نېټې په ۴۱ مه ګڼه کې اعتراف کوئ چې په جنوب کې د ناکراریو ریښه په اسلام اباد کې ده.

د پنجرې د دغې ګڼې یوه برخه دلته رانقلوم:

‹رادیو بي بي سي و دولتمردان انگلیس که سیاست خود را به گونه های مختلف از

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنجره گردانندهگان و گوینده گان ان رادیو بیرون میکشند ، بخوبي میدانند که جنگ و عملیات جنگي افراد طالبان، گاه وبیگاه در مناطق جنوب و جنوب شرقي کشور، ناشي از قیام ها مخالفت های مردم ان مناطق نیست، بلکه جنگجویان طالب و القاعده با خرابکاران گلبدین حکمتیار در انسوی مرزهاي جنوبي و شرقي وارد افغانستان میشوند و ریشه حمایت از طالبان در جنوب و نه در میان مردم پشتون، بلکه در اسام اباد قرار دارد...'

بالکل همداسې ده، زموږ ډېرې ستونزې په تېرو دوه نیمو لسیزو کې د غرضي ګاونډیانو د پټو او ښکاره تېریو پایله ده، خو موږ نه پوهېدلو او د یو بل سترګو ته مو خاورې ورشیندلې. راځئ چې وروسته له دې یوه شو او ځانونه د پردیو په اشاره په سیمو سره ونه وېشو.

دا وونیزه په خپلو نورو ګڼو کې هم د سمتي بدبینیو مسئله په بېلابېلو شکلونو مطرح کوي، په همدې ۴۱ ګڼه کې د 'مخالفین دولت در جنوب کیها هستند؟' تر سرلیک لاندې په مطلب کې هم د سمت مسئله مطرح کوي، چې کېدی شي په بل ډول یې مطرح کړې وای.

دوی په نورو لیکنو هم د انساني مقام د درناوي خیال نه ساتي. مثلاً د پلوشې جریدې د کومې لیکنې په ځواب کې بل لیکوال مخاطبوي:

'یک راس نویسنده عزیز! نمیدانم چرا میخواهي با ارائه بیوگرافي ستانیزی ما هم مثل تو ستانیزی شناس شویم، ابروی این پیرمرد را بیشتر ازین حراج مکن... !'

نژدې شل کاله وړاندې کېږي چې له مطبوعاتو سره سر و کار لرم، خو په دې موده کې مې داسې کلمات نه دي تر سترګو شوي، چې په دې او ځینو نورو جریدو کې یې وینم.

ما د پلوشې ددوی په وینا د جېبي جریدې ګڼې نه دي لوستي، که څه هم په دې مطبوعاتي جګړه کې داسې کلمات استعمالوي، نو د افسوس ځای دی، باید چې د ادب جنازه واخلو.

په هر صورت، خبره رانه اوږده شوه، زما خبرې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشرتابه ته متوجه دي. نه پوهېږم چې هغوی ولې لاس تر زنې ناست دي، چې د سترګو په وړاندې یې مطبوعات د بیارغونې او ملي یووالي په تامین کې د خدمت کولو پرځای د نفاق تخمونه شیندي. د افسوس ځای دی، چې د کابل ځینې مطبوعاتي زموږ د هېواد د یوې سیمې پرضد تبلیغات کوي، ایا د مطبوعاتو ازادي همداسې وي، چې هرڅوک چې هرڅه یې زړه وغواړي، هغه ولیکي؟ ایا د مطبوعاتو ازادي داسې وي چې موږ یوه سیمه ښه، علمدوسته او بله بد او جاهله وبولو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايا زموږ ازادې جريدې دا حق لري چې چا ته سپکاوی وکړي؟
که د اطلاعاتو او کلتور وزارت د چارواکو پالیسي دا وي، باید چې په ډاګه ووايي.
دا وزارت خلکو ته مسوولیت لري، چې مطبوعات د قانون له مخې کنټرول کړي. د دغې جريدې مثال مې ځکه ورکړ، چې ما لیدلې او کتلې وه. ښايي نورې به هم همداسې خپرونې وي، چې مسوولین به يې له بلې سيمې او بل چا سره تعصب ولري، خو دا حق نه لري چې خپله کرکه او کینه په مطبوعاتو کې ښرګنده کړي او په دې وران- ويجاړ هېواد کې د نورو بې اتفاقيو او وينې تويولو سبب وګرځي.
د اطلاعاتو او کلتور وزارت باید ځواب ووايي.(46)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرار اندړ

# ( صبا ) ښکنځلنامه بابا ( رح ) ولې ښکنځي؟

## اوس به زمونږ د ارګ دلالان دې انجام ته څه وایي؟

ارزښتپالنه یو سرېتوب ټاکونکی برید دی، هغه انسان چې په ژوندانه کې ارزښتپال نه وي په ټولنیز لحاظ له ژویو سره څه دومره توپیر نه لري.

څه مادي ارزښتونه وي او څه معنوي ارزښتونه، څه دیني وي او څه عمومي اخلاقي ارزښتونه وي.

ددغسې ارزښتونو له ډلې څخه هم دنني انسان لپاره دهغه په ملي تعهد پورې تړلي ارزښتونه دي چې نننی انسان په هغو ارزښتونو کې چې ګروهه پرې لري لمړۍ درجه اهمیت ورکوي. هغه وګړي چې په ننۍ نړۍ کې ملي ارزښتونو ته اهمیت نه ورکوي، یاغي او شاذ وګړي بلل کېږي، د ننۍ نړۍ ډېر مضر بلل شوي وګړي (مذهبي بنسټپال) که څه هم برید او حد نه منونکي ګڼل شوي خو هغوی هم ملي ارزښتونو ته که په عملي نه وي نو په شعاري لحاظ ټینګ قایل دي.

په ملي ارزښتونو کې یو ډېر مهم ارزښت د ملي سټو درناوی دی، دانسانانو ترمینځ ټولنیز تړاوو او انتساب د یولړ داسې ارزښتونو پر بنسټ وي چې ټول پرې اجتماع پرې ایمان او ګروهه لري، د یوې ملي ټولنې قیام هم هلته شونی شو چې په معینو اقدارو مو اتفاق راغی، که دغه څه ترمینځ نه وي نو بیا خو دې د دروغجنو مخ تور وي. که مو یوځای اوسېدلو ته اړتیا نه وي بیا به نه سره اوسېږو، هرسړی دې هلته ځي چې په نوم یې دی، په سر، مال، وینه او قلم یې پاللی، تردې بیا هاغسې بهتره ده، لږترلږه په خپل کور کې به څوک نه ښکنځل کېږي.

پیغمبر(ص) وایي: چې د بندګانو شکر یې پرځای نکړ، دخدای شکر به هم په ځای نکړای شي.افغانستان زمونږ کور دی، زمونږ غرغر یې د نیکونو د قربانیو څلی او درې درې یې د نیکونو د سترېو او غازي آسونو سومې ښکل کړي. هغه خلک چې ګمان کوي د چا له هڅو او قربانیو پرته د خپل هېواد خاوند شوی د حماقت رنځور دی او هغه څوک چې دخدای داد او د نیکونو د قربانیو دغه هدیه ناڅه ګڼي هغوی پدې خاوره د اوسېدلو حق نه لري.

موده وړاندې مې، د صبا په نامه په یوه داسې مجله کې چې لورونه یې کمه او ځورونه یې ډېره لرله، په یوه کاریکاتور سترګې ونښتې چې د مجلې د مېنځ د پاڼو په ډېره ابتره توګه پداسې ډول چاپ شوې وو چې له مخکې، ورسته، نن، پرون، پوهې، ادب، هنر، نقد، څېړنې، فلسفې او طنز او یا بل کوم مضمون او غرض سره یې هیڅ ډول تړاو نه تعبیرېده چې د نشر توجیه یې پرې شوې وای، او د نفرت، حقارت، نفاق، دوه مخې، سپک خوی، لجاجت، سفاهت او جسارت پرې له یوې خوا هم نه جوړېده.

د رهین د بیان د ازادې تر چتر او د خلیلزاد د جمهورې افغانستان تر نیم ځوړند بیرغ لاندې د ملي توهین دغه وثیقه ولولئ، په پورتني انځور کې خپل باباولي ولټوئ، که نن تاسو ته پدې کرغېړن تصویر کې خپل باباولي در حضور نشي نو د سبا لپاره پدې پاخه باوري اوسئ چې ستاسو د اولادونو او نوي نسل په ذهن کې به بابا ولي(رحمه الله) همدغسې انځور وي لکه د صبا د علمي ! فرهنګي ! او ادبي !!!!! مجلې پدې ګڼه کې چې دغو کرغېړنو او ګناهګارو ګوتو انځور کړی.

انځور د صبا مجلې د شپږد پرشمې ګڼې په ۳۳ مخ کې وګورئ.**(47)**



(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد هادي (حیدري)

# د ولس په وړاندي درغلي څه ته وايي؟

له کله چي په افغانستان کې د ډیموکراسۍ په نوم وروستي تحولات راغلل او د طالبانو د واکمنۍ د راپرځیدو اعلان وشو. نو ولس ته دا امید پیدا شو چي نور به یي څوک پر پټ، عزت او ملي ارزښتونو تېری نه کوي، نور به یې څوک په نه جرم تر زندانونو نه کشوي، نور به یې څوک پر تاریخ او ملي ویاړونو ملنډې نه وهي، نور په یې څوک د ملي یووالي ریښې نه باسي، نور به د ولس اکثریت او اقلیت ته خپل روا حقونه د عدالت له مخي ورکول کیږي او نور...

خو افسوس چي داسي هیڅ هم ونشول او د طالبانو د توري دوري په پرتله ملي ضد توري تیارې بیا هم پرهیواد راغلې، چي نه یوازي یي د همدې ولس ملي شتمنۍ لوټ او تالا کړې بلکي د همدې ولس تر منځ یې د ملي وحدت په له منځه وړلو کي هر ډول هڅه په کار واچول شوه: د هیواد د اکثریت ژبه نوره هم تر پښنو لاندي شوه. په مطبوعاتو کي ملي مشرانو ته ښکنځل، پر ملي ویاړونو ملنډې وهل، ملي ټرمینالوژي له منځه وړل خو دې حد ته رسیدلي، چي د پلازمیني په هر کتابپلورنځي کي د مجلو او ورځپانو پر مخ یې له واریه په غټو توري هر څوک لیدلای شي، د ساري په توګه (هفته نامه کابل، پنجره، پیام مجاهد او دا دی اوس مهال صبا اوونیزه) هم په دې کتار کې راځي، چې په دغو ښکنځلو او سپکاوي یې لاس پورې کړی دی.

په دې لارکي د اطلاعاتو کلتور وزارت خپل ټول توان د هر ډول ملي ضد کارونو په تر سره کولو کي نه دی سپمولی، آن چي په زیاتو مواردو کي خو د دغو خپرونو نېغه همکاري کوي، د ساري په توګه د پنجرې اوونیزې چلوونکی د ښاغلي رهین دوست دی، چي کېدی شي په دې خپرونه کې زیاتې خپرېدونکي ښکنځلي د هغه په طبعه برابري وي.

څه موده مخکي ښاغلي کرزي د سید جمال الدین افغان جایزه رهین مخدوم ته ځکه ورکړه، چي ګواکي ستر خدمتونه یي کړي دي، په خپله وینا کښې یې زیاته کړه (رهین مخدوم د خپل ولس په وړاندي همیشه د اخلاص او هیوادپرستۍ له مخي د د هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي خیانتونو مخه نیولې ده) خو دومره ځوک پیدا نه شو چې دا پوښتنه وکړي چې د کلتور وزارت د خپل ولس په وړاندي کوم مسوولیت تر سره کړی دی؟ که دا خدمت وي، چې ملي ټرمینالوژي دې په خپرونو کې تر پښو لاندې شي، بیا خو سمه ده، که دا خدمت وي، چې ځوان لیکوال دې ځارنو الیو ته ورمعرفي کړي، نو بیا هم ښځي سهي ده، که د بیان د ازادۍ تر شعار لاندې د ځینو لیکوالو قلمونه ماتېږي او د ځینو لیکنو په تور بند ته اچول کېږي، بیا خو رښتیا هم چې رهین ستر خدمتګار دی.

که د کلتور وزارت د هیواد ملي ټرمینالوژۍ په پردۍ ټرمینالوژۍ اړولو ته ملي خدمت ویل کېږي، نو بیا دي دا جایزه هم د مخدوم مبارک وي.

د ټولي پلازمیني او ولایتونو د وزارتونو او ریاستونو لوحې له پښتو څخه اړول که ملي خدمت وي او له مخې یې د ملي امنیت ستر ستون (ستره محکمه) په دادګاه عالي او د هیواد د روڼاندو مرکز (پوهنتون) په دانشګاه اړول کېږي نو بیا دي دا جایزه هم د مخدوم مبارک وي.

د پلازمني په راډیو تلویزیون کې پښتو په سلو کې پنځه نشرات هم نه لري، خود ایراني فلمونو او ایراني سریالونو کچه تر پښتو ډېره وي، بیا خو رښتیا هم چې رهین هېواد پال او پر افغاني- ملي ارزښتونو مین وزیر دی، او سنی جایزه دې هم د مخدوم مبارک وي.

یو ستر خدمت خو یې دا دی په دې وروستیو کې یې کړی، چې هغه په صبا اوونیزه کې چې له کابله خپرېږي، د احمد شاه بابا یو کارټون دی، چې په دې وروستیو کې خپور شوی دی، په دې کې احمد شاه بابا انځور شوی، چې ښکرونه او بدرنګه ځېره لري او په ټولګي کې ولاړ دی: په ټولګي کې ولاړ ښوونکی له زده کوونکي څخه پوښتي: "احمد شاه بابا چې کرد؟

_هیچ، مرا دو سال ناکام کرد".

(صبا، شپږم کال، ۳۶مه ګڼه، مخ: ۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library






نو ښاغلی رهین چې د دویم ځل لپاره د وزارت پر څوکۍ پاتې دی، د دې ډول سپکاوي لپاره څه دلیل لري؟؟ ایا د صبا ښاغلي کارکوونکي به هم ځانو الیو ته معرفي کوي؟

غلام رسول خوشبخت چې له شپږو میاشتو راهیسې په بې‌رحمۍ سره په بند کې پروت دی، هېڅوک یې هم پوښتنه نه کوي، آن د کابل توقیف خانې مشر د حامد کرزي د فرهنګي سلاکار زلمي هېوادمل امر هم نه مني او د خپل شخصي عقدو له مخې یې دا شاعر په بند کې اچولی، چې د کلتور وزارت یې پر حال غوږونه کاڼه اچوي. دغه راز د ښاغلي مبارز استعفا هم د دې وزارت په بدنامۍ تمامه شوه، چې په خپله رهین ورپسې په مطبوعاتو کې له توهین او اهانت ډکې خبرې کولې.

په افغانستان کې ګڼ شمېر فرهنګپال او لیکوال پر دې موضوع سخت خواشیني دي او کېدی شي په زیاتو ولایتونو کې رسماً احتجاجي لیکنې خپرې کړي. (48)

(c) ketabton.com: The Digital Library



برهان

# د رهین په وړاندي د کابل لاريون څه شي وهڅاوه؟

د کب په ۲۴مه نیټه په کابل کي د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزیر، مخدوم رهین، په وړاندي یو لاريون تر سره سو چي د هغهٔ د بیلابیلو نادودو له امله یي له مشرانو چارواکو وغوښتل چي رهین له دندي ګوښه کړي او پر ځاي یي یو رښتینی افغان او ملي شخصیت راولي. غوسه ناکو مظاهره چیانو رهین د دولتي رسنیو، په ځانګړي توګه د تلویزون او راډیو، پر ناوړه کارونې تورن کړ.




پر ښاغلي رهین باندي له اوږدي مودي راهیسي پراخي نیوکي کیدې، چي د دې پر ځاي چي ازادو ډله ئیزو رسنیو ته وده ورکړي هغوي سانسوروي او په خپله خوښه یي برابروي. ددهٔ په وړاندي دا دریم په پرتلیزه توګه ستر لاريون دي چي ددهٔ د وزارت چلولو په موده کي ترسره کیږي. په پروني لاريون کي په سلګونو کابل ښاریانو چي ډیري یي ددهٔ د پخواني 'شورا ' غړي وو ګډون کړي وو.

له لاريون کونکو نه به یي واورو:

لاريون کوونکو خپله مظاهره له شاه دوشمیره څخه پیل کړه او ارګ ته نژدي په پښتونستان څلورلاري کي سره غونډ شول. دوي ویل د رهین کړنلاري د ډیموکراسۍ او ولسواکي د آرونو پر خلاف دي ځکه چي دي هڅه کوي دولتي رسنۍ تر خپل نیواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې وساتي. د دوې غوښتنه له ولسمشر کرزي نه د رهين ژر ترژره ګوښه کول وو چې تر اوسه پرې چا غوږ نه دې ګرولی.

لاريون د کابل د ښاريانو د شورا (شورای شهروندان کابل) له خوا په لار اچول سوی و. رهين تر څو ورځو مخکې د همدې شورا په خپل سر ټاکلي شوي مشر و چې تر اوسه ډاګيزه نه ده ولې دی له هغې نه واويستل او يا و شړل شو. که څه هم رهين ادعا کوي چې دهٔ په خپله خوښه شورا پرېښوده خو پرون د لاريون کوونکو خبرو داسي ښوده چې کومه شخړه يې تر منځ وه.

يوو لاريون کونکي ويل: 'رهين ټول تلويزونونه او راډيوګاني په خپله ګټه را څرخوي'. بل ويل: 'رهين راډيو او تلويزون سانسوروي او دا خپله د ډيموکراسۍ پر خلاف يو کار دي'. بل بيا ويل: 'اوسني حکومت د خلکو او ملي حکومت دي، حکومتي تلويزون او راډيو هم بايد ملي او د خلکو وي، نه دا چې د يوو سړي په طبعه'.

د مخکينيو مظاهرو پايله؟

د رهين په وړاندې لومړي لاريون د ۱۳۸۱ کال د زمري په مياشت کي ترسره شو چې هغه وخت مظاهره چيانو دهٔ د ګوښه کولو لپاره په تاوتريخوالي لاس پوري کړي وو او د اطلاعات او کلتور وزارت د ودانۍ شيشې يې په تيږو ويشتلي وي. خو هغه مهال رهين په غبرګون کي اعتراض کوونکي خپل شخصي دښمنان او ورانې کونکي وبلل. دا لاريون په پخوانۍ لنډمهاله اداره کي د رهين له ټاکلو لږ موده وروسته پېښ سو چې د مظاهره چيانو غږ چا وانه وريدهٔ.

دويم لاريون د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ په مياشت کي بيا هم د اطلاعات او کلتور وزارت مخ ته ترسره شو چې د رهين ګوښه کيدل يې غوښتل. هغه مهال لاريون کوونکو رهين د يوې ورځپاڼه چلونکي په ملاتړ نيوکه کوله چا چې په ډيموکراسي کي د اسلام د ونډې په هکله پوښتنه او چته کړي وه او ، دستري محکمې په وينا ، دين ته يې له سپکاوي ډکه ليکنه ليکلې وه. ويل کيږي رهين هغه وخت د آفتاب ورځپاڼي له ايراني چلوونکي، حسين مهدوي، سره مرسته کړې وه تر څو د څارنوالي له نيونځي څخه پټې سپکې کړي او له هيواده بهر لاړ شي. په دې ډول اسلام ته د سپکاوي په تورونو د مهدوي په محاکمه باندې خوله پټه شوه. خو هغه وخت هم هيچا د رهين د ګوښه کيدو او د محکمې د فتوا له مخې له 'بيدينانو ' سره د هغه د مرستې په اړه چا سر ونګرزاوه.

داخلي به وګورو چې ولسمشر کرزي چا چې يوه رايه له رهينه او په ميلونونو رايې له ولسه اخيستې د خلکو غوښتنو ته څه ډول ځواب وايې ؟ !(49)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالدهادي حيدري

# د علامه رشاد په مړینه کي د کلتور وزارت د مور او مېرې سلوک

د روان لمریز کال، د لیندۍ د میاشتې یوولسمه د اروابناد علامه پوهاند عبدالشکور رشاد د مړینې هغه توره نېټه ده، چې د ملي ماتم د ورځې په څېر ده، چې ټول لر او بر افغانان یې وکړول او تر پایه به یې نه هېروي.

ګران استاد، په داسې حال کې له موږ څخه جلا شو، چې ګران هېواد مو د بېلابېلو تربګنیو او ګډوډیو ښکار دی او د ځینو جګپوړو چارواکو په ګډون زیات نور کسان د وسلو او پیسو په زور په ولس خپلې غوښتنې مني، چې دا ځېرې به خپل دغه بدرنګ کار ته نور هم دوام ورکوي.

ګران استاد د خپل ژوند څو لسیزې د خوار، زار، کړېدلي او دردېدلي افغان ملت خدمت ته وقف کړې، چې تر وروستۍ سلګۍ پورې یې په دې ډګر کې صادقانه خدمت ترسره کړ او ملت به یې هم دا خدمت نه هېروي، د ده له خوا راپاتې په لسګونو اثار د دې خبرې پخلی کوي.

خو د استاد پر مړینې، د ملت خواخوږیو، اوښکو او ژړاګانو دا خبره نوره هم څرګنده کړه، چې استاد د خلکو په زړونو کې ژوند کاوه، د خلکو لپاره و، د خلکو په زړونو کې به ژوند کوي او په خلکو پورې به اړه لري.

خو د غم او ویر په دغو خواشینوونکو مراسمو کې د دولتي چارواکو، نه ګډون بیا د دولت د مور و میرې چلند ښه زبات کړ. د ویر او غم د مراسمو پر لومړۍ ورځ چې په کابل کې ترسره شوه، یوازې د ګوتو په شمېر چارواکو ګډون کړی و، چې موږ یوازې انورالحق احدي، ښاغلی ارسلا، برهان الدین رباني او نور... یادولای شو، چې خپل شتون یې تر یوه ځایه څرګند کړ.

د استاد رشاد په یاد د خواشینۍ د مراسمو پر لومړۍ ورځ د اطلاعاتو او کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت ځینو چارواکو هم ګډون وکړ، کله چې ښاغلی رهین د روغتون غولي ته راننوت او د مراسمو سیمې ته نژدې کېنسته شو، خپل موبایل یې راوکېښ چې د کابل ټلویزیون چارواکي خبر کړي، هغوی راشي او دا مراسم عکاسي کړي، حال دا چې د ټلویزیون درې تنه کارکوونکي له وړاندې هلته ناست وو.

دغه وزارت باید د دغو مراسمو ټولې چارې سمبالولای، باید چې له بهر څخه یې د ځینو فرهنګیانو د راتګ سمبالښت کولای او دغه راز یې نور امکانات هم برابرولای، خو د وزارت چارواکي یوازې یو څو شېبې هلته تم شول، نور نو پر خپله مخه لاړل.

حال دا چې دا وزارت د کابل ښاریانو شورا لري، چې په هره غونډه کې یې د سلګونو کسانو د راتګ زمینه برابرېږي، ان چې زلمی خلیلزاد هم ورته رابولي او په راډیوګانو-ټلویزیون او نورو رسنیو کې یې فعالیتونه خپرېږي، خو د استاد د مړینې اعلان لومړی د کلید راډیو له لارې خپور شو، چې یوه شخصي راډیو ده، د افغانستان راډیو یوازې پښتو ځانګې خبر تېر کړ، بس.

استاد د نفس له غرور نه برخمن انسان و، چې هېڅلکه یې هم دولتي چارواکو ته لاسونه اوږده نه کړل چې کوم کتاب یې ورته چاپ کړي، یا دې هم د کوم کتاب لپاره پانګه ورکړي، همدا وجه وه چې زیات کتابونه یې ناچاپه پاته دي او په دغو ناچاپه کتابونو کې زیاتره ډېر مهم هم دي، چې نن سبا یې چاپول ډېر ضروري ګڼل کېږي، او سني وزارت خو نه کومه پښتو خپرونه لرله، نه یې کوم پښتو کتاب چاپ کړ او نه به یې د ښاغلي رهین په مشرۍ کې څوک څرک ولګوي، د ښاغلي رهین د واکمنۍ په موده کې دغه وزیر د خپلو هغو لیکنو ټول مواد او پلانونه عملي کړل، چې په امریکا کې ئې په امید او ونیزه کې خپرول،ده نه افغان غوښت، نه یې افغانستان، تر ځان یې د خپلې نظرې زیات ملګري هم راتاو کړي وو، چې د ده د نظریې او رایې پلوي به یې کوله، نو دا د ستم او تعصب لارویان کله د افغان او افغانستان په ګټه خبره منلای شي، بیا د استاد علامه په څېر یو ملي خدمتګار خو به یې خامخا د سترګو اغزی وي.

استاد به په ژوندوني هم له اوسنیو چارواکو سر ټکاوه، چې د دې ملت او هېواد په ګټه نه دي، په ځانګړې توګه یې د کلتور وزارت یاداوه، چې په رښتیا هم له تعصب او تربګنۍ ډک چلندونه به یې له تاریخ څخه هېڅلکه هم هېر نه شي.

د کابل په مراسمو کې نه د دولت د رئیس پیغام ولوستل شو، نه د خواخوږۍ مراتب وړاندې شول، نه مو هم د کلتور وزارت له خوا کوم خپور شوی پیغام ولید. ځکه موږ ته خو هسې هم پته وه، چې د کلتور او سنی وزارت یوازې یوې ځانګړې طبقې ته کار کوي او یوې ژبې ته ترجیح ورکوي، چې دا یې د تېر درې کلن کار په اوږدو کې موږ ته څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول.

دغه وزارت څو څارنوالان هم تېکه کړي وو، چې کوم ليکوال به يې خوښ نه و، نو سم له لاسه به يې په لاس ورکاوه، يا به يې هم ورته دوسيې جوړولې، چې دا په دې نوې پېړۍ کې د وحشت يوه بېله ننداره وه، چې موږ وليده او نور نو څرګنده نه ده، چې د دغه وزارت په اډانه کې به کوم نور تبعيضونه سرونه او چتوي.

بله ورځ چې د استاد جنازه کندهار ته لېږدول کېده، د وزارت له خوا يو کس هم نه و لېږل شوی، لږ تر لږه يې چا يو تش پيغام هم ونه ليد، چې هلته يې په چا ولولي. يوازې ګل اغا شېرزي له لومړۍ شېبې تر کندهاره پورې د استاد له جنازې سره ملګرتيا کوله، چې په کندهار کې بيا د کندهار د والي او ښاروال، دغه راز نورو چارواکو منډې تر ړې د يادونې وړ دي، چې هر راز همکاري يې وکړه. الله دې دوی روغ لري او دا زيار دې يې په صواب کې راشي.

استاد يوازې د پښتنو نه و، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت دا سې چلند ورسره وکړ، استاد خو د پښتو تر څنګ په نورو ژبو هم کتابونه ليکلي، استاد خو په خپله ځان په قوم او قبيلې پورې منحصر نه ګاڼه، بلکې په ټول افغانستان او افغانانو پورې يې اړه لرله، دا که د کلتور وزارت چارواکي افغانان نه ګڼي، بيا خو نو سمه ده.

خو موږ وينو چې دلته بيا هم ځينې کړۍ استاد ته په پردۍ سترګه ګوري او په دې توګه يې خپل هويت او هدفونه څرګند کړل.

الله دې استاد ته جنتونه ورپه برخه کړي، الله دې د ده نجيبې کورنۍ ته صبر ورکړي او د استاد شاګردان دې ګړندي لري، چې وکړای شي د استاد پر پله ګام کښېږدي او د ده ياد دې ژوندی وساتي.(50)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد هادي حیدري

# ښاغلی رهین اوس څوک لري؟

## (عبدالحمید مبارز، د رهین د پالیسۍ یو بل قرباني)

سید مخدوم رهین یوازینی وزیر دی، چې اکثریت افغانان ورځخه ناراضه دي او تل د هغه د بې کفایتۍ او مضرو پلانونو خبره کوي.

دا خبره ښاغلي کرزي ته هم څرګنده ده، ځکه چې په تېرو کلونو کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت بې کفایتي ټولو ته څرګنده شوې ده، ان چې ځینوځوانو لیکوالو په خپله کرزي ته مخامخ د رهین د کارونو نیمګړتیاوې یادې کړې دي، او د یوه ملي وزارت غوښتنه یې ورڅخه کړې وه، خو نه ده څرګنده چې دی بیا ولې د پخوا په شان د وزارت لپاره غوره څېره وګڼل شوه. ځکه ښاغلي رهین خپل ټول کارونه او هڅې یوې ژبې، یوه قام او یوه اړخ ته ځانګړې کړې دي، حال دا چې په دې هېواد کې ټول مېشت قامونه حق لري چې باید ژبې ته یې کار وشي او دا د نوي اساسي قانون یوه ماده هم ده، چې په دې هېواد کې ټول مېشت قامونه حق لري، چې په خپله ژبه زده کړه وکړي او دولت ته دا مسوولیت ورترغاړې دی، چې ټولو ژبو ته عملي کار وکړي.

کله چې ښاغلي سید مخدوم رهین د وزارت د څوکۍ خپلولو لپاره له امریکا څخه تشریف راوړ، نو سم له لاسه یې خپل مرستیال رهنورد زریاب وټاکه، چې دا ښاغلی یې له فرانسې څخه راوغوښت، دا دواړه ښاغلي د افغان او افغانستان په وړاندې یو دریځ لري، د افغان پرځای (شهروند) غوره ګڼي، رهنورد زریاب په یوه عامه غونډه کې وویل، چې دغه ښاغلي ته چا د اساسي قانون مسوده ورسپالې وه، چې ژبه یې ورسمه کړې، خو زریاب د ګیلې په ډول وویل چې ده د افغان پر ځای (شهروند) توری لیکلی و، چې وروسته افغان راغلی، دا ښاغلی خپه و، چې د ده فرمایش او غوښتنه ولې نه وه عملي شوې.

دغه راز په خپله رهین تر خپلې مشرۍ لاندې (شورای شهروندان کابل) جوړ کړی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکابل په هره ناحیه کې ورته دفترونه نیول شوي، له پټو او ښکاره کارونو یې څوک خبر نه دي، چې ایا ملي هدف لري او که یوازې د وزیر د تقویه کولو لپاره کار کوي؟

دغه راز وزیر په تېر کال کې خپله ازموینه ورکړه، چې په ډېرو ورو مسایلو یې ځینې ځوان لیکوالان ځارنوالیو ته ورمعرفي کړل او تل یې د بېځایه غچ اخیستنې شعارونه ورکړې دي. لکه ښاغلي عبدالاحمد محمدیار چې له کندهار څخه د وزیر په امر د کابل لویې ځارنوالۍ ته راوغوښتل شو، یا صالح محمد صالح چې درې ورځې ورڅخه تحقیقات روان وو، خو کله چې وزیر ملامت و خوت، نو ځان یې غلی ونیو، هغه د یوه متل له مخې چې، شیخ فریده! پټه خوله دې بهتري ده، په دې برخه کې یې نه بخښنه وغوښته، نه یې مطبوعاتو ته ځواب درلود.

له یوې خوا د بیان د ازادۍ شعارونه ورکوي، له بلې خوا په خپله د بیان د ازادۍ تر ټولو سخت دښمن دی، د ساري په توګه په انټرنټ کې په رهین پسې یوه لیکنه راغلې وه، چې ګواکې رهین د کابل په ځینو سیمو کې د خپلو اشخاصو له خوا کیندنې کوي او تاریخي اثار په پټه راباسي، بیا یې په پټه پلوري، خو ښاغلي رهین د دې پرځای چې اصلي لیکوال پیدا کړي، پوښتنه ځنې وکړي، نور کسان یې ځارنوالیو ته ورمعرفي کړل او دوسیې یې پسې جوړې کړې.

دغه راز یې هوسۍ مجلې ته هم ستونزې پېښې کړې وې، غوښتل یې چې بنده یې کړي، خو کله چې د هوسۍ مجلې چلوونکو د راجسټر اسناد وروړاندې کړل، نو دې وزارت ورته پلمه کوله چې ولې په دې وروستیو کې راجسټر شوې، ولې پخوا نه ده راجسټر شوې، حال دا چې د مطبوعاتو قانون په هماغه میاشت کې توشېح شوی و، چې د هوسۍ چلوونکو هم د مطبوعاتو د قانون ټولې مادې منلې او پر ځان تطبیق کړې وې.

په دې وروستیو کې دې وزارت نوښت مجله هم بنه کړه، دوی پلمه کوي، چې دا مجله بشپړه سیاسي ده، حال دا چې په کابل کې په سلګونو مجلې سیاسي لیکنې خپروي، بله دا چې اوس خو د بیان ازادي او ډیموکراسي پلې شوې ده، باید چې هره خپرونه دلته راشي، دولت باید دېته وګوري، چې مجله د چا له خوا چاپېږي، دېته دې وګوري، چې څه په کې چاپېږي. بله دا چې رهین په خپل امر په کابل کې خیبر ټلویزیوني چینل بند کړی، چې ګواکې سیاسي خبرې په کې راځي، بل پلو بیا پنځه- شپږ ایراني چینلونه خپرونې کوي، چې په هغوی کې هم د افغانستان په باب سیاسي خبرې راځي، دلته بیا وزیر هېڅ هم نه وایي.

د دې وزارت په اړه په ډېرو خپرونو کې لیکنې راغلي، که راټولې شي، یو ستر کتاب به ورڅخه جوړ شي، خو له بده مرغه چې په دې برخه کې دولت خپل غوږونه کاڼه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننبتر مجلې د دريېمې او څلورمې غبرګې ګڼې يوه ليکنه کې راغلي:
"دا بې پلانه، بې تصميمه او فرمايشي وزارت دی چې د يوې بنځې لپاره يې په تشکيل کې د هنرونو د معينيت څوکۍ زياته کړه، خو چې هغه لاړه نو په ټول هېواد کې بل داسې څوک نه شته چې پر ځای يې معين مقرر شي نو ځکه د ورکې ورځې نه زرياب ته پاتې شوه".
رښتيا هم دا فرمايشي او بې کيفيته وزارت ستر کار دا کړی، چې وزير يې خپلو هغو افغان او افغانستان ضدليکنو ته د عمل جامه ورواغوستله، چې له امريکا څخه په (اميد ) نوې خپرېدونکې خپرونه کې يې ليکلې دي.
"دا هم د رهين هغه خنجر دی چې د دوستۍ په نوم يې د پښتنو په زړونو ټومبي، ځکه دی د اطلاعاتو او کلتور وزير دی د ده په وزارت کې بايد داسې کسان وي چې د خپل قوم او په مجموع کې د ټول افغان ملت نماينده ګي وکړي، داسې نه چې د ده د مرستيالانو ( معينانو ) په څېر تش په نوم پښتانه خو په پښتو خبرې هم نه شي کولای، خبرې خو لاپريږده چې د دروازې پر سر د خپل دفتر نوم هم په پښتو نشي ليکلای او په پارسي يې ليکلي دي (معين نشراتي، معين فرهنگي)".
د دې وزارت په سلو کې ۸ کارکوونکي هم پښتانه نه دي، حال دا چې کارونه يې بايد د ټول افغانستان استازيتوب وکړي. د دې پرځای چې يوه ملي ارګان او يوې ملي ټولنې ته کار وکړي، (شورای شهروندان کابل) ته کارونه روان دي او وزير غواړي چې د خپلو ملاتړو کړی پراخه کړي.
په دې وروستيو کې خبر شوو، چې د دې وزارت مرستيال ښاغلي عبدالحميد مبارز له خپلې دندې استفا ورکړه، ښاغلی مبارز په همدې روان لمريز کال کې د ټوپکوالو له خوا وګواښل شو، چې دا خبره مطبوعاتو ته هم راووتله. دی که نور څه نه وي، دی د افغان ملت سپکاوی نه کوي او يو تکړه ليکوال دی، چې په افغاني کړيو کې ښه شهرت هم لري.
نوموړي هر وخت يادونه کوله، چې په دې وزارت کې له رهين سره نه دی جوړ، د هغه له زياتو نظرونو او پاليسۍ سره نه دی جوړ، خو بيا هم داسې ښکاري چې رهين به په دې نوې څوکۍ کې بيا خپلې تېرې پاليسۍ ته دوام ورکړي او د ستر اکثريت پر حق به خېټه واچوي.
په دې وزارت کې جوړښت ستري نيمګړتياوې لري، هغه خپرونې چې په دې وزارت کې راجستر دي، اکثريت يې د ملي ګټو خلاف ليکنې کوي، له افغاني او ملي ټرمينالوژۍ څخه سرغړونه کوي، چې دا د دې وزارت کار و، بايد چې مخه يې نيولې وای، نه يوازې يې مخه نه نيسي، بلکې وزارت هم د ايرانۍ ټرمينالوژۍ دودولو ته ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلي، چې دغه کار يې ټول ملت ته څرګند دی، بېلګې يې په دولتي خپرونو کې هم ليدلای شو.

ښاغلی رهين او د ټلويزيون پخواني رئيس حضرتي، د محمد ظاهرشاه ډالۍ دي، چې ملت ته يې وړاندې کړي دي، ځکه چې دوی دواړه د مصلحت له مخې پر دغو څوکيو ګمارل شوي، چې هېڅ ډول لياقت په پام کې نه دی نيول شوی. نو ځکه به ښاغلی رهين پر ځان ډاډمن وي، چې د راروانو پنځو کلونو لپاره به پر دې ملت واکمني کوي او خپلې ځانګړې پاليسۍ ته به دوام ورکوي.

خو افغان ليکوال او فرهنګيان چې اکثريت يې له ښاغلي رهين څخه خوابدي دي او دی نه غواړي، اوس له ملګرو ملتونو څخه په کلکه غوښتنه کوي، چې تر ټولو ستره نيمګړتيا په اوسني وزير کې ده، چې د ملت يوه ستره کتله د ده مخالفه ده، دی ټولو ژبو ته حق نه ورکوي، ټول مطبوعات، وزارت او نور امکانات يې يوې ژبې ته ځانګړي کړي دي.

ښاغلي رهين هغه وخت خپله تګلاره نوره هم جوته کړه، چې (د کمکيانو انيس) خپرونې نوم يې په (انيس کودک واړاوه) حال دا چې دا خپرونه له پيل په (د کمکيانو انيس) نوم سره خپرېده.

د راډيو ټلويزيون د ټولو خپرونو نومونه يې واړول، اوس يوه خپرونه هم سوچه پښتو نوم نه لري، ځينې نومونه يوازې پښتو ته راژباړل شوي دي، په ټلويزيون کې ايراني فلمونه، سريالونه او سندرې يوه غټه فيصدي جوړوي، چې په راډيو ګانو کې هم دا اصل محسوس دی. حال دا چې دغه کار زموږ د اصيل افغاني کلتور پر هويت سيورى اچولی او موږ يې ژغورنه غواړو.

ښاغلي رهين ته د کرزي له خوا د سيد جمال الدين افغان افتخاري نښان په دې نوم ورکړل شو، چې ډېر فرهنګي خدمتونه يې کړي دي، خو موږ حيران يو، چې کوم خدمتونه؟؟؟ ښاغلی کرزی دې مهرباني وکړي، يو ځل دې خپل ولس ته مراجعه وکړي، نه يوازې په کابل، بلکې په اکثرو ولايتونو کې دې د رهين په باب پوښتنې وکړي، چې څومره کسان ورڅخه خوښ دي؟

د نورو ژبو تر منځ ستر توپير کوي، مثلاً کله چې د ده کوم دوست مري، د هغه لپاره سترې غونډې او سيمينارونه جوړېږي، کتابونه ورته چاپوي، د هغه په اړه په خپله وزير ليکنې کوي، خو که علامه پوهاند اکاډميسين استاد عبدالشکور رشاد مري، چې ټول فرهنګيان يې په غم کې وينې ژاړي، اوسنی وزارت يې په کيسه کې هم نه کېږي، جنازه له کابل څخه کندهار ته وړل کېږي، د دې وزارت يو عادي مامور هم نه ورسره ځي، چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار د ملت پر زړه یو ستر داغ پرېښود ، دغه کار یې یو ستر ثبوت دی، چې وزارت یې پر مړینه ځان ناګاره اچولی دی، یا هم ورباندې خوښ شوی و ، چې داسې توپیري چلند یې ورسره وکړ.

دغه وزارت د پښتو خپرونو د ثبت او راجستر پر وخت ستونزې پېښوي، کله چې ښاغلي محمدیار غوښتل چې ښکلا مجله راجستر کړي، په اړونده شعبه کې ورته کارکوونکو ستونزې پېښولې، یوه او بله پلمه یې کوله، کله چې موضوع وڅېړل شوه، یوه کارکوونکي وویل، چې وزیر امر کړی، چې د محمدیار چینل ته دې مجلې نه راجستر کېږي، حال دا چې دا وزارت په دې برخه کې هېڅ ډول حق هم نه لري، ځکه چې ټولو ته باید په یوه سترګه وګوري. بله دا چې د وزیر شخصي دښمني به له پښتو او پښتنو سره وي، په دې دښمنۍ کې حق نه لري، چې قانون تر پښو لاندې کړي.

موږ د قانون د هرې مادې درناوی کوو ، منو یې او پلي کول یې غواړو ، د ډیموکراسۍ په رڼا کې د خپلو حقونو اعاده غواړو ، دغه راز له ښاغلي عبدالحمید مبارز سره هم خپله خواخوږي څرګندوو ، چې په ډېر درنښت سره یې خپله استعفا وړاندې کړه. چې ښاغلی مبارز د ښاغلي رهین وروستی قرباني و.(51)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیم جلالزی، غزنی

# 'اواز' نوبت دی او که...؟

زه له ښاره په یوځه لیرې واټن کې اوسم، اوونۍ نیمه وروسته یوځل ښار ته سر ورښکاره کوم. په ښار کې هم داسې د پام وړ د شناخت ځای او خلک نه لرم، یوازې یو څو فرهنګپال ورونه دي، چې څو شېبې ورسره د باڼدار ګونډه ماتوم او په خبرو- خبرو د یو بل سرونه- سره خوړوو.

یوه ورځ چې کله له ملګرو سره مخامخ شوم، نو یوه راته زموږ د پخوانې دود له مخې بیا هم ځینې نوې خپرې شوې مجلې او د کتنې وړ کتابونه تیار کړي وو او د کتنې لپاره یې راته راوسپارل، خو دا ځل یې یوه نوې، ها د چا خبره کاغذپېچ مجله هم راکړه. که څه هم د مجلې نوم راته د ماشومتوب له شپو- ورځو څخه اشنا و، ځکه هغه مهال به مې هم کله- کله په ګوډ او مات لوست سره ځینې توکي په کې لوستل. په هر حال، کله چې په کور کې مطالعې ته کښیناستم، نو د خپلې زیاتې تلوسې له امله مې لومړی نوې مجله راپورته کړه او د لوستلو هوډ مې یې وکړ. د مجلې د پښتۍ پر لومړي مخ د هېواد د وتلي سندرغاړي فرهاد دریا څېره وه او پورته یې په غټو سپینو تورو سره"اواز" لیکل شوی و.

د مجلې په کتنه بوخت شوم، سر تر پایه مې پاڼه- پاڼه واړوله او لیکنه په لیکنه مې وځیروله. خو باور وکړئ، چې نه یوازې د خپلې تندې ماتولو څه مې په کې ونه موندل، بلکې مطالعې یې زما د ژوند د ترخو خاطرو په لړ کې یوه بله دا هم ورزیاته کړه، چې وروسته به یې بیا تاسې هم وګورئ.

څرنګه چې مجله د دویم ځل لپاره خپرېده، لومړۍ ګڼه او د امتیاز څښتن یې د افغانستان د راډیو- ټلویزیون ریاست و، نو له همدې امله یې زیاته برخه د راډیو- ټلویزیون په اړه خبرې اترې او یوه په کې د راډیو- ټلویزیون د هغه مهال له رئیس ښاغلي غلام حسن حضرتي سره شوې مرکه وه.

د سیما ترانې او پرښتې دوو غټو تصویرونو د مجلې منځپاڼې نیولې وې. د رهنورد زریاب دوې لیکنې، د جیمي هنډرکس په اړه یو مطلب، اخبار سرچوک، دوراهیهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلاقي، دوې درې نورې لنډۍ، سمبولیکې لیکنې او څو شعرونه په کې ځای پر ځای شوي وو. کله چې مې د مجلې پاڼې اړولې، نو د "اواز" مجلې هغه لومړنۍ څېره او کیفیت به مې سترګو ته جګ ودرېدل، چې په څو مره ښکلي انداز به زموږ ترلاسونو پورې رارسېدله. خو دا ځل د اواز ښه بدله وه او له ورایه په کې د ډاکټر سید مخدوم رهین د ځانګړې پالیسۍ څرک تر سترګو کېده.

په هر حال، لومړی به ځینې لیکنې وځیرو. وروسته به په دې اړه لږ وګړېږو او بیا به یوه سالم قضاوت ته لار پرانیزو، چې "اواز" نوښت دی او که...؟

د پښتنۍ پر دویم مخ یې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر ښاغلي سید مخدوم رهین څو کرښې لیکنه راغلې وه، چې د مبارکۍ د پیغام بڼه یې درلوده. د لیکنې سرلیک و: "نشر "مجلهٔ اواز یک رویداد مهم است" ښاغلي رهین د طالبانو ماتې او د ده په وینا د اطلاعاتو او کلتور وزارت کارونو ته نغوته (اشاره) کړې وه او د مطبوعاتو په برخه کې یې د خپلو کارونو حجم خورا پرتمین ښوولی و. پرته له دې چې د مطبوعاتو له ازادۍ څخه د ننګې او ملاتړ یا هم د رښتینې ازادۍ او خپلې سرښندنې په اړه یې کومه عملي بېلګه وړاندې کړې وي، یوازې د مطبوعاتو د قانون په توشېح او د بیان د ازادۍ په ویبو کو (تورو) یې خپل قلم ځغلولی او ستړی کړی و. وروسته یې د "اواز" مجلې په باب لیکلي وو: "...اکنون در استانهٔ نشر دوبارهٔ مجله اواز، پس از رکود نشراتی بیشتر از ده سال قرار داریم، بېجا نېست که این بشارت را در بین خانوادهٔ مطبوعات کشور تبریک بگویم. بې شبهه، نشر مجله اواز از رویداد مهمېست، که مېتواند به مثابهٔ فراوردهٔ مؤثر کار فرهنگی، تاثیرش را بر ګونهٔ عملي بر شکل ګیري حوزه های فرهنګي وارد کند".

کله چې مې د مجلې نورې لیکنې هم وکتلې، نو راته ښکاره شوه، چې د مجلې په ټولو لیکنو کې یوه هم پښتو نه وه، حال دا چې دا کار په لومړي ګام کې پر اساسي قانون یو ګوزار دی. دري ژبه خو پرځای پرېږده، زیات ترکیبونه او ویبوکي سوچه ایراني پارسي وو: "سردبیر، شګردهای نوکارمان، به ویژه، فرآوردها..." یې د مشت نمونه خروار په توګه یادولای شو.

مجلې له سره د ژبې انډول ته پاملرنه نه وه کړې، په داسې حال کې چې نه د اطلاعاتو او کلتور وزارت، نه راډیو-ټلویزیون، نه هم اواز مجله د نورو ژبو د ویونکو میراث دی، چې یو دولتي خپرندوی ارګان دې یوازې یوې ژبې ته د کار او خدمت په موخه، له دولتي ارګان څخه کار واخلي، دا په داسې حال کې چې په دولتي مطبوعاتو او رسنیو کې د ژبو انډول ساتل، د اساسي قانون او نورو مدني قوانینو منل شوی شرط او اصل دی، خو بیا هم له بده مرغه او په ډېره خواشینۍ سره باید ووایو چې دغه حقیقت په ډېره ترخه توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکو له خوا تر پښنو لاندې شوی دی. دې ټکي ته په کې هېڅ پاملرنه نه ده شوې. دا به یوې خوا ته پرېږدو او را به شو یکي یوه پښتو مطلب او د ښاغلي عبدالغفور لېوال یوه شعر ته، چې هغوی په څه ښه خپور کړی دی.

هېره دې نه وي چې د خپرې شوې نثري لیکنې پای ته د م- ارسلان "سلیمي" نوم کښل شوی دی. سرلیک یې و: "دا د نو سه وکړه؟" د لیکنې څو نورو ویبیو کو هم کټ مټ دا سې بنه درلوده: "دا خیبرې ټګوله نړی، د خاورو د منځو څخه، رڼو ابو، د هر ډول اوڅت د نشته او..."

لیکنه له خورا پرېمانه دېته ورته ویبیو کو څخه ډکه وه. باور وکړئ کله چې ما لوستله، زه هم نه پرې پوهېدم، چې مورنۍ ژبه مې هم وه او څه ناڅه شی مې په کې لوستي هم دي. نو تاسې پرېکړه وکړئ هغه څوک چې په پښتو کې تر ما لا کمزوری وي او یا یې مورنۍ ژبه بله وي، هغه به څه وربادې وپوهېږي او څه ګټه به ترې واخلي.

که هرڅوک همدغه لیکنه وګوري، نو له ورایه همدا استنباط او اټکل ترې کېږي، چې پر یوه ملي او رسمي ژبه ملنډې وهل نه دي، نو څه دي؟ ځکه نو سړي ته دا پوښتنه راولاړېږي، چې که د لیکنې سمه ښه د تخنیکي ستونزو له امله خرابه شوې وي، نو دا لیکنه ولې په دري لیکنو کې نه ده رامنځته شوې؟ او که رامنځته شوې وي، ښایي دا ستونزه بېرته اواره شوې وي، نو پښتو په دې نه ارزېده چې په ټوله مجله کې یې یوازې یوه خپره شوې لیکنه یوځل تر نظر تېره کړل شي؟ او که هم دا ارزښت د راډیو- ټلویزیون د چارواکو او یا هم د اواز مجلې له پلاوي سره دي چې له پښتو سره دا سې د مور او میرې سلوک وکړي؟؟.

په هر حال، د ډاکټر سید مخدوم رهین خپله خبره ده چې له قانون سره سم هغه دولتي رسنۍ لکه ورځپاڼې او مجلې چې په پلازمېنه او ولایتونو کې خپرېږي، که یې ژبه دري وي، باید په سلو کې **۲۵** یې پښتو وي او که دا خپرونه پښتو وي، باید په سلو کې **۲۵** یې په دري ژبه وي. خو په اواز کې د دې معیار هېڅ څرک نه لګېږي او که چېرې ډاکټر رهین دا کار نوښت او ارزښتناک ګام ګڼي، زموږ لپاره ښایي خبره معکوسه وخېژي او که دغه ښاغلی د همدغه ډول ریشخند له کبله، چې زموږ په مورنۍ ژبې پسې وهل کېږي، موږ ته مبارکي راکوي، نو همدغه مبارکي دې بېرته د خپلې کورتۍ په جېب کې واچوي او هغه د چا خبره چې وایي: "پکه دا دې لا بله سپکه" په هر صورت، خبرې ډېرې او وخت لږ دی، خو دا باید په یاد ولرو، چې که شپه تیاره ده، منې په شمار دي. د اواز مجلې چارواکي که د دوی ملاترې او د نظر یاران دي، هېڅلکه دې هم دا فکر نه کوي، چې یا د چا نه راپام کېږي او یا به هم څوک وربادې غوږ ونه ګروي. په داسې حال کې، چې موږ د هېواد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دودیزو ژبو درناوی لرو ، نو د اواز له چارواکو او یارانو څخه هم دا هیله لرو ، چې زموږ ژبې او دودونو ته دې متقابل درناوی ولري او له ځان څخه دې د راډیو - ټلویزیون خپروني نه جوړوي، چې د پښتو ونډه یې په سلو کې ۱۰ هم نه ده. زه چې کله- کله د راډیو - ټلویزیون خپروني اورم، یا ګورم، نو تل هماغه ټوکه را په یاد یږي، چې وایي: "د یوه سړي کور ته یو مېلمه ورغلی و ، کوربه وریجې ورته کښېښودې، کله چې مېلمه په خوراک پیل وکړ، نو په وریجو کې د وریجو په پرتله کابو د شګو شمېر ډېر و او له هرې ګولې سره به د مېلمه تر غاښونو لاندې شګې کړپېدې، کوربه چې دا حالت ولید ، نو په دودیز ډول یې مېلمه ته عذر پیل کړ، چې مېلمه وروره ! بخښنه غواړم، په وریجو کې یوه- یوه شګه پیدا کېږي ! مېلمه ورغبرګه کړه: نه !... نه !... هېڅ خبره نه ده، یوه- یوه وریجه هم په کې پیدا کېږي"◆

او په پای کې

بورا به خدای په ګلو مور کړي
باغوانه ! ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه (52)

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان الله ارینزی

# د "پرواز اریانا" مجلې دویمې ګڼې ته یوه لنډه کتنه

د اریانا افغان هوایي شرکت خپرني ارګان، د (پرواز اریانا) مجلې دویمه ګڼه مې مخې ته پرته ده. دا ګڼه د ۱۳۸۳ ل کال د وږي (سنبلې) په میاشت پورې اړه لري. د مجلې پوښ او متن دا نه څرګندوي چې په څو میاشتو کې یوځلې خپرېږي.

د پرواز اریانا د دې ګڼې د لیکنو او راپورونو سرلیکونه دا سې دي:

سخن نخست، نمایندګي شرکت اریانا در شهر استنبول ترکیه، ګزارش مختصري از فعالیتهاي وزارت هوانوردي و توریزم، استور تخنیکي، از دروازه ورودي ترمینال تا سیت دروازه، شاپ هاید رولیک، بنام خداوندي که انسان را بریال عقل به تسخیر کاینات فرستاد و سکوی مخلوفات قرار داد، جلوګیري از سو استفاده ها، مدیریت عمومي کنترول اریانا، عقیدهٔ راسخ، مصاحبه با اریانا، نمایندګي اریانا در مزارشریف، حفظ و احیاي میراث هاي فرهنګي افغانستان، پیلوتان هر شش ماه یکبار چک صحي میشوند، اریانا بستر پنجاه هزار ساله، فرهنګ بشري، اثار تاریخي سرقت شده، کنترول و تهیه او..

د مجلې د پوښ پر دویم مخ باندې د مجلې د مسوول چلوونکي ښاغلي بشیر احمد بېژن او د ده د نورو همکارانو نومونه راغلي دي. ښاغلی بېژن د افغانستان د جمهوري ریاست په تولټاکنو کې د یوه کاندید ښاغلي لطیف پدرام ویاند دی. ښاغلی پدرام لکه چې ټولو ته معلومه ده د افغانستان په باب ځانګړي نظریات لري، د فدرالي نظام پلوی دی او په افغانستان کې د ملي مسئلې پر حل باندې ډېر ټینګار کوي. د پرواز اریانا د مجلې دویمه ګڼه دا څرګندوي، چې ښاغلی بېژن په رښتیا هم د ښاغلي پدرام نژدې ملګری دی او دواړه د یوې مفکورې خاوندان دي.

د پرواز اریانا د متن په لومړي مخ کې د (سخن نخست) تر نامه لاندې د مجلې د مسوول مدیر لیکنه راغلې ده. په دې لیکنه کې د اریانا افغان هوایي شرکت د پنځوس کلنتوب او د اریانا د پخوانیو خپرونو د ارزښت په باب لنډې خبرې شوي او بیا د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلې د لومړۍ ګڼې د متني او چاپي تېروتنو او غلطیو په باب نیوکې شوې دي، چې زه نه پوهېږم په لوستونکو پورې څه اړه لري؟

داسې ښکاري چې د پرواز اریانا لومړۍ ګڼه د بل چا په اهتمام خپره شوې او یا په هغه وخت کې- چا د ښاغلي بېژن وړاندیزونو یا خبرو ته ښه غوږ نه دی نیولی، له همدې امله ده په خپله لیکنه کې ښه زړه تش کړی او د لومړۍ ګڼې ډېرې غلطۍ یې رابرسېره کړې دي!

خبره په دې کې ده چې زه په دې کورنۍ شخړه کې د لوستونکو په ملامتیا پوه نه شوم. که د مجلې لومړۍ ګڼه ښه چاپ شوې ده او که بده، په اریانا پورې اړه لري. که په هغه ګڼه کې د کرزي صاحب عکس پرځای چاپ شوی دی او که بېځایه، ګوته اریانا ته نیول کېږي، نه بېوزلو لوستونکو ته!.

ښه به دا وای چې ښاغلي بېژن د خپل دفتر ستونزې او نیمګړتیاوې د ملکي هوایي چلند او توریزم له وزیر یا له ښاغلو معینانو او یا د اریانا له رئیس او نورو اړوندو چارواکو سره مطرح کړې وای، نه له عامو خلکو او د مجلې له لوستونکو سره!.

ښاغلی بېژن په دې ښه پوهېږي چې اوس مهال د خلکو او په تېره د روڼاندو وخت ډومره ارزښت لري او هېڅوک انصافاً دا حق نه لري چې ضایع یې کړي او یا زیان ورورسوي. خو دلته یوې خبرې ته باید پام وساتو او هغه دا چې کوم وزارت چې هم یې وزیر غیرمسلکي وي او هم رئیس، باید داسې ستونزې ولري چې خبرې یې له دفترونو څخه راووځي او عام خلک پرې خبر شي!

د مجلې د لیکنو په باب قضاوت دروند کار دی، خو زه به دلته د ښاغلي بېژن د لیکنې یو پراګراف راواخلم، چې ګران لوستونکي د هغې د څرنګوالي (کیفیت) په باب په خپله قضاوت وکړای شي:

"...مجلهٔ پرواز اریانا که ادامه دهندهٔ همدان راه و رسم میباشد و در معرفي مجدد "اریانا" اعاده عتبار ان خود را متعهد میداند. در شرایط کنوني تمام امور زندګي را اشا، تبلیغ و پخش اعلانات مربوط به فعالیت ها و سهولت هاي همان ارګان تشکیل میدهد و این مامول د لابلای صفحات یک نشریه "ارګان نشراتي" نیز تحقق پذیر است" !؟

سره له دې چې د مجلې په متن کې به ارو مرو په زړه پورې مقالې او راپورونه وي، یا خو (سالیکه نیکوست، از بهارش پیداست) چې سرلیکنه یې داسې وي، متن به یې څنګه وي؟

زه په دې لیکنه کې د (پرواز اریانا) پر ټول متن باندې څه نه لیکم او نه ځان ته دا حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوم چې پر یوه مسلکي او تخصصي موضوع باندې څه ولیکم، خو دا حق ځان ته خوندي ساتم، چې د ملکي هوايي چلند له وزیر، د وزارت له ښاغلو مرستیالانو، د اریانا هوايي شرکت له رئیس او د مجلې له مدیر ښېژن صاحب څخه پوښتنه وکړم، چې دوی په کوم قانوني او اخلاقي حق دا مجله یو ازې په دري ژبه خپره کړې ده؟

ایا دا مجله په ایران یا تاجکستان کې خپرېږي او که په افغانستان کې؟

ښاغلی ښېژن دې زموږ دا خبره تعصب نه ګڼي، که تعصب وي هغه ده کړی دی. د حق غوښتنه یو روا عمل دی او په افغانستان کې اوس د حق غوښتنې وخت رارسېدلی دی.

زه ګومان کوم چې نور نو د خلکو حقوقو ته د سپکاوي وخت د تېرېدلو په حال کې دی. د افغانستان اساسي قانون، د خلکو روا حقونو ته درناوی د هر (افغان) مکلفیت ګڼي. د افغانستان د جمهوري ریاست په ټولټاکنو کې د ملیونونو کسانو ګډون دا ثابته کړه چې دا خلک اوس د ځان په حق او د نورو په حق ډېر ښه پوهېدلي دي.

دې ملیونونو خلکو د خپلو رایو په پاڼو سره ټولو هغو کسانو ته چې (میم زرما - ټول یې زما) تګلاره یې تعقیبوله او یا یې د ټول وطن د مالکیت جعلي قباله په جېب کې ګرځوله، منفي ځواب ورکړ او دا یې ثابته کړه چې دا خلک نور نو د سیمې، ژبې، ډلې، ډلګۍ، مذهب او نورو شخصي ګټو لپاره پر ملي ګټو پښې نه ږدي او خپل مسوولیت په هماغه توګه سرته رسوي، لکه د نړۍ نور مذهب او پرمختللي قومونه یې چې سرته رسوي.

افغانانو متعصبینو، قومپالو، تنظیمي ټوپکوالو او ان د فدرالي نظام پلویانو او د یوې ژبې او یوه کلتور خوښمنو ته پوره ډاډ او ډېر برالا ځواب ورکړ او ټول یې رخصت کړل.

له دې څخه باید ټول پند واخلو. د ملکي او هوايي چلند وزیر او مرستیالان یې، د اریانا رئیس او د پرواز اریانا ټول کارکوونکي باید له دې ستر درس څخه پند واخلي.

د پرواز اریانا مدیر ښاغلی بشیر احمد ښېژن باید تر ټولو غټ پند واخلي او ځان راوینښ کړي. د فیل په غوږ کې تر ابده پورې خوب نه شي کېدای. ښاغلي ښېژن ته ښايي چې د فیل له غوږ څخه راووځي او بهرنۍ نړۍ ته دې د یوه واقعیت په توګه وګوري او خپلې غوښتنې، افکار او نظریات دې د افغانانو د غوښتنو، افکارو او نظریاتو ښکارندوی ونه ګڼي.

د ښاغلو ښېژن او پدرام افکار او نظریات د دوی د شخصي افکارو او نظرونو په توګه د قدر وړ دي. خو دوی حق نه لري چې له خپلو دولتي منابعو څخه د خپلو شخصي غوښتنو د عملي کولو لپاره کار واخلي. ښاغلی ښېژن د ملي کنګرې د ګوند د ویاند په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه حق لري چې فدرالیزم وغواړي، د افغانستان د نامه د بدلونو لپاره هڅې وکړي، د (افغان) پر ځای د (افغانستاني) نوم وکاروي، پر پښتنو او پښتو ژبه باندې چلیپا راوکاږي، خو د افغانستان د دولتي مامور او د اریانا افغان هوایي شرکت د مجلې د مسوول مدیر په توګه باید افغان واوسي، افغان فکر دې وکړي، د افغانستان قوانین دې مراعات کړي او په هېواد کې دې د قومي او ژبني تعصب پرځای د ملي یووالي او د قومونو د یووالي شریفانه کار ته متې راونغاړي او افغانستان دې د ټولو ګډ کور وبولي او د دغه کور د ټولو اوسېدونکو حقونو ته دې درناوی ولري. که داسې ونه کړي، ښاغلی بېژن به هم په هماغه برخلیک (سرنوشت) اخته شي چې نور مشران یې د ټاکنو له امله ورسره مخ شول او د خلکو له خوا یې د (نه) ځوابونه واورېدل.

په دې ځای کې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور له وزیر څخه هم دا ګیله او دا پوښتنه کوو، چې ولې دغسې خپرونو ته، هغه هم د دولت په پیسو د خپرولو اجازه ورکوي؟

ځکه د افغانستان د دولت بودجه د دې هېواد د ټولو خلکو ده او ښاغلی بېژن باید دا حق ونه لري چې د دې هېواد د خلکو په پیسو د خلکو حقونه تر پښو لاندې کړي. د ملي نفاق پر اور تېل وروپاشي او یوازې د خپل (ګوند) او خپل (رهبر) لپاره کار وکړي.

زه د اطلاعاتو او کلتور له وزیر ښاغلي ډاکټر سید مخدوم رهین او ملکي- هوايي چلند او توریزم له ښاغلي وزیر صاحب څخه په کلکه هیله کوم چې په دې هکله دې خپل دریځ روښانه کړي. که دا کار د دې وزارتونو په خوښه ترسره کېږي، چې موږ په دې پو شو او که دا د دې وزارتونو رسمي دریځ نه وي- نو ښاغلي بېژن ته باید دا اجازه ورنه کړل شي چې خپلې شخصي او ګوندي غوښتنې د دولت له امکاناتو سره یوځای کړي او ناوړه ګټه دې پورته کړي.

پښتنو د افغانستان د اکثریت اوسېدونکو ژبه ده او پښتنانه دا حق لري چې د افغانستان په دولتي نشراتي ارګانونو کې خپله ونډه او خپل حق وغواړي.

ښاغلي بېژن ته یو ځلې د دې خبرې یادول په کار دي، چې د اریانا افغان هوايي شرکت مجله (پرواز اریانا) په افغانستان کې چاپېږي نه په ایران یا تاجکستان کې!

که پښتنانه افغانستان د خپل ابا په قباله نه بولي، ګډ هېواد او ګډ کور خو یې خامخا بولي او ښاغلی بېژن باید دې ټکي ته ژوره پاملرنه وکړي.(53)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فضل الرحمن (کتوازی) سهیلي کوریا

# پر نوي کهول رحم وکړئ

ګرانو هیوادوالو محترمو ژبپوهانو او ټولودرنوپه وطن مینو فرهنګیانو ته خپل تاوده سلامونه او نیکي هیلي وړاندي کوم.

الله دی وکړي چه ستاسي هغه هڅي او کړاونه چه دپښتو ژبي دپراختیا او ودې لپاره یې کوئ ثمر ومومي. ویل شوي دي چي ( دفطرت دښمني کول خپل ځان له مینځه وړل دي) هرچاچي دافغانستان دفطرتي ټولني سره لوبي کړي، او هرچاچي داژبه صرف دخپلو سیاسي لاس ته راوړنو لپاره استعمالوله په خپله یې لیک او لوست خو پرېږده خبري هم نشوای کولای .ځانونو ته به یی دپښتنو میندواوپلرونو اولادونه ویل خو اړیکی به یې دخارجي کورنیو سره وی ، داسی روغ لیوني یا خو دهمېش لپاره له منځه ولاړل او یا اوس صرف په نامه یادیږی.

خلک وایي فلاني دپښتنو لپاره خدمت کړی و چي پښتوبې ملي او رسمي ژبه کړه زه وایم داهرڅه ناسم دي هیچاهم دپښتو لپاره په راستي خدمت نه دی کړی.

ولي دقاطع امر له لاري داژبه رسمي نه شوه ؟ څنګه چه ما مخکی هم وویل دابې معنی هڅي صرف دسیاسي لاس ته راوړنو لپاره کیدې.

چه په ادارو کي رسمی نه وي نو ملي یعني څه ؟

په لویه جرګه کي ځینو ښاغلو وروڼو دملي کولو لپاره ناري وهلې خو زما په نظر دملي کېدو څخه یې هم عملي رسمیت ډیرمهم دی.

زه د ولسمشر حامد کرزي څخه یو واري بیا ددي لیکني له لاري جدي غوښتنه کوم چه پښتو دي په عمل کي دافغانستان رسمي او دفتري ژبه کړي او ټولو وزارتونو ته دي فرمان صادرکړي چي په اداري چارو کي باید د دواړو ژبو سره انصاف ووشي ، او انډول دي یې وساتل شي.

دنوي کهول په استازیتوب زما داغوښتنه په دې معنی نه ده چي زه دي خداي مه کړه ددري ژبي سره مخالفت کوم ،هغه هم زما خپله ژبه ده لیکن د دا دریو لسیزو جګړو

افغانان بیلا بیلو هیوادونو ته مهاجر کړل څوک ایران څوک پاکستان او څوک غربی نړۍ ته، زموږ په دې مهاجرینوهیوادوالو کي داسي ځوانان هم شته چي هغوی دوکتورې ترلاسه کړي دي لیکن په ایران کي لوی شوي چي په پښتو لیک لوست کي ستونزي لري ، او څوک چي په پاکستان کي لوی شوي هغه بیا په دري نه پوهیږي، یو کال مخکي ما دیوه سیاست پوه افغان ځوان سره وکتل هغه راته وویل چي زما په دې هیواد کي ځای نشته ماورته وویل ولې ته خو دوکتوره لرې ؟تاته افغانستان ضرورت لري هغه راته وویل چه زه کله دماموریه حیث په ډیرمشکل سره دیوه وزارت مامور شوم ،نو ډیرخوشحاله وم چه اوس به زه خپل ګران ټاټوبي ته دمصدر خدمت ګرزم.

په اوله ورځ چه وزارت ته ولاړم نو مدیرصاحب راته وویل چه راشه ځوانه اول خو داراته ووایه چه دوکتوره دي په څه کي راوړې ده ؟ ماورته وویل چه په سیاست کي هغه راته وویل چه وارده او صادره دي زده ده ماورته وویل چه نه ، خو زده به یي کړم.

مدیرصاحب راته وویل چه ما په شلو کلونو کی زده نه کړه ته به یي دومره ژرځنګه زده کوې.

بیایې راته وویل چه مکتوب لیکلای شې ما ورته وویل چه بلې په پشتو کي مکتوب لیکلای شم هغه راته وویل چه په پښتو کي نه ، زه ددفتري ژبي په هکله ځواب غواړم یعنی دري ماورته وویل چه په دري پوهیږم ویلای یې هم شم لیکن مکتوب نه شم پرې لیکلای هغه راته وویل چه دوزارت نه دراتلو نه مخکي باید تا دري زده کړې وای.

که داسي قسم حالات وي او حکمراني صرف دهغو مامورینو وي چي یوازي دمکتوب دلیکلو او وارده او صادره زمری و ، نو ګمان مي نه راځي چي دولت دي دافغانستان نوي نسل ته کوم خدمت وکړي او یا به نوي نسل وطن ته راشی.

زه دیوه بااحساسه افغان په حیث داوایم چه دځوانانواو دنوي نسل لپاره دوزارت دجوړیدو څخه هم ښه داده چه دوی ته دکار موقع ددوی په مورنۍ ژبه ورکړه شي ، او داسي یو کمیسیون جوړکړای شي چي ددواړو ژبو سره دانصاف په موخه په ټولو دولتي ادارو کي یې درسمیت نظارت وکړي.

دې لویي او مهمي مسٌلې ته که دولت په ځیرکتیا غور ونه کړي اوسر داوسه یې دمخنیوي لاري چاري پیدانه کړي، خدای مه کړه دا سیمه به په راتلونکي کښي زموږ ګاونډي هیوادونه دخپلو شومو مقاصدو لپاره استعمال کړي ، ولي چي دوی به دهیوادونو د کلتوري دیپلوماسۍ Cultural Diplomacy تر عنوان لاندي خپلي پالیسۍ جوړي کړي اوجوړوي یې، ترڅو ددي نزدېکت له لاري خپل سیاست او ملي ګټې خوندي کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دپښتو ټولني دټولودرنو پوهانو اوبااحساسه ورونو څخه هيله کوم چي دخداى لپاره دپښتو ژبي څخه اوبس مه جوړوى لکه په پخوا وختو کي به دنوي ترمينالوژى په وجه خپل او پردي شيانو ته خپل دځانه جوړشوى لفظونو اختراوي کيدې دمثال په توگه دراډيو په (ږغ دبلي) يو شى چه مونږ جوړکړى نه وى نو زما په اند دا به انصاف نه وي چه دهغه شي نوم دي مونږ بدل کړو که اسانه يي کړي ترڅو هريو کس وکولاي شى پرى خبرى وکړى، نو دابه يو لوي خدمت وى.

په آخر کي يو واربيا ددولت څخه غواړم چي پر اوسني او راتلونکي نسل دي مهربانه شي ، پښتو او دري دواړو ژبو ته دي دعملي انصاف په تله کي برابر ځايونه ورکړي.

ترڅو په راتلونکي کي بيا هغو متعصبو مکروبونو ته په ټولنه کي ځاى پيدانه شي.(54)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضل الهی ولس پال

# افغانان د سیاست بازیو قرباني شوي دي

د لرغونو تاریخي اثارو له څېړنې څخه داسې څرګندېږي چې د نړۍ د تمدن لومړني بنسټ ایښودونکي سومریان وو چې ښارونه یې جوړ کړل او لیک یې اختراع کړ .تاریخ پوهانو سومریان له اریایي قبیلو څخه یوه قبیله او ځینو خو ان پښتانه بللي دي.

اوس به راشو دې پوښتنې ته که چېرې افغانان د تمدن بنسټ ایښودونکي او د نړۍ د ټولو قومونو او ملتونو په سر کې وو اوس ولې له ټولو قومونو او ولسونو څخه وروسته پاتې دي؟

دا وروسته پاتې والی که په ظاهره زیات لاملونه لري خو په حقیقت کې تر ټولو لوی لامل یې دا دی چې له کله راهیسې افغانانو له سیاست سره مخه ښه کړې او ګوښه ناسته یې غوره کړې له هماغه ورځې را په دې خوا د نړۍ له کاروانه وروسته پاتې شوي دي.

افغانان دوه نیم سوه کاله پخوا د یوې پراخې امپراطورۍ څښتنان وو ، د احمد شاه بابا له مړینې وروسته پاتې نورو واکمنانو ګوښه ناستې او راحت ته مخه کړه، له سیاست او ډغرو وهلو څخه یې لاس واخیست او زیاته موده تېره شوې نه وه چې د نورو دولتونو له سیاست بازیو او توطیو سره مخامخ شول. د احمد شاه بابا لمسیان چې د هغه وخت د ځواکمنو دولتونو د سیاسي دسیسو او سیاسي ترهګریو قرباني شول او د قدرت په سر په خپلو منځو کې سره کښېوتل.خپل منځي جګړو په افغانانو کې ملي روحیه ووژله او د ملي ګټو په وړاندې د ولس غبرګون بې تفاوته شو او له دې کبله یو شمېر فرصت طلبو عناصرو ته زمینه برابره شوه او ملي شتمنۍ یې په خاینانه توګه غصب او تالان کړې .دا ډول چلندونه له دوه نیم سوه کلونو را په دې خوا دوام لري، ولس له سیاست سره ډېره نه لګوي د ملي ګټو او شتمنیو په وړاندې بې تفاوتي ښايي، خو موږ ولیدل چې هر څومره موږ له سیاست څخه لرې شوي یو او ګوښه نشیني مو غوره کړې، د نورو ولسونو او ګاونډیانو له سیاست بازیو ، توطیو او دسیسو څخه په امان کې نه یو پاتې شوي. هغوی د یو شمېر مادیات پرستو عناصرو په مټ موږ ته دامونه په لار کې ایښي او موږ یې د بې اتفاقیو او خپل منځي جګړو له لارې د نابودۍ کندې ته ټېل وهلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو. د بېلګې په ډول د انګلیس د شرقي کمپنۍ استازو د سکهـ لـه یاغیانو نه په ګټې اخیستنې سره وتوانېدل د افغان امپراطورۍ هندي برخه (پنجاب، سرهند، کشمیر، سند) ددې امپراطورۍ لـه ولکې څخه وباسي.

دا مهال د پردیو د سیاست بازیو لـه کبله د تېمور شاه د زامنو ترمنځ ترېګنۍ د یو شمېر تربیه شویو عناصرو له خوا لمن وهل کېده. دا ورونه لا لـه خپلو میرنیوورونو نـه پـه غـچ اخیستلو اخته وو چې انګلیسان لـه مقاومت پرته په ډاډه زړه د سکهانو په موجودیت کې تر اټکه راورسېدل.

همدا راز روسانو پـه هېـواد کـې د محمدزیو شاهزیانو اوقومونو ترمنځ ترېګنیوتـه پـه لمن وهلو سره لـه استراخانه پېښه راواړلـه او د افغان امپراطورۍ د ترکستان برخه یې پـه تدریج سره تر ستوني تېره کړه، اوسمهال هم د پاکستان، ایران، روسیې او د یو شمېر نورو ګاونډیانو د سیاست بازیو قرباني یو. هغوی لـه بېلابېلو بهانو سره خپل منځي شخړو ته لمن ووهله او د افغانانو پام یې لـه خپلو ملي ګټو او لـه لاسه وتلیو سیمو څخه په بل لور واړاوه. په دې توګه افغانانو ته یې نه یوازې دا چې د خپلوروا حقوقو د غوښتلو موقـع پـه لاس ورنـه کړه، بلکې یو شمېرسرحدي سیمې یې د دوی لـه خاورې لا پسـې قیچي کړې .

په هېواد کې یو شمېر پردي پالي کړۍ او محافظه کاره روحانیون د ولس د بېداره کولو او پر سیاست د پوهېدلو مخنیوی کوي او لـه دې څخه ډار لري کـه چېرې ولـس پـه سیاست پوه شي، نو بیا دوی نه شي کولی چې پر هغوی خپله رنده واکمني ومني او یا د دوی پر خولو او وینو لـه ټولې شوې ملي شتمنۍ څخه ناوړه استفاده وکړي.

محافظه کاره ملایان ولس ته سیاست د یو ناروا څیز پـه توګه معرفي کوي او ورتـه وایي چې سیاست دروغو تـه ویـل کېږي او دروغ پـه اسلام کې منع دي. محافظه کاره حاکمان سیاست د اختناق او زور په ذریعه محکوموي او ګاونډیان د افغان واحد ملت د جهاد، قومیت او ګوندونو مو په نومونو سره ویشي، لـه دې لارې بې اتفاقیو او شخړو ته لمن وهي او د سیاسي لوبو لـه لارې پـه افغانستان کې د خپلو موخو پیاده کولو تـه زمینه برابروي .

دا پـه داسې حال کې ده چې محافظـه کارانو، حاکمانو او ګاونډیانو تـه سیاست هېڅکله دروغ نـه دي، هغوی لـه موږ سره سیاست کوي د دسیسو لـه لارې د ولس د پرمختګ مخه نیسي او ګاونډیان پـه دې سره ځانته زمینـه برابروي چې لـه موږ څخه نیولې ځمکې او شتمنۍ په اسانه تر ستونې تېرې کړي او چې کله بیا موږ پر هوش راځو نو دوی لـه موږ څخه دومره وړاندې تللي وي چې لـــه دوی څخه د خپلو رواحقوقو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتلو جرئت ونه کړای شو.

راځئ چې ویښ شو، سیاست نه کفر وبولو او نه دروغ، سیاست د سیاست په توګه ومنو.

سیاست پرخلکو د حکومت کولو فن او هنر دی.

سیاست د یو ملت د یو والي، د ملي ګټو دپاللو د ملي شتمنیو د پېژندلو او د پرمختګ او پراختیا درس دی.

سیاست د یوه ملت سترګې دي چې کولی شي د دښمنانو ډېرې ورې او کوچنۍ د سیسې او توطیې پرې ووینې.

سیاست د حکومت، ورورګلوۍ او یو والي منطق دی.

سیاست د دین او ایمان بشپړتیا ده.

سیاست د تفکیک او تللو ډېره ده.

راځئ چې سیاست ته مخه کړو، که موږ له چا سره سیاست ونه کړو، خو نور یې له موږ سره کوي، موږ ته د سیسې جوړوي او موږ کندو ته ټېل وهي.

د سیاست لومړنی درس د ملي ګټو او ملي شتمنیو پېژندل او په راچاپېره یې د یووالي رامنځته کول دي.

د سیاست دوهم درس، ملي ګټو، ملي شتمنیو او ملي یووالي ته د ژمن او ناژمن کس یا د دوست او دښمن پېژندل دي. د سیاست دریم درس له دوست سره وروري او دوستي کول او له دښمن سره د دښمنۍ کول او جنګېدل دي.

د سیاست څلورم درس د خپلو حقونو ساتل او د نورو د حقونو درناوي کول او د عدالت ټینګول دي.

د سیاست پنځم درس، د هېواد، ملت، علم او پوهې پالل، پرمختګ او پراختیا ده.

د سیاست شپږم درس ربښتنې ازادي او په دې سره په ربښتني توګه د مسلمان ولس او دین ازادول دي.

د سیاست اوم درس نیکمرغه، ازاده او سوکاله ژوند دی.

اوس ویلي شو چې سیاست نه د استخباراتي ملا په خولې کفر او دروغ دي او نه د پردیپالو جاسوسانو اولاسپوخو سیاستوالو په وینا د هېواد خرابول.

زموږ د تېر تاریخ د ویاړونو یوازنی لامل د ولس په یو والي کې و، هغه وخت موږ ټول سره یو ملت او یو شانته مسلمانان وو، په موږ کې دا او هغه نه و، ټول یو افغانان وو، د هېواد او افغان د سرلوړۍ له پاره مو په ګډه سره کار کاوه، جرئت او خوځښت مو درلود، د حق پلوي مو کوله او د باطلو په وړاندې درېدلو، هر فرصت طلب او خاین ته مو اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکوله چې هېواد او ولس ته زیان واړوي.

هغه مهال د علم، کمال او هنر ډیوه مو روښانه ساتلې وه، د علم د حاصلولو لـه پـاره تـر بخارا او کوفې ځغلېدو، ملي غرور او ملي احساس مو درلود، چې په هر ځای کې بـه وو افغان به وو او په افغانیت به مو ویاړ کاوه.

که وغواړو چې یوځل بیا لکه د پخوا پـه ځېرد بـرم خاونـدان و اوسو، بایـد ملي ګټې وپېژنو، د ولس پالنې احساس خپل کړو، خپل ملي یووالي ته ژمن اوسو، ملي غـرور او ملي احساس په ځان کې ژوندی وساتو او پـه ملي احسـاس سره پـوهې،علم، تخنیـک او تکنالوژۍ ته متې ونغاړو.(55)

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اکرم نسیم

## د "ایینې" فعالیتونه د حقیقت په هنداره کې

نن ورځ مې مه ګوره چې نه لرم ډېوه په کور کې
کړي دي ما هم د سپوږمۍ پر زنګانه خوبونه
درویش درانی

کله چې زموږ پر ګران هېواد باندې د امریکا په سرمشرۍ بریدونه پیل شول او د طالبانو حکومت یې رانسکور کړ، له همغې ورځې چې له یوې خوا جګړه روانه وه، له بلې خوا د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د همدغو هېوادونو استازي سره راغونډ شول، چې د افغانستان لپاره د مرستو برابرولو تابیا وکړي. دغه راز یو زیات شمېر غیردولتي موسسو، ازادو ټولنو، عامه وګړو او داسې نورو کسانو هم له افغانانو سره د مرستو راټولولو لپاره هلې ځلې وکړې او دا ژمنې یې هم وکړې، چې له افغانانو سره به د ژوند په هر ډګر کې مرسته کوي، په همدې لړ کې د توکیو کنفرانس هم د پام وړ دی، چې د بېلابېلو هېوادونو له خوا له افغانستان سره د لس ملیاردو ډالرو د مرستې ژمنې وشوې. د دې مرستو د لانبه تنظیم لپاره پرېکړه وشوه، چې د غیردولتي موسسو له خوا به د هېواد ګوټ ګوټ ته رسول کېږي. له همدې سره په سلګونو نړیوالې غیردولتي موسسې افغانستان ته راغلې او د کابل په ګډون یې د هېواد په لیریو پرتو سیمو کې هم په کار پیل وکړ.

د دغو غیردولتي موسسو په لړ کې یوه هم ایینه، چې یوه فرانسوۍ موسسه ده، د نسبي سولې له ټینګښت سره یوځای افغانستان ته راغله. دا موسسه په فرهنګي فعالیتونو کې کارنده ونډه لري او نژدې ټول فعالیتونه یې فرهنګي دي. که څه هم دا ټولنه په ظاهره یوه غیردولتي، غیرسیاسي او خپلواکه ده، خو په حقیقت کې د هېواد په یوې ازمویل شوې سیاسي ډلې پوره اړه لري او همدغې ډلې ته کار کوي. دا موسسه همدا اوس په کابل کې اووه خپرونې لري، چې له هفته نامۀ کابل، ملالۍ، د ماشومانو مجله (پرواز)، سیرت، سباوون، زنبېل غم او اخبار کابل څخه عبارت دي. زه کله کله ځینې خپرونې ګورم، ځکه چې اکثره خپرونې داسې څه نه لري، چې په لوستلو سره یې د سړي پوهنیزه غنا زیاته شي او یا هم څه ترې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سړی د ایینې دې ټولو خپرونو ته ځیر شي او د پښتو او پارسي برخه یې ولولي، نو پوهېږي چې د ایینې پټې موخې او هدفونه څه دي او د څه لپاره کار کوي. په ځانګړې ډول بیا کابل اوونیزه (هفته نامهٔ کابل) چې په پارسي او انګرېزي ژبو خپرېږي او تش په نامه پښتو هم لري، دا خپرونه بشپړه سیاسي او لکه مخکې مو چې یادونه وکړه په یوې سیاسي ډلې پوره اړه لري. د کابل اوونیزې پر ټنډه لیکل شوي چې:

"Kabul weekly is an independent publication, unaffiliated with any governmental, political or ethnic groups. It reflects the society and the opinion of the people".

پښتو ژباړه: "کابل اوونیزه یوه خپلواکه، غیردولتي او غیرسیاسي خپرونه ده، چې د ټولنې او عامو وګړو د نظریو څرګندویې کوي" خو حقیقت په بشپړ ډول د دې برعکس دی او د دې پرځای باید ولیکي چې:

"Kabul weekly is a political publication affiliated with a political party and reflects the opinion and editorial of that party"

پښتو ژباړه: "کابل اوونیزه یوه سیاسي او د هېواد په یوې سیاسي ډلې پوره تړلې خپرونه ده، چې د همدې ډلې د نظر او پالیسۍ د څرګندولو لپاره خپرېږي".

ځکه د کابل اوونیزې یوه ګڼه به هم داسې نه وي چې په هغې کې دې سیاسي لیکنې نه وي او د یوې سیاسي ډلې ترجماني دې نه کوي. ایا ملي، خپلواکه او غیرسیاسي خپرونه همداسې وي، چې د افغانستان ملي ټرمینالوژي په ایرانۍ ټرمینالوژي وربدله کړي او د پوهنتون پرځای دانشګاه، د پوهنځي پرځای دانشکده، د سترې محکمې پرځای دادګاهٔ عالي، د ښاروال پرځای شهردار، د ښاروالۍ پرځای شهرداري، د سرې میاشتې پرځای هلال احمر، د محصل پرځای دانشجو، د افغان پر ځای د افغانستان خلک یا افغانستانیان... ولیکي؟ د افغانستان په نوي اساسي قانون کې لیکل شوي چې ملي ټرمینالوژي به پر خپل حال پاتې وي، خو اوس د ایینې له خوا په خپرېدونکو خپرونو کې د افغانستان له اساسي قانون څخه څرګنده سرغړونه لیدل کېږي، دا څه مانا؟

څو ورځې وړاندې د ایینې په دفتر کې د "مطبوعاتو د ازادۍ قانون" تر سرلیک لاندې یوې غونډې ته د ګډون لپاره ورغلم، نو د غونډې پیل ته لا څه وخت پاتې و. غوښتل مې چې د ایینې د خپرونو په اړه د دوی له کوم غړي څخه پوښتنه وکړم. خو بریالی نه شوم، خو غوښتل مې چې د ایینې د خپرونو نومونه له ځان سره ولیکم، په همدې لټه کې شوم او د ایینې د خپرونو یو یو دفتر زما مخته راته او ما به نومونه لیکل: ملالۍ، پرواز، زنبېل غم، سباوون، سیرت او اخبار کابل مې ټول تر سترګو شول، خو د هغه نامهٔ کابل دفتر مې په نظر نه شو. په همدې هڅه کې وم او په اصطلاح د ایینې د Media Center یا انټرنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېفې تر څنګ غرفې ته ورغلم، چې د ښځناک شیان او نور خوراکي توکي پلوري، د غرفې شا ته مې د هفته نامهٔ کابل دفتر تر سترګو شو، چې د احمد شاه مسعود یو غټ عکس په کې لګېدلی و، که چېرې په رښتیا هم کابل اوونیزه یوه ازاده، غیرسیاسي او غیردولتي خپرونه وي، نو بیا ددې عکس مطلب څه دی؟؟؟!!!

کله چې د یوې خپلواکې، ناپېیلې او غیرسیاسي !؟ خپرونې په دفتر کې د یوې سیاسي ډلې د مشر عکس لګېدلی وي، نو بیا به څنګه سړی دا ومني چې هغوی دې خپلواکه پاتې شي او په سیاسي فعالیتونو کې دې راښکېل نه وي. د کابل اوونیزې پر لومړي مخ باندې هېڅکله هم درې سرلیکونه په پښتو نه دي راغلي، په پنځو یا شپږو سرلیکونو کې ایله یو، یا دوه سرلیکه پښتو او نور ټول په بله ژبه وي. موږ دا نه وایو چې پارسي دې نه وي، دا هم زموږ د هېواد او زموږ د هېوادوالو ژبه ده، خو داسې نه، چې د نورو حق دې په کې تر پښو لاندې شي، ځکه دوی دا پیسې او دا فنډونه (!؟) د ټولو افغانانو په نامه اخلي، ښاغلي فهیم دشتي (د کابل اوونیزې چلوونکي) چا ته په دې اړه ویلي وو، موږ ځکه پښتو ته یوازې 30٪ ونډه ورکوو، چې پارسي د افغانستان د اکثریت ژبه ده او زیات خلک پرې خبرې کوي. ښاغلي دشتي ته باید یادونه وشي، چې که تاسې یوازې کابل افغانستان ګڼئ چې ګواکې ټول په پښتو نه پوهېږي، مهرباني وکړئ، ده سبز، چاراسیاب، پغمان، هوتخېلو او دغسې د کابل نورو ولسوالیو ته سفرونه وکړئ، هلته وګورئ چې څو سلنه خلک په پښتو خبرې کوي، دغه راز نورو ولایتونو ته پام وکړئ، چې هلته د پښتنو شمېره څومره ده. په هر صورت موږ دلته شمېرنه نه کوو، بلکې غواړو پر اصلي موضوع خبرې وکړو. څرګنده ده چې پښتو هم باید په بشپړ ډول په دې اوونیزه کې شامله شي، ځکه پښتو د هېواد د اکثریت، لومړۍ، ملي او رسمي ژبه ده. موږ په دې خبره باوري یو چې زموږ پارسي ژبي ورونه هېڅکله هم دا نه غواړي چې د هېواد په خپرونو کې دې داسې پالیسي رامنځته شي او د ژبې په اړه دې انډول له منځه لاړ شي. ښکاره خبره ده چې دا د یوې ډلې او د یو څو ګوتو په شمېر کسانو کار دی او چې همدا کسان بیا د ایینې له خوا تقویه کېږي او هرډول مالي او مادي مرسته ورسره کېږي، نو ټول مسوولیت همدغې ادارې ته راجع کېږي او د همدې حالت د راوستلو لاملین د ایینې دفتر دی. د همدې اوونیزې له خوا په دې وروستیو ګڼو کې یو مصنوعي لیک خپور شوی چې په دغه لیک کې د بي بي سي راډیو پر خپرونو نیوکه شوې چې ولې یې په پارسي خپرونو کې داسې ویندویان خبرې کوي، چې له اره پښتانه دي، کابل اوونیزه وایي چې پر سړي دا "صدای ناهنجار" بد لګېږي او ګومان کوي چې ننګرهار راډیو اوري. [کابل اوونیزه، دریم کال، 117مه ګڼه، دیارلسم مخ]. ایا دا بدرنګه غږ "صدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناهنجار"د پښتنو وي او بيا د ننګرهار راډيو ؟؟ ! اوس مهال د همدغسې خپرونو له خوا د ژبنيو، قومي او توکميزو تعصبونو اور ته لمن وهل کېږي يا هم دا خپروني غواړي چې پښتو يوه خواره، بې ارزښته او نه کارېدونکې ژبه وښيي او دا کسان ځانونه تر نورو لوړ وګڼي.

سباوون مجله هم د ايينې په مالي مرستو خپرېږي، چې هغه هم په همدې ناروغۍ اخته ده، که چېرې د دې مجلې د دويم کال يوولسمې ګڼې ته ځير شو، نو يوازې او يوازې څلور ليکنې به په پښتو پيدا کړو، هغه هم له خورا زياتو تېروتنو ډکې دي: 1_افغانستان ته به معياري پټروليم وارد شي، 2_د ملي اردو اړتيا د بياجوړونې بهير ته يوه لنډه کتنه، 3_مامور پردل او د هغه حافظه، 4_په پکتيا کې په زړه پوري رواجونه. چې دا ټولې ليکنې اووه مخه کېږي، په داسې حال کې چې دا ګڼه 72مخونه لري. يانې نيمايي خو څه کوې، تر لسمې برخې هم د پښتو برخه په کې کمه ده.

د دې تر څنګ که د ايينې يوه بله خپرونه سيرت، چې د دوی په وينا يوه ازاده او ښځينه خپرونه ده وڅېړو او ورته ځير شو، نو کټ مټ د ايينې د نورو خپرونو په څېر ده، په ځانګړي ډول که د دې خپرونې د درېيم کال يوولسمه او دوولسمه ګڼه وګورو، نو په ټوله ګڼه کې به يې يوه جمله هم پښتو پيدا نه کړو، په دې ګڼه کې نژدې يو مخ انګرېزي راغلې، خو له بده مرغه د پښتو نوم هم په کې نه شته.

يو خو دا ده چې ايينه زموږ په ګران هېواد کې د کرکو او نفرتونو اور ته لمن وهي او د يوې پخوانۍ جګړه مارې ډلې په ملاتړ سره زموږ خوار، ځپل شوی او شهيد شوی ملت نور هم د بدمرغيو کندې ته ورټېل وهي او بل زموږ پر ملي ژبه (پښتو) ملنډې وهي. هغه داسې چې څه موده وړاندې د ايينې له خوا په کابل کې د دوی د يوې غونډې بلنليک چې په پښتو ليکل شوی و، د پښتو ژبې سپکاوی او توهين و. په دې اړه په پخلاينه اوونيزه کې هم يوه ليکنه راغلې وه، چې د دغه بلنليک عکس يې هم په کې چاپ کړی و او که څوک دا ليکنه ولولي، بيا يې له هغه خپاره شوي بلنليک سره پرتله کړي، ورته څرګنده به شي چې ايينې پر پښتو کومې لوبې کړې دي.

زموږ د دې دعوې د پخلي لپاره که د سيرت اوونيزې د دويم کال اووه څلويښتمه ګڼه ولولو، نو د اوونيزې پر لومړي مخ به په څوارلسو سرليکونو کې يوازې دوه سرليکه په پښتو ومومو، هغه هم داسې چې په بشپړ ډول يې پر پښتو ملنډې وهلې او دواړه سرليکونه يې ناسم دي، چې په دې ډول دي: "د ښځو لپاره کرنيز فارم په هرات کې جوړه شوه" ( ! !؟؟) ددې پرځای چې دا سرليک سم وليکي "په هرات کې د ښځو لپاره کرنيز فارم جوړ شو" او د ښځينه او نارينه نوم توپير يې کړی وای، دومره هم نه دي توانېدلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دې سرلیک هغه لفظي جوړښت، ژبنی اړخ او املايي_ انشايي تېروتنې سمې کړي. په دویم سرلیک کې یې هم دا تېروتنه تر سترګو کېږي: "په هېواد کې د مور او ماشوم د مړیني د سطح راټیټول" ( ؟؟!!) د سیرت او ونیزې د همدې ګڼې سرلیکونو ته په کتو سره سړي ته دا فکر پیدا کېږي، چې ایا اېینه دومره توان نه لري چې د پښتو لیکنو لپاره پښتانه په کار وګماري او د دې تېروتنو او نیمګړتیاوو مخه ونیسي؟ یقیناً دوی دا توان لري خو په لوی لاس غواړي چې په دې توګه زموږ پر ملي ژبه ملنډې ووهي، سپکه یې کړي او له پامه یې وغورځوي. ورپسې اخبار کابل Les Nouvelles de Kaboul چې میاشتنۍ مجله ده او په پارسي او فرانسوي ژبو خپرېږي او د اېینې په مالي مرسته له چاپه راوځي، یوازې د دې لپاره چې ګواکې دوی پښتو ته هم کار کوي، د پښتو برخه لري، دوی غواړي چې خلک یې په پټو سترګو فعالیتونه ومني او ستاینه یې وکړي. خو لمر په دوو ګوتو نه پټېږي، که د دې لیکنې ګران لوستونکي د "اخبار کابل" د 2004م کال د "فبرورۍ" پنځلسمه ګڼه وګوري، نو بیا به په پټو سترګو زموږ دا خبره هم ومني چې د اخبار کابل په دې ګڼه کې 19 مخونه د فرانسوي ژبې لپاره بېل شوي دي او د دې برخې ټولې لیکنې په فرانسوي ژبه دي. د پارسي برخه یې 43مخونه لري، چې په دې 43مخونو کې یوازې او یوازې دوې لیکنې په پښتو دي: "د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا د افغانستان د سرحدي ستونزو حل" او "افغانان او د کار ستونزه"، چې دا دوې لیکنې اووه مخه کېږي. یانې په 43مخونو کې د پښتو برخه یوازې اووه مخه ده، په بل حساب د اخبار کابل دا ګڼه ټول 62 مخونه لري او په دې 62مخونو کې د پښتو په نصیب یوازې اووه مخه رسېدلې دي.

د یوه سالم فکر خاوند او نورمال انسان به دا څنګه ومني، چې اېینه خپلواکه او ناپېیلې ټولنه ده، سیاسي موخې نه لري او په هېواد کې یوې سیاسي ډلې ته کار نه کوي؟؟

همدارنګه که د اخبار کابل شپاړسمه ګڼه وګورو نو دا تر پخوانۍ ګڼې هم بدتره ده او هغه داسې چې د دې ګڼې د فرانسوي ژبې له برخې پرته د پارسي لپاره 37مخونه ځانګړي شوي دي، چې په دې 37مخونو کې یوازې او یوازې دوه مخونه په پښتو دي: "د مطبوعاتو بیارغونه" نو که په رښتیا "اېینې" غوښتل چې پښتو ته هم د یوې ژبې په سترګه وګوري نو داسې به یې نه کول. پښتو برخه به یې زیاته کړې وای او د یوې ملي ژبې په سترګه به یې ورکتلای. همدارنګه د اېینې د پرواز مجله هم، چې د ماشومانو لپاره خپرېږي په دې میکروبونو ککړه ده. پرواز د اېینې په ټولو خپرونو کې په ښه بڼه او ښه صحافت سره خپرېدونکې مجله ده، چې د اېینې تر ټولو خپرونو زیاته پانګه ورباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګول کېږي. که چېرې د پرواز یوې نوې ګڼې ته یو ځغلند نظر وکړو، نو د ایینې موخې به نورې هم څرګندې شي. د پرواز په دې ګڼه کې 7 سرلیکنه په پښتو راغلي، خو د مجلې نوره برخه ټولو ټوله پارسي ده. یانې د دې ګڼې یوه برخه پښتو او درې برخې په پارسي دي.

پرواز د "جرمنۍ سفارت"، نیشنل جیوګرافیک "National Geographic" او د ماشومانو د نړیوالې ادارې UNICEF په مالي مرسته خپرېږي. یادې شوې مرستندویې ادارې باید وپوهېږي چې دوی دا روپۍ داسې کسانو ته ورکوي، چې هغوی یوازې او یوازې د یوې ژبې بیرغ پورته کړی او غواړي هغو کسانو ته کار وکړي، چې هیله من دي په هېواد کې د پښتو او پارسۍ د مسئلې په ژوندۍ ساتلو سره خپلې واکمنۍ او ټوپکسالارۍ ته دوام ورکړي، دوی شعار لري چې: "تفرقه واچوه او حکومت وکړه". په داسې حال کې چې همدا ادارې دا پانګه او مرستې د ټول افغانستان او د ټولو افغانانو په نامه ورکوي، خو کار یوازې یوې ژبې ته کېږي.

دغه راز د افغان فلم له ادارې سره هم ټوله مرسته د ایینې له خوا کېږي، ایینې له دې ادارې سره تخنیکي او د روزنې په برخه کې هم ډېرې مرستې کړې، تر اوسه یې نژدې شل بېلابېل فلمونه جوړ کړي، چې په دې شلو فلمونو کې یوازې دوه په پښتو دي. نو د ایینې دفتر به څنګه دا دعوه کوي چې پښتو ته هم کار کوي، که چېرې دغې ادارې پښتو ته لږ تر لږه د یوې ژبې په سترګه کتلای نو په دې شلو فلمونو کې خو باید لس په پښتو وای.

رضا دقتي، چې د National Geographic فوټو ژورنالیسټ دی یو فعال او مستعد سړی دی، خو دماغ او فکر یې د جمعیت او نظار شورا له خوا پېچکاري شوی دی. ده د یوه داسې کس په اړه فلم جوړ کړی، چې د کابل ورانۍ، د هدیرو رپېدونکې شنه او سره بیرغونه او دا په سلګونو معلولین او معیوبین یې د ورانۍ او جنایتونو شاهدي ورکوي، دغه کس یوازې د همدغو سیاسي اشخاصو عکسونه چاپوي او خپروي یې. دی په افغانستان کې د ایینې موسس دی.

د ایینې دغه ډول منفي فعالیتونو ته په کتو سره سړي ته دا د شک ځای نه پاتېږي او په یقین سره دا ویلای شي چې ایینه د افغانستان لپاره نه، بلکې د شمالي ټلوالې او نظار شورا لپاره کار کوي. زموږ ډېر لوستونکي به داسې وي چې له مخه به په دې شیانو خبر نه وي، خو اوس به ټولو ته څرګنده شوې وي، چې ایینه څه ده، څه یې وکړل، څه کوي او څه به وکړي.

روسانو به هم د خپلو ستراتیژیو او سیاسي هدفونو د خپراوي لپاره په روسیه کې کتابونه خپرول او د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې به یې وېشل، هغوی د دې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستري پروژې پیل کړې وې او په ملیونونو ډالر یې ولګول، خو ناکام شول. هغه سیاسي پدیدې چې غواړي په زور پر افغانانو خپلې موخې، هدفونه او ایډیالوژي په یوه او بل ډول وروتپي، ناکام دي، ځکه چې افغانانو ته تر هرڅه وړاندې خپل کلتور، خپله ژبه او خپل هېواد ګران دی.

په پای کې د ایینې له اداري سره له مرستندویو ټولنو څخه غواړو چې باید وپوهېږي چې په دې هېواد کې پښتو هم یوه ژبه ده، باید چې ورته وخت ورکړي او ویې پالي. اروپایي ټولنه Uropean commission، یو. اس. ایډ United States Agency For International Development، UNICEF، UNISCO، د جرمني سفارت German Embassy، نیشنل جیوګرافیک National Geographic، د کډوالو نړیوال سازمان IOM او UNAMA باید په داسې حالت کې ایینې ته یوه روپۍ هم ورنه کړي، د ورکړل شویو پانګو حساب دې ورسره وکړي، ځکه دغې اداري ته ورکړل شوې مرستې تر اوسه پورې کوم تعمیري اړخ نه لري، بلکې دا مرستې یې ټولې زموږ د کلتور، ژبې، ملي ټرمینالوژۍ، ملي ارزښتونو او ادب د تخریب لپاره لګولې دي. په دې برخه کې باید پلان وزارت هم یو غوځ او عملي اقدام وکړي، دغسې نورو ټولنو ته دې هم اجازه نه ورکوي، چې دغه ډول بې حسابه پانګه او پیسې زموږ د اصیل کلتور بیا تخریب او یوې ژبې ته په ترجیح ورکولو کې ولګوي. افغانستان د ټولو قومونو کور دی، دلته ټول مېشت قومونه حق لري چې له خپلو حقوقو څخه ګټه واخلي. پورته یادې شوې ټولنې او پلان وزارت باید د ایینې مشران کښېنوي او حساب ورسره وکړي او له دوی څخه دې وپوښتي چې اخر ولې؟؟ دوی ولې هغو ټوپکسالارانو ته د کار او فعالیت امکانات برابروي چې ټول هېواد یې د خپلو قومي، ژبنیو او توکمیزو تعصبونو په اور کې لولپه کړ، په ملیونونو انسانان یې تر خپلو شومو هوسونو قربان کړل، افغانان به په راتلونکي کې ایینه یوازې په دې نامه پېژني، چې دغې اداري افغانانو ته د سالمو مرستو پر ځای د تعصبونو او یوې ژبې ته د ترجیح ورکولو لپاره کار کړی او بس!(56)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکنام، کابل

# مغل هر څه پر بل مخ اړوي

وایي چې کله به چنګېزخان پر یوه سیمه یرغل وروړ، هرڅه به یې بدل او پربل مخ واړول. له بده مرغه له چنګېزخان څخه راوروسته د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې دغه ډول زیاتې پېښې او مسخه کول، بیا بیا لیدل شوي دي. د پخواني تاریخ تېرو دورو ته به نه ګورو، بلکې د افغانستان د اوسمهالي تاریخ ۲۵کلنې جګړې پېښې او ناخوالې به راواخلو، چې موږ په کې د ډلو ټپلو زیات ډولونه او څېرې ولیدلې، موږ د کابل او ځینو نورو حکومتي ودانیو او ملي شتمنیو مسخه کول ولیدل، موږ داسې څه ولیدل چې افغانان ژوندي په ځمکه کې ښخ کړای شول... پر سرونو یې مېخونه ټک وهل شول، د بدن غړي یې غوڅ کړای شول، ژوندي وسوځول شول او...

ښه به وي، چې نن پر یوه بله موضوع وغږېږو. هغه د دولتي ودانیو په ځینو ځانګړو ځایونو کې د ځینو لوحو او سرلیکونو لګول دي، چې د کابل ښار او د افغانستان د ولایتونو له وروستي کلتوري یرغل سره سم پیل شوي دي. له بده مرغه د دغه زور او یرغل قرباني هم پښتو ژبه او پښتو لوحې دي، چې یوه په بله پسې له منځه ځي او پرځای یې په بله ژبه نوې لوحې ټک وهل کېږي.

د بېلګې په توګه د اوبو او برېښنا وزارت پر ودانۍ "د اوبو او برېښنا وزارت" لیکلي وو، خو د وروستي بدلون په ترڅ کې دغه لوحه لیرې او پرځای یې (وزارت اب و برق) لوحه ولګول شوه.

همدا ډول د سوداګرۍ وزارت د (وزارت تجارت) په نوم ونومول شو. د بهرنیو چارو وزارت په وړاندې پښتو لوحه لګېدلې وه، هغه وغورځول شوه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت هم په ایرانۍ ژبه (وزارت اطلاعات وفرهنګ) ولیکل شو، سره میاشت په (هلال احمر افغاني) بدل شو، د کرنې پراختیا بانک خو له جوړېدو سره سم په پښتو لوحه لرله، خو اوس یې له لوحې څخه پښتو لیرې کړل شوې او "بانک انکشاف دهات" شو. همداسې نور بېشمېره ځایونه شته، چې د ایران فرهنګپالان او دغه هېواد ته وفاداره پلویان پرې خپلې لوحې او ټاپې لګوي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت خو د ملي ګالرۍ نوم هم ایرانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ او "نګارستان ملي" نوم يې ورکړ، حال دا چې په ټوله نړۍ کې يې خلک په ګالري پېژني.

يوه بله ډېره ځوروونکې او زړه بوږنوونکې لوحه د عدليې وزارت په وړاندې د رسمي جريدې د پلورنځي پر سر لګېدلې وه، چې پرې ليکلي وو: "د رسمي جريدې پلورنځی" خو له بده مرغه د همدې وروستي يرغل په دوران کې دغه ډېره وړه لوحه هم غورځول شوې ده.

ځوروونکې او زړه بوږنوونکې خو مې ځکه ورته وويل چې د افغانستان د خاورې پر هره لوېشت باندې د افغانانو وينې تويې شوې دي، دغه مېړني ولس په کلونو - کلونو افغانستان زموږ د خاورې او خلکو له دښمنانو څخه ژغورلی دی. افغانانو پر هېڅا تېری نه دی کړی، بلکې پر دوی او د دوی پر خاوره باندې يرغلګر ورغلي دي، افغانان يوازې د پرديو په وړاندې درېدلي او د خپلو خلکو او خاورې ساتنه يې کړې ده.

دوی په دغه خاوره کې د خبرو حق لري، دوی دا حق لري، په هر ځای کې يې په خپله ژبه لوحې ټک وهل شي، ځکه پښتانه په افغانستان کې اکثريت او پښتو د دې هېواد ملي ژبه ده.

د کمکيانو انيس خپرونه له پيله‌ېدا سره سم پښتو نوم درلود، خو د اطلاعاتو او کلتور وزارت اوس "انيس کودک" نوم ورکړی، په دې مانا چې د پښتنو ماشومان هم له خپل دې حق څخه بې برخې دي او چارواکي هم په ښکاره دا هر څه تر خپل يرغل قربانوي.

له بده مرغه چې يرغلګر دومره سخت دريځه او لاروکي خلک دي، چې دغه وياړلی قوم په خپله خاوره کې هم خبرو ته نه پرېږدي، پښتو ته په راډيو ټلويزيون او نورو رسنيو کې حق نه ورکوي.

د هغو موټرونو په شا پورې يوه وړوکې لوحه لګول شوې وه، چې د افغانستان پوليسي ځواک ته د مرستې په نوم ورکړل شوي دي. پخوا د دغو موټرونو پر لمبرپليټونو ليکل شوي وو: (پوليس د خلکو خدمتګار)، خو اوس يې ځای (پوليس خدمتګار مردم) نيولی دی. ښايي ډېر خلک دا يوه وړه خبره وګڼي او دومره ارزښت ورنه کړي، خو پوښتنه ولاړېږي، چې بيا ولې له يوې ملي ژبې څخه دغه دوې جملې په بله ژبه اړول شوې دي، ايا پښتانه دومره حق نه لري چې په خپل هېواد کې له خپلو حقه حقوقو څخه ګټه واخلي؟

حال دا چې وړاندې زياتې لوحې په پښتو وې، له دا سې ډېرو خبرو او تاريخي پېښو څخه ښکاري، چې د لږکيو له منځ څخه ځينې افراد او اشخاص د تل لپاره د باندېنيو هېوادونو استازي پاتې شوي دي، د ژبې او نژاد له مخې دغه خلک له ايران، تاجکستان او ځينو نورو هېوادونو سره خپله نژادي او ژبنۍ پالنه کوي. دوی غواړي چې د ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو يو ډول واکمني پر افغانانو وروتپي.
دغه د ژبې او نژاد پالل يا دغه بخل او منفي چلند ، چې نن يې په سيمه کې ايرانيان، تاجکستانيان او نور کسان کوي، ډېره پخوانۍ ريښه لري. دغو خلکو ټول عمر يا ټول ژوند په همدغه ډول نژادپالنه او د ژبې واکمنېدنې تېرې کړې دي. دوی تل هڅه کړې چې خپله ژبه او نژاد تر نورو خلکو لوړ وګڼي او خپور يې کړي. په داسې حال کې چې په پښتو او پښتنو ولس. تاريخونه ډک دي، د تاريخ په وروستيو پړاوونو او دورو کې اسلام ضد اشخاصو د عربو اسلام نه مانه، ځکه د عربو اسلام ورته وويل شو ، چې همدغو خلکو د عربو اسلام ورته وايه، هغوی ډېرې هلې- ځلې وکړې، چې د عربو د نفوذ مخه ونيسي. خو بيا هم ونه توانېدل. خو دغو نژادپالو او ژبپالونکو بيا له اسلام څخه د ناسمو ګټه پورته کولو لاره چاره خپله کړله. لکه: له يوې خوا په دغه کار بوخت شول، چې څنګه په قران او حديثونو کې لاسوهنه وکړي، له بلې خوا يې هڅه کوله، چې د سيمې پر هېوادونو ، خلکو او ژبو يرغل وروړي. د ټوپک په زور يې پر خلکو خپله واکمني، ژبه او ډېر څه په زور ومنل، له بلې خوا يې په خلکو کې يو مذهبي تضاد هم رامنځته کړ، چې نخښې يې هر يو سترګه ور انسان ليدلی شي. يا په لنډ ډول ويلای شو ، چې ځينې خلک له پخوا څخه همدا ناروغي لري، دوی د سيمې ډېر ولسونه کړولي او ځورولي دي.
له بده مرغه له کلونو- کلونو راپه دېخوا د افغانستان رښتيني بچيان (پښتانه) تر دې يرغل لاندې دي، له پېړيو- پېړيو څخه په دېخوا کړول کېږي، ځورول کېږي، سپک کېږي، بيا بيا هڅه کېږي، چې د دوی ژبه زېندۍ شي، د دغې ژبې ټول ارزښتونه مسخه او له منځه لاړ شي، وينو چې اوس دغه هرڅه په عملي ډګر کې ترسره کېږي.
د افغانستان څو کلنې شخړې او دښمنيو دغه ناوړه لوبه لا نوره هم ګرمه کړې ده. ايران، ترکيې، تاجکستان او دغسې نورو هېوادونو د خپل سياسي نفوذ د زياتوالي لپاره هلې- ځلې کړي، چې سيمه تر خپلې اغېزې لاندې راولي. دوی هرڅه مسخه کوي، دغه هڅې او هلې- ځلې د جنون تر کچې رواني دي.
همدا وجه ده چې د افغانانو ترمنځ ستونزې لا پسې زياتې شوې دي، د دوی ترمنځ لا نور ډېر درزنونه راغلي، يو له بل څخه ليرېوالی رامنځته شوی، د دوی ترمنځ د ګډ ژوند لارې چارې زيانمنې شوې دي. نو ښه به دا وي چې يرغلګر نور خپل يرغلونه ودروي او افغانان دې پرېږدي، چې يو له بل سره ګډ مينه ناک ژوند وکړي، دوی بايد له پښتو او پښتنو سره خپله بېځايه کينه او دښمني پايته ورسوي. ځکه پښتانه تعصب نه لري، تعصب خو هغه کسان لري، چې پښتانه د هغوی د ژبې، سرلوړۍ او وياړونو له کبله ځوروي. د هغوی تاريخي وياړنې ټيټې ښيي. خو لمر په دوو ګوتو نه پټېږي، نړۍ ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو تاریخي میراث، پټ او کلتور ځرګند دی، هیڅوک هم دغه سرلوړی ملت نه شي مسخه کولای. که مغل هرڅومره هم ټول ځیزونه پر بل مخ سره واړوي.(57)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ک. س. افغان

# د پوهنې وزارت او هېوادنۍ خپرونې ولې له پښتو ژبې سره تربګنې کوي؟

د افغانستان انتقالي دولت د خپل واک له لومړيو ورځو څخه په هېواد کې د پوهې د کچې د لوړولو او د بېسوادۍ د له منځه وړلو خبره خپل شعار ګرځولی. د دولت له مشر ښاغلي حامد کرزي څخه بيا د کابينې تر ټولو لوړ رتبه او ټيټ رتبه چارواکو په خپل وار سره د هېواد ګوټ ګوټ ته د علم او پوهې د رڼايي د رسولو وعدې کړي.

ښاغلي کرزي خپل دغه هدف ته د رسېدو لپاره ښاغلي محمد يونس قانوني ته د پوهنې د وزارت د مشرۍ سپېڅلې دنده وروسپارله. ښاغلي قانوني هم د خپل ځانګړي احساس له مخې په هېواد کې د پوهنې کچې د لوړولو او پراختيا لپاره ځينې کوټلي ګامونه پورته کړي او په دې ډګر کې يې زياته اندازه بهرنۍ مرستې هم افغانستان ته راجلب کړي. خو دا چې دغه مرستې تر کومې کچې د هېواد د وران ويجاړ پوهنيز سيستم په بيارغونه مصرف شوي دي. ټول هېوادوال پرې خبر دي او ښه پرې پوهېږي.

د تاريخ په اوږدو کې زموږ د هېواد په ښوونځيو او مدرسو کې په پښتو او دري ژبو زده کړې کېدې څرنګه چې زموږ د هېواد ګڼ شمېر اوسېدونکي پښتانه دي او کوم پښتانه چې په ليک لوست بلد دي هغوی په پښتو او دري دواړو ژبو ليک لوست کولای شي. مګر د دې برعکس دري ژبي لوستوال او ليکوال په پښتو ژبه ليک لوست او حتی خبرې هم نه شي کولای، هغوی د دې پر ځای چې د ملي او افغاني احساس له مخې بايد پښتو ژبه زده کړي او خپل افغاني هويت تثبيت کړي، برعکس يې د ځانښودنې او د مادي ګټو په خاطر انګليسي، روسي او فرانسوي ژبې زده کړي دا ښه خبره ده چې يو انسان په بهرنيو ژبو پوهېږي، مګر هر څوک چې په هر هېواد کې ژوند کوي د همغه هېواد د يوه اوسېدونکي په حيث بايد دومره د وطندوستۍ او هېوادپرستۍ احساس او مينه په زړه کې ولري، چې د خپل هېواد په ملي ژبه ليک لوست وکولای شي، لکه الفت صاحب چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردۍ ژبه زده کول که لوی کمال دی
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

زموږ د هېواد ډېر دري ژبي ورونه په نورو بهرنيو ژبو کې د ماسترۍ او دکتورا سندونه او غټ غټ کتابونه لري، مګر د هېواد په ملي ژبه (پښتو ) دوه خبرې هم نه شي کولای.

اوس چې په هېواد کې هر اړخيزې بيارغونې ته ځانګړې پاملرنه شوې، نو په دې لړ کې بايد د ښوونې او روزنې په بيارغونه کې له زيات دقت او پاملرنې څخه کار واخستل شي .

په کابل کې چې د هېواد د هرې سيمې افغانان اوسېږي او د هرې سيمې خلک ځانګړي ولسي رواجونه او روايات لري، ډېر داسې افغانان هم هلته ژوند کوي چې د هغوی ژبې هم له پښتو او دري سره توپير لري. د سارې په توګه ازبک، ترکمن، نورستاني... او داسې نور د پوهنې وزارت که څه هم په ټولو ژبو د زده کوونکو لپاره درسي مواد نه شي تيارولای خو د پښتو او دري ترمنځ انډول ساتل خو دومره ورته ګران کار نه ايسي په اوسنيو حالاتو کې د کابل په ټولو ښوونځيو کې ټول درسي مواد په دري ژبه تدريسېږي او پښتو يوازې د يوې بهرنۍ ژبې په څېر په کې ځای شوې، چې اوس خو له انګلسي او فرانسوي ژبو څخه هم ورته کمه پاملرنه کېږي.

که چېرې د ښوونې او روزنې ښاغلی وزير صاحب په رښتيا هم له هېواد او هېوادوالو سره مينه لري، نو بايد د خپل افغاني احساس او د هېواد د اولادونو د سمې او سالمې روزنې په خاطر د هېواد په ښوونه او روزنه کې داسې ريفورمونه راولي چې د ټولو افغانانو اولادونه په درسي، فکري، ايډيالوژيکي او ټولنيز لحاظ سمه او بشپړه روزنه په اسانه ډول تر لاسه کړي او دا کار يوازې هغه وخت شونی دی چې د پوهنې وزارت د افغانستان په هره سيمه کې ټولنيز عدالت او متوازن معارف ته قايل شي. همدا راز ملګري ملتونه او هغه بهرني موسسات چې زموږ په هېواد کې د ښوونې او روزنې د پراختيا او پرمختيا په لړ کې هلې ځلې کوي هم د بته ځانګړې پاملرنه وکړي او په هېواد کې د پوهنې د کچې د لوړوالي لپاره د افغانانو د کلتور او ژبو په اړه بشپړ معلومات تر لاسه کړي او همدا راز دغه انډول په سمه توګه په پام کې ونيسي.

ځينې هغه خپرونې چې د ځينو بهرنيو موسساتو له خوا زموږ په هېوا د کې د يووالي، سولې او ډيموکراسۍ په موخه خپرېږي ډېر مطالب يې په داسې ډول چاپ شوي وي چې لوستونکي هېڅ مفهوم ورڅخه نه شي اخستلای. د بېلګې په ډول په افغانستان کې د ائتلافي ځواکونو هغه خپرونه چې د (صلح Peace) په نوم د هېواد په بېلابېلو ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ائتلافي ځواکونو له خوا په وریا ډول وېشل کېږي او پر انګرېزي سربېره هر مطلب یې په پښتو او دري ژبه هم لیکل شوی وي، خو د پښتو برخه په کې دومره ګډه وډه ده، چې د پښتو ژبې لیکوالان او پوهان هم پرې نه پوهېږي د ساري په ډول ماته د ائتلافي ځواکونو یوه ورځ د نوموړي اخبار ځلورویشتمه ګڼه راکړه چې په ځلورم مخ کې ئې 'د ملي ایتلاف اصلاحاتو غونډه' ترسرلیک لاندې یو مطلب خپور شوی و، چې د پښتو متن یې د ماشومانو په ژبه چې نوې خبرې زده کوي لیکل شوي وو چې یوه برخه یې د نمونې په ډول دلته راوړم:

' د افغانستان ببرته ودانول د افغنستان دولت، ائتلاف قوا او بین المللي ټولني متحد او جدی ژمنی ته اړه لری ځکه بادوام کابل کې د پرمختګ له پاره په ټول هېواد کې امنیت او قانونی حکومت لازمی شرط دی. په دغه دوه ورځنی غونده په امینت، اصلاحات او مشکلاتو په هکله بحث وشو'.

همدا راز د همدغې خپرونې د همدغې ګڼې په لومړي مخ کې 'د افغانانو روغتیا او هوساینې لپاره زیار' ترسرلیک لاندې داسې پښتو متن لیکلی. 'افغانستان د ائتلاف قوا ډاکټران او عسکران د کندهار په جنوب کې یو کلی ته ولاړل ترڅو چې خلکو سره کندهار، مرستې وکړی.او د ائتلاف قوا د ډېر شمې عملیاتو ولایت دی د سیمی خلکو ته روغتیائی مرستی رسیدلو لپاره روغتیایی د ائتلاف قوا ډاکټرانو د کندهار په ولایت کې په یوه څخه دی. ورځ کې ۱۷۳ کلیوال تداوی کړل' کړی دی. که چېرې موږ د هېواد مطبوعاتي خپرونې په ژوره توګه مطالعه کړو، نو ډېر داسې مثالونه به مو تر سترګو شي. د دغو خپرونو دا ډول خپرونې نه یوازې د هېواد د ژبو انډول په سمه توګه په پام کې نه نیسي، بلکې هغه ژبه چې ډېر ویونکي لري- د نورو ژبو په پرتله ډېره ضعیفه وي ددې لپاره چې دا ډول خپرونې په هر اړخیز ډول خپل رسالت وساتلی شي. باید واقعاً د خلکو په ژبه خپرونې وکړي او خپلې لیکنې په داسې ډول ولیکي چې لوستونکي پرې وپوهېږي او که چېرې له نورو بهرنیو ژبو څخه کوم مطالب را ژباړل کېږي باید ژباړونکي د ژباړې اصول په کې مراعات کړي. که یې په سمه او روانه ژبه نه شي ژباړلی د څو پیسو په مقابل کې دې په نورو ژبو ملنډې نه وهي، یانې لومړی باید په خپله ملي ژبه بشپړ تسلط ولري او بیا دې نورې ژبې زده کړي، چې په خپلو ژباړو او لیکنو هېوادوال وپوهوي. که چېرې موږ دغو خبرو ته ژور پام وکړو او هر لیکوال او ژباړونکی یې په ځان عملي کړي له یوې خوا به یې د خپل هېواد د ولس لپاره مو ډېر کار کړی وي او له بل پلوه به یې خپل دروند مسوولیت هم په سمه توګه ادا کړی وي.

راځئ چې ټول د بشپړ اخلاص، صداقت، مینې او وروروليٍ له مخې په خپل ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوا د افغانستان کې د امن، سولې، ډیموکراسۍ او عدالت د پیاوړتیا لپاره کار وکړو او د خپل اصل افغاني کلتور د سمسورتیا او بډاینې په موخه نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړو.(58)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوربتوال احمدي

# له پښتو ژبې سره د لنډمهالې او منځمهالې ادارې د چارواکو چلند

سره لدې چې پښتو ژبه په مسلسل ډول د اساسي قانون پر بنسټ د هیواد ملي او لومړۍ درجه رسمي ژبه ګڼل شوې خو دفتري امورو ته د ننه کولو لپاره یې د دې هیواد پخوانیو حکومتي چارواکو هم د پام وړ چارې او عملي ګامونه سر ته نه دي رسولي، بلکي یوازې په لږه پیمانه پرمختګ یې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه او اروانباد شهید محمد داود خان د حکمرانۍ په دورو کې په نصیب شوی دی. خو لکه څنګه چې مناسبه وه په زړه پورې کار بیا هم د پښتو د ژبې د ودې، پرمختګ او په رسمي دفترونو کې د دود کولو لپاره سر ته نه دی رسیدلی بلکې په حکومتي ادارو کې دري ژبې ته لومړی مقام ورکړل شوی دی. په همدې توګه سره لدې چې موږ د منځنۍ سطحې د پښتنو چارواکو، شاعرانو او ادیبانو هغو زیارونو ته د قدر په سترګه ګورو چې په دې لاره کې یې سر ته رسولي دي خو په عمومي توګه پښتانه چارواکي یوازې په دې بریالي شوي چې په ملي سطحه د ځینو اړوندو حکومتي ادارو سرلوحې او د کابل د ښار د واټونو نومونه او داسې نور لومړني کارونه په پښتو ژبه سر ته ورسوي خو په حکومتي ادارو او دفترونو کې بیا پښتو نه ده کارول شوې.

د هیواد د سترې غمیزې په لړ کې د نورو ورانیو تر څنګ په حکومتي چارو کې د پښتو ژبې ودې او پراختیا ته بیا هم نه جبرانیدونکي زیانونه رسیدلي چې د هغو ټولو یادونه ځانګړې لیکنې ته اړتیا لري چې په دې لړ کې د روسانو او د هغوی د لاسپوڅو او ورپسې د تعصب په اور ککړو جنګي ډلو د پښتو ژبې او پښتنون قام په مقابل کې تر سره کړي دي.

په هیواد کې د لنډ مهالې یا موقتې ادارې د کار د پیل څخه د مخه هغه وخت له پښتو ژبې سره د تعصب په اور د جنګي ډلو د استازو له خوا ښکاره ضدیت او کرکه څرګنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه چې د بن د غونډې په ترځ کې اروابناد حاجي عبدالقدیر له مجلس څخه ووت او په دې توګه یې له پښتو ژبې سره د بیلتون پالو د ضدیت په مقابل کې د اعتراض غبرګون ښکاره کړ.

د لنډ مهالې او منځمهالې ادارې په ټوله دوره کې له پښتو ژبې سره داسې چلند شوی چې حتی د یوې بهرنۍ ژبې په څیر هم نه دې ورته کتل شوي. دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې د ۱۳۵۷ کال د غوبي تر کودتا وروسته په هیواد کې د کمونستي ادارې څخه د ننه او بهر زیاتو متعصبو عناصرو او اړخونو ته د فعالیت زمینه برابره شوي چې د غمیزې په ټول دور کې یې د هیواد ملي او ټولنیز بنسټونه یو پر بل پسې نړولي چې د دې ناولې پدیدې ډیره بده کرکجنه څیره د نجیب د حکومت له نسکوريد سره سم د هیواد په پلازمینه کابل کې د عمل په ډګر کې پلې شوه داسې فاجعې یې منځته راوړې چې حتی تاریخ یې هم د تورو اعمالو په یادولو سره د شرم احساس کوي. نوموړې توره څپه بیا د طالبانو له ماتې سره جوخت یو ځل بیا په هماغه پخواني ډول تکرار او لړۍ یې سره لدې چې هیواد مو د یوه انتخابي حکومت خاوند دی تر نن پورې دوام لري.

په داسې حال کې چې پښتانه د افغانستان د خلکو نژدې ٪۷۰ وګړي تشکیلوي چې نوموړې شمیره د روان کال په ټولټاکنو کې ښه جوته شوه دا چې که ټولو پښتنو په ټولټاکنو کې ګډون کړی وای نو په هغه صورت کې به د پښتنو اصلي شمیره ډیره ښه جوته شوې وای. په یاده شوې دوره کې له پښتو ژبې سره د ضدیت په لړ کې لاندې کارونه تر سره شوي او تر سره کیږي:

لومړی: د دولت د ریاست ٪۹۹ فرمانونه، حکمونه، لیکونه او اعلامیې په دري ژبه صادرې شوې دي.

دوهم: د دولت د ریاست په اړوندو دفترونو کې ټول مهم اسناد، پریکړې، مسودې، اجنداوې تحلیلونه عادي مکتوبونه، فورمې، دفتري کتابونه او نور اړوند دفتري کارونه په دري ژبه سر ته رسیدلي دي.

دریم: د دولت د ریاست، وزارتونو، افغاني سفارتونو، خپلواکو ریاستونو، ولایتونو او نورو اړوندو حکومتي اداراتو ٪۹۰ مامورین او کارکوونکي غیر پښتانه ټاکل شوي. سره لدې چې د ځینو ځینو ادارو په راس کې به پښتون مشر و خو د ګوتې په شمار پرته د هماغه ادارې نور ټول پرسونل غیر پښتانه دي چې د پام وړ وړتیا او تحصیلاتو څخه بې برخې او زیاتره برخه یې هغه خلک دي چې د افغانستان د سترې غمیزې په لړ کې د جنایت تور داغ په خپل تندي لري. له بلې خوا همدغه عناصر دي چې اوس هم د افغانستان د یووالي بنسټونه نړوي او په دې لاره کې د زهرجنو تبلیغاتو زمینه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابره ده.

څلورم: د ولسمشر د ویناوو، مرکو، لیکونو او مطبوعاتي اعلامیو خپریدل ٪۹۵ په دري ژبه سر ته رسیدلي دي.

پنځم: د افغانستان د رادیو او تلویزیون ٪۹۰ خپرونې، د پروګرامونو نومونه، تحلیلونه او داسې نورې خپرونې په دري ژبه سر ته رسیدلې او رسیږي چې په دې لړ کې پښتو ژبې ته یوازې نمایشي او نمونیې شکل ورکړ شوی دی.

شپږم: له استثنا څخه پرته د ټولو وزارتونو، ریاستونو ،افغاني سفارتونو، ولایتونو او نورو اړوندو اداراتو مکاتبه په دري ژبه سر ته رسیدلې او نوموړې لړۍ اوس هم دوام لري.

اووم: د لویو لویو حکومتي مجلسونو زیاتره ویناوې، سرلیکونه، لوحې، پریکړه لیکونه په دري ژبه سر ته رسیدلې او رسیږي په دې ځای کې باید یادونه وکړو چې یوازې ولسمشر کرزی په ځینو مجلسونو کې دې ټکي ته پام کوي او د خپلو ویناوو یوه برخه په پښتو او بله په دري وړاندې کوي.

اتم: له بهرنیو هیوادونو سره مکاتبه ٪۹۹ په دري ژبه تر سره کیږي او په دې ځای کې پښتو ته یوازې نمایشي شکل ورکړل شوی دی.

نهم: د اطلاعاتو او کلتور وزیر داسې څوک ټاکل شوی چې پښتو خو پریږده چې د افغانستان دري ژبه هم کوم اهمیت نه ورته لري بلکې غواړي په دې هیواد کې د ایران ټرمینالوژي پلې کړي او د نوموړي لومړی کار دا وو چې د هیواد له اساسي قانون سره په سرغړونه یې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت نوم په اطلاعات او فرهنګ بدل کړ. په همدې توګه نوموړي وزیر په ډیر بیهوده توګه د پښتو ژبې او پښتون قام د هغو بنسټونو په ورانولو پسې متې رانغښتې دي چې ددې هیواد یو نه بیلیدونکی جز ګڼل کیږي.

لسم: د ښوونې او روزنې په ډګر کې هم دغه څپه په خپل شدت سره روانه ده او د کابل د ښار په تقریبا څلور میلوني نفوس کې چې زیاتره برخه یې پښتانه دي یوازې تش په نوم دوې نیمه فعالې لیسې شته دي چې تدریس یې په پښتو دی نور نو ټوله زده کړه په دري ژبه ترسره کیږي او د پښتنو اولادونه مجبوریږي چې له خپلې ژبې او کلتور څخه بې خبره په خپل کور کې د ناولي استعمار په سیوري کې شپې او ورځې تیرې کړي.

یوولسم: په کابل کې بیلتون پالو ته د تبلیغاتو ډګر د اطلاعاتو او کلتور د متعصب ایرانپال وزیر په اجازه داسې تود دی چې په سلګونو مجلې، اخبارونه او جریدې یې را ویستلې چې له استثنا پرته یې ژبه سل په سلو کې دري یا پارسي ده که څه هم چې د محتوی له مخې زیاتره دغه خپرونې بې مانا دي خو داسې زهر خوروي ( پاشي ) چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ولس سره د بیلتون پالو د کینې د ډکو زړونو ویندویې کوي.

په همدې توګه یو شمیر آزادې راډیویي او تلویزیوني خپرونو هم په کار پیل کړی دی چې زیاتره خپرونې یې په دري او د پردیو د کلتور د خورولو په چوپړ کې دي او په خپرونو کې یې پښتو ته یوازې د نمونې په شکل ځای ورکړ شوی دی.

دولسم: که چیرې په کوم ځای کې داسې پیښه شي چې کومه لوحه، سرلیک یا د کوم مجلس عنوان په پښتو لیکل شوی وي نو په څنګ کې یې بیا هرو مرو هماغه لیکنه په دري هم شوې وي چې د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت د دروازې د سر لوحه یې غوره بیلګه ګڼلی شو. په دې توګه د لنډمهالې او منځمهالې ادارې په دور کې له استثنا پرته د هغو ټولو وزارتونو، ریاستونو او اړوندو ادارو نومونه په دري اړول شوي چې پخوا پښتو وو.

دیارلسم: د کابل په پوهنتون کې چې زیاتره محصلین او ښوونکي یې پښتانه دي تدریس سل په سلو کې په دري ژبه تر سره کیږي.

څوارلسم: په رسمي او غیر رسمي مجلسونو او د راډیو تلویزیون په ګډو پروګرامونو کې کوښښ کیږي چې دري ژبه او ویونکي یې د یوه فاتح او غالب وګړي په توګه وښيي او په پروګرام کې ګډ پښتانه داسې ورپورې ښکاري لکه یتیمان په دې مانا چې په ګډو خپرونو کې هم ډیر لږ ځای پښتو خبرو او لیکنو ته ورکول کیږي.

پنځلسم: په لسهاوو ځله په رسمي او غیر رسمي غونډو کې چې د ایران او تاجکستان له هیوادونو سره سر ته رسیدلې نو دا جمله زیاته تکراریږي چې ګواکي ( کشورهاي هم کیش و همزبان) په داسې حال کې چې د ایران او تاجکستان هیوادونه نه زموږ کیش دي او نه یې ژبه له موږ سره یوه ده .

په دې توګه نور هم ډیرې داسې نمونې شته دي چې د لنډمهالې او منځمهالې ادارې د حاکمیت په دور کې د پښتو ژبې سره د ناوړه چلند ویندویې کوي چې پورته څو نمونې یې د بیلګې په توګه یادې شوې.

که په دې هکله پښتانه چارواکي له همداسې غفلت او بې پروایۍ څخه کار اخلي نو د دې امکان شته چې په راتلونکي کې هم موږ د خپلې خوږې پښتو له زیاتې خوارۍ سره مخ شو او خپل درد یوازې د څو ټکو په بیانولو سره څرګند کړو.

د بصیرت خاوندان دې دې موضوع ته پاملرنه وکړي !(59)

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد انعام واک، ناروې

# په افغانستان کې
# د ژبو ملي او سياسي مشروعيت

ژبه نه يوازې يوې "کلتوري"، بلکې د يوې سياسي پېژندنې په توګه هم د "ملي هويت" بنسټيز توکی او د "ملي ټولنې" د ملا تير جوړوي. د يوې ژبې لوړ کلتوري موقف په ټولنه کې د هغې ويونکو ته لوړ کلتوري او د هغې لوړ سياسي موقف په ټولنه کې د هغې ويونکو ته لوړ سياسي موقف ورکوي. ملي ژبه د يوې ټولنې ډېر کلتوري او سياسي خنډونه له منځه وړي. جوړ ملتونه د ملي ژبې خاوندان وي.

نن سبا د وينې او قوم پر بنسټ د اکثريت او اقليت خبره ډېره پيکه او بې رنګه ده. په واقعيت کې د اکثريت پره رنګ نه ده. دا خو ژبنی جوړښت دی چې قومي جوړښت ښکته پورته بيايي. نن سبا د "ژبني جوړښت" منطق د "قومي جوړښت" له پياوړي مټ پياوړی دی. ژبنی جوړښت د سياسي جوړښت بيخ او بنسټ دی. ژبه هغه وخت ملي حيثيت لري چې سياسي حيثيت ولري. بېله سياسي موقفه د ژبې ملي موقف يو خيالي موقف دی.

د ملت جوړونې په بهير کې ملي ژبه بېل بېل قومي ګروپونه په خپله کلتوري- سياسي غېږه کې رانغاړي او د اقتصادي پرمختګ په څېر د ملت جوړونې په بټۍ کې د بېلو بېلو قومي ګروپونو ويلې کېدو ته اوره ورکوي.

د نړۍ په بېلو بېلو هېوادونو کې د بېلو بېلو ژبو په لسګونو او سلګونو غټ او واړه قومي ګروپونه ژوند کوي، خو د يوه هېواد رسمي او ملي ژبه يوه وي. ژبه د يوې کلتوري پديدې په توګه غټه سياسي ستونزه هم وي. دا ستونزه د نړۍ په بېلو بېلو هېوادونو کې يا د دېموکراتيکو او يا د نورو ځانګړو اصولو له مخې حل شوې ده. د ستاليني مکتب د اصولو له مخې د پخواني شوروي اتحاد په امپراتورۍ کې د ملي ژبو په توګه د ټولو محلي ژبو او د رسمي ژبې په توګه د روسي ژبې په منلو د ژبې مسئله حل شوې وه. د نړۍ په نورو هېوادونو کې د ملي - رسمي ژبې په توګه د اکثريت د ژبې په منلو د ژبې مسئله حل شوې ده. د ساري په توګه په ايران کې فارسي ژبه، په تاجکستان کې تاجکي ژبه، په ترکمنستان کې ترکمني ژبه، په ازبکستان کې ازبکي ژبه او په ترکيه کې ترکي ژبه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتیب سره د دې هېوادونو د فارس، تاجک، ترکمن، ازبک او ترک د اکثریت قومي ګروپونو د ژبو په توګه د دې هېوادونو ملي او رسمي ژبې دي. په پاکستان کې اردو ژبه، چې له سره د یوه پاکستاني قومي ګروپ مورنۍ ژبه هم نه ده، د هغه هېواد د رسمي او ملي ژبې په توګه منل شوې ده.

خو په افغانستان کې د اکثریت ژبه، پښتو نه یوازې دا چې د وخت د دولتونو له خوا د یوې رښتینې ملي - رسمي ژبې په توګه منل شوې نه ده، بلکې د ژبې ستونزه د یوې ملي ـ سیاسي ستونزې په توګه پاتې شوې هم ده.

په افغانستان کې د دغې یا هغې ژبې د ملي او رسمي مشروعیت د روښانه کولو لپاره په کار ده، د هېواد د قومي او ژبنیو ګروپونو کلتوري - ژبنی واقعیت وڅېړو.

## افغان ژبنی جوړښت:

افغاني ټولنه د یوې نامتجانسې قومي ټولنې په توګه له یو شمېر غټو او وړو قومي ګروپونو څخه جوړه ده. د غټ قومي ګروپ په توګه پښتانه په سلو کې د هېواد 62.73 تاجک په سلو کې د هېواد 12.38، هزاره په سلو کې د هېواد 9، ازبک په سلو کې د هېواد 6، ترکمن په سلو کې د هېواد 2.69 او ایماق په سلو کې د هېواد 2.68 نفوس جوړوي.(۱)

د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې یو شمېر قومي ګروپونو، یا په بشپړه توګه او یا څه ناڅه خپلې مورنۍ ژبې له لاسه ورکړې دي. له تاجک قومي ګروپ څخه پرته نورو ټولو قومي ګروپونو دا ډول کلتوري - ژبنی بایلات کړی دی.

پښتو او دري ژبې په ترتیب سره د هېواد د غټو ژبو په توګه د هېواد په کچ او ازبکي ژبه په شمال کې د یوې کوچنۍ او محلي ژبې په توګه ویونکي لري. په کابل، شمالي، مرکزي، لوېدیز او شمال لوېدیز افغانستان کې پښتانه په پښتو، په پښتو او دري دواړو، او یو نیم ځای په دري ژبه غږېږي. د هېواد څه ناڅه ټول لوستي پښتانه په دري ژبه غږېدلای شي. خو د هېواد ځینې باسواده تاجک یا په پښتو ژبه نه شي غږېدلای او یا نه غږېږي.

یو شمېر پښتانه له پېړیو پېړیو راهیسې په شمالي افغانستان، کابل، شمال لوېدیز او لوېدیز افغانستان کې د فارسي ژبې په کلتوري بڼې کې دل شوي او په دري ژبه غږېږي. په همدې ډول د ګوتو په شمار تاجک او قزلباش په ختیز افغانستان کې د پښتو ژبې په کلتوري بڼې کې ویلي شوي او په پښتو ژبه غږېږي. د افغانستان څه ناڅه ټول هزاره ګان په دري ژبنۍ بڼې کې ویلي شوي دي.

په دغې یا هغې کلتوري - ژبنۍ بڼې کې د قومي ګروپونو ویلي کېدل په اوږده موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په واقعیت کې غټه ملي ګټه لري. زیاته کلتوري - ژبنۍ ویلې کېدنه پوخ ملي او کمزورې ویلې کېدنه کمزوری ملي پیوستون منځ ته راوړي.

زه دلته غواړم په دغې یا هغې کلتوري بڼې کې د دغه یا هغه قومي ګروپ د ویلې کېدو په اړه د یو لړ څېړنو پر بنسټ یو شمېر ارقام او حقایق وړاندې کړم.

د افغانستان لپاره د واک فونډېشن Wak Foundation for Afghanistan, WFA د افغانستان د قومي جوړښت The Ethnic Composition of Afghanistan 1991-1996 څېړنه ښیي چې د افغانستان په ټول نفوس کې له 62.73 پښتنو څخه په سلو کې 7.73 پښتنو، په دري ژبنۍ بڼې کې په ویلې کېدو سره، دري ژبه خپله کړې ده. د کابل، پروان، غور، بادغیس، هرات او فراه ولایتونو په تاجک کلتوري - ژبنۍ بڼې کې د دې پښتنو د ویلې کېدو غوره سیمې دي. نو د دې کلتوري واقعیت پر بنسټ ویلای شو پښتانه په ژبني لحاظ د افغانستان د نفوسو په سلو کې 55 دي.

په سلو کې د هېواد ټول هزاره ګان نن سبا په دري ژبني کلتور کې په ویلې کېدو سره په دري ژبه غږېږي. دې قومي ګروپ د خپلې مورنۍ هزاره ګۍ ژبې په پرېښودلو سره خپل ژبنی هویت له لاسه ورکړی دی.

په دې سربېره د واک فونډېشن د قومي جوړښت د څېړنې او په 1980 لسیزه کې د ملګرو ملتونو د UNIDATA د ژبو د سروې له پرتلې څخه جوته شوه چې په سلو کې 0.3 ازبکو، په سلو کې 1.29 ترکمنو، او په سلو کې د هېواد ټولو یانې 2.68 ایماقو هم په دري ژبنۍ کلتوري بڼې کې په ویلې کېدو سره خپلې مورنۍ ژبې له لاسه ورکړې دي. نو په دري ژبنۍ بڼې کې په سلو کې د ټول ټال 21 پورتنیو قومي ګروپونو په ویلې کېدو سره په قومي لحاظ د افغانستان ټول 12.38 تاجک په ژبني لحاظ په سل کې 33 ته جېګ شوي دي. د دې کلتوري - ژبنیو واقعیتونو له مخې نن سبا د افغانستان غټ ژبني ګروپونه په لاندې ډول شمېرلای شو:

۱- پښتو مستقل ژبنی ګروپ د هېواد د ټول نفوس په سلو کې څه ناڅه 55.

۲- فارسي ایتلافي ژبنی ګروپ د هېواد د ټول نفوس په سلو کې څه ناڅه 33.

۳- ازبکي ژبنی ګروپ د هېواد د ټول نفوس په سلو کې څه ناڅه 5.8.

۴- ترکمني ژبنی ګروپ، د هېواد د ټول نفوس په سلو کې 1.4.(۲).

## یو نوی کلتوري - ژبنی پرمختګ:

د یادونې وړ ده چې په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد 1979 کال پوځي یرغل راهیسې د افغانانو د کورنیو او نړیوالو بې ځایه کېدنو په نتیجه کې د یوه ګټور کلتوري پرمختګ په توګه ډېرو افغانانو یو د بل ژبې زده کړې دي. په دې لړ کې یو زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر تاجکو، هزاره ګانو، ازبکو، ترکمنو، نورو کوچنیو قومي ګروپونو او پخپله دري ژبو پښتنو پښتو ژبه زده کړې ده.

پښتو ژبه د یوه نوي ژبني ایتلافي ګروپ په توګه

په پښتو ژبني بتې کې د غیر پښتانه قومي ګروپونو او پخپله د دري ژبو پښتنو د ویلې کېدو پر بنسټ ویلای شو چې پښتو ژبنی ګروپ نور یو مستقل نه بلکې یو ایتلافي ژبنی ګروپ دی.

که څه هم د دې ژبنۍ ویلې کېدنې کره عدد په لاس کې نه شته، خو بیا هم په پښتو ژبنۍ بتۍ کې د نومورو قومي ګرپونو په ویلې کېدو سره پښتون قومي ګروپ له خپل پخواني ژبني بایلاته څه ناڅه وتلی دی. د دغو قومي ګروپونو د ژبنۍ لوېدنې د یوه نسبي عدد په تر لاسه کېدو به د پښتو په ګټه پورتنۍ یادې شوې ژبنۍ سلوالې بدلې او د پښتو د ژبني ایتلافي ګروپ ژبني غړي او نوې سلواله لاس ته راشي.

د دغه کلتوري بدلانه د دري او پښتو، دواړو، ژبنیو ګروپونو سلواله له 55 څخه د پښتنو د قومي سلوالې یانې 62.73 په لوري پورته، ښایي له دې نه هم پورته، او له دې سره جوخت د دري ژبې د ایتلافي ګروپ سلواله په هماغه تناسب له 33 څخه راښکته شوې ده.

"قومي- ژبنۍ" که "سیاسي" سلواله!؟

له اتیایمې لسیزې راهیسې یو لړ نړیوالو محافلو، د ساري په توګه CIA، په افغاني قومي جوړښت کې په ګوتو وهلو سره په افغانستان کې یو ناڅاپي او غیر طبیعي قومي بدلون منځ ته راووست. د ساري په توګه هزاره قومي ګروپ د واک فونډېشن له قوله په سلو کې له 9 او د Louis Dupree له قوله په سلو کې له ۲(۳) څخه یو ناڅاپي 19 ته جبګ کړای شو(4). له دې سره جوخت پښتون قومي جوړښت په سلو کې له 62.73 څخه په سلو کې 40.38 ته راوغورځول شو(5). د افغان قومي جوړښت د دغه غیر طبیعي بدلانه د دغه یا هغه سیاسي عامل تر څنګ ښایي په دري ژبنۍ بتۍ کې د روښانفکره او باسواده پښتون قشر د ویلې کېدو واقعیت د یوه کمزوري دلیل او بهانې په توګه نومورو محافلو په نظر کې نیولی وي. که په افغانستان کې د باسوادانو سلواله 15 ومنل شي نو کېدای شي نومورو محافلو پورتنی پښتون قشر چې نه یوازې په پښتون او دري دواړو ژبو غږېږي بلکې د یوه پاچا، ولسمشر، لومړي وزیر، رئیس، مدیر، مامور او ښوونکي په توګه په رسمي او غیر رسمي ناستو ولاړو کې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو پر ځای په دري ژبه غږېږي، ان تر دې چې په عادي ورځنیو چارو کې هم ((څو)) تنه پښتو

ژبي پښتانه ان له ((یوه)) تن دري ژبي افغان سره د پښتو ژبې پر ځای په دري ژبه غږېږي. په دري ژبو کې شمارلي وي. دا سې هم ډېر پېښېږي چې دوه تنه پښتو ژبې پښتانه په خپلو کې هم په دري ژبه غږېږي. نو په دري ژبني ګروپ کې د دغسې پښتانه ژبني ګروپ شمېرل موجه برېښي. نو د پښتو ژبني ګروپ له پورتني عدد (55) څخه د پورتني پښتون باسواد، بیروکرات قشر په کمولو سره د پښتون قومي ګروپ لپاره په سلو کې د 38-40 هماغه عدد لاس ته راځي، چې نن سبا د نړیوالو محافلو له خوا په افغان نفوس کې د پښتنو د سلوالې لپاره په نظر کې نیول کېږي. د 2001 کال په ډسمبر کې د ((بن)) تړون هم د پښتنو لپاره په سلو کې 38 فرضیه په نظر کې نیولې وه.

لیدل کېږي چې د سیاسي ملحوظاتو له مخې د تېرو دوه نیمو لسیزو راهیسې افغاني قومي جوړښت او ورسره جوخت پښتون او دري ژبني جوړښتونه لاندې باندې شول. دغه لاندې باندې پښتو ژبني جوړښت په سلو کې له 55 څخه 40 ته ټیټ او دري ژبني جوړښت یې له 33 څخه 48 ته، یانې هماغه عدد ته چې UNIDATA په اتیایمه لسیزه کې وړاندې کړي وو، اوچت کړ. خو که سیاسي وېش په ژبنۍ تله کېږي، نو بیا خو هزاره ګان او قزلباش سیاسي برخه نه لري. خو واقعیت دا دی چې دا ډول کلتوري انصاف غټه سیاسي بې انصافي ده. د پښتنو په برخه کې هم شوې سیاسي بې انصافي باید اصلاح شي. نو د پښتون قومي ګروپ لپاره په سلو کې د 40 او د هزاره قومي ګروپ لپاره په سلو کې د 19 فرضیې سیاسي اعداد دي، نه قومي او ژبني.

## په افغانستان کې د ژبو قانوني موقف:

د امیر شېرعلي خان د دویمې پاچاهۍ په دوره کې ۱۸۸۰-۱۸۶۸ پښتو ژبه د لومړي ځل لپاره د هېواد ملي او رسمي ژبه شوه.(۶) خو پر افغانستان باندې د انګرېزانو د دویم یرغل دا پروګرام شنډ کړ. د امیر عبدالرحمن په پاچاهۍ کې (۱۹۰۱-۱۸۸۰) پښتو له دفتر څخه د باندې پاتې شوه.(۷) د پښتو ژبې د رسمي کېدو او پرمختګ دویم حرکت د پاچا امان الله په دوره کې ۱۹۲۹_۱۹۱۹ پیل شو.(۸) دغه حرکت بیا د نادرخان په وخت کې څه ناڅه دوام وموند. په 1937 کال د سردار محمد هاشم خان د صدارت په دوره کې په دولتي دفترونو کې د فارسي ژبې تر څنګ د پښتو ژبــې د رسمي کېدو پاچاهي فرمان صادر شو.(9) د 1964 کال د اساسي قانون په دریمه ماده کې پښتو او دري د هېواد رسمي او د 35 مادې له مخې پښتو د هېواد ملي ژبه هم ومنل شوه.(۱۰) له 1973 کال څخه را په دې خوا د نافذ شویو اساسي قوانینو له مخې له پښتو ژبې څخه د هغې ملي موقف واخېستل شو او د فارسي ژبې تر څنګ پښتو یوازې د رسمي ژبې په توګه پاتې شوه. خو په واقعیت کې یوازې او یوازې دري ژبه د دولت رسمي ژبه وه. ځکه دري ژبه د دولت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوان یوازینۍ ژبه وه. پښتو ژبه یوازې یوه سمبولیکه رسمي او ملي ژبه وه. د اوسني اساسي قانون د مسودې ۱۲ مادې له مخې پښتو او دري د هېواد رسمي ژبې دي او د ملي ژبې په نوم دغه یا هغه ژبه نه ده ښودل شوې.

## د وروستۍ لویې جرګې د ژبو پالیسي:

په افغانستان کې د 2003 میلادي کال د دسمبر د میاشتې د اساسي قانون د تصویب لویې جرګې د هېواد د دوو غټو ژبو په توګه پښتو او دري، دواړه د هېواد په کچ د دولت رسمي او یو لړ کوچنۍ سیمه ییزې، ازبکې، ترکمني، بلوچي، نورستاني، پشه یي، ژبې یې په سیمه ییز کچ رسمي کړې.

په لویه جرګه کې قومي ګروپونه په بېلو بېلو، ملي او محلي سیاسي تیرو ودربدل. پښتون قومي ګروپ د افغانستان د ملي موسساتو د بیا تاسیس او د یوه موټي افغانستان د سترو ملي غوښتنو په بدل کې و نه توانید چې له یوې خوا د کوچنیو قومي ګرپونو ژبنۍ غوښتنې له پامه وغورځوي او له بلې خوا د یوې ملي ژبې په توګه د پښتو ژبې ملي او سیاسي حقوق خوندي کړي. پښتو ژبې په دې کلتوري، سیاسي اخ و ډب کې نوې سیاسي ساه واخېسته، خو د هغې د اوږدې مودې د ګټې خبره لا هومره پخه نه ده.

دا چې د UNESCO د معیار له مخې په یوه هېواد کې په سلو کې له لسو څخه د لږو ویونکو په ژبه مالي لګښت ملي ګټه نه لري(۱۱) نو په افغانستان کې به د کوچنیو سیمه ییزو ژبو رسمي کېدل هومره عملي نه وي. ازبکي ژبه، چې شا ته غټه سیاسي ـ کلتوري تکیه لري، ښایي په هېواد کې د دري ژبې د سیاسي وزن د راکمولو او په شمال کې د هغې د یو شمېر ویونکو د خپلولو په بیه څه عملي پرمختګ وکړي.

ښکاره خبره ده چې په افغانستان غوندې یوه کوچني هېواد کې به د دوو دولتي ژبو رښتینی رسمي شته والی سربېره په سیاسي خنډونو غټې بیروکراتیکې ستونزې هم رامنځ ته کړي. په پای کې ویلای شو چې د لنډې مودې د یوه ملي مصحلت په توګه د لویې جرګې د ژبو د پالیسۍ د اوږدې مودې د ملي ګټې واقعیت هومره روڼ نه ښکاري.

لنډیز:

-له پښتانه قومي ګروپ څخه په سلو کې د 15 (دوه ژبي) باسواده ـ بیروکرات پښتانه قشر کمول او له ۹ څخه ۱۹ ته د هزاره قومي ګروپ د سلوالې جیګول یو سیاسي واقعیت دی، نه قومي ژبنی.

- په سلو کې 7.73 پښتانه، په سلو کې ۹ یانې د هېواد ټول هزاره ګان، په سلو کې 2.68 یانې د هېواد ټول ایماق، په سلو کې 1.29 ترکمن، په سلو کې 0.3 ازبک، (یانې په سلو کې ټول ټال ۲۱ غیر تاجک قومي ګروپونه) په ژبني لحاظ په تاجک قومي- ژبني ګروپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ویلې شوې دي. د ۲۱ دي کلتوري - ژبني عدد په افغانستان کې د تاجکو له -قومي عدد - یانې 12.38 سره جوش خوړلی او د ۳۳ د یوه کلتوري ژبي عدد په منځ ته راتلو سره د دري ژبې ایتلافي ګروپ جوړ شوی دی.
- تاجک قومي ګروپ د ۳۳ دا ((کلتوري - ژبنی عدد )) په افغانستان کې په پوره سیاسي مهارت، د خپل ((قومي ګروپي عدد )) په توګه استعمالېږي.
- خو د یوه کلتوري بدلانه په توګه له تېرو دوو نیمو لسیزو راهیسې دا چې یو شمېر غیر پښتانه قومي ګرپونو او پخپله دري ژبو پښتنو پښتو ژبه زده کړې ده. نو پښتو ژبنی ګروپ له دې وروسته یو مستقل نه بلکې یو ایتلافي ژبنی ګروپ دی. په پښتو ژبني ګروپ کې به د نوموړو قومي ګروپونو د ویلې کېدو د کره عدد په تر لاسه کېدو سره د پښتو د ژبني ایتلافي ګروپ غړي او نوې سلوالې لاس ته راشي.
- دري ژبه، د دربار د ژبې په توګه، سره له دې چې په افغانستان کې د شاهي نظام په رنګېدو سره، په تېره بیا په ۱۹۷۸ کال کې خپل عنعنوي درباري موقف له لاسه ورکړ. خو د یوې عنعنوي رسمي ژبې په بڼه کې بالفعل سیاسي شته والی لري.
- پښتو ژبه، په واقعیت کې، د نوموړي دري ژبې شاهي نظام په رنګېدو سره له یو بنسټیز کلتوري- سیاسي ستم نه ازاده شوه او په خپل ملي متېږې تننی رسمي - سیاسي شته والی خپل کړی دی.
- د پښتو ژبې په رښتیني رسمي کېدو به له یوې خوا په شمال کې د ازبکي ژبې د احتمالي سیاسي - کلتوري پرمختګ په بنسټ، له بلې خوا دري ژبه د هېواد په کچ خپل سیاسي او کمي موقف د پښتو ژبې په ګټه په کرار کرار له لاسه ورکړي.
- په پای کې ویلای شو چې دري ژبه د افغانستان د دویمې درجې خو عنعنوي - رسمي ژبې په توګه یوازې رسمي - سیاسي خو پښتو ژبه سربېره پر رسمي - سیاسي د هېواد د اکثریت د ژبې په توګه ((ملي )) مشروعیت هم لري.

وړاندیز:
- دا چې په یوه هېواد کې ایکي یوه رسمي - ملي ژبه د ملت جوړونې په بهیر کې بنسټیز رول لوبوي، نو په افغانستان کې یوه لویه جرګه، یو ملي پارلمان او یا یو ملي حکومت باید په پوره ملي جرئت د ژبې ملي ستونزه حل کړي.
- پښتانه که خپل ژبنی شته والی له خپل قومي شته والي سره و نه لګوي، نو د هزاره، ایماق او قزلباش قومي ګروپونو په څېر به د دري ژبې سیاسي برلاسی مني.
د ژبې د ستونزې په ملي حل کې افغانانو ته په کار ده د عکس العمل د لنډې مودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست پر ځای د ((عمل)) د ((اوږدې مودې)) مشروع سیاست غوره کړي.

- پښتــانه د نـوي اساسـي قـانون لـه مخې کـولای شـي پـه مشـروع ډول د پښتــو ژبـې د ((رښتینې رسمي کېدو له لارې د هغې ((ملي)) کول خوندي کړي.

اخځونه:

1- Wak Foundation for Afghanistan, WFA. The Ethnic Composition of Afghanistan, A six year Survey and Research, 1991-1996. Page27. Published by Kor. Peshawar Pakistan.

2- Ibid, Page 6.

3. Louis Dupree, Afghanistan, Page 59-64, Princeton University, New York, USA 1980.

4,5- World Almanac, Page, 737, USA, 1999.

۶، ۷- د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې(د بېلا بېلو لیکوالو د لیکنو ټولګه)، د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ مقاله، په معاصر افغانستان کې پښتو او د هغې په هکله یو څو خبرې، دېرشم مخ، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه، جرمني ۱۹۹۹ کال.

۸، ۹_د افغانستان د ۱۹۲۴کال اساسي قانون، لومړی فصل، دریمه ماده.

۱۱- د افغان ملت جریده، اوومه ګڼه، د ډاکټر محمد امین واکمن مقاله، لویه جرګه او نوی اساسي قانون، پنځم مخ، ۲۰۰۳ کال، کابل، افغانستان.(60)

د اتمرخېل بایېزی لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو هم د افغانستان رسمي ژبه ده

د اساسي قانون د تسويد او تصويب پر مهال ډېرو افغانانو دا هيله درلوده چې د هېواد د يو ستر قومي اکثريت د ژبې په حيث به پښتو د افغانستان د ملي ژبې په توګه و منل شي او په دې لار کې ډېرې هلې ځلې هم و شوې خو د جرګې په ترڅ کې د ملت د پاشل کېدو څخه د مخنيوي په خاطر د پښتو پلويان له خپلو حقه غوښتنو تېر شول او په همدې يې بسنه وکړه چې دري او پښتو دواړه د دولت رسمي ژبې وي.

د اساسي قانون پر جوړېدلو هم دادی ښايسته ښه موده واوښته خو پښتو ژبه نه يوازې دا چې د ملي ژبې په حيث و نه منل شوه عملاً يې رسمي توب هم تش په نامه دی. د دولت د مرکزي ادارو نژدې ټولې چارې په دري پرمخ بيول کېږي. که کله خال خال د دريمې يا څلورمې درجې د اهميت کاغذ چا په پښتو کښلی وي کښلی به يې وي خو نژدې سل په سلو کې کاري اسناد په دري ژبه ليکل کېږي. کله کله په مطبوعاتو کې لولو چې د افغانستان ملي ټلوېزيون ژبنی انډول نه ساتي، خو ددې تر څنګه دولتي ادارې، وزارتونه، سفارتونه او ملي تچارتي موسسې ( لکه اريانا افغان هوايي شرکت ) چې وېب سايټونه جوړوي د د تبرک د پاره هم په کې پښتو نه ليدل کېږي؛ بهرني مرستندويان چې خپل کاري اسناد په بهرنيو ژبو ليکي او د أفغانستان د بيا رغونې له بودجې څخه يې په يوه افغاني ژبه را اړوي د کابل د چارواکو په فتوا يې په دري ژباړي ځکه چې ورته ويل کېږي چې پښتو متن ته ضرورت نه شته ! دغه ډول غير نورمال چلنونه بايد چې و غندل شي او د خلکو پام ورته راواړول شي خو يوازې په خبرو څه نه کېږي او نه په چغو او انتقادونو د چا درد دوا کېږي.

د مرکزي دولت د ژبو سياست د نورو سياستونو په څېر د ضمني مصلحتونو په خاطر ډب شوی غوندې ښکاري او دا تمه نه شي کېدای چې کومه رسمي دولتي اداره يا کوم وزير او معين به دومره اخلاقي جرأت و لري چې د ژبو پر موضوع وګړېږي

. کله چې شرايط داسې تنګ شي نو بيا له حق څخه دفاع د اولس د هر وګړي مسئوليت شي چې په هر ځای کې او هر مقام کې چې وي تر خپلې وسې يو څه وکړي او که نور يې هيڅ له لاسه نه کېږي نو يو پاسيف مقاومت خو کولای شي.

اوس نو د دولتي دستګاه د دريم او څلورم کتار کارمندان چې که څه هم سياسي ځواک نه لري خو عملاً د دولت چارې پر مخ بيايي د ژبو د يو نسبي انډول د منځ ته راتلو مسئوليت پر غاړه لري چې هم رسمي اسناد په پښتو وليکي او هم له خپلو همکارانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو ښځه و غواړي چې د اداري چارو د لا ښه کېدو په خاطر دوې ته ځینې مهم کاري اسناد په پښتو ژبه وړاندې کړي. که داسې و نه شي نو په افغانستان کې به فرهنګي نا انډولي تر ډېرې مودې د قناعت وړ حل و نه مومي او ګیله به مو هم له ځانه وي.(61)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهندوی عبد الخالق رشید

# پښتو ژبه یوه ملي او فرهنګي اړتیا

*یوه مخکنۍ یادونه:*

په (1996) م کال د هندوستان په اترا پردېش، د رامپور په ښکلي ښار کې هلته چې کلونه، کلونه د پښتنو نوابۍ تېرې شوي او د روهیلکند تاریخي ویاړونه یې تر اوسه د هند اوچتیا څرګندوي، د فارسي ژبې نړیوال کنفرانس جوړ شو و. دغه غونډه د هند د خپلواکۍ د پنځوسمې او د رامپور رضا کتابتون د دوه سوه یمې کالیزې په درشل کې جوړه شوې وه. په دغه نړیوال کنفرانس کې د ټول هندوستان د فارسي ژبې استادانو، د ایران، ترکیې، بنګله دېش، ترکمنستان او د افغانستان استازیو پوهانو او فرهنګیانو ګډون کړی و، د افغانستان د استازي په توګه په دغه غونډه کې د "علامه حبیبي او فارسي ژبې ته د ده خدمتونه" پر موضوع باندې ما مقاله ولوسته. د استاد د معنوي برکت له امله دغه مقاله د نورو کنفرانس په ترڅ کې په هغو مقالو کې راغله چې وستایل شوه او ګډون کوونکیو په ډېرو ښو احساساتو بدرګه کړه. د دغه کنفرانس په ترڅ کې د ایران تر شلو زیاتو لیکوالو ګډون کړی و، چې په سر کې یې د ایران نامتو څېړونکي استاد جعفر شهیدي هم و. هغه چې استاد له نږدې پېژانده او د هغه له آثارو سره اشنا و، په دې نظر و چې: "استاد حبیبي علماً په شلمه پېړۍ کې د فارسي ژبې هغه خلا ډکه کړه چې د فارسي ژبې د کلاسیکو او زموږ تر منځ واقع شوې وه".

له ایراني لیکوالو سره په خبرو او بحثونو کې ما یوه بله ډېره جالبه خبره دا هم را برسېره کړه چې د دوی د پوهانو او رسمي پالیسۍ یو د اختلاف ټکی دا دی چې چارواکي یې غواړي، په فرهنګي او ژبني لحاظ دومره ځان اوچت او واکمن وښیي چې ان په ژبني لحاظ هم چې څه په فارسي ژبې پورې اړه لري، هغه د خپلې لوړتیا غوښتنې ټول د "ایران" ارزښتونه وبولي. یوه استاد په ډېره خواشینۍ سره دا راته وویل چې: "موږ د افغانستان په اړه اوس پر یوې سیاسي دوه لارې باندې ولاړ یو، یو دا چې موږ فکر کوو چې فارسي یوازې د ایران ژبه ده او له ګاونډیو هېوادو څخه یې ټغر ورځ په ورځ په ټولېدو دی چې ډېر ښه او لومړنی مثال یې هند دی، په افغانستان کې هم فارسي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثریت ژبه نه ده، ځکه ورته امیدوار نه یو، کېدای شي یوه ورځ هلته هم د فارسي ژبې برخلیک همهغه د هند برخلیک شي. لکه چې هندوانو د پارسي په وړاندې انګریزي او هندي ژبې الترناتیف کړې، همداسې په افغانستان کې د پارسي الترناتیف پښتو ژبه په بې ساري توګه د ودې په حال کې ده. دویم دا چې زموږ د سیاسي ټولنو لوړتیا غوښتنه او د پارسي ژبې هر څه د ځان بلل په خپله د پارسي ژبې لپاره قبر کیندل دي. زه پر دې باور لرم چې د پارسي ژبې په برخه کې د افغانستان وندې هم اوس او هم د تاریخ په اوږدو کې انکار نه کېدونکی حقیقت دی. "

پورتنۍ خبره زما لپاره له ځو پلوه د پاملرنې وړ شوه؛ یو دا چې دا د یوه عالم نظر و. هغه چې د ژبې، فرهنګ او فرهنګي ارزښتونو په اړه لکه سیاستمداران داسې وچ فکر نه کوي. بل دا چې که ایرانیان په رښتیا هم د فرهنګ غصبولو چاره د ځان کړي او دې ته خوشحاله وي چې ژر ژر پارسي له نورې نړۍ راټوله شي او زموږ مال وګڼل شي او هر څه چې د تاریخ په اوږدو کې دا ژبه لري هغه هم د دوی شي، زه فکر کوم چې دا عمل به له یوه ځانګړي عکس العمل سره مخامخ شي؛ هغه دا چې که په افغانستان کې پارسي ژبه په تمامه مانا له منځه ولاړه شي او د هند پر برخلیک اخته شي، دا به د افغانانو د نویو نسلونو لپاره تر اوسني حالت په څو څو ځلې په زیاته اندازه ګرانه پرېوزي، دا به د افغانانو لپاره د منلو وړ نه وي، چې د نړۍ د اوچت فرهنګ یوه مهمه او ارزښتناکه برخه دې بې ښه او بده له لاسه ورکړي.

مانا دا چې دا د ایرانیانو بې بنسټه قضاوت دی چې دوی فکر کوي د پښتو ژبې پیاوړتیا به د دې سبب شي چې د فارسي ژبې جرړې له افغانستان څخه ووزي او هر څه به لکه چې "فارس" یې په "ایران" واړاوه، د ځان وبولي. خو افغان پوهان پر دې باوري نه دي ان که دا پارسي ژبه د چا خبره مات لاس هم شي نو دا به یې په غاړه کې پرته وي او د سیمې د ملي او تاریخي سیالۍ او ارزښت له مخې به اهمیت ورته ولري(1).

*پښتو د یوه اوږده تېر مهال پر ګودر*

*(یوه نوې نظریه)*

د تاریخي او ژبنیو اسنادو له مخې، د اوسنیو پرمختللیو څېړنو او عیني واقعیتونو له مخې دا ټکی باید ومنو چې پښتو د اسیا له هغو مهمو ژبو څخه ده چې د شتوالي تاریخ یې د اسیا په یوه ډېر مهم، لرغوني او تاریخي قوم (پښتنو، پټانانو، افغانانو) پورې اړوند دی. دا چې له بدمرغه د ده قوم د اند و ژوند سر رښښنه د ژوند په یوازینۍ او پرله پسې لړۍ (جګړې) پورې تړلې وه، دوی د دې لپاره چې فکر وکړي، ولیکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووايي، او واوري، ډېر لږ وخت پيدا کړی دی او له هغې لږ وخت څخه يې دومره ګټه اخيستې ده، چې دا ژبه يې پاللې او د هغه لپاره يې دا مبارزه کړې چې بايد ژوندی پاتې شي او تر ننه پورې دې د پښتنو له سرکښ کاروان سره غرونه او رغونه ووهي. پښتو ژبه له نن څخه نږدې دوره زره کاله دمخه په اسيا کې د يوه ژوندي او "مدعاوالا" قوم ژبه وه او د دغه قوم د مادي او معنوي ارزونې او وياړونو ژوند او پېښليک پرې څرګندېده. سربېره پر دې نن سبا هندي پوهان دا خبره بې شکه مني چې د هندي فرهنګ او کلچر په سرچينو کې پښتانه، د هغوی فرهنګ او د هغوی فرهنګي هلې ځلې يو د پاملرنې وړ څپرکی جوړوي. د دې خبرې د اثبات په خاطر په سلګونو سرچينې له سانسکريتي دور څخه بيا تر نننی عصر پورې زموږ په واک کې شته دي. کله چې د هندي فرهنګ په لرغونو سرچينو کې پالي (Pali) ژبه او ادبيات څېړو، په مستقيمه او نامستقيمه توګه له پښتو ژبې، او پښتني لرغوني فرهنګ سره خپل اړيکي ساتي، د بېلګې په توګه پالي ژبه لکه پښتو ژبه بډای فوکلور لري چې په ډېرو برخو کې له پښتو فوکلور سره ورته والی او يو رنګي لري. بله دا چې پالي د بودايي دورې د مذهبي تعليماتو په خورولو کې د پاملرنې وړ برخه درلوده او ډېر پخواني آثار په کې "د ملندا پنهو او ناګهـ سينا" پوښتنې او ځوابونه دي چې پوهان وايي هغه لومړی ځل په "زړه پښتو" کښل شوي.(2) چې ژباړې يې اوس په پالي، برمايي او نورو ژبو کې د بودايي مذهب د پلويانو د درناوي وړ دي.

همدارنګه سانسکريت ژبه چې د هندي فرهنګ له معتبرو سرچينو څخه ګڼل کېږي او د دغې ژبې په سمونه او ګرامر ليکنه کې د پاڼي نې (Panini) نوم نه هېردونکی دی. د هند د فرهنګ څېړونکي او پوهان او د (Feeders of Indian Culture) ليکوال خو په ډاګه دا د هند د کلتوري جوړښت تر څنګ ليکي چې: "تر هر څه دمخه پر دې بايد باوري وو چې رازونه هېڅکله هم روښانه او په ميدان نه دي، هغه بايد په ژورتيا سره وڅېړل شي. دا روښانه او له شکه وتلې خبره ده چې د دغې ژورتيا يو اړخ په پخوانو پورې اړوند دی، بل هغه چې مخکې له مخکې د هغو کسانو له خوا چې د هېواد د مينې غم نيولې او په شوونستي توګه هڅه کوي د هند د خلکو پر هندي والي (Indianisation) باندې خپله پاملرنه راوڅرخوي، خو دا به ډېره ګرانه خبره وي چې دوی يې سپينه کړي او يا دا ګوله په اسانۍ تر ستونې تېره کړي، د مثال په توګه د سانسکريت لوی عالم او ګرامرپوه پاڼي نی (Panini) که څه هم براهمن يادېږي خو له اره د ايران (آريانا) او سېدونکی يوسفزی پټان دی، نه د هندوستان..."(3)

د پاڼې نې (Panini) د پښتون بللو په اړه نور څرګند شواهد په خپله د ده ليکنې دي، د ده په آثارو کې هم د پښتو کلمو څرک او شتوالی د نوموړي عالم خبره د حقيقت پر کرسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښوي. په "انبت ادهيايي" نومي اثر کې يې زياتې پښتو کلمې راغلي او په ډاګه شوې دي.(4) دا خو د پاڼې نې په باب خبره ده چې موږ د هغه د پښتون بللو ادعا کوو او د پوهانو پر پلو باندې ګامونه ږدو، يوه بله جالبه خبره چې هغه هم د پاڼې نې پښتون بلل تايدولای شي دا ده چې د هند په جنوب کې چې کوم د راويدي تمدن ووده کړې او اوسنۍ تاملي ژبه يې پخوانۍ ننبه ده. پوهانو په دې باب کښلي، د تاملي ژبې کوم ګرامر چې تر ميلاد مخکې ليکل شوی د هغه ليکوال هم اصلاً د هند له شمال څخه جنوب ته تللی او هلته يې دا ګرامر بشپړ کړی دی.

"د دوديزې دنيا له مخې د تاملي ادب لرغونتيا تر ميلاد دمخه 2500 کالو ته رسېږي، خو د شتو اسنادو له مخې په دغه ژبې کې تر ميلاد دمخه (1000) او زاړه اسناد شته دي. په لرغوني جنوبي هند کې درې علمي ښوونځي يا اکاډيمۍ (Songams) د زاړه مدوراکپاداپورم (Madura Kapada Puram) يا اوسنی مدورايي (Mudurai) په ښار کې وو. د لومړۍ اکاډيمۍ له ډېرو نامتو غړيو څخه يو اګاستيا (Agastya) و، چې د اګاتيام (Agathiam) په نامه يې د تاملي ژبې لومړنی ګرامر وليکه. وايي چې دی د هند د شمال يو آرين مبلغ و، چې د ويديک (Vedic) مذهب د خورولو لپاره جنوبي هند ته راغلی و. د هغه دولسو پلويانو يو زيات شمېر رسالې او مقالې د ګرامر، موسيقۍ، نڅا او نورو په برخو کې ليکلي دي. د دغو رسالو يوه د تولکاپ پيم (Tolkappiam) په نامه يادېږي، چې تر ميلاد دمخه د (1000) کال په شاوخوا کې ليکل شوې او تر اوسه شته ده..."(5)

کله چې دا ټولې خبرې سره راغونډوو، نو په پای کې يې دا ويلای شو چې پاڼې نې که له يوې خوا "يوسفزی پټان" دی، نو له بلې خوا د پښتو ژبې يو پخوانی دوديال او ليکوال هم دی، چې پښتو ژبه يې د هند ډېرې مهمې او لرغونې ژبې سانسکرېټ تر څنګ زده وه او شايد چې ليکنې يې هم پرې کړې وي. د پاڼي نې په باب د پوهانو دا ډول نظريات او شواهد دا ټکی هم تاييدوي چې د مليندا پڼو (Milindapanha) او ناګه سينا (Nagasena) پوښتنې به بې شکه په "زړه پښتو" ليکل شوې وي.

لکه چې پر داسې ټکو باندې تر اوسه هم پر دې پرتې دي، دا ډول په سلګونو نورې سرچينې هم شته چې د هغو په ترڅ کې دا په ډاګه ويلای شو، چې زموږ د ادب او فرهنګ د لرغونې ودې په اړه د هندي ادب او فرهنګ څېړنه يوه حتمي اړتيا ده، ځکه که موږ د هندي ګډ فرهنګ (هندي آريايي) مختلف اړخونه په دقيقه توګه راوسپړو او ويې لولو د هغه په مرسته زموږ د تاريخ او فرهنګ ډېرې تياري روښانه او ډېرې نورې رښتياوې رابرسېره کېدای شي. سربېره پر دې دا هم ويلای شو چې پښتو ژبه او پښتني فرهنګ که

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوې خوا د داسې ورتیاوو لرونکې دي، نو له بلې خوا د اسیا د فرهنګ د یوه مهم توک او مهمې ژبې په توګه د یوې روښانه راتلونکې په لور هم د ودې او پرمختګ په لور اوچت ګامونه اخلي.

*پښتو د اوس مهالي یون پر پیچومې اوړي*

*(وده، اړتیا او غوښتنه)*

لومړی: ملي هویت، ملي ژبه:

افغانستان نن سبا د اسیا په زړه کې د نویو اقتصادي او ټولنیزو بدلونو په درشل کې دی او یو ځل بیا دا لرغونی هېواد داسې فکر کېږي چې د "وربښمو د لارې" د زړه ټاټوبي پر ځای په اوسني عمر کې له نوې ورتیا سره مخامخېږي. کله چې دغه هېواد له دغو نویو اړیکو سره مخامخېږي، په دې کې شک نه شته چې زموږ هېواد د وربښمو له لارې د تاریخي شېبو په اندول په ټولنیز لحاظ له خواره واره والي څخه په امن شوی، او یوه موټې شوی دی، ځکه نو د هغه وخت په اندول اوس د دغه ملت د فرهنګي او معنوي ودې هم اړتیا زیاته شوې او هم یې د خلکو شعور دې ته تیار شوی چې په دغه برخه کې باید رغنده ګامونه اوچت کړي. افغان په اسیا کې اوس د یوه واحد "ملت" په نوم دی، چې د خپل هویت د لا سمبالتیا په خاطر د واحدو ارزښتونو، ټولنیزو موسسو او "واحدې ژبې" د ټاکولو او اړتیا خبرې اوس تر بل هر وخت ورته مهمې او د پاملرنې وړ دي، چې په دغه ترڅ کې د دغه ملت غوښتنو ته د نورو ژبو په اندول "د پښتو ژبه" ملي او فرهنګي دریځ غوره کولای شي. نن سبا په ټولو اسیایي هېوادو کې د دغو هېوادو خلک که له یوې خوا یو ملت یادېږي، نو د دغه ملت د شتوالي او ملي جوړښت تر ټولو ښه هنداره د هغه ملت ژبه ده. هغه ژبه چې د ملت د ډېرکي ژبه وي، د ټول ملت د ملي هویت ځرګندونه باید وکړي. زه فکر کوم چې د نویو ټولنیزو اړیکو او افغاني ملي هویت د پېژندنې او نورو ملتو څخه د توپیر په لحاظ پښتو ژبه په دغه بهیر کې خپله لاره په ډېره ښه توګه ایستلای شي.

*دویم: یوه تجربه، یوه ازموینه:*

زموږ د هېواد او د سیمې د هېوادو د شملې پېړۍ تاریخي بهیر ځینې حقیقتونه د تجربې په ترڅ کې په روښانه توګه ځواب کړي دي. په دغه لړ کې دوه مثالونه د ځانګړې یادونې وړ دي. یو په افغانستان کې د پښتو ژبې چټکه وده او بل په هندوستان کې د هندي ژبې. په هندوستان کې د لودیانو له وخته بیا د مغلو تر هغو هم را وروسته فارسي ژبه د هند رسمي او درباري ژبه وه، خو کله چې انګرېزان په هند کې په پښو ودرېدل د نورو کړو وړو په څنګ کې یې یو دا هم شو چې پر 1837 کال یې د دغې ژبې چې نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته، نهه سوه کاله د هند حاکمه ژبه وه، د نه اړتیا اعلان وکړ او کرار کرار یې خبره په نړدې نیمه پېړۍ کې دې ته ورسېده چې نن یې د نفوذ ساحه له موزیم او څېړنیزو موسسو څخه د باندې نه وځي. که چېرې د دغې ژبې په اړه دا پوښتنه طرحه کوو چې دا څنګه وشول، چې د هند د اتو، نهو سوو کالو مهمه ژبه دې په یو ځلي توګه په نیمه پېړۍ کې له منځه لاړه شي؟ دغې پوښتنې ته ژبپوهان او تاریخ پوهان اوس یوازې یو ځواب وایي او هغه دا چې: "له بده مرغه چې د هند په نیمه وچه کې په دې دومره اوږده موده کې فارسي ژبه له دربار څه د باندې را و نه وتله. که چېرې د دغې ژبې خواخوږو دغه ژبه د دربار په دېوالونو کې نه وای بنده کړې او د ملت منځ ته یې هم لار ورکړې وای، نو اوس به یې دغه برخلیک ته د هند په نیمه وچه کې هر کلی نه وایه." تر اوسه د دغې ژبې ځای په یوه برخه کې انګریزي او په نورو برخو کې هندي ژبې ونیو. انګریزي ژبه هم په هند کې د فارسي پر برخلیک ور اوړي، ځکه چې د هندي ژبې د ودې او پرمختګ بهیر دومره چټک او دومره په ملي لحاظ د اهمیت وړ دی چې ان د اردو ژبې اړتیا یې هم له ګوابښ سره مخامخ کړې ده، ځکه چې اوس هندوان هم هغه د ګاندي خبره کوي چې: "زه باور نه لرم چې اردو ځانګړې ژبه ده، ځکه چې د دې ژبې جوړښت او ګرامر د هندي ژبې ګرامر دی او ویې پانګه (Vocabulary) یې له فارسي او عربي څخه ده.

هغه څوک ښې اردو خبرې کولای شي چې عربي او فارسي یې زده وي".(6) همدغې نظریې اوس خبره دې ته را رسولې ده چې د اردو ژبې لیک دود هم پر هندي لیک دود باندې واوړي. خو مسلمانان یې په وړاندې په کلکه مقاومت کوي او داسې فکر کېږي چې د هندي ژبې د اوسني چټک خپاو په وړاندې به دا مقاومت هم بې اغېزې شي.

کټ مټ بهیر د پښتو ژبې په اړه هم د پاملرنې وړ دی، د نږدې اویا کلونو په اوږدو کې پښتو ژبې په افغانستان کې خپله لاره وایسته او د هېواد په ټولو علمي او فرهنګي موسسو کې یې ځای ونیو. دا چټکه وده په زماني لحاظ یو علمي او په ملي لحاظ یو طبیعي خوځون و چې په ټولنه او د دې ټولنې د ټولنیز ژوند په عیني بهیر پورې یې اړه درلوده او د حساسو لیکوالو او فرهنګیانو ونډه او ژوندۍ پوهه ورسره ملګرې وه. دا خبره دا دلیل هم پیاوړی کوي چې د همدغې پېړۍ په اوږدو کې پښتو ژبې نه یوازې په افغانستان کې دننه، بلکې په پښتونخوا او پاکستان کې یې هم د خوربدو لمنه وغوړېدله. او دا لوی برې دا په روښانه توګه په ډاګه کوي چې دغې ژبې په خپل طبیعي بهیر او جوړښت کې ځان د اویا کلونو په ترځ کې دومره اوچت کړ، نو دا خو له شکه وتلې خبره ده چې دا ژبه د دې توان لري چې د افغان ملت د اند و ژوند ټولو اړخونو ته اوږه ورکړي او افغان باید د خپل ژوند په روان او راتلونکي بهیر کې په علمي او ملي لحاظ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې په وړاندې د بشپړ مسوولیت احساس وکړي.

*درېیم: پښتو لا هسې بکره پرته ده:*

د نړۍ د ژبو او ادبیاتو تاریخ او د هغو وده په علمي او منطقي لحاظ دا ټکی په ګوته کوي چې یو شمېر ژبې د خپلې بشړتیا او لوړې وړتیا له امله د زمانې په زړه کې د مختلفو عواملو او یا د ودې د قانونمندۍ له مخې په نورو ژبو او زماني حالاتو کې یا خورې شوې او یا له منځه تللې دي، لاتین پر څه ډول برخلیک اخته شوه سانسکرېت ولې اوس "کلاسیکه" ژبه شوه، په آریاني ژبو کې "اوېستا" ولې له خپلو همزولو ژبو پښتو او فارسي سره تر ننه را و نه رسېده؟ د دا ډول تاریخي برم لرونکو ژبو له منځه تلل او یا په نورو بڼو څرګندېدل په خپله په مختلفو ټولنیزو عواملو او ارزښتونو لکه واکمني، مذهبي ارزښت، کلتوري وړتیا او یا نه وړتیا (البته د ځینو خلکو او عواملو له نظره) پورې اړه لري چې یا به وده ورکوي او یا به یې نه ورکوي. که وده ورکړي نو پرمختګ او چلن یې دواړه کېدونکي دي او که پاملرنه ورته و نه شي نو هم له پرمختګه لوېږي او هم له چلنده. د نړۍ د ډېرو مهمو ژبو لکه چې څو بېلګې مو یادې کړې برخلیک همداسې شوی دی. لاتین اوس "کلاسیکه" ژبه ده، سانسکرېت اوس "کلاسیکه" ژبه شوه، چې برخلیک یې اوس په نړۍ کې یوازې په دغه پښتو لنډۍ کې ډېر ښه ځلېدای شي:

"دا خپل ښایست را پورې اور شو
لکه قاتل په بدرګه ځان تېرومه"

په دې کې شک نه شته چې نوموړې ژبې همدا اوس هم د بشر د اندو ژوند ډېره مهمه او ارزښتناکه پانګه په خپله سړه غېږه کې ساتي خو له دغې وړتیا سره سره اوس پر دغو ژبو ګڼې پرګڼې خبرې اترې نه کوي، بلکې ارزښتونه یې د هرې ورځې په تېرېدو سره خپلو ژبو ته رالېږدوي.

که چېرې د دغو ژبو د بډایې زېرمې او تاریخي شتوالي د اوږده بهیر د پرتلنې په څنګ کې پښتو ژبې ته کتنه کوو نو دا به د ژبو د تاریخ د څېړنې له مخې ویلای شو چې پښتو ژبه هم د ادبي زېرمې له پلوه او هم د تاریخي او زماني واټن په ترڅ کې داسې ژبه ارزولای او څېړلای شو چې دغې ژبې د پورتنیو دوو ارزښتونو دوره او شپې ورځې تر اوسه نه دي، بشپړې کړې، پښتو اوس له خاپوړو د پورته کېدو په حال کې ده او د خپلې ځوانۍ په لور نوي ګامونه اخلي، تر اوسه دا ژبه نه درباروونو ته ختلې او نه هم د تاریخ په اوږدو کې بخت یاري ورسره کړې وه، پښتو اوس اوس هڅه کوي چې ځانته پانې نیي او کالیداس وموميي، پښتو اوس اوس هڅه کوي چې ځان له کلي تر پوهنتون پورې ورسوي، پښتو اوس اوس هڅه کوي چې له خپلو وړتیاوو څخه نړۍ، تاریخ او تمدن خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او پښتو اوس نوې پر دې پوهېدلې لکه چې نوميالي بچي يې خوشال خان خټک (1613-1689م) پر رمز پوهېدلی و چې: "...پښتو لا هسې بکره پرته ده."

*څلورم- پښتو او د "وربښمو نوی بازار":*

وروستی ټکی د پښتو ژبې د ودې او اړتيا په ترخ کې زه فکر کوم چې دا هم د يادولو وړ دی چې پښتو په مرکزي اسيا کې په هغو ژبو کې راځي چې زيات شمېر او سېدونکي خبرې پرې کوي او د مرکزي اسيا ډېر مهم اقتصادي او فرهنګي ښارونه او حوزې لکه پېښور، جلال آباد، کوېټه، کندهار، کابل، غزني، پکتيا او نور د دغې ژبې په ولکه کې راځي، لکه چې د تاريخ په اوږدو کې پورتني ښارونه او د هغو اقتصادي او فرهنګي اړيکي د پاملرنې وړ وو، همداسې په اوسني عصر کې د نويو اقتصادي اړيکي په پام کې نيولو سره هم او د پاملرنې وړ دي. د پېښور، کوټې، کندهار او ننګرهار تود اقتصادي مارکېټ او د کابل فرهنګي او اداري نفوذ کولای شي نور هم د دغې ژبې لپاره په ټولنيزو، علمي او تخنيکي برخو کې رغنده ګامونه اوچت کړي، نن سبا پښتو ژبې خپله لاره په هره برخه کې ايستلې ده. نن سبا پښتو تر کمپيوټر، او انټرنېټ هم اوچت ګامونه اخلي، پښتو ژبې په تېرو دوو لسيزو کې هم خپله لار وايستله، دا که چا مينه ورسره وښوده او که دښمني، دې يې پروا و نه کړه همداسې که نن او سبا هم دا ژبه څوک وپالي او که نه بيا هم په خپل هوډ بريمنه ده، ځکه چې دا ژبه د يوه داسې ملت ژبه ده چې د ژوند د تاريخ جرړې او د اند و ژوند ماسې او حماسې يې په خپله دا ژبه او د هغې د ودې بهير روښانه او ژوندی ساتي. پښتو نن سبا د مرکزي اسيا د خلکو له لويو ژبو څخه ده چې دا به يوازې د افغانستان، پښتونخوا او پاکستان په اوسېدونکو او طبيعي حدودو کې پاتې نه شي، بلکې د ګاونډيو خلکو د ورځني ژوند او فرهنګي موسسو ته به هم ډېر ژر د پاملرنې وړ لاره پيدا کړي.

دا وو زما هغه نيمګړي څه چې د پښتو ژبې په اړه مې وليکل، په دې هيله چې د دغې ژبې په وړاندې زموږ نوی نسل د خپلو تېرو نسلونو په شان په ملي افغاني او علمي احساس سره تر هغو هم اوچت، پاخه ګامونه اوچت کړي. د پښتو ژبې لويه ښېګڼه دا ده چې موږ د هغې له پالنې، ودې او روزنې سره د افغانستان د ملي يووالي او په نړۍ کې د "افغان ملي هويت" وياړ د ځان کولای شو. که چېرې دغه ټکی لږ په روښانه او څرګندو الفاظو کې وليکم، بايد ووايم چې موږ او زموږ هېواد او زموږ د هېواد تاريخ د اسيا په تمدن او تاريخو کې د مور حيثت لري، نن سبا چې په اسيا کې کوم هېوادونه زموږ د هېواد په شاوخوا کې پراته دي او د نوم او برم خاوندان شوي دوی له موږ څخه زېږېدلي، د دې پر ځای چې دغه ټکي ته پام وکړي، پرعکس زموږ پر سترګو کې له کاليو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راننوزي او هغه فرهنګ او فرهنګي ارزښتونه چې زموږ دي هغه د ځان بولي او له موږ څخه يې اخستې دي، چې يو هم په دغو ارزښتونو کې زموږ يو لږ نورې ژبې دي چې پارسي ژبه يې په سر کې راځي، لکه چې ما مخکې د دغې ليکنې په پيل کې يادونه وکړه ايران هڅه کوي ځان د فارسي ژبې وارث وبولي. هغه څه چې دوی د دغې ژبې په اړه او س په خپله پاليسۍ کې تر لاس لاندې لري، زموږ لپاره ګټه نه لري، کوم مادي، امکانات چې دوی په واک کې لري، هغه ښيي چې هغه بايد د ايران د سرلوړۍ په لاره کې وي، نه د ټولو ، دوی دا ډول چال چلند په دې خاطر تر سره کوي چې دوی فکر کوي او دا يو حقيقت هم دی چې پارسي د ايران د ډېرکي ژبه ده او تر نورو هېوادو دوی په دغه برخه کې د زيات مسوووليت احساس کوي. همدې شان اوس زموږ لپاره هم د پښتو ژبې د ودې او پالنې اړتيا بايد همدا ارزښت ولري، ځکه پارسي خو موږ هم پالو هغوی هم، خو پښتو پالنه بيا زموږ د ملي هويت او خلکو د "ډېرکي" بنسټ جوړوي، هغه چې زموږ افغانيت" پر هغه باندې ولاړ دی. د افغانيت تر ټولو ښه سرمايه او روښانه معيار د افغانستان ټول اوسېدونکي دي، چې په بل نامه او د نورو په وياړ هېڅ ځای، ځای نه لري او د افغان ملي هويت يوه ځانګړتيا کېدای شي پښتو ژبه او د هغې لپاره په ملي هوډ او تفاهم سره ژمنه بشړه کړای شي.

اخځونه، پايځوړ او يادونې:

1- د نوموړي ټکي د ښې ځرګندوې او د ايرانيانو د افغانانو له فارسي پالنې څخه اخبري د دوی په يو شمېر خپرونو کې هم له ورايه ښکاري. له تهران څخه خپرېدونکي ادبي او فرهنګي مجلې "آشنا" د 1375کال په "33" ګڼه کې ليکي چې: "در تاسيس مدارس برنامه های داريم برای تاجکستان و افغانستان که همزبان ماهستند بعضی ازين ها با خط فارسي اشنا نيستند، برنامه های ويژه ای برايشان تنظيم کرديم..." د افغانستان او تاجکستان يو رنګه بلل دا په خپله ښيي چې ايرانيان څومره د فارسي ژبې له غمه مړه او څومره ترې خبر دي؟

-دغه نظريه د لومړي ځل لپاره د کشمير د ډېر پخواني تاريخ راج ترنګيني چې په نظم کښل شوی انګريزي ژباړونکي پنډت زنجيت سيتارام چې د جواهر لال اوښی هم کېده، د "راج ترنګيني" په تعليقاتو کې وکښله په افغاني ليکنو کې د لومړي ځل لپاره د استاد رشاد او په را وروسته کې د زلمي هېوادمل "په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه" نومي اثر کې تکرار شوه. د نوموړي ليکوال پورتنۍ نظريه تر اوسه هم په خپل باور او ارزښت سره پاتې ده، ځکه هغه مهال چې ده دا نظريه کښلې وه په هغه وخت کې د پالي ژبې "قاموس"، "د پالي ژبې د خاصو نومونو قاموس" او نور آثار لا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو خپاره شوي. د نوموړي ژبې او پښتو پرتله په خپله دا څرګندوي چې په نوموړې ژبه کې د پښتو ژبې او ساکایي تاریخ او خلکو یوه بشپړه زېرمه خوندي ده.

3- S.B Upadhyaya, Feeders of Indian Culture, New Delhi, 1989, P.(V).

د پورتني اثر لیکوال د هند د ټولنیزو او کلتوري څېړنو په برخه کې په تېره بیا د لرغوني فرهنګ او فرهنګي تاریخ څېړنې په برخه کې د پاملرنې وړ لیکنې کړې چې په علمي لحاظ یې د ده نوم اوچت کړی دی. "بي اس اپادهیایا" د هندي دایره المعارف سموونکی او کره کوونکی هم و. په بنارس پوهتون او د هند په یو شمېر نورو کالجونو کې یې د استاد په توګه هم دنده تر سره کړې ده. د ده له مهمو آثارو څخه "په ریګویدا کې د ښځو ونډه" او "د کالیداس په لیکنو کې هندوستان" دی. د عمر په وروستیو کې په مورسش کې هند سفیر و چې هلته مړ شوی هم دی. پورتنی اثر یې د تېرو شلو کلونو په اوږدو کې تر اوسه دوه ځلې چاپ شوی دی.

4- اکاNیمسن عبدالشکور رشاد، د پانیني ابنت ادهالي او په هغه کې پښتو کلمې، پښتو څېړنې، پښتو ټولنه، کابل 1356 کال.

5- S.Abid Huasin, The National Culture of India, New Delhi, 1998, P.27.

6- M.K Gandhi, An Autobiography or the story of my experiments with trwth Ahmed abad, 1995.P.16.(62)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**